Afghanic

Ministry of Higher Education

# Publishing Textbooks for Afghan Universities

Dr M Yahya Wardak

دوهم چاپ

II Edition

افغانیک

# د افغانستان د پوهنتونونو د درسي کتابونو چاپول

یحیی وردک

د افغانستان د پوهنتونونو د درسي کتابونو چاپول

یحیی وردک




ISBN 978-9936-620-66-7

# د افغانستان د پوهنتونونو

# د درسي کتابونو چاپول

ډاکټر محمد یحیي وردګ

د لوړو زده کړو وزارت، کابل، ۱۳۹۸

دغه کتاب په پي ډي ایف بڼه له تصویرونو، اوډیو او ویډیو سره په دی وی دی کې کتلی شئ.



اقرأ باسم ربك الذي خلق


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د افغانستان د پوهنتونونو د درسي کتابونو چاپول |
| لیکوال | ډاکټر محمد یحیی وردګ |
| خپرندوی | په لوړو زده کړو وزارت کې د یحیی وردګ دفتر |
| وېب پاڼه | www.mohe.gov.af |
| چاپکال | ۱۳۹۸ل |
| چاپوار | دوهم |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org |
| چاپځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |



د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:

ډاکتر یحیی وردګ، د لوړو زده وزارت، کابل

ټیلیفون ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰

ایمېل textbooks@afghanic.de



© د نقل قول او کاپي کولو اجازه په دې صورت کې شته، چې منبع وښودل شي.

ترجمه او بیا چاپول د مؤلف کتبي موافقې وروسته امکان لري.



ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۲۰-۵۴-۴

# لنډه سریزه

قدرمنه لوستونکیه !

په بهر کې د لوړو زدکړو، مهاجرت ژوند او بېلابېلو کارونو څخه وروسته، زه په ۲۰۰۹ کال کې بېرته افغانستان ته راستون شوم. په ننګرهار پوهنتون طب پوهنځي کې مې په د پښتو درسي کتابونو د خپرولو په کار پیل وکړ. د دې کار په بنسټ بیا زه د لوړو زدکړو وزارت ته ولاړم او دغه کارونو پراختیا وموندله او تر نن پورې دوام لري. په دغه موده کې ۲۹۰ درسي کتابونه، زیاتره په طب او هم په نورو رشتو لکه وترینري، فارمسي، روانشناسي، انجینري، ساینس، اقتصاد، ژورنالیزم او زراعت کې خپاره او ټولو پوهنتونونو ته په وړیا توګه توزیع کړي دي.

په دې ټولګه کې تاسو ګران لوستونکي ته د افغانستان پوهنتونونو او لوړو زدکړو وزارت (ل. ز. و.) کې له یوې خوا د ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۹ کال پورې د خپلو هلو ځلو معلومات، په بېلابېلو رسنیو کې د درسي کتابونو او اړونده مسایلو راپورونه او له بلې خوا د خپل کار او وظیفې اړونده نظرونه او مشورې وړاندې کوم.

دا کار کېدای شي لږ تر لږه درې ګټې ولري:

۱. تاسو ته به معلوم شي، چې په دې نهو کلونو کې ما هلته څه کړي دي.

۲. د افغانستان د پوهنتونونو او د وزارت او محصلینو د حالت او یو شمیر چلنجونو سره به معرفي شئ.

۳. همدا له دې معلوماتو او مشورو څخه د لوړو زدکړو مسؤلین زموږ د راتلونکي نسل په روزلو کې څه ګټه واخلي. په همدې هېله !

یحیی وردک، کابل ۲۰۱۹

# فهرست

**لومړۍ برخه: زما نظرونه، وړاندیزونه او مشورې**

چېټر، کتاب که انټرنیټ؟ ........................................ ۲

د درسي کتابونو ملي پروګرام ........................................ ۶

تدریس په انګلیسي که ملي ژبو؟ ........................................ ۸

لیسانس که ماستري؟ ........................................ ۱۰

د هېواد راتلونکي لپاره د لوړو زده کړو ارزښت ........................................ ۱۲

افغان-جرمن پوهنتون په کابل کې ........................................ ۱۴

د لوړو زده کړو یو څېړنیز مرکز ........................................ ۱۶

نظري او عملي زده کړې؛ لازم او ملزوم ........................................ ۱۸

علمي مجلې!؟ ........................................ ۲۰

ورکشاپونه او تش په نامه پروژې!؟ ........................................ ۲۲

سافټوېر لومړی که هارډوېر؟ ........................................ ۲۶

په پوهنتون کې زده کړې د ښوونیز سیستم یوه مهمه برخه........................................ ۲۹

د ډیجیټلي کتابتون لپاره لومړی اغېزمن ګام ........................................ ۳۳

په DVD کې د ۲۱۴ طبي کتابونو لست ........................................ ۳۵

د ننګرهار پوهنتون لپاره تر کار لاندې او وړاندېز شوې پروژې .....۴۴
د المان ته د سفر او کارونو راپور ..........................................۴۸
په لوړو زدکړو وزارت کې لنډ کاري راپور ..........................۵۴
په افغانستان کې طبي لوړې زده کړې .....................................۵۶


**دویمه برخه: د کتابونو د چاپولو پروسه**

په چاپ شویو کتابونو کې زموږ لخوا سریزه ..........................۶۰
د افغانستان له طب پوهنځیو سره د مرستې پروګرام ...........................۶۳
د ۲۹۰ چاپ شویو کتابونو لست ..........................................۷۱
د غیر طبي چاپ شویو کتابونو لست ..........................................۸۰
په ننګرهار کې د کتابونو وېش ..........................................۸۴
څو تصدیقونه د بیلګې په توګه ..........................................۹۰
د لېږل شویو مکتوبونه څو نمونې ..........................................۹۳
د کتابونو د چاپولو درخواست فورمه ..........................................۹۷
د کتابونو د چاپ لپاره مهم ټکي ..........................................۹۸
د مؤلف لپاره د چاپ شوي کتاب د تسلیمولو فورمه ..........................۱۰۰
په چاپ شویو کتابونو کې د وزارت پیغام ..........................................۱۰۱
افغان درسي کتابونو ته آنلاین لاسرسی..........................................۱۰۳
په ۲۰۱۱ز کال کې د طبي کتابونو د چاپولو راپور ..........................۱۰۶
په ۲۰۱۲ کال کې د ۵۰ عنوانه طبي کتابونو د چاپ راپور..........................۱۰۸
د ل. ز. وزیرې د ایران سمت سازمان په همکاریو ..........................................۱۱۱

په ل. ز. و. کې د کتابدارۍ په اړه ورکشاپ ........................ ۱۱۲
ایران ته د سرپرست وزیر د سفر د راپور یوه برخه ..................... ۱۱۴
د ننګرهار محصلینو ته درسي کتابونو وېش .......................... ۱۱۵
محصلینو او لیکوالانو ته د کتابونو د وېش پروګرام ..................... ۱۱۸
د ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت په برخو کې ..................... ۱۲۱
په ننګرهار پوهنتون کې د غیرطبي کتابونو وېش ....................... ۱۲۳
جمهور رییس ښاغلی اشرف غني ته یو لیک ............................ ۱۳۰
د پروسې لنډیز (پرېزنټېشن) ........................................ ۱۳۱

## درېیمه برخه: کتابونه د رسنیو په هېنداره کې

د افغاني پوهنتونونو درسي توکي زاړه دي، نوښت غواړي ................ ۱۴۰
په درسي کتابونو سره د طب پوهنځیو د سمبالولو هڅې ................... ۱۴۳
د ننګرهار طب پوهنځي ته درسي کتابونه ورکړل شول ..................... ۱۴۶
د ل. ز. و. نن د هېواد درسی نصاب اعلان کړ ........................... ۱۴۸
یو شمېر افغانان له روغتیایي سیستم سره مرسته کوي .................... ۱۴۹
مشکلات کتب درسی محصلین ........................................ ۱۵۱
د طب په برخه کې ۱۱۵ عنوانه نوي کتابونه چاپ شوي .................... ۱۲۳
د طبي پوهنتونونو د درسي کتابونو ستونزې لرې کېږي ................... ۱۲۷
ولې په زرګونو افغان ناروغان د درملنې لپاره هند ...................... ۱۷۱
یو سلو څلوېښت طبي درسي کتابونه چاپ شوي ......................... ۱۷۲
هر کال د کتابونو لپاره زر ډالره ...................................... ۱۸۱

په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کمښت ............................ ۲۰۷
له آریانا تلویزیون سره مرکه ............................ ۲۱۳
د افغانستان د پوهنتونونو لپاره درسي مواد نوي کیږي ............................ ۲۲۳
یو افغان غواړي د پوهنتونونو چیپټرونه کتابي بڼې ته واړوي ...... ۲۲۷
اېډ بټور ته لیک: د نوي درسي نصاب نه شتون ............................ ۲۳۲
خیرمن وګړي: له زړو چپټرونو یې بې غمه کړو ............................ ۲۳۳
پوهنتونونه نوي نصاب ته اړتیا لري ............................ ۲۳۵
د لوړو زده کړو زوړ سیستم باید نوی شي ............................ ۲۳۷
د درسي کتابونو په اړه د شرق تلویزیون راپور ............................ ۲۴۰
د آریانا تلویزیون سهار او ژوند خپروني سره مرکه ............................ ۲۴۲
د افغان پوهنتونونو لپاره شل ټوکه کتابونه چاپ شوي ............................ ۲۴۸
د شیخ زاید پوهنتون لپاره چاپ شویو کتابونو په اړه مرکه ............................ ۲۵۱
د علاقمندو افغان مؤلفینو ته پیغام ............................ ۲۶۲

## څلورمه برخه: مل پاڼې

د چاپ شویو کتابونه پوسټرونه ............................ ۲۶۵
د ستاینلیکونو څو نمونې ............................ ۲۷۵
تصویرونه ............................ ۲۷۷
لنډ ژوند لیک ............................ ۲۸۵
Abstract ............................ ۲۸۷

## لومړۍ برخه

# زما نظرونه، وړاندیزونه او مشورې

# چېټر، کتاب که انټرنیټ؟

آیا دا خبره به ځوک ومني، چې د افغانستان اکثره محصلین درسي کتابونه نه لري او پر ځای یې لس او شل کاله پخواني چپټرونه (پر یوه موضوع یا مضمون د استاد لیکل شوي مطالب او یا کتاب څخه ژباړل شوي نوټونه) د یو ازینیو درسي موادو په توګه کاروي؟

هو؛ ما به هم دا خبره نه وای منلې، خو که مې په کابل او ځینو نورو ولایتونو کې په خپلو سترګو دغه حالت، چې سړی په ژړا راولي، نه وای لیدلی.

محصلین لیدل کېږي، چې په لاسونو کې یې شل- دېرش ورقې د پلاستیکي پوښ سره وړي او راوړي، هغه په مېخانیکي ډول حافظې ته سپاري او بیا یې په آزموینه کې لیکي، چې په همدې ډول بیا هم کامیابېږي.

حال دا چې؛ په نورو هېوادونو کې له محصلینو سره لوی لوی کتابونه وي او په اوونۍ کې څو ځله کتابتون ته ځي او راځي.

په نوره نړۍ کې پوهنتون د نوي علم، ټکنالوژۍ او څېړنو د لاسته راوړلو اساسي مرکز ګڼل کېږي، خو له بده مرغه د افغانستان په پوهنتونونو کې په ۲۱مه پېړۍ کې هم د ۲۰مې پېړۍ له درسي موادو څخه ګټه اخیستل کېږي.

که څه هم ځینو قدرمنو استادانو پخپلو رشتو کې کتابونه لیکلي، ژباړلي او چاپ شوي هم دي، خو دا کار استثنائي او یوازې په ځینو رشتو کې شوي دي.

په دې د یا رلس کلونو کې سیستماتیک کار د نویو معیاري درسي موادو د جوړولو لپاره تر اوسه نه دی شوی.

د لوړو زده کړو وزارت له خوا سږ کال، په ۵۰ رشتو کې درسي نصاب په ځو ټوکو کې چاپ شو، چې دا یو لومړی مثبت ګام دی، خو له بده مرغه، چې دغه نصاب په ټولو رشتو نه پلی کېږي.

دا چې نصاب د تدریس په پلان او چوکاټ کې ښه والی راولي، باید له

نصاب وروسته هر تدريسي مضمون د استاد او محصل په ژبه کتاب ولري، چې استاد د نصاب په چوکاټ کې د غه کتاب تدريس او محصل له هغه څخه زده کړه وکړي.

ځيني بيا دا وړانديز کوي، چې ولې له انګليسي کتابونو او انټرنيټ څخه استادان او محصلين ګټه نه اخلي، خو تر اوسه زموږ ټول استادان او محصلين په انګليسي ژبه دومره بلد تيا نه لري، چې ورڅخه پوره استفاده وکړای شي.

انټرنيټ به هيڅکله د کتاب ځای ونه نيسي، ځکه چې د زرګونو کلونو راهيسې د پوهې د انتقال او زده کړې لپاره کتاب تر ټولو غوره وسيله ده.

> «بې له کتابه يو محصل داسې دی، لکه يو عسکر چې وسله و نه لري.»
>
> يوه پخوانۍ يوناني مقوله

ما خپله له ۲۰۰۳ نه تر ۲۰۰۵ کال پورې د InWEnt په موسسه کې په آسيا، افريقا او لاتينې امريکا کې د ډاکټرانو لپاره د اچ آی وي/ ايډز په هکله د انټرنيټ له لارې کورس جوړ او عملاً د رهنما (Tutor) په حيث کار کړی دی.

په داسې پرمختللي هېواد، لکه جرمني کې اوس هم په دغه برخه کار او څېړنه کېږي، E-learning زياتېږي، خو دې د حضوري درس ځای هلته نه دی نيولی. د پخوا په شان اکثر درسونه په موسساتو کې په حضوري ډول دي.

په افغانستان کې که څه هم له نوي تکنالوژۍ څخه کال په کال د ګټه اخيستونکو شمېر زياتېږي، خو لا تر اوسه هم د برېښنا دنشتوالي يا تخنيکي ستونزو له امله انټرنيټ دوامداره کار نکوي.

بله ستونزه د ژبې ده، که څه هم تدريس د انټرنيټ له لارې هم امکان لري، خو بايد درسي مواد پداسې ژبه برابر شي، چې محصلين پرې پوه شي او بيا دغه مواد په بهر کې هم د انټرنيټ له لارې هغه موسسې او کسان کورسونه

دایرولی شي، چې خپل درسي مواد یې پخپلو ژبو برابر کړي وي، بیا یوازې ډول دغه د موادو یوه برخه د انټرنیټ له لارې مینه والو ته وړاندې کوي.
بله مسئله داده، چې د انټرنیټ له لارې درس ارزانه نه؛ بلکې نور هم قیمته وي. دا پوره تخنیکي امکانات لکه برق، کمپیوټر او انټرنیټ غواړي.
بل باید درسي مواد (Content) موجود وي او دغه متنونه بیا داسې په کمپیوټر کې ځای پر ځای شي، چې محصل ورڅخه ګټه واخستلی شي.
یوازې ټول متن لیکل بې له چارتونو، عکسونو، اوډیو او ویډیو څخه به ډېر سترې کوونکی وي.
په دې برخه کې تر اوسه موږ په ټول افغانستان کې، حتی یوه متخصصه او یوه مسلکي موسسه نه لرو، چې دا کار وکړي او یا یې کړی وي.
په انګلیسي ژبه کې ځینې پرمختللي کورسونه شته، خو د هغه چا لپاره دي، چې په دې ژبه پوره مسلط وي.
د لوړو زده کړو په وزارت کې کلونه مخکې د GLP په نامه آنلاین پروګرام د USAID له خوا عملي شو، چې د هغو له تجربو څخه باید کار واخیستل شي.
که څه هم هغوی زیاتې پیسې مصرف کړې، خو دومره موفق نه وو او هغه انتظار یې پوره نه کړ.
په نوره نړۍ کې هم په هره برخه کې د محصلینو لپاره درسي کتابونه د مسلک د زده کولو لپاره بنیادي رول لري، په هر مضمون کې هر کال د استادانو او پوهانو لخوا کتابونه لیکل کېږي او بین المللي ستندرډ کتابونه ژباړل کېږي.
د هر پوهنتون کتابتون هر کال یو زیات شمېر کتابونه د خپلو محصلینو د ضروریاتو پر اساس په ملي او هم په انګلیسي ژبه اخلي او محصلینو ته یې رسوي، په هر پوهنتون کې دننه یا ورته نږدې کتابپلورنځي شته، چې بیا دا کتابونه محصیلینو ته رسوي.
راځئ؛ موږ هم همدا کار وکړو!

آیا زموږ کوم پوهنتون دا کار کوي؟ موږ په یو پوهنتون کې په یو کال کې په زرګونو نوي محصلین جذبوو، خو څومره کتابونه ورته آماده کوو؟
له بده مرغه وزارت او د پوهنتونونو په کلنۍ بودیجه کې د کتابونو د ژباړې، تالیف او چاپ لپاره پیسې نه دې منل شوې.
صنف، استاد او کتاب د زده کړو بنسټ دی، خو بیا آنلاین تدریس به څلورم منزل وي.
راځئ! چې لومړی تهداب او بیا نور منزلونه پرې جوړ کړو.

**وړاندیزونه:**

- د وزارت او هر پوهنتون په بودیجه کې باید د تالیف، ژباړې او چاپ لپاره یوه برخه مشخصه شي.
- د تدریسي کتابونو ملي پروګرام په نامه دې د لوړو زده کړو په وزارت کې یو لوی پروګرام پیل او دغه پروګرام دې د وزارت د کارونو په لومړیتوبونو کې ونیول شي.
- هرکال باید سل نوي درسي کتابونه چاپ او پوهنتونونو ته ورکړل شي.
- د وزارت په بودیجه کې دې دغه پرګرام ته مالي امکانات برابر شي.
- د تدریسي کتابونو ملي پروګرام (NTP) لپاره دې له DAAD, USAID نړیوال بانک او نورو څخه مرسته وغوښتل شي.
- هدف باید دا وي، هر مضمون چې زموږ په پوهنتون کې تدریسیږي، باید کریکولم او لږ تر لږه یو درسي کتاب ولري.
- دغه نوی جوړ شوی کتاب دې، هغه استادانو ته ور وپیژندل شي، چې ددې مضمون تدریس کوي.
- زموږ د پوهنتونونو او پوهنځیو کتابتونونه او سمهال د کتابونو د ګدام په څېر دي، دغه حالت ته باید عاجل تغیر ورکړو.
- په کتابتونونو کې باید حد اقل یو مسلکي کارمند (Librarian) کار وکړي.
- هر کتابتون دې هر کال د نویو کتابونو د اخستلو لپاره معینه بودیجه ولري.

Afghan National Textbook Program
ANT

# د درسي کتابونو ملي پروګرام وړاندیز

- د چپټرونو او لکچر نوټونو مېتود باید پای ته ورسول شي.
- په هره برخه کې باید د پوهنتونونو د استادانو له خوا نوي کتابونه ولیکل او وژباړل شي.
- هر کال باید سل کتابونه چاپ شي، په دې توګه به پنځه سوه کتابونه په پنځه کالو کې چاپ شي.
- هر درسي مضمون باید لږ تر لږه یو درسي کتاب ولري.
- د ټولو درسي خونو لپاره باید پروجکتورونه تیار شي.

# سپارښتنې

**د لوړو زده کړو وزارت ته:**

- د «تدریسي کتابونو ملي پروګرام» پیلول.
- د پروګرام اعلانول د لوړ لومړیتوب په حیث.
- استادان باید وهڅول شي، چې په خپل مسلک کې کتابونه وژباړي، ولیکي او چاپ یې کړي.

**استادانو ته:**

- استادان باید په خپلو کتابونو بیاکتنه وکړي او موږ ته یې را ولېږي.
- استادان باید نوي درسي کتابونه ولیکي، ویې ژباړي او د چاپ لپاره یې تیار کړي.
- **مرسته کوونکوو (DAAD, USAID & World Bank) ته:**
- د «تدریسي کتابونو ملي پروګرام» ملاتړ.
- د کتابونو د چاپولو لګښت ورکول.

## د ۲۰۱۸ کال لپاره وړاندیز

- د لوړو زده کړو وزارت لخوا باید **۵۰** طبي درسي کتابونه چاپ شي.
- د دوه ډي وي ډي ګانو ۱۰۰۰۰ کاپي ګانې، چې ټول طبي درسي کتابونه به پکې شامل وي، د طب پوهنځیو هر زده کوونکي ته و وېشل شي.
- ۱۰۰ غیر طبي درسي کتابونه به چاپ شي.

❀❀❀

یو محصل بې له کتاب داسې دی لکه یو عسکر بې له وسلې.

یوناني وینا

# تدریس په انګلیسي که ملي ژبو؟

یو شمېر بهرني او افغاني متخصصین، کله چې د افغاني پوهنتونونو د سویې ټیټوالی او د نویو او معیاري درسي کتابونو کموالی ویني، نو سمدلاسه دا وړاندیز کوي، چې استادان او محصلین دې د انګلیسي ژبې له کتابونو څخه ګټه واخلي او تدریس دې په انګلیسي ژبه شي.
که څه هم د د غو ښاغلیو کتنه صحیح ده او د مسئلې د حل لاره هم معقوله ښکاري، خو آیا دغه د حل لاره عملي شوې ده؟
ټول افغاني مؤسسات د د برش کلنو جګړو له امله له نړیوال علمي کاروان څخه وروسته پاتي شوي دي.
په اتیایمه لسیزه کې د افغانستان په ښوونځیو او هم په پوهنتونونو کې بهرنۍ ژبه انګلیسي نه؛ بلکې روسي ژبه تدریس کېدله، ما پخپله له نهم ټولګي تر دولسم ټولګي پورې روسي ژبه لوستې ده.
همداشان په زرګونو افغانانو او یو زیات شمېر استادانو په پخواني شوروي اتحاد کې لوړې زدکړې کړې دي، چې همدا استادان اوس هم د افغانستان په ډېرو پوهنتونونو کې کار او تدریس کوي.
له بلې خوا زموږ په ښوونځیو کې هم د انګلیسي ژبې درسونه دومره ښه کیفیت نه لري، چې د ۱۲ ټولګي فارغین دې وکولای شي په انګلیسي ژبه درس تعقیب او د انګلیسي ژبې له کتابونو څخه پوره ګټه واخستی شي.
بله ستونزه له انګلیسي سرچینو څخه د ګټه اخستلو د سویې په برخه کې موجوده ده، له بده مرغه زموږ استادان او محصلین که څه هم په انګلیسي ژبه پوه شي، خو هغه درسي کتابونه چې په نورو هېوادونو کې تدریس کېږي، ښایي پرې پوه نه شي؛ ځکه چې زموږ د محصلینو او په بهر کې د محصلینو سویه توپیر لري.

په هغه هېوادونو کې چې د ښوونځي ژبه يې انګليسي نه ده، زياتره پوهنتونونه يې په انګليسي نه؛ بلکې پخپلو ملي ژبو تدريس ورکوي او يو کم شمېر موسسې شته، چې لوړې زده کړې يې په انګرېزي ژبه وي.

يوازې هغه هېوادونه چې د ښوونځيو ژبه يې انګليسي ده، د پوهنتونونو ژبه يې هم انګليسي وي، په داسې حالت کې نه استاد او نه هم محصل د ژبې مشکل لري؛ ځکه چې دوی له وړاندې نه انګليسي په ښوونځيو کې زده او پوره تسلط پرې لري.

که څه هم دا خبره صحيح ده چې د نړيوالې پوهې تر لاسه کول د انګليسي ژبې له لارې آسانه دي، خو دغه کار هغه څوک کولای شي چې انګليسي يې زده او ترې ګټه واخيستی شي.

د افغانستان په ځينو پوهنتونونو کې په انګليسي ژبه تدريس په وړاندېز او فرمان نه؛ بلکې د يو منځمهاله ستراتيژۍ په جوړولو، عملي کولو او دوامداره کار له مخې امکان لري.

د دغې ستراتېژۍ په پايله کې بايد د دولسم ټولګي فارغان په انګليسي ژبه پوره مسلط او د پوهنتونونو ټول ځوان استادان بايد په انګليسي ژبه تدريس وکړای شي، نو وروسته به په انګرېزي ژبه د تدريس مهم شرايط پوره او دغه وړانديز عملي کېدای شي.

له دې پرته بايد زموږ پوهنتونونه په ملي ژبو تدريس ته دوام ورکړي او هم بايد ژر تر ژره په ملي ژبو کتابونه تيار، چاپ او د محصلينو په اختيار کې ورکړل شي.

زموږ استادان او سمهال بايد د انګليسي ژبې له لارې پر نړيواله پوهه ځان پوه او بيا محصلينو ته د دوی په ژبه او د دوی له سويې سره سم درسي مواد چمتو کړي.

# لیسانس که ماستري ؟

پوهنتون د پوهې د لاسته راوړلو لپاره جوړېږي، په وروستیو لسیزو کې د علم کچه دومره زیاته او پراخه شوېده او هرکال لا نوره هم لوړېږي، چې پخوا په پېړیو کې دومره پوهه نه زیاتېدله. په ډېرو هېوادونو کې په منځنیو ښوونځیو کې رشته بندي پیل او زده کوونکي په ټولنیزو او ساینسي څانګو وېشل کېږي، بیا په پوهنتون کې په لیسانس دوره کې د یوې څانګې یا مسلک عمومیات لوستل کېږي، په دې معنی چې لیسانس درلودونکی هم نن سبا د پوره تخصصي پوهې خاوند نه دی، چې په خپل مسلک حاکم او په خپلواک ډول پکښې کار وکړي.
همدا دلیل دی چې زیاتره لیسانس درلودونکي اوس په نړۍ کې بیا د خپل مسلک په یوه ځانګړې برخه کې ماستري کوي او په دې توګه په یوه ټاکلي څانګه کې داسې پوهه ترلاسه کوي، چې له لیسانسه وو سره توپیر او ورځخه لوړوالی لري، همدا دلیل دی چې ورته کار پیدا کېږي او هماغه کار بیا په ښه توګه ترسره کولای شي.
زموږ ټولنه په اقتصاد، کرنې او مالدارۍ، طب او نورو برخو کې همدا شان مسلکي کادرونو ته اشد ضرورت لري، چې پخپل مسلک پوره حاکمیت ولري او دغه حاکمیت یوازې د یو پوهنتون په لوستلو نه؛ بلکې د نورو زده کړو، ټرېننګ، ماسترۍ او دوکتورا په درلودلو سره موږ حاصلولی شو، خو له بده مرغه د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې په افغانستان کې لا تر اوسه ډېرې کمې دي.
که څه هم هر کال د پوهنتونونو استادان، دولتي کارمندان او یو شمېر نور افغانان په بهرنیو هېوادونو کې د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې کوي، خو د هغوی تعداد ډېر کم دی او د افغانستان د کاري مارکېټ اړتیا نه شي پوره کولای، نو له همدې کبله پکار ده چې زموږ په پوهنتونونو کې د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې پیل شي.

د همدی ارتیا پر بنسټ په ځینو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې د ماستری پروګرامونه پیل شویدي.
د دغو زده کړو لپاره باید د یوې مشخصې ستراتېژۍ او پروګرام پر اساس ټول شرایط، لکه زېربناوې، مالي امکانات، کوریکولم، درسي کتابونه، لابراتوارونه، د څېړنې امکانات او عملي او اکاډمیک کادرونه چمتو شي.
که په یو پوهنتون یا پوهنځي کې د PhD استادان کم وي، دوی باید همدا اوس خپل استادان د PhD لپاره بهر ته ولېږي، کله چې دوی بېرته راستنېږي، قراردادي افغاني او بهرني استادان دې وګمارل شي.
زموږ له ځینو پوهنتونونو او پوهنځیو سره بهرني هېوادونه او یا بهرني پوهنتونونه مرستې کوي، موږ باید له دغه چانس او امکاناتو څخه د خپلو ماستري پروګرامونو په جوړولو کې ګټه واخلو.
له دغو پوهنتونو سره باید په ګډه توګه د ماستری پروګرامونه جوړ شي، حتی یوه برخه یې دلته او نوره برخه یې په بهر کې اجرا شي او هم دې بهرني استادان راشي او دلته دې د ماستری او PhD په جوړولو او هم په تدریس کې فعاله ونډه واخلي.
که څه هم ځینې بهرني پوهنتونونه اوس د افغانستان لپاره ماستران تربیه کوي، خو که بهرني هېوادونه خپلې مرستې ودروي او یا یې کمې کړي، طبیعي ده چې دغه پروګرامونه به هم بند شي او بیا به زموږ ماستران نه روزل کېږي. په خپل هېواد کې د ماستری جوړولو یوه ګټه داده، چې د بهرنیو پروګرامونو په پرتله به زیات شمېر ښځینه برخه پکې واخلي.
یوه بله ګټه یې دا هم ده، چې له افغانستان سره د مرستې په نامه کومې پیسې چې بهرنیو پوهنتونونو ته ورکول کېږي، ډېرې زیاتې دي او په دغو پیسو دلته په افغانستان کې هم زېربناوې او هم درسي مواد برابر بدلای شي او همدارنګه استادانو ته به د ټاکلي حق الزحمه ورکولو امکانات برابر شي او په دې توګه به دا ټولې پیسې له هېواد نه بهر نه؛ بلکې همدلته به خرڅ او په دوران کې به ولوېږي.

# د هېواد راتلونکي لپاره د لوړو زده کړو ارزښت

ډېر بـه مـو اورېدلي وي، چې ځوانـان د يـوې ټـولنې راتلـونکی جوړوي او ځوانان به زموږ راتلونکي مشران او رهبران وي.

دا خبـره کـه څـه هـم سـمه ده، خـو مـوږ پـه رښـتيا سـره ځوانـانو، يعنـې د خپلـې ټـولنې او هېـواد راتلـونکي تـه څـومره ارزښـت ورکـوو او پـر دې څـومره پانګونـه کـوو؟ د يـوې ټـولنې مشـران هغـه وخـت ښـه او مسـلکي مشـران کېـدلای شـي، چـې دوی د ځـوانۍ پـه وخـت کـې ښـه تحصـيل کـړی وي، پخپلـه رشـته کـې يـې مسـلکي زده کـړې کـړې وي او کـاري تجربه يې هم تر لاسه کړې وي.

لـه بـده مرغـه افغانسـتان پـه نړيوالـه کچـه د هغـو هېوادونـو پـه کتـار کـې راځـي، چـې پـر خپـل راتلـونکي نسـل ډېـره کمـه پانګونـه کـوي، يعنـې خپلو لوړو زده کړو ته يې کمه پاملرنه او ډېره لږه پانګونه کړې ده.

د يـوې ټـولنې پـه پرمختـګ کـې د علمـي او مسـلکي کـدرونو ونـډه ډېـره مهمـه ده، پـه ځـانګړي توګـه پـه دې وروسـتيو کلونـو کـې د علـم او ټکنـالوژۍ پـه چټـک پرمختـګ سـره د مسـلکي او لـوړو زده کـړو ارزښت لا نور هم زيات شوی دی.

هغـه ټـولنې چټـک پرمختـګ کـوي چـې د نـړۍ پـر نـوې پـوهې سـمبال ځوانـان ولـري، چـې پـه نوښـتونو (Innovation) او د ټـولنې پـر بنسـټيزو ستونزو پوه او د حل لارې چارې يې پيدا او عملي اقدام وکړي.

يو دولسم لوستی، له مسلکي او لوړو زده کړو پرته دومره اغېزمن نه دی؛ ځکه چې هغه یو مسلکي کار نه شي تر سره کولای، همدارنګه د هغه او د یو نالوستي عاید د هغه چا په پرتله چې لوړې زده کړې یې کړې وي، توپیر لري او د کار پیدا کول هم ورته ډېر ګران دی.

په وروستیو کلونو کې له بده مرغه افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ونه شوای کړای، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو د ارزښت په تناسب کار او پانګونه وکړي.

نو له همدې کبله افغان دولت باید زموږ پوهنتونونو ته، چې زموږ راتلونکي مشران پکښې روزل کېږي، لا زیاته پاملرنه وکړي، هغوی ته لا زیات مالي امکانات برابر کړي.

د پوهنتونونو استادان لا زیات وهڅوي او لا نورو زیاتو محصلینو ته په پوهنتونونو کې د زده کړو مناسب شرایط برابر کړي، چې دوی هم په تیوریکي او هم پر عملي پوهه سمبال ټولنې ته وړاندې شي.

دغه پانګونه به څو کاله وروسته په افغانستان کې د پرمختګ او ښې ادارې په رامنځته کولو کې ډېرې مثبتې اغېزې ولري.

پوهنتون؛ یعنې د پرمختګ موتور، پوهنتون یعنې د هېواد راتلونکي متخصصین او مشران.

که موږ ته د هېواد راتلونکې مهمه ده، باید چې موږ ته لوړې زده کړې هم مهمې وي!

# افغان ـ جرمن پوهنتون په کابل کې

المان ۵۰ کاله مخکې د امریکا او پخواني شوروي اتحاد ترځنګ، له هغو هېوادونو څخه ؤ چې د افغانستان په لوړو زده کړو کې یې تر نورو لومړی، اغېزمنې او اوږدمهاله مرستې کړې دي.
د تېرې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې په کابل پوهنتون کې د آلماني ژبې دیپارتمنت جوړ او د ساینس او اقتصاد له پوهنځیو سره یې علمي همکاري پیل شوه.
کابل ته به یو زیات شمېر الماني پروفیسوران راتلل او دلته به یې په درسي صنفونو کې درس ورکاوه.
د افغان محصلینو لپاره به له افغاني استادانو سره په ګډه درسي کتابونه لیکل کېدل.
المان د پوهنځیو لپاره د تعمیر جوړولو، د لابراتوارونو په تجهیزولو، کوریکولم او درسي کتابونو په چاپولو کې فعاله ونډه اخیستله، هر کال به یو شمېر استادان د بوخوم، بُن او کِلن پوهنتونونو ته په اقتصاد او ساینس کې د لیسانس، ماستری او دوکتورا لپاره لېږل کېدل.
د الماني او افغاني پوهنتونونو ترمنځ د دغو اکاډمیکو همکاریو په نتیجه کې د کابل پوهنتون یادو پوهنځیو ته هم زېربناوې جوړې شوې، ټول تدریسي شرایط برابر او په ډېر ښه کیفیت سره درسونه پیل او دوام یې وموند.
د حالاتو د خرابېدو او جګړو له امله، دغه همکاري وځنډېده او په ۲۰۰۲ زکال کې یو ځل بیا پیل شوه، په تېره بیا په وروستیو لسو کلونو کې د الماني ژبې، اقتصاد، ساینس او کمپیوټر ساینس پوهنځیو سره ګډ پروګرامونه یو ځل بیا پیل شول.

برسېره پردې په طب، انجینرۍ او فارمسي کې هم یوڅه لنډ مهاله مرستې د المان له خوا وشوې.
په وروستیو کلونو کې د دغو همکاریو په چوکاټ کې یو شمېر ماستران وروزل شول، چې په اړوندو پوهنځیو کې د درسي کیفیت په لوړولو کې تر یوې اندازې اغېزمن ؤ، خو له یوې خوا د افغانستان علمي ټولنه له نړیوال علم څخه دېرش کاله وروسته پاتې شوې وه او له بلې خوا نړیوال علم او ټکنالوژۍ هم په وروستیو لسیزو کې خورا پرمختګ او پراختیا کړې ده، له همدې کبله زموږ پوهنتونونه زېربناوو، لابراتوارونو، کوریکولم، درسي موادو برابرولو او هم د استادانو د Update، ماسترۍ او دوکتورا په سویه روزلو کې لا زیاته اړتیا لري.
دغه ټول کارونه د یو نوي افغان- جرمن پوهنتون په جوړولو کې تحقق موندلی شي.
د نوي اساسي قانون پر بنسټ، د ټولو تحصیلي امکاناتو برابرول او سمهال د بهرنیو هېوادونو لخوا د خصوصي پوهنتونونو د جوړېدو له لارې هم ممکن شوي دي.
د افغانستان امریکایي پوهنتون یې لومړنۍ بېلګه ده او په راتلونکي کې به افغان- ترک پوهنتون هم جوړ شي.
په تېرو وختونو کې د المان د اکاډمیکو همکاریو او د افغانستان د اړتیاوو په پام کې لرلو سره، کېدای شي دغه نوی پوهنتون لاندې پوهنځي ولري:
اقتصاد، ساینس، طب، کمپیوټر ساینس، انجنیري، کانونه او عامه اداره.
دا به د افغانستان او المان د تېرې سل کلنې دوستۍ په اړیکو، علمي او اکاډمیکو همکاریو کې د یو نوي فصل پرانستل وي.
په ۲۰۱۵ کال کې له المان سره د افغانستان د اړیکو سلمه کلیزه ده او هیله ده چې د افغان - جرمن پوهنتون د دغې کلیزې د نمانځلو پرمهال د دواړو هېوادنو د مشرانو له خوا اعلان شي.

# د لوړو زده کړو څېړنيز مرکز

لوړې زده کړې د يوې ټولنې په پرمختګ او راتلونکي کې فوق العاده مهم رول لري. پوهنتون د ټولنې موتور او د راتلونکو علمي، اکاډميکو او لوړو سياسي، ټولنيزو کارپوهانو د جوړېدلو ځای دی. پوهنتون دی چې له ځوانانو څخه په خپلو پروګرامونو کې د ليسانس، ماستر او دوکتور په سويه متخصصين روزي، چې بيا دغه متخصصين د هېواد، ټولنې او اقتصاد په پرمختګ کې بنسټيز رول لوبوي.

په وروستيو ديارلسو کلونو کې، که څه هم زموږ لوړو زده کړو په کمي لحاظ يو څه پرمختګ کړی، خو اوس هم له زياتو ننګونو سره مخامخ دی، چې د نه پاملرنې په صورت کې به په نږدې راتلونکي کې دغه ستونزې لږ نه؛ بلکې لا نورې هم زياتې شي.

د مثال په ډول، کال په کال د دوولسمو ټولګيو فارغان زياتېږي. په ۱۳۹۴کال کې به موږ نږدې څلور لکه فارغان ولرو، په داسې حال کې چې زموږ دولتي او خصوصي مؤسسې او سمهال يوازې يو لک جذب او پاتې نور، له لوړو زده کړو څخه بې برخې پاتې کېږي.

زموږ په پوهنتونونو کې د افغانستان د کاري مارکېټ لپاره مسلکي کسان نه روزل کېږي او زموږ لوړې زده کړې زياتره د ليسانس تر حد پورې دي، خو د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې ډېرې کمې دي.

پوښتنه داده چې د تدريس کيفيت به څنګه لوړ شي؟ د استادانو د ظرفيت لوړولو لپاره لنډ مهاله پروګرامونه شته دي او که د ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونه؟ تدريس په انګليسي وشي که په ملي ژبو؟ آيا موږ درسي کتاب ته ضرورت لرو او که ټول دې انلاين وي؟ کانکور دې وي کنه؟ کانکور دې له وزارت څخه لرې شي او کنه؟ ګټه او تاوان يې څه دی؟

خصوصي تحصيلات، لانور هم پراخ شي او که اوسمهال تر اندازې زيات خصوصي مؤسسات لرو؟

دا او داسې نورې پوښتنې بايد د يو چا د شخصي غوښتنې او نظر پر اساس نه؛ بلکې د دقيقو مطالعاتو، څېړنو، ارزونو او تجربو (ملي او بين المللي) پر اساس او په نظر کې نيولو سره وشي. له بده مرغه، نه زموږ د لوړو زده کړو په وزارت او نه هم زموږ په پوهنتونونو کې په دې اړوند کومه څېړنه شوې او نه هم کېږي.

په وروستيو ديارلسو کلونو کې د لوړو زده کړو پنځه وزيرانو کار کړی دی، هر يوه د بل وزير کاري پروګرامونو ته دوام نه؛ بلکې پخپله يې لومړيتوبونه ټاکلي او خپل پروګرامونه يې پرمخ بېولي دي. د پورتنيو ټکو په پام کې نيولو سره وړانديز کوو، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو په هکله دې يو څېړنيز مرکز جوړ او د تحصيلاتي څانګو د ځانګړتياوو پر بنسټ دې څېړنې پيل او له دولتي اړوندو ارګانونو سره د مشورو له لارې دې د دولتي مرکزي پلان پر بنسټ په کار پيل وکړي.

موږ داډمن يوو چې دا به د لوړو زده کړو لپاره د يوې اغېزمنې تحصيلاتي پاليسۍ پيل وي، چې له نورو هېوادونو څخه د کاپي شويو موډلونو څخه په خپلواکه، اغېزمنه، ملي، علمي او تحصيلي پاليسي وي.

موږ بايد د افغانستان د لوړو زده کړو ستونزې يوازې د بهرنيو موډلونو په راوستلو او کاپي کولو نه؛ بلکې موږ پخپله او د بهرنيو متخصصينو په همکاريو وڅېړو او د حل پر لارو چارو يې يو له بل سره خبرې وکړو او بيا پلان جوړ او عملي کړو.

له شک پرته، د ځينو هېوادونو له تجربو او مشورو څخه به په ګټه اخيستو سره دا علمي ملي پاليسي بشپړه او په بريالیتوب عملي شي.

❖

# نظري او عملي زده کړې
# یو د بل لازم او ملزوم

څلور کاله مخکې مې د ننګرهار انجنيري پوهنځي ته يو انجنير د يو مسلکي پرېزنټېشن لپاره دعوت کړی وو ، دلته لکچر نه وروسته يو محصل لاس پورته کړلو ، ويې ويل چې دا لومړی ځل دی، چې دا سې علمي او د عملي کارونو لپاره مهمې خبرې دی اوري، حال دا چې دی د دې پوهنځي په پنځم سمستر کې درس وايي، تر اوسه يې يوه خبرته هم په لاس کې نه ده نيولې. که موږ د پوهنتونونو درسونه ارزيابي کړو ، په رښتيا سره هم په زياترو رشتو کې محصلين عملي کار په لابراتوار او يا ساحه کې نه کوي او همدا يې يو مهم علت دی، چې بيا وروسته له فراغت نه په عملي ډګر کې کار نه شي پيدا کولای او يا کار نه شي کولای او که يې وکړي هم، نو کيفيت يې ډېر خراب وي.
ځکه نو په کار ده، چې د پوهنتونونو مسوولين استادان لابراتوارونه فعال او محصلينو ته په عملي توګه درسونه وروښيي.
کله چې زه په چکوسلواکيا کې د طب محصل وم، موږ د سهار له اته بجو څخه تر ۱۲ بجو پورې نظري درسونه او لکچرونو درلودل او هره ورځ وروسته له غرمې څخه په لومړيو سمسترونو کې په عملي درسي خونو او لابراتوار کې عملي کارونه ترسره کول، په وروستيو سمسترونو کې نيمه ورځ نظري درس او نيمه ورځ د ناروغانو د دوسيو په مطالعې او معاينه کولو په روغتون کې د ناروغانو سره عملی درسونه ويل او په دې توګه بيا به مو په عمل کې وربانديې کار کولو ، چې دې طريقې سره مو ډېر ښه سر پرې خلاصېدو او هم به هغه تيوريکي درسونه ښه په حافظه کې پاتې کېدل.
د مثال په ډول کله مو چې د زيږي ناروغي لوستله، نو بيا به زموږ د عملي کارونو رهنما استاد د زيږي په ناروغۍ يو اخته ناروغ ته وروستلو ، د هغه په وجود کې به يې موږ ته د دې ناروغۍ علايم راښکاره کړل، لابراتواري

معاینات به مو یې ولیدل او د ناروغ تاریخچه به مو ورځخه واخستله، په همدې شان به بیا د زیږې ناروغۍ په اړوند دغه ناروغ راپه یاد شو او ډېر شیان به مو زده او په حافظه کې پاتې شول.
زما وړاندیز افغان استادانو او مسوولینو ته همدا دی، چې تر وسه نظري او عملي درسونو باندې کوښښ وکړي او په خپلو درسي پلانونو او تقسیم اوقات کې ځای ورکړي، یوازې په لکچر نوټ او چپټر باندې اکتفا ونه کړي؛ ځکه چې یوازې په لکچر او چپټر باندې موږ صحیح انجنیر او ډاکټر نه شو تربیه کولای. نظري او عملي درس یو د بل لازم او ملزوم دي!
خو تر اوسه ځینې طب پوهنځي کدري روغتون، چېرته چې د طب محصلین د مریض په سر عملي زده کړې وکړي نه لري، دغه حالت هیڅ د منلو نه دی، باید زر تر زره حل شي. هر طب پوهنځی باید هرو مرو فعال او مجهز کدري روغتون ولري.
د ۲۰۱۵ ز کال دسمبر میاشت کې می د کنړ پوهنتون ته یو سفر درلود. دغه پوهنتون کې ما په خپلو سترګو ولیدل، چې د کمپیوټر ساینس پوهنځی په همدی کال فارغین ورکوی، خو یو پایه کمپیوټر هم نلری. یوازې او یوازې استادانو تیوري درس ورکاوه او هیڅ ډول عملي کار یې په محصیلنو نه نشو کولای. دغه حالت د زغملو نه دی!
درسي کیفیت نه په ورکشاپونو، نه په ارزیابي او یا تضمین کیفیت کمیتو باندې لوړېدلای شي!
زموږ په پوهنتونونو کې باید د استادانو د ظرفیت لوړولو ترڅنګ په دریو برخو زیات تأکید او کار وشي:

۱-کوریکولم او درسي کتابونه
۲- په لابراتوار کې عملي تجربې
۳- په ساحه (د مثال په ډول روغتون کې د ناروغ بستر ترڅنګ) عملي زده کړې. په دې توګه به د لوړو زده کړو کیفیت لوړ شي.

# علمي مجلې! ؟

څو کاله مخکې مې د ننګرهار پوهنتون د مجلې مسئول مدير سره، د دغه پوهنتون په مجلې (پوهه) کې، زموږ لخوا د چاپ شويو کتابونو به اړه د يو مضمون، معلومات او يا مخکتنې خبرې کولې، ما تعجب وکړ چې ده وويل: دا يوه علمي مجله ده او يوازې علمي مقالې په کې چاپيږي. ما ورته وويل لطفاً ته بهرنۍ علمي مجلې وګوره، تقريباً د ټولو په اخر کې به د اړوندو مسلکونو د نويو خپاره شويو کتابونو په اړه مقالې (Book Review) لري. خو زما دې خبرې او وړانديز تر ننه پورې څه اغيزه نه ده لرلې.

د افغانستان ځينې خصوصي پوهنتونونه هم مجلې چاپوي. د دولتي پوهنتونونو په پرتله د دغه مجلو د چاپ کيفيت ښه دی، زياتره يې رنګه وي او هم د محصلينو او علاقمندانو لپاره د پوهنتون د رشتو، لاسته راوړنو او نويو موضوعاتو په اړه په کې نوې خبرې چاپيږي، چې زياتره يې د اشتهار بڼه لري او د استادانو علمي مقالې په کې کمې ليدل کيږي.

ښه به دا وي چې لکه د دولتي پوهنتونونو د مجلو په څېر دلته هم د استادانو علمي مقالې نشرکيدلای. زما بل وړانديز دا دی چې د دولتي پوهنتونونو مجلې هم د خصوصي پوهنتونونو په څېر بايد په زړه پورې او ګټور معلومات خپاره کړي.

مجلې تقريبا يوازې د استادانو علمي مقالې نشروي، ځکه چې دغه استادان د خپلو علمي رتبو لپاره د داسې مضمونونو نشرولو ته اړتيا لري. له دې امله همدغه استادان "مولفين" د دغو مطالبو د چاپ لپاره پيسې ورکوي. د مثال په ډول که يو استاد د دخلورو پاڼو مقاله لري هغه د څلورو او بل استاد شپږ پاڼې مقاله لري د شپږو پاڼو پيسې ورکوي. اصلي هدف د مجلو د نشر هم همدا دی، چې د استادانو لپاره د چاپ نويو مقالو شمير پوره شي.

**وړاندیزونه**:

۱- تیراژ یې هم ډیر کم دی، یعنی د سل نه تر دری نیم سوو پوری، چې دغه تیراژ باید لوړ شي.

۲- د هر پوهنتون په بودیجه کې باید د مجلې لپاره یوه برخه مشخصه شي، تر څو مجلې په خپل وخت او پر له پسی چاپ شي.

۳- د کابل طبي پوهنتون لخوا (افغان طبی مجله) او ننګرهار طب پوهنځی لخوا (طب پوه) چاپیږی. دغې او نوری طبي مجلې دې سره یو ځای شی او بیا دی ټولو طب پوهنځیو ته واستول شي، تر څو تیرایژ یی لوړ او زیات شمیر لوستونکي او ګټه اخستوکي ولری.

۴- مجلې باید نورو پوهنتونونو او پوهنځیو ته په ټول افغانستان کې وویشل شي، تر څو اکاډیمکې او علمي اړیکې تینګې شي، د مثال په ډول د کابل طبي پوهنتون مجله باید د هېواد ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو (۸ دولتي، ۲۷ خصوصي) چې د طب پوهنځي لري ولېږل شي.

۵- د علمي مقالو ترڅنګ باید د لوستونکو او استادانو لپاره د اړوندو رشتو مهم او ګټور خبرونه او په زړه پورې مطالب هم په مجله کې ځای پر ځای شي. د مثال په ډول، که په یوه نوې رشته کې لنډ مهاله کورسونه، ماسټري یا دوکتورا پروګرام پیل کیږي، ښه ده چې په دې اړه په کې معلومات خپاره شي.

۶- څرنګه چې باید په دغو مجلو کې څېړنیزی مقالې خپری شی، نو په کار ده چې د څېړنو لارښودونه (Research Methodology) او مهم معلومات په کښې نشر ته وسپارل شی.

۷- د بهرنیو ستنډرډ او هم د افغاني استادانو د نویو کتابونو پیژندنه او نقد Book Review په کې وشي. د نړی په ټولو علمي مجلو کې د مجلې په پای کې دغه برخه یوه په زړه پورې برخه وي !

۸- د پوهنتونونو مجلې باید د اړوندو پوهنتونونو په ویبسایتونو کې خپری شي، تر څو لا زیات شمیر استادان او محققین ورڅخه ګټه واخلی. همدا شان کیدای شی په ځانګړی سایت کې د نورو کتابونو او مونوګرافونو سره خپری شي.

# ورکشاپونه او تش په نامه پروژې! ؟

د لوړو زده کړو په وزارت او پوهنتونونو کې زيات شمير بېلا بېل سمينارونه، ورکشاپونه او ميتنګونه د درسي کيفيت لوړولو ، د مجازي زده کړې (E-learning ) ، تدريس په انګليسي ژبه، جندر او د ښځو حقوقو لاندې جوړېږي. همدا شان په دې نامه ځينې پروژې هم پلې کېږي، چې په لس ګونو ميليونونه ډالر پرې لګول کېږي.
زموږ مسئولين او کارمندان، په وزارت او پوهنتونونو کې هم په خوښۍ سره په دغه ورکشاپونو کې ګډون کوي، ځکه چې دغه شان غونډې زياتره د بهرنيو ادارو په مالي مرسته جوړېږي.
ښه پرېمانه ډوډۍ، چای او کلچې هم پکې وي، چې زياتره برخه يې پاتې کېږي. ډېر عکسونه او فلمونه واخيستل شي، ښايسته راپور جوړ شي. ځينې وخت خو داسې هم کېږي، چې د ځينو مؤسسو کار او پروژې يوازې همدا په غونډو جوړولو خلاصې شي، نوره کومه لاس ته راوړنه نه لري او هم د ډېرو داسې سمينارونو او پروژو څخه کومه دوامداره ګټه زموږ پوهنتونونو ، استادانو او محصلينو ته نه رسېږي. ما څو کاله مخکې په دريو بېلابېلو داسې غونډو کې چې د نصاب په هکله جوړې شوې وې، په لوړو زده کړو وزارت تالار کې برخه واخيستله، په دريو غونډو کې ډېرو ويناوالو (معين، عمومي رييس، رييس او څو استادانو ) هماغه خپلې خبرې او پريزنتېشنونه تکرار کړل. د بېلابېلو ولايتي پوهنتونونو څخه هم رييسان او علمي معاونين راغوښتل شوي وو ، هغوی ته د لارې مصارف، ورځني مصارف او هم د اوسېدلو مصارف ورکړل شول، خو مصارف زښت زيات وو او مؤثريت يې ډېر کم.
همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت د نوي ستراتيژيک پلان (۲۰۱۵-۲۰۲۰) د جوړولو په خاطر هم يو شمېر همداسې سمينارونه ونيول شول، خبر شوم چې د پلان د جوړولو لپاره کومه تخصيص شوې بوديجه ټوله نه وه مصرف شوې، نو

بیا صاحبانو دا بهتره وګڼله چې د ستراتیژیک پلان په هکله به د نظر څرګندونې او مشورو سمینار ونیسي. له بده مرغه کلونه نور هم تېر شول خو تر نن (نومبر ۲۰۱۲) د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیک پلان چې د لوړو زده کړو او د راتلونکې لپاره تر ټولو مهم سند دی، نهایي نه شو. د نړیوال بانک لخوا د پلان جوړولو لپاره *۲,۲ میلیونه ډالر مصرف شوي.

همدا شان له بده مرغه د افغانستان په بېلابېلو ادارو کې یو زیات شمېر پیسې په بې ځایه سمینارونو او ورکشاپونو باندې مصرفېږي او هم یو زیات شمېر لوړ رتبه مامورین په دغه سمینارونه کې مصروف دي او خپل اصلي کارونو ته وخت نه لري، چې ورباندې فکر او اجراآت وکړي.

اصلاً باید په یوه برخه کې یوه پروژه د هغه برخې د ستونزو د جامع تحلیل او ارزونې څخه وروسته پیل شي.

پروژه یعنې د معین هدف یا اهدافو لاسته راوړلو لپاره معین کارونه (ګامونه) په معین بودیجه او معین وخت کې دي، خو ځینې خلک داسې فکر کوي، چې پروژه یعنې پیسې مصرفول او هغه هم بې له کوم هدف او لاسته راوړنې څخه !

که موږ یوه ستونزه لرو، باید دا وڅېړل شي، د مربوط اشخاصو او ادارو سره خبرې وکړو او د حل عملي لارې چارې یې وسنجوو او بیا دغه مشکلاتو د حل لپاره یوه پروژه پېشنهاد کړو او د پروژې په پلي کولو ستونزې حل او خپل هدف ته ځان ورسوو. د اړونده ادارو او خلکو لخوا د پیل شویو کارونو او د حل لارو چارو څخه ملاتړ د پروژې په بریالیتوب کې مهم رول لري، نه دا چې ببخي نوی شیان، چې هېڅوک یې نه پېژني، په پروژه کې عملي شي. دلته به زه خپل مثال راوړم:

ما اووه کاله مخکې د ننګرهار طب پوهنځي کې د محصلینو یو اساسي مشکل ولید، دلته دشل-دېرش کلونو پخواني په لاس لیکل شوي چپترنوټونه د یوازیني درسي موادو او درسي کتابونو په څېر ورڅخه ګټه اخیستل کېده.

په زیاتره برخو کې حتی محصلینو چپترونه هم نه درلودل او هر څه به چې استاد په صنف کې ویل، هغه به یې د ځان سره نوټ کول او په میخانیکي ډول به یې حافظې ته سپارل او بیا به یې په آزموینه کې همدغه شیان د پوښتنو په ځواب

کې لیکل. استادانو هم یوازې د خپلو درسونو او چپترونو په محدوده کې سوالونه راوړل په دې شان د زیاترو محصلینو په زیاترو موضوعاتو سر نه خلاصېدلو او درسي کیفیت دلته ډیر ټیټ و او همدا یې یو مهم علت و، چې د طب څخه فارغ شوي ځوان ډاکټران په ډېرو موضوعاتو نه پوهېدل او ښه مسلکي ډاکټران نه وو.

د دغه مشکل له لیدلو، ارزولو څخه وروسته ما د محصلینو، استادانو، د طب پوهنځي رییس او معاون بیا د پوهنتون رییس او معاونینو او هم په کابل پوهنتون او کابل طبي پوهنتون کې د دغو موضوعاتو له څېړلو څخه وروسته، د درسي کتابونو د چاپولو پروژه پیل کړه. په دې لړ کې له دوولسو څخه زیات شمېر استادان حاضر شول، چې به له کومې مادي مرستې او ملاتړ څخه خپل چپترنوټونه نوي کړي، تایپ کړي، کتابونه یې نوي (update) کړل، موږ ته یې وسپارل، چې تر اوسه ۲۲۵ عنوانه درسي کتابونه چاپ او د ټولو پوهنتونونو په اختیار کې ورکړل شول او هم د انټرنیټ له لارې هر څوک کولای شي په وړیا توګه ورڅخه ګټه واخلي.

زما د دغې مثال یادولو هدف دا دی، چې په همدې شان موږ باید د لوړو زده کړو بېلابېلې برخې مطالعه کړو، وڅېړو، وارزوو ، د محصلینو، استادانو او کارمندانو سره پرې بحث وکړو او د هغوی سره په ګډه د حل لارې چارې ورته پیدا کړو، نه دا چې موږ ته بهرنیان راشي، چې تاسو دغه یا هغه شي ته ضرورت لري او بیا پکې په میلیونونه ډالر مصرف شي، چې نه د محصل، استاد او پوهنتون لومړیتوب وي. دمثال په ډول د جندر او ښځو تر عنوان لاندې په وروستیو ۱۵ کلونو کې په لسګونو میلیونونو ډالر ولګېدل.

زموږ ښځینه محصلینو لپاره په یو لوی پوهنتون کې تر څه مودې مخکې یو ښځینه تشناب هم شتون نه درلود، حال دا چې د ښځینه محصلینو او جنډر په نامه ډېر مصارف کېدل او کېږي.

همدا شان زموږ په پوهنتونونو کې لاتر اوسه دوامداره برق او انټرنیټ (حتی په وزارت کې) نشته، خو موږ لګیا یو د E-learning په نامه پروژې پیل کوو او دلته او هلته سمینارونه نیسو او په میلیونونو ډالر په دې نامه مصرفوو.

زما وړانديز دا دی، چې راشئ محصل ته ورشو چې څه مشکل لري، استاد ته ورشو او ورڅخه وپوښتو چې څه غواړي، ډیپارټمنټونو ته ورشو، چې څه شیانو ته ضرورت لري، او له هغې وروسته بیا پروژې جوړې کړو او پیسې مصرف کړو !

خپلو نړیوالو مرسته کوونکو ته د خپلو مشکلاتو د رفع کولو لپاره خپل وړانديزونه او پېشنهادونه د پروژو په چوکات کې ورکړو.

تر اوسه ما په وزارت یا پوهنتون کې کوم مسئول نه دی لیدلی، چې د خپلو اړوندو کارونو او چلېنجونو د رفع کولو لپاره یې پروپوزل وړاندې کړی وي. د یوه پوهنتون معاون د بهرنیانو سره په یوه غونډه کې د دې سوال چې تاسو پوهنتون لومړنۍ ستونزې څه دي چې موږ بیا په دې هکله فکر او کار وکړو؟ داسې ځواب وکړ: "زموږ پوهنتون هر شي ته ضرورت لري، که تاسو یو جنس، یو قلم هم مرسته کولای شی، نو ویې کړئ موږ هر شي ته ضرورت لرو. " هغه بهرنی هک پک حیران شو او بیا هېڅ هم ونشول.

وزارت، پوهنتون، وزیر او رییس پوهنتون باید د خپلې ادارې کار لپاره یو vision ولري. څه غواړم په خپله اداره کې د خپل مسئولیت په وخت کې د خپلو همکارانو، مرسته کوونکو په مرسته، د خپل وزارت یا پوهنتون لپاره تر لاسه کړم. د دې لپاره خپل کاري پلان جوړول پکار دي. نه دا چې هره ورځ راشه، په څوکۍ کېنه، ورقې چې راځي امضاء کوه یې، غونډو او دعوتونو ته غوښتل کېږه.

د لوړ پوړیو چارواکو تر ټولو مهم دنده دا ده، چې د ټولو کار کوونکو لپاره د کار شرایط برابر کړي. د ورځینیو کارونو تر څنګ ښه کار وکړي، په خپلو کاري برخو کې وارزول شي او نوښتونه رامنځته کړي.

***ي و، کابل، نومبر 2016***

** د لوړو زده کړو پراختیایي پروګرام کارمند د شفاهي معلوماتو پر اساس.*

# سافټوېر لومړی که هارډوېر ؟

په لوړو زده کړو وزارت کې د CIM-Expert او سلاکار په توګه د افغاني پوهنتونونو لپاره د کار په موده کې ما له آلماني، امریکايي او نورو مرسته کوونکو ټولنو او مؤسسو سره ډېرې خبرې اترې درلودې. دوی بیا بیا ویل چې دوی تر ټولو لومړی غوارې استادانو ته د دوی په هېوادونو کې، په درېیم هېواد لکه ترکیه یا هندوستان کې او یا په افغانستان کې د ننه لنډ مهاله روزنې ورکړې.

د لوړو زده کړو وزارت او د پوهنتونونو استازي د زېرېناوو لکه درسي خونې، ښوونځي، لابراتواري وسایل، کتابونه او درسي موادو د کمښت شکایت کوي. دوی وايي چې له دې اړین چاپېریال څخه پرته استادان په اغېزناکه توګه تدریس نه شي کولای او محصلین هم له دوی څخه په پوره اندازه ګټه نه شي اخیستلای.

او سمهال ۳۰۰ زره نارینه او ښځینه محصلین په ۳۴ دولتي او ۹۴ خصوصي پوهنتونونو کې په زده کړو بوخت دي. راتلونکی کال به ۴۰۰ زره د دوولسم ټولګي فارغانو له ډلې څخه ډېر لږ پوهنتونونو ته لاره پیدا کړي (۱۰۰ زره زده کوونکي دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته). له بده مرغه د محصلینو دا لوی شمېر به نور هم د پوهنتونونو د کیفیت د خرابوالي لامل شي. د پوهنتونونو چارواکي په هر کنفرانس کې شکایت کوي چې پوهنتونونو ته په ډېر شمېر محصلین راځي چې د دوی له ظرفیت څخه ۵۰-۱۰۰ سلنه پورې لوړ دي. د بېلګې په توګه که یو پوهنتون د ۱۰۰۰ تنه محصلینو ځای ولري هغه ته ۲۰۰۰ تنه ور پېژندل کېږي، پرته له دې چې دوی ته مخکې له مخکې خبر او پلان ورکړل شي او یا ورته اضافي استادان، ښوونځی، مېزونه او نور ...تیار شي، نو له همدې امله ډېری مسؤولین او استادان د تدریس د کیفیت له ټیټوالي شکایت کوي. د سیاسي دلایلو له امله او د دې لپاره چې دا ځوان کډوال کوونکي په آرام کېني، نو دوی دولتي یا خصوصي پوهنتونونو ته لېږل کېږي چې دوهم او درېیم

چانس ورکړل شي. په پوهنتونونو کې د محصلینو د شمېر ډېرښت د دوولسم ټولګي د فارغانو په شمېر پورې تړلی دی. په ۲۰۱۴ کال کې ۴۰۰۰۰۰ زده کوونکي په کانکور آزموینه کې ګډون کوي، خو دولتي پوهنتونونه یوازې د ۴۰۰۰۰ محصلینو د جذبولو ظرفیت لري. دا حالت به هر کال په همدې ډول د زیاتېدو په حال کې وي.
له بده مرغه هغه مسؤولین چې په افغانستان کې دي یا له هېواده د باندې دي، د دې وضعیت په اړه کومه اندېښنه نه لري. دوی یوازې خپل ورځني کارونه تر سره کوي، خو راتلونکې ته پاملرنه نه کوي. د ظرفیتونو د کمښت او د بیوروکراتیکو پروسو له امله د لوړو زده کړو وزارت په ۱۳۹۲ کال (۲۰۱۴/۲۰۱۳) کې یوازې ۵۰ سلنه پراختیایي بودیجه لګولې ده. ځینې نړیوالې مرسته کوونکې موسسې ډېرې پیسې لګوي، خو د پوهنتونونو اړتیاوې نه شي پوره کولای او یا یې اړتیاوې تر هغه وخته پوره وي چې بودیجه شتون ولري. د پروژو د پایدارۍ په اړه زیاتې خبرې کېږي، خو ډېرې یې د کار په جریان کې قطع کېږي یا د پروژې له ختمېدو سره هر څه پای ته رسېږي. د بېلګې په توګه USAID په کابل او نورو ولایتي پوهنتونونو کې د انګلیسي ژبې د زده کړې کورسونه حمایه کول او د هغو لپاره یې خپلې زېربناوې جوړولې. دوی په پوهنتونونو کې د انګلیسي دیپارتمنتونو سره همکاري نه کوله او د هغوی د جوړښت او ظرفیت ملاتړ یې نه کاوه تر څو د بودیجې له پای ته رسېدو وروسته یې هم دوام کړی وای.
بله بېلګه یې دا ده چې د الکترونیکي زده کړو (E-learning) په رامنځته کولو باندې ډېرې پیسې لګول کېږي. له بده مرغه تر اوسه دا کار هم نه دی بریالی شوی ځکه چې هر استاد او محصل انټرنټ ته لاسرسی نه لري او نه هم ټول له انګلیسي سره بلدتیا لري. دا پروګرامونه د یو څه مودې لپاره د پوهنتون له چوکاټه د باندې روان وو، خو ډېر یې اوس بېرته د پخوا په شان دي (هېڅ په لاس نه دي راغلي او هېڅ یې له لاسه نه دي ورکړي).
الکترونیکي زده کړې او لنډ مهاله روزنې د یو کور د وروستي پوړ مثال لري چې د هغه لپاره موږ لومړي پوړ او لاندېنیو پوړونو ته اړتیا لرو. له

شک پرته درسي خونې، زېربنا، وسایل، لابراتوارونه، د کاري مارکېټ سره سمې زده کړې، د کتابونو د ذخیرو پر ځای په پوهنتونونو کې د کتابتونونو فعالول او د درسي کتابونو چاپول لومړني پوړونه دي.
دېته باید اړتیا پېښه نه شي چې د دې ټولو لپاره له مرسته کوونکو څخه غوښتنه وشي، بلکې چارواکې باید له مالیې وزارت څخه د بودیجې غوښتنه وکړي او بیا یې په پورته یاد شویو موخو باندې مصرف کړي. یوازې په هغه صورت کې چې وزارت یا پوهنتونونه د کوم دلیل له مخې دا کار ونشي کولای بیا دې له مرسته کوونکو څخه غوښتنه وشي تر څو ضروري زېربنا تیار کړي. دا په دې مانا ده چې هارډویر لومړی او سافټویر وروسته. د حیرانتیا خبره دا ده چې د نیږدې راتلونکې لپاره د e-learning نور پروګرامونه هم په پلان کې دي. زه په سملاسي توګه سپارښتنه کوم مخکې له دې چې په دې برخه کې نوي پروګرامونه پیل شي، باید مخکینۍ پروژې په غور سره وارزول شي.
تر ټولو وړاندې باید د کورسونو مواد او کتابونه افغاني ژبو ته وژباړل شي او هغو ته نوره پراختیا ورکړل شي. وروسته کولای شو هغه په ډیجیټل شکل سره (په آفلاین توګه په سي ډي او ډي وي ډي کې او همدارنګه په آنلاین توګه) د لاسرسي وړ وګرځول شي.
نن (اکتوبر ۱، ۲۰۱۴) یو پیغام تر لاسه کړ چې د پوهنې وزارت به ۳۴ مېلیونه کتابونه په ټول هېواد کې لومړنیو ښوونځیو ته ووېشي. د یاد وزارت وزیر وویل چې ۱۰ میلیونه یې په افغانستان کې چاپ شوي او پاتې برخه یې د USAID په مالي ملاتړ سره په اندونیزیا کې چاپ شوي دي. په تېرو ۱۵ کلونو کې د مختلفو ټولګیو مختلف العنوان کتابونه د ۱۱۹ میلیون امریکایي ډالرو په لګښت د امریکا، ډېنمارک او نړېوال بانک له لوري چاپ شوي دي. خو د پوهنتونونو درسي کتابونه په کوم حالت کې دي؟ زما په هڅو د ۱۵۷ طبي درسي کتابونو په استثنا په ټولو رشتو کې حتی ۱۰۰ عنوانه کتابونه هم نه دي چاپ شوي چې د هر کتاب تر ټولو لوړ تیراژ ۱۰۰۰ ټوکه دی.

ي و، ***کابل، ۱ اکتوبر ۲۰۱۴***

# په پوهنتون کې زده کړې د ښوونيز سيستم يوه مهمه برخه ده

## په افغانستان کې د زده کړو او پوهنتونونو د پاليسيو په اړه ځينې نظرونه

د طالبانو له واکمنۍ وروسته (۲۰۰۱ کال = ۱۰۰۰ ښوونځي) په افغانستان کې ډېر شمېر ښوونځي جوړ شول (۲۰۱۴ کال = ۱۷۰۰۰ ښوونځي). افغان حکومت او نړېوالې ټولنې هڅه وکړه چې ډېرو هلکانو او نجونو ته د ښوونځيو امکانات برابر کړي. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ډېرو لږو نجونو ته اجازه ورکول کېده چې په لومړنيو ښوونځيو کې لوست وکړي.

د افغانستان ولسمشر، د پوهنې وزير او ډېرو بهرنيو مرسته کوونکو ډېر ځله په نړېوالو کنفرانسونو کې په وياړ سره د زده کوونکو د زياتېدونکي شمېر يادونه کوله تر څو د خپل سياست او حمايت بريالیتوب خلکو ته وښيي. په دې وروستيو مياشتو کې هم له ۱۱ ميليون څخه زياتو ښځينه او نارينه زده کوونکو د شمېر يادونه وشوه (۲۰۰۱ کال = ۱ ميليون زده کوونکي).

خو د دې ځوانو زده کوونکو له فراغت وروسته يې د راتلونکې په اړه ډېر فکر نه دی شوی چې آيا دوی به د کوم مسلک د زده کړې يا پوهنتون ته د تلو چانس تر لاسه کړي که نه؟ دا يو ساده سوال نه دی: آيا مېليونونه کسان به وکولای شي دندې تر لاسه کړي؟ آيا دوی به نورو زده کړو ته لاسرسی پيدا کړي او دنده به تر لاسه کړي تر څو د ځانونو او کورنيو لپاره پيسې وګټي؟

له هغه مهاله ۱۳ کاله وروسته په ۲۰۱۴ کال کې اوس کابو اته مېليونه نجونې او هلکان زده کوونکي لرو. اوس هر کال ۲۰۰ زره زده کوونکي له دوولسم ټولګي فارغېږي چې د نورو زده کړو هيلې هم لري خو ټول په

مسلکي کالج یا پوهنتون کې د زده کړو چانس نشي تر لاسه کولای. په ټول هېواد کې ۳۲ دولتي پوهنتونونه کولای شي د دې شمېر فارغینو څلورمه برخه (۵۰ زره تنه) ومني او پاتې نور یې باید یا په خصوصي پوهنتونونو کې په لوړه بیه ګډون وکړي او یا به له لوړو زده کړو بې برخې پاتې وي.

افغانستان په تېرو دیارلسو کلونو کې پر ابتدایي زده کړو باندې اساسي تمرکز درلود، خو مسلکي ښوونځي او پوهنتونونه یې له پامه غورځولي وو. ددې پالیسۍ پایله دا ده چې د دوولسم ټولګي د فارغانو شمېر زیاتېږي، خو پوهنتونونو ته لاره نه شي موندلای. په دې هېواد کې حتی د پوهنتونونو فارغین د دندې پیدا کولو په برخه کې ستونزې لري.

د دې حالت یو سبب په پوهنتونونو کې د درس د کیفیت ټیټوالی دی چې په هغه کې د کاري مارکېټ اړتیاوې په نظر کې نه نیول کېږي. بل لامل یې دا دی چې په افغاني پوهنتونونو کې یوازې نظري تدریس ترسره کېږي ځکه چې لابراتوارونه نه لري او محصلین عملي زده کړې او ټرېننګونه نه تر لاسه کوي.

له عملي مهارتونو پرته دا فارغین نه شي کولای چې د ډاکټرانو یا انجنیرانو په توګه کار وکړي نو له همدې امله ډېری یې داسې دندې تر سره کوي چې د دوی له تحصیلي څانګو سره کاملاً توپیر لري. همدارنګه د علمي کادرونو د بې کارۍ کچه هم په چټکۍ سره د زیاتېدو په حال کې ده.

ډېر ناروغان د معایناتو او درملنې په موخه له هېواده بهر ځي. ولې؟ ځکه چې په افغانستان کې ښه روزل شوي ډاکتران نه شته.

ولې د دې هېواد ډاکټران په دې بد حالت کې دي؟ ځکه د طب برخې محصلین هغه په لاس لیکل شوي نوټونه د درسي موادو په توګه کاروي چې لسیزې پخوا لیکل شوي وو، دوی په لابراتوار کې د عملي کار تجربه نه لري او د ناروغ د بستر تر څنګ یې روزنه نه ده تر لاسه کړې. افغانستان باید په دې او نورو برخو کې د روزنې د کمښت پایلې په ښه توګه تشخیص کړي.

د دې لپاره چې دوامداره لاسته راوړنې ولرو، باید تغیرات رامنځته شي.
همدرانګه د دې لپاره چې د پام وړ پرمختګونه تر لاسه کړو باید د افغانستان د زده کړو پالیسي په غور سره بیا وکتل شي او بدلونونه پکې راوستل شي. د هېواد د پرمختګ په برخه کې باید د مسلکي زده کړو او پوهنتونونو ارزښت له پامه و نه غورځول شي.
په افغانستان کې تقریباً ۱۰۰ زره بهرني کارکوونکي کار کوي، ځکه دلته په کافي اندازه مسلکي خلک نشته. که څه هم هر کال د زده کړو په برخه کې په سلګونو میلیونه پیسې لګول کېږي، خو بیا هم د مسلکي کارکوونکو شمېر کم دی د بېلګې په توګه د سېول انجنیرۍ، سړک جوړونې، مخابراتو او ډېرو نور رشتو کې. ډېر بهرني استادان (چې اکثره یې پاکستاني او هندي دي) په افغانستان کې له **۸۵** خصوصي پوهنتونونو نه زیاتو کې تدریس کوي.
هر کال تر ۲۰۰۰ پورې محصلین بهر ته د زده کړو په موخه لېږل کېږي، خو دا شمېر د دې هېواد لپاره چې نفوس یې تر دېرش مېلیون زیات دی او دېرشو کلونو جګړې ځپلي دی، بسنه نه کوي. دلته ښه روزل شویو او مسلکي خلکو ته اړتیا ډېره زیاته شوېده.
د هغه محصلینو سربېره چې په بهر کې زده کړې کوي افغانستان خپلو غوره پوهنتونونو ته اړتیا لري تر څو د لایقو کارپوهانو او مدیریتي کارکوونکو په برخه کې شته اړتیاوې پوره کړي. دا پوهنتونونه باید نړېوالې علمي تجربې افغانستان ته راوړي او دلته یې په ټول هېواد کې ټولو نارینه او ښځینه محصلینو ته ور زده کړي. له دې سره به ښځینه محصلینې هم وکولای شي چې عملي نړېوالو زده کړو ته لاسرسی ولري، ځکه دوی د کلتوري او کورنیو دلایلو له کبله نشي کولای چې له هېواده بهر زده کړې وکړي.
هغه پیسې چې د زده کړو په برخه کې لګول کېږي باید په متوازنه توګه مصرف شي یعنې زیاتې پیسې باید په حرفه یی زده کړو او پوهنتونونو

ولګول شي. دا غوښتنه له حکومت، پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او همدارنګه نړیوالې ټولنې او مرسته کوونکو هېوادونو څخه کېږي چې اوسنی حالت د پرمختګ پر لوري بوزي.

که څه هم پخواني ولسمشر حامد کرزي څو ځله یادونه کړې وه، خو د طب او انجنیرۍ په برخو کې د پرمختګ پالیسۍ ته د مسوولینو او مرسته کوونکو ادارو لخوا پوره پاملرنه نه ده شوې. ځینو مرسته کوونکو د دوی د موجوده پیسو د لګولو او کار لپاره مناسبه ساحه پیدا کړې ده.

په افغانستان کې یو وزارت (پوهنې وزارت) د لومړنیو او حرفه یي زده کړو مسؤول دی او بل یې (لوړو زده کړو وزارت) د پوهنتونونو مسولیت لري. له همدې کبله د دوی تر منځ اړیکې او همغږې ډېره اړینه ده چې باید پراختیا ومومي. دا دواړه وزارتونه باید له یو بل سره خبرې اترې وکړي، حتی که اوسنی حالت هم نه بدلېږي بیا هم دوی باید د زده کړو لپاره یوه ګډه ستراتیژي جوړه کړي.

یوازې ښه روزل شوي محصلین (نه یوازې لېسانس بلکې همدارنګه د ماسټرۍ او دوکتورا پروګرامونه) کولای شي په اقتصادي پرمختګ، نوښت، پیلولو او اغېزناک مدیریت کې فعاله ونډه واخلي او د هېواد راتلونکې ستونزې حل او فصل کړي.

دا یوازینۍ لاره ده چې افغانستان کولای شي په نېږدې راتلونکې کې په خپلو پښو ودرېږي.

د افغانستان لوړې زدکړې باید داسې حالت ته ورسول شي چې له نړیوالو معیارونو سره سم په کور د ننه په خپلو تحصیلي بنسټونو کې، د خپلو استادانو په وسیله د هېواد د بېلابېلو اړتیاوو لپاره خپل کارپوهان او مدیران وروزي.

***ی و، کابل، ۲۰۱۲ کال***

# په DVD کې ۲۱۴ طبي درسي کتابونه
# په افغانستان کې د ډیجیټلي کتابتون لپاره
# لومړی اغېزمن ګام




افغانستان په نړۍ کې د هغو هېوادونو له ډلې څخه ګڼل کېږي چې ډېر کم کتابونه، هغه هم په ډېر کم تیراژ معمولاً د ۱۰۰۰ ټوکه په شاوخوا کې پکې چاپېږي. د نوې تکنالوژۍ په مرسته په نوره نړۍ کې اوس ورځ په ورځ هر چاپ شوی کتاب په ډیجیټل فارمټ کې هم تر لاسه او لوستل کېږي.

د دغه نوښت له لارې کتابونه په ډېره آسانه او ارزانه توګه نورو مینه والو ته رسېدلی شي، نو له همدې کبله زموږ له خوا ۲۱۴ طبي درسي کتابونه په انګلیسي، پښتو او دري ژبو چې زیاتره یې د افغانستان د بېلا بېلو پوهنتونونو (کابل، ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، کاپیسا) د استادانو او یو شمېر یې په جرمني او امریکا کې د پوهانو له خوا لیکل شوي. په دوو ډي وي ډي ګانو کې ثبت، چاپ او د هېواد د ټولو طب پوهنځیو

کتابتونونو ته ورکړل شول.
په دې توګه هر استاد ، محصل او مینه وال په ډېره آسانۍ سره یاد ۲۱۴ طبي درسي کتابونو ته لاسرسی پیدا کوي، هغه په سملاسي توګه په خپل کمپیوټر کې کتلی او په مکمل ډول لوستلی شي. دغه ټول کتابونه په (www.ecampus-afghanistan.org) وېب سایټ کې هم د نړۍ په هر ګوټ کې کتلی شي او همدارنګه په کمپیوټر کې د ګټې اخیستنې لپاره یې ډاونلوډولی شي.
که څه هم د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونه او مرستندویه ټولنې دلته له Digital Library څخه په خپلو پلانونو ، پروژو او پروګرامونو کې تل یادونه کوي او USAID په دې نامه په تېرو کلونو کې یوه اندازه پیسې هم لګولې دي، خو اکثراً په دغو پروژو کې افغاني او د افغاني لیکوالانو کتابونه نه؛ بلکې د بهرنیانو کتابونه را ټول او یا هم یوازې نورو ډیجیټلي کتابتونونو ته د لینکونو رسول دي. دغه مسئله د لوړو زده کړو وزارت په وېب پاڼه www.mohe.gov.af کې هم لیدلی شئ، دلته بیا پر الکترونیکي کتابتون کلیک وکړئ.
زما وړاندیز د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونو او محترمو استادانو ته دا دی، چې ټول خپل لیکل شوي کتابونه او نورې لیکنې په الکترونیکی ډول په CD یا که زیات وي په DVD او هم د خپلو پوهنتونونو په وېب سایټونو کې خپاره کړي.
څرنګه چې په افغانستان کې د چاپ شویو کتابونو تېراژ معمولاً زر ټوکه وي، د اړونده رشتې یا مضمون ټولو استادانو ، محصلینو او مینه والو ته نه شي رسېدلای، نو که هر درسي کتاب په الکترونیکي ډول هم خپور شي، هر نوی کتاب به ټولو استادانو ، محصلینو او علاقمندانو ته په ټول افغانستان کې په اسانه توګه او په لنډ وخت کې ورسېږي چې ترې ګټه واخلي.
دغه کار به د زده کړو د کیفیت په ښه کولو کې مرسته وکړي او د افغاني پوهنتونونو او پوهانو ترمنځ اکاډمیکې اړیکې او ګډ عملي کارونه به هم ګړندي کړي.

# ۲۱۴ طبي درسي کتابونه (Full version in PDF)

# ۲۱۴ کتب درسی طبی (پښتو/دری و انگلیسی)

| شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون | DVD |
|---|---|---|---|---|
| | | I. (P.C.B.) پی سی بی | | |
| ۱ | فزیک اوپتیک | پوهنوال غلام قادر دهگان | هرات | I |
| ۲ | فزیک نور | پوهاند میر محمد ظاهر حیدری | بلخ | I |
| ۳ | نور و فزیک جدید | پوهنوال غلام قادردهگان | هرات | I |
| ۴ | میخانیک او د نور فزیک | پوهنیار هدایت الله | ننگرهار | I |
| ۵ | د برق فزیک | پوهنیار هدایت الله | ننگرهار | I |
| ۶ | توضیح اساسات فزیکی، وسایل تشخیصیه طبی | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ | I |
| ۷ | فزیک طبی بخش حرارت | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ | I |
| ۸ | حرارت و ترمودینامیک | پوهنوال غلام قادر دهگان | هرات | I |
| ۹ | فزیکی کیمیا دوهم جلد، ترمودینامیک | حبیب الله نوابزاده | ننگرهار | I |
| ۱۰ | فزیک طبی بخش میخانیک | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ | I |
| ۱۱ | بیوفزیک | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ | I |
| ۱۲ | بیوفزیک | پشتانه بنایی | ننگرهار | I |
| ۱۳ | عمومي کیمیا | دوکتورخیرمحمد ماموند | ننگرهار | I |
| ۱۴ | عضوی کیمیا، د الیفاتیک برخه | پوهنوال ډاکترگل حسن ولیزی | خوست | I |
| ۱۵ | عضوي کیمیا، د اروماتیک او هیترو سیکلیک برخه | پوهنوال ډاکترگل حسن ولیزی | کابل | I |
| ۱۶ | کلاسیک اومالکیولی جنتیک | دوکتورمحمد صابر | ننگرهار | I |
| ۱۷ | بیولوژي مالیکولي حجره، بخش اول | پوهنوال علی یوسف پور | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۱۸ | بیولوژي مالیکولي حجره، بخش دوم | پوهنوال علی یوسف پور | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۱۹ | عمومي بیولوژی | پوهنمل جماعت خان همت | ننگرهار | I |
| ۲۰ | عمومی بیولوژی | پوهندوی الفت شیرزی | ننگرهار | I |
| ۲۱ | اساسات اداره و منجمنت صحت عامه کشور | پوهاند عبدالحی مومنی | ننگرهار | I |
| ۲۲ | وراثت او ډ سمورفولوژي | پوهنمل ډاکتر مسیح الله مسیح | ننگرهار | I |
| ۲۳ | وراثت | پوهنوال دوکتور گل سالم شرافت | ننگرهار | I |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۴ | طبی ترمینولوژي | دوکتورګل سیما ابراهیم خیل قادری | ننګرهار | I |
| ۲۵ | انالیزریاضی I | سید یوسف مانووال | بلخ | I |
| ۲۶ | احصاییه | پوهاند محمد بشیردودیال | ننګرهار | I |
| ۲۷ | د احصاییی اساسات | پوهنیارمحمد اغا ضیاء | کندهار | I |
| ۲۸ | د ننګرهار طب پوهنځی نصاب او درسی مفردات(انګلیسی) | ننګرهارطب پوهنځی | ننګرهار | I |
| ۲۹ | د طبابت لنډ تاریخ | پوهاند عبدالحی مومنی | ننګرهار | I |
| **پارا کلینیک.II** | | | | |
| ۳۰ | اناتومی | پوهنمل ډاکټرحفیظ الله سهار | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۳۱ | اناتومي I (هډوکی، مفاصل او عضلات) | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتی | ننګرهار | I |
| ۳۲ | اناټومی دریم جلد عصبي سیستم، حواس او اندوکراین غدوات | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتی | ننګرهار | I |
| ۳۳ | د هضمي سیستم اناتومي | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتی | ننګرهار | I |
| ۳۴ | د بولی تناسلي سیستمو اناتومي | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتی | ننګرهار | I |
| ۳۵ | د زړه او د وینې د رګونو اناټومی | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتی | ننګرهار | I |
| ۳۶ | د ټټر اناټومی | دوکتور یما صدیقی | ننګرهار | I |
| ۳۷ | د عصبی سیستم اناټومی | پوهنیار دوکتور یما صدیقی | ننګرهار | I |
| ۳۸ | اناتومی و فزیولوژی انسان، جلد اول | پوهندوی محمد طاهرنسیمی | بلخ | I |
| ۳۹ | اناتومی و فزیولوژی انسان، جلد دوم | پوهندوی محمد طاهرنسیمی | بلخ | I |
| ۴۰ | د جهازاتو اناتومي | پوهنوال ډاکتر محمد حسین یار | ننګرهار | I |
| ۴۱ | د تنفسی سیستم فزیولوژی | پوهنوال دوکتور احسان الله احسان | ننګرهار | I |
| ۴۲ | طبي فزیولوژی | داکتر شریف الله | ننګرهار | I |
| ۴۳ | د تنفسی سیستم او د زړه روماتیزمل ناروغۍ | پوهاند دوکتور سیف الله هادي | ننګرهار | I |
| ۴۴ | د تنفسی او د زړه روماتیزمل ناروغۍ | پوهندوی داکتر سلام جان شمس | ننګرهار | I |
| ۴۵ | داندوکراین، زړه، رګونو او پښتورګو فزیوژي | پوهنوال دوکتور احسان الله احسان | ننګرهار | I |
| ۴۶ | هستولوژي | پوهاند ډاکتربری صدیقي | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۴۷ | طبی هستالوژی | پوهاند داکتربری صدیقی | خوست | I |
| ۴۸ | طبی هستولوژي | پوهاند ډاکتر خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار | I |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴۹ | د سیستمونو هستالوژی | پوهاند ډاکټر خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار | I |
| ۵۰ | عمومي هستالوژي | پوهاند ډاکټر خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار | I |
| ۵۱ | عمومي هستالوژي | پوهندوی ډاکټرفضل الهی | کندهار | I |
| ۵۲ | امبریولوژي | پوهاند دوکتوربری صدیقی | خوست | I |
| ۵۳ | طبی امبریولوژی | پوهنمل داکتر ناصر نصرتی | ننګرهار | I |
| ۵۴ | امبریولوژی طبی | پوهندوی داکتربشیر نورمل | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۵۵ | امبریولوژی عمومی انسان | پوهندوی داکتربشیر نورمل | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۵۶ | امبریولوژي | پوهنوال ډاکتر حسین یار | ننګرهار | I |
| ۵۷ | د وینې فزیولوژي | پوهنمل ډاکتر ولی محمد ویاړ | کندهار | I |
| ۵۸ | طبي بیوشمي | پوهاند خان محمد احمدزی | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۵۹ | د قندونو هضم، جذب او استقلاب | پوهیالی دوکتوریحیی فهیم | ننګرهار | I |
| ۶۰ | د شحمیاتو استقلاب | دوکتور محمدم عظیم عظیمی | ننګرهار | I |
| ۶۱ | مایکروبیولوژی | پوهاند محمد جمعه حنیف | هرات | I |
| ۶۲ | مایکرو بیولوژی طبی، جلد اول | پوهاند دوکتورعبیدالله عبید | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۶۳ | مایکرو بیولوژی طبی، جلد دوم | پوهاند دوکتورعبیدالله عبید | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۶۴ | مایکروبیولوژی عمومی | دوکتور شعیب احمد شاخص | هرات | I |
| ۶۵ | پرازیتولوژی طبی | پوهاند دوکتورعبیدالله عبید | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۶۶ | د پرازیتولوژۍ اساسات | ډاکتر محمد صابر | ننګرهار | I |
| ۶۷ | اساسات پرازیتولوژی طبی | پوهنمل دوکتورمحمد یوسف مبارک | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۶۸ | طبي پرازیتولوژي | پوهنوال دوکتور غلام جیلاني ولی | ننګرهار | I |
| ۶۹ | هلمنتولوژي | پوهنوال ډاکترسید رفیع الله حلیم | ننګرهار | I |
| ۷۰ | عمومي پتالوژي | پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار | I |
| ۷۱ | د سیستمونو پتالوژی دوهمه برخه | پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار | I |
| ۷۲ | پتالوژی عمومی | ډاکترزهرا فروغ | هرات | I |
| ۷۳ | عمومی پتالوژی | پوهندوی‌دوکتور محمد آصف | ننګرهار | I |
| ۷۴ | د سیستمونو پتالوژی | پوهندوی ډاکترخلیل احمد بهسودوال | ننګرهار | I |
| ۷۵ | فارمکولوژی | پوهنوال‌داکتر قمبرعلی حیدری | ننګرهار | I |
| ۷۶ | فارمکولوژی، دوهم ټوک | پوهنوال داکتر قمبرعلی حیدری | ننګرهار | I |
| ۷۷ | فارمکولوژی، دریم ټوک | پوهنوال سید قمبر علي حیدري | ننګرهار | I |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷۸ | د اتونوم او مرکزی عصبی سیستمونو فارمکولوژي | ډاکترغلام ربی بهسودوال | ننګرهار | I |
| ۷۹ | د درملو د استعمال عملي لارښود (انګلیسی/ پښتو) | ډاکتر مالتیی ایل وان بلومرودر | خوست | I |
| ۸۰ | رهنمای تدریس طب | پوهاند دوکتورنادراحمد اکسیر | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۸۱ | گیاهان طبی مستعمله در تداوی امراض قلبی و عایی | پوهنوال محمد عثمان بابری | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۸۲ | اخلاق طبابت | داکترعبدالغفور رهمدل صدیقی | بلخ | I |
| ۸۳ | رهنمود PBL در افغانستان | پوهنوال دوکتورمحمد فرید برنایار | کاپیسا | I |
| III. عامه روغتیا | | | | |
| ۸۴ | د عامی روغتیا اساسات او اداره | پوهنوال ډاکتر محمدعارف رحمانی | ننګرهار | II |
| ۸۵ | د چاپیریال او أندیزه روغتیا | پوهنوال ډاکتر محمدعارف رحمانی | ننګرهار | II |
| ۸۲ | ډیموګرافی او کورنی تنظیم | پوهیالی ډاکتر محمد ابراهیم شیرزی | ننګرهار | II |
| ۸۷ | تغذیه او روغتیا | ډاکتر محمد هارون | ننګرهار | II |
| ۸۸ | تعذیه او سوّتغذیه | پوهنوال داکترعبدالواحد وثیق | قندهار | II |
| ۸۹ | د ځیګر ویروسی التهاب (طبی تشخیص او درملنه) | دوکتور محمد اسحاق شریفی | ننګرهار | II |
| ۹۰ | ملاریا | دوکتور محمد اسحاق شریفی | ننګرهار | II |
| IV. داخله | | | | |
| ۹۱ | فزیکل دیاګنوزس | پوهنوال ډاکترحفیظ الله اپریدی | ننګرهار | II |
| ۹۲ | فزیکي تشخیص | داکتر ناصر جبارخیل | ننګرهار | II |
| ۹۳ | فزیکی تشخیص او د تاریخچې اخیستنه | پوهاند داکتر شریف الله | ننګرهار | II |
| ۹۴ | د طبي عامو ستونځو عملي لارښود (انګلیسی) | داکتر مالتیی ال-وان بلومرودر | ننګرهار | II |
| ۹۵ | رهنمای عملی مشکلات عام طبی (دری) | داکتر مالتیی ال-وان بلومرودر | بلخ | II |
| ۹۲ | د هضمی جهاز ناروغی | پوهاند ډاکتر محمد ظاهرظفرزی | ننګرهار | II |
| ۹۷ | د هضمي جهازاو پښتورګو ناروغۍ | پوهنوال ډاکترعبدالواحد وثیق | کندهار | II |
| ۹۸ | د هضمي سیستم او پښتورګو ناروغۍ | پوهندوی ډاکترسیف الله هادی | ننګرهار | II |
| ۹۹ | امراض جهاز هضمی و کبد | دوکتورمحمد یونس فخری | بلخ | II |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰۰ | د هضمي جهاز ناروغۍ | پوهاند ډاکټرمحمد ظاهرظفرزی | ننګرهار | II |
| ۱۰۱ | د ځیګر ناروغۍ | پوهاند ډاکټرمحمد ظاهرظفرزی | ننګرهار | II |
| ۱۰۲ | د زړه او رګونو ناروغۍ | پوهندوی ډاکټر دل آقا دل | ننګرهار | II |
| ۱۰۳ | تنفسي او د زړه د ساموننو روماتیزمل ناروغۍ | پوهاند ډاکټرمحمد طیب نشاط | ننګرهار | II |
| ۱۰۴ | اندوکراینولوژی او روماتولوژي | پوهاند داکتر محمد طیب نشاط | ننګرهار | II |
| ۱۰۵ | د پښتورګو ناروغۍ | پوهاند ډاکټرمحمد ظاهرظفرزی | ننګرهار | II |
| ۱۰۶ | هیماتولوژی، ایمینولوژی او د ویټامینونو کموالي ناروغۍ | پوهندوی دوکتور ایمل شیرزی | ننګرهار | II |
| ۱۰۷ | د وینې ناروغۍ | پوهاند ډاکټر محمد ظاهرظفرزی | ننګرهار | II |
| ۱۰۸ | هیموتولوژي | پوهندوی دوکتور محمد زکریا امیرزاده | ننګرهار | II |
| ۱۰۹ | د سرطاني ناروغیو اساسات | پوهاند داکتر محمد ظاهرظفرزی | ننګرهار | II |
| ۱۱۰ | د سینې سرطان، پېژندنه، درملنه او مخنیوی | پوهنوال ډاکترنظر محمد سلطانزی ځدراڼ | ننګرهار | II |
| ۱۱۱ | سرطان او د چاپیریال رادیو اکتیویتی | پوهنوال ډاکترنظرمحمد سلطانزی ځدران | ننګرهار | II |
| ۱۱۲ | د وینې سرطان | پوهنوال ډاکترنظرمحمد سلطانزی | ننګرهار | II |
| ۱۱۳ | بیړنی طبی پیښی | داکترعبدالواحد وثیق | قندهار | II |
| ۱۱۴ | بیړنی درملنی | ډاکترعبدالولی رنځمل وردک | خوست | II |
| ۱۱۵ | د داخلي بیړنې پیښې او د بحران خارنه | پوهنوال ډاکترحفیظ الله اپریدی | ننګرهار | II |
| ۱۱۶ | د بیړنیو پیښو د درملنی لارښود (انګلیسی) | پوهنوال ډاکترایمل شیرزی | ننګرها | II |
| ۱۱۷ | بیړنۍ طبی درملني | داکتر سید ملیار سادات | ننګرهار | II |
| ۱۱۸ | د زړه برقي ګراف (ECG) | رنځورپال ډاکټرعبدالله سادات | ننګرهار | II |
| ۱۱۹ | د شکرې ناروغي | ډاکتر محمد نعیم همدرد | ننګرهار | II |
| | | **V. جراحی** | | |
| ۱۲۰ | نرسنګ عملیات خانه | پوهاند دوکتورنجیب الله امرخیل | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۲۱ | کمک های اولیه | پوهاند دوکتورنجیب الله امرخیل | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۲۲ | جراحي، د کلینیکي معایناتو سیستم | پوهندوی ډاکټر بادشاه زارعبدالي | خوست | II |
| ۱۲۳ | اساسات جراحی | پوهاند ډاکټرنجیب الله امرخیل | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۲۴ | د عمومي جراحي اساسات | پوهندوی ډاکټربادشاه زارعبدالي | خوست | II |
| ۱۲۵ | عمومي جراحی | داکترګل سیما ابراهیمخیل قادری | خوست | II |
| ۱۲۶ | عمومي جراحی، لومړی ټوک | پوهندوی ډاکتربادشاه زارعبدالی | خوست | II |
| ۱۲۷ | عمومي جراحی، دوهم ټوک | پوهندوی داکتر بادشاه زارعبدالی | خوست | II |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲۸ | امراض جراحی سیستم هضمی وملحقات آن | پوهاند ډوکتورعبدالوهاب نورا | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۲۹ | امراض جراحی بطن وملحقات ان | پوهندوی ډاکتر عبدالخالق دوست | کندهار | II |
| ۱۳۰ | امراض جراحي بطن وملحقات ان | پوهاند دوکتورمحمد معصوم عزیزی | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۳۱ | امراض جراحي بطن وملحقات ان، چاپ دوم | پوهاند دوکتورمحمد معصوم عزیزی | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۳۲ | د ګیډې د ملحقاتو د جراحی ناروغی | پوهنوال دوکتور بادشاه زار عبدالی | خوست | II |
| ۱۳۳ | د پلاستیک جراحی اساساتاو تخنیکونه | داکتر الفت هاشمی | ننګرهار | II |
| ۱۳۴ | بطن حاد و مزمن | پوهنوال ډاکتر عبدالغفور ارصاد | هرات | II |
| ۱۳۵ | د کولمو بندش او د پریطوان جراحي ناروغی | پوهاند ډاکتر عبدالرؤف حسان | ننګرهار | II |
| ۱۳۶ | امراض یورولوژی | پوهندوی دوکتور غلام سخی حسنی | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۳۷ | یورولوژي | پوهنوال ډاکتر عبدالحد حمید | ننګرهار | II |
| ۱۳۸ | اورتوپیدی | پوهندوی ډاکتر سید شال سیدی | ننګرهار | II |
| ۱۳۹ | کسرونه او خلعی | پوهندوی سید بها کریمي | ننګرهار | II |
| ۱۴۰ | اورتوپیدي او کسرونه | پوهنمل ډاکتر محمد همایون مصطفی | کندهار | II |
| ۱۴۱ | تروماتولوژی | پوهنوال عبدالغفور ارصاد | هرات | II |
| ۱۴۲ | جراحی عصبی | دوکتور عبدالغفور ارصاد | هرات | II |
| ۱۴۳ | عصبي جراحي | پوهندوی داکتر عبدالبصیر منګل | ننګرهار | II |
| ۱۴۴ | عصبي جراحي | پوهندوی دوکتور فضل الرحیم شګیوال | ننګرهار | II |
| ۱۴۵ | د جراحی انکال | رنځوریار داکتر عجب ګل مومند | ننګرهار | II |
| ۱۴۶ | د هضمی سیستم جراحی | داکتر عبدالروف حسان | ننګرهار | II |
| ۱۴۷ | رهنمای انستیزی برای کشورهای رو به انکشاف، جلد اول | دانیل دی موس | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۴۸ | رهنمای انستیزی برای کشورهای رو به انکشاف، جلد دوم | دانیل دی موس | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۴۹ | حاد اپندیسایتیس، تشخیص، اختلاطات او تداوي | پرفیسور دوکتور محمد شریف سروری | ننګرهار | II |
| | **انتانی .VI** | | | |
| ۱۵۰ | انتاني ناروغۍ | پوهنوال ډاکتر عبدالناصر جبارخیل | ننګرهار | I |
| ۱۵۱ | انتانی ناروغی | پوهنوال داکتر حفیظ الله اپریدی | ننګرهار | I |
| ۱۵۲ | امراض انتانی (انګلیسی) | پوهنمل ډاکتر محمد ذکریا امیرزاده | کندهار | I |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۵۳ | د ساري ناروغيو کنټرول | پوهندوی ډاکټر محمد عظیم منګل | ننګرهار | I |
| ۱۵۴ | د کوچنیانو ساری ناروغی | پوهاند دوکتور سلطان محمد صافی | خوست | I |
| ۱۵۵ | امراض ساری اطفال | پوهاند ډاکټر سلطان محمد صافی | کابل طبی پوهنتون | I |
| ۱۵۶ | د کوچنیانو ساری ناروغی | پوهندوی دوکتور نجیب الله امین | ننګرهار | I |
| ۱۵۷ | توبرکلوز | پوهندوی ډاکټر سید انعام سیدی | ننګرهار | I |
| ۱۵۸ | توبرکلوز | ډاکټر محمد ناصر ناصري | کندهار | I |
| ۱۵۹ | په ماشومانو کی نری رنځ | پوهنمل ډاکټر حقیق الله چاردیوال | ننګرهار | I |
| ۱۶۰ | د سینې ناروغۍ او توبرکلوز | ډاکټر ناصر محمد شینواری | کندهار | I |
| اطفال .VII | | | | |
| ۱۶۱ | اطفال | پوهنوال ډاکټر محمد رسول فضلي | ننګرهار | II |
| ۱۶۲ | د کوچنیانو ناروغی، جلد اول | دوکتور عبدالستار نیازی | ننګرهار | II |
| ۱۶۳ | د کوچنیانو ناروغی، جلد دوم | پوهنوال دوکتور عدالستار نیازی | ننګرهار | II |
| ۱۶۴ | د ماشومانو کلینکی معاینات | پوهنوال ډاکټر ناصر کاموال | ننګرهار | II |
| ۱۶۵ | روش های ارزیابی کلنیکی اطفال | پوهندوی ډاکټر فاروق حمیدي | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۶۶ | د کوچنیانو د درملنی لارښود (انګلیسی) | پوهندوی داکتر منصور اسلمزی | ننګرهار | II |
| ۱۶۷ | د کوچنیانو ناروغۍ تکست بوک | پوهاند ډاکټر سلطان محمد صافی | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۶۸ | د کوچینیانو تغذیه | پوهنمل ډاکټر نجیب الله امین | ننګرهار | II |
| ۱۶۹ | د کوچنیانو خوار ځواکی | پوهندوی ډاکټر سمیع الله حیات | ننګرهار | II |
| ۱۷۰ | د نوی زیږیدلی ماشوم څارنه | پوهندوی ډاکټر ناصر خان کامه وال | ننګرهار | II |
| ۱۷۱ | د کوچنیانو د وینې ناروغۍ | داکتر منصور اسلمزی | ننګرهار | II |
| ۱۷۲ | د نیونټالوژی او کوچنیانو د ناروغیو کلینیکی هندبوک | پوهندوی داکتر منصور اسلمزی | ننګرهار | II |
| ۱۷۳ | د ماشومانو د ناروغیو عملي لارښود | داکتر مالتې ال-وان بلومرودر | ننګرهار | II |
| ۱۷۴ | نیونټالوژی | پوهنوال دوکتور منصور اسلمزی | ننګرهار | II |
| ۱۷۵ | نیونټولوژی | پوهنوال داکتر عبدالستار نیازی | ننګرهار | II |
| ۱۷۶ | د کوچنیانو نارغی د پنځم صف لپاره لومړی سمیستر | پوهنوال داکتر عبدالستار نیازی | ننګرهار | II |
| ۱۷۷ | د کوچنیانو د جهازاتو معمولې ناروغۍ I | پوهنوال داکتر عبدالستار نیازی | ننګرهار | II |
| ۱۷۸ | د کوچنیانو د جهازاتو معمولې ناروغۍ II | پوهنوال داکتر عبدالستار نیازی | ننګرهار | II |
| ۱۷۹ | د ماشومانو د معدی معایی سیستم او ینی ناروغی | پوهنمل ډاکتر ولی ګل مخلص | خوست | II |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸۰ | د کوچنیانو ناروغی I | پوهاند دوکتور احمد سیر احمدی | ننگرهار | II |
| ۱۸۱ | د کوچنیانو ناروغی II | پوهاند دوکتور احمد سیر احمدی | ننگرهار | II |
| ۱۸۲ | د کوچنیانو ناروغی | پوهاند ډاکټر سلطان محمد صافی | کابل طبی پوهنتون | II |
| **ولادی/ نسایی .VIII** | | | | |
| ۱۸۳ | زیږون | ډاکټر مریم اکرم معصوم | ننگرهار | II |
| ۱۸۴ | کتاب ولادی | پوهندوی داکتر حسن فرید | هرات | II |
| ۱۸۵ | ولادی جراحی، لمړی ټوک | داکتر عجب گل مومند | قندهار | II |
| ۱۸۶ | ولادی جراحی، دوهم ټوک | داکتر عجب گل مومند | قندهار | II |
| ۱۸۷ | امراض نسایی | پوهندوی ډاکتر حسن فرید | هرات | II |
| ۱۸۸ | نسايي ناروغی | پوهندوی دوکتورس تورپیکۍ اپریدی | ننگرهار | II |
| **روانی/ عقلی و عصبی .IX** | | | | |
| ۱۸۹ | امراض روانی، جلد اول | پوهندوی دوکتور عبدالعزیز نادری | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۹۰ | امراض روانی، جلد دوم | دوکتور عبد العزیز نادری | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۱۹۱ | روانی رنځپوهنه | پوهندوی ډاکتر جهان شاه تنی | خوست | II |
| ۱۹۲ | د رواني روغتيايي ستونځو عملي لارښود | سیان نیکولاس (انگلیسی) | ننگرهار | II |
| ۱۹۳ | نشه یي توکي او اړونده ناروغی | ډاکټر محمد سمین ستانکزی | ننگرهار | II |
| ۱۹۴ | عصبی ناروغی | پوهنمل داکتر بلال پاینده | ننگرهار | II |
| ۱۹۵ | عقلی ناروغی | داکتر بلال پاینده | ننگرهار | II |
| ۱۹۶ | د عصبي ناروغ د تاریخچې اخیستل او فزیکي معاینات | داکتر بلال پاینده | ننگرهار | II |
| ۱۹۷ | روانشناسی و ضرورت آن در جامعهٔ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل | II |
| ۱۹۸ | سلوکپوهنه | پوهندوی دوکتور جهان شاه تنی | خوست | II |
| ۱۹۹ | عصبي تاریخچه، فزیکی انځوریزې او لابراتواري کتنې | پوهندوی دوکتور جهان شاه تنی | خوست | II |
| ۲۰۰ | میرگي | داکتر محمد ابراهیم | خوست | II |
| **رادیولوژی/ تصویربرداری طبی .X** | | | | |
| ۲۰۱ | کلینکي رادیولوژي | پوهنوال ډاکټر غلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| ۲۰۲ | تشخیصي رادیولوژي | پوهنوال ډاکټر غلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| ۲۰۳ | رادیولوژی ازموینی او ناروغتیاوی | پوهنوال ډاکټر غلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| ۲۰۴ | د زړه او سږو د ناروغیو تشخیصیه رادیولوژی | پوهنیار ډاکتر شاه محمد رنځورمل | خوست | II |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۰۵ | تصویري یا ترسیمي رادیولوژی | پوهنوال ډاکترغلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| ۲۰۶ | التراساونډ تشخیصیه | پوهندوی ډاکټر محمد نواب کمال | کابل طبی پوهنتون | II |
| ۲۰۷ | رادیولوژی | پوهندوی داکتر نجیب الله خلیلي | ننگرهار | II |
| ۲۰۸ | التراسونډ | ډاکټر محمد یونس سلطاني | ننگرهار | II |
| ۲۰۹ | تلویزیوني آزمویني | پوهندوی داکتر نجیب الله خلیلي | ننگرهار | II |
| چشم، گوش و گلو، جلدی .XI | | | | |
| ۲۱۰ | د پوستکی ناروغی | پوهندوی دوکتور اسدالله شینواری | ننگرهار | II |
| ۲۱۱ | د سترګو ناروغۍ | پوهنمل داکترخالد یار | ننگرهار | II |
| ۲۱۲ | دغوږ، پزی او ستونی ناروغی | داکترعزیز الله فقیر | کندهار | II |
| ۲۱۳ | دغوږ، پزی او ستونی ناروغی | پوهنمل دوکتورمیرمحمد اسحاق خاورین | ننگرهار | II |
| ۲۱۴ | د پوستکي ناروغی | پوهنمل ډاکټر سید انور اکبري | ننگرهار | II |



# د ننګرهار پوهنتون لپاره تر کار لاندې

# او وړاندیز شویو پروژو لنډ معلومات

جلال آباد، دروتته ۲۰۱۰ کال

## ۱. د طبي تدریسي کتابونو چاپول:

د افغانستان په تعلیمي موسسو کې د استادانو د مسلکي زده کړو د ټیټوالي ترڅنګ، د مسلکي کتابونو کمی او نشتوالی یوه اساسي ستونزه ده. د دغې ستونزې د حل لپاره مې له یو کال راهیسې د افغان او الماني طبي پرسونل چتري ټولنې او د المان د اکاډمیکو همکاریو ټولنې (ډي اې اې ډي) په تمویل سره د ننګرهار طب پوهنځي پنځه تدریسي کتابونه (هر یو زر ټوکه او له هر ټوک سره یوه سي ډي) چاپ کړل. د دغو کتابونو ټوله محتوا به د طب پوهنځي او پوهنتون پر ویب پاڼو کې هم د (پي ډي اف) په شکل خپربږي، چې د افغانستان په نورو سیمو کې محصلین او ځوان ډاکټران هم ترې ګټه واخیستلی شي.

سل سل کتابونه به خوست، کندهار او کابل پوهنتونونو ته هم ورکړل شي. د ۲۰۱۱ کال لپاره ۱۵ نور کتابونه انتخاب شوي او استادان ورباندې کار کوي.

د المان د اکاډمیکو همکاریو ټولنې له موږ سره د لګښت ورکولو وعده کړې ده او د ۲۰۱۱ کال په جنوری کې د دغه کار د تنظیم لپاره کابل او ننګرهار ته سفر کوم. برسېره پردې، د طب پوهنځي د لیلیې د ترمیم، رنګولو او تشنابونو لپاره مو لس زره ایرو راټولې کړې دي، د نورو په لټه کې هم یو.

## ۲. عصري (مولټي میډیا) درس ورکول:

د ننګرهار طب پوهنځي کې او سمهال ټول درسونه یوازې تیورتیک او د لکچر بڼه لري او په ټول پوهنځي کې یوازې یو پروجکټور (بیمر) شته.

موږ د افغان او الماني طبي پرسونل چتري ټولنې او د المان د اکاډمیکو

همکاریو ټولنې (ډي اې اې ډي) په تمویل سره له لپوال کمپیوټر څخه شپږ پروجکټورونه اخیستي او ژر به د ننګرهار طب پوهنځي په هره تدریسي خونه کې نصب شي.
وروسته له هغه استادانو ته د پروجکټور په کارونه او پر کمپیوټر د تدریسي موادو جوړولو کې ټرېننګ ورکوو.

## ۳. د المان هایدلبرګ پوهنتون د عامې روغتیا انستیتیوت او ننګرهار طب پوهنځي عامې روغتیا دیپارتمنت تر منځ تو امیت:

د المان هایدلبرګ پوهنتون د عامې روغتیا انستیتیوت مسوولینو علاقه ښودلې چې له ننګرهار طب پوهنځي عامې روغتیا دیپارتمنت سره د نوي تعلیمي نصاب په جوړولو او عملي کولو، د دواړو پوهنتونونو د استادانو تګ راتګ او په ننګرهار کې د عامې روغتیا د کورسونو په جوړولو کې همکاري او ګډ کار وکړي. ما د ننګرهار طب پوهنځي عامې روغتیا دیپارتمنت کې ۲۰۰۹ کال د اکتوبر میاشت کې درې ورځې خبرې وکړه او د نوامبر په نهمه نېټه مې د هایدلبرګ پوهنتون د عامې روغتیا انستیتیوت کې معلومات ورکړل. د المان د اکاډمیکو همکاریو ټولنه (ډي اې اې ډي) هم له دغه همکارۍ نه خپل مالي ملاتړ ښکاره کړی دی.

## ۴. په ننګرهار کې د پلاستیکي جراحۍ نوې څانګه:

د بن پوهنتون یوهانیتر روغتون د پلاستیکي جراحۍ شف ډاکټر ایمل صافي په مرسته د ننګرهار پوهنتون روغتون کې د پلاستیکي جراحۍ د جوړولو پروژه په نظر کې نیول شوې ده.
دغه څانګه به په لاندې برخو کې کار کوي:
- د بیا جوړولو او ښکلا جراحي
- د لاس جراحي
- د پښو جراحي
- د سویو جراحي.

د دغې پروژې موخه به دا وي، چې په ننګرهار کې د دغې څانګې لپاره شرایط، لوازم او فني پرسونل تیار کړي شي چې په دغو برخو کې ناروغان دلته په مستقله توګه تداوي شي.
ډاکټر ایمل صافي ۱۹۹۷ ز کال کې د یوهانیتر روغتون پلاستیکي جراحۍ څانګه پخپله جوړه کړې او تر ننه پورې یې پرمخ بیایي. ده له شلو کلونو راهیسې په پاکستان او افغانستان کې هر کال یو زیات شمېر ناروغ افغانان تداوي کړي دي.

### ۵. د کمپیوټر ساینس دیپارتمنت:

دلته یوازې یو د کمپیوټر لابراتوار له څو زړو کمپیوټرو، بې له پروجکټور او بې له انټرنېټ څخه ما ولیدل.
د نویو تخنیکي امکاناتو ترڅنګ، د استادانو مسلکي روزنه او د محصلینو لپاره مسلکي کتابونه او یو مسلکي کتابتون ډېر عاجل ضرورت ګڼل کېږي.
په دې برخه کې کېدای شي چې د ځینو آی ټي کمپنیو توجه جلب شي. ما په افغانستان کې د سیمنس کمپنۍ، پیوستون نیټ ورکنګ لمېټډ او لېوال لمېټډ سره خبرې کړېدي او ټولو د همکارۍ او ګډ کارونو ته علاقه او چمتو والی ښودلی دی.

### ۶. د سولر (شمسي) انرژۍ نوی مضمون:

پروفیسور ډاکټر انجنیر کلیمنټ شوارس، ډاکټر نظر سلطانزي او ډیپلوم انجنیر محمد اختري، چې درې واړه د سولر انرژۍ متخصصین او په دې برخه کې د کلونو کلونو تجربه لري، چمتو دي چې د ننګرهار پوهنتون انجنیري پوهنځي کې د سولر انرژۍ مضمون رامنځته کړي او له استادانو او محصلینو سره په ګډه د افغانستان شرایطو لپاره مناسب شمسي وسایلو په تدریس، څېړنه او جوړولو کې مرسته وکړي.

### ۷. د الماني ژبې تدریس:

یو شمېر محصلین او استادان هر کال د مختلفو پروژو په چوکاټ کې المان ته

راځي، خو تر اوسه په ننګرهار ولايت او شرقي سيمو کې د الماني ژبې زده کولو هېڅ امکانات نشته، نو په کار ده چې د ادبياتو او ژبو پوهنځي کې الماني ژبه هم تدريس شي.
په دې اړوند ما په هامبورګ کې د ژبې او بين الکلتوري ښوونځي مشر اماديوس هيمپل (له چا سره چې د ۱۵ کلونو راهيسې د هامبورګ افغانستان اووني جوړوم) خبرې کړې او هغوی چمتو دي، چې د هامبورګ له تخنيکي پوهنتون سره په ګډه د الماني ژبې تدريس په ننګرهار کې پيل کړي.

**۸. له اقتصادي سکتور سره ګډ کار:**

پوهنتون ته د نويو مالي امکاناتو پيدا کول، د اقتصادي شرکتونو توجه جلبول، همکارۍ او ګډ کار امکانات هم بايد ولټول شي، د مثال په ډول پوهنتون او د محصلينو ليليو ته نږدې د کتاب پلورنځيو، انټرنيټ کافي او د ژبو او کمپيوټر کورسونو ته امکانات برابرول دا به له يوې خوا د محصلينو او له بلې خوا د شرکتونو په ګټه وي او دوی به لا نورې پانګونې ته وهڅول شي.

**۹. د نويو مالي منابعو پيدا کول:**

افغانستان ته نن سبا ډېرې پيسې راځي او له بده مرغه يوه برخه يې د ښو او ګټورو پروژو د نشتوالي له کبله همداسې پاتې کېږي، نو په کار ده چې هم په محلي سطحه (ولايت)، مرکزي سطحه (د لوړو زدکړو، اقتصاد او ماليې وزارتونو) او هم د بهرنيو او بين المللي ټولنو (لکه يو اس آی ډي، پي آر ټي، جي ټي زيډ، ډي اې اې ډي...) ته د بېلابېلو پروژو وړانديزونه (پروپوزلونه) جوړ شي.

**د پروژو تداوم:**

په نظر کې نيول شوي چې ټولې پروژې به د اړوندو مسوولينو په مشوره او په ګډه تر سره کېږي چې له يوې مودې وروسته مسوولين وکولای شي، په خپله دغه کارونه پر مخ بوځي.

# د المان فدرالي جمهوریت ته
# د یوه سفر او کارونو راپور

*۸ سپتمبر - ۲۷ اکتوبر ۲۰۱۰*

**فهرست:**

۱. بن ښار، ډي اي اي ډي.
۲. فرانکفورت ښار، جي ټي زيډ /سيم مرکزي دفتر.
۳. هایدلبرګ ښار، د هایدلبرګ پوهنتون د عامې روغتیا انستیتیوت.
۴. فرایبورګ ښار، سیمینار: افغانان څرنګه کولای شي چې د افغانستان د روغتیایي سیستم په بیا جوړولو کې ونډه واخلي؟
۵. ایشبورن ښار، د المان د روغتیایي اقتصاد د ټولنې د مرستو او همکاریو مسلکي سیمینار.
۶. باد هونیف ښار، د بین المللي پرمختیایي زده کړو دولتي موسسه (اینوینټ).
۷. کونیګز وینتر ښار، د و ینبیک فونډیشن.
۸. بن ښار، د بین المللي پرمختیایي زده کړو دولتي موسسه (اینوینټ).
۹. بن ښار، د المان غږ راډیو د افغانستان سرویس.
۱۰. نورې بېلا بېلې اړیکې.

## ۱. بن ښار، ډي اي اي ډي:

د المان د اکاډمیکو همکاریو موسسه (ډي اي اي ډي) د افغانستان د ځانګې مسؤولین (ښاغلی ډاکټر کوفېر، ښاغلی ګیرولد) او په المان کې د افغان طبي پرسونل چترې ټولنې د مشرتابه غړي ښاغلي همپل په ګډون، ما

د افغانستان د عمومي وضعې، په وزارت کې د کار او دفتر جوړولو او د بلخ پوهنتون او د بلخ طب پوهنځي ته د بلخ پوهنتون د الماني پروفیسور فینکي او په افغانستان کې له (ډي اي اې ډي) مسؤول ښاغلي ارسلايي سره د ګډې سفر راپور ورکړ. دوی له دغه ګډ سفر څخه خپله خوښي څرګنده کړه او دا یې وغوښتل، چې په راتلونکي کې هم همداسې د المان لخوا چې کوم کارونه د جي آی زیډ له خوا کېږي، ډي اي اې ډي په جریان کې وي.

د بلخ پوهنتون له خوا ، چې ما ته لیک راکړ شوی و ، هغه مې په الماني ژبه ترجمه او هغوی ته وسپاره. په دغه لیک کې د بلخ طب پوهنځي د پنځو استادانو د تدریسي کتابونو چاپولو او د طب پوهنځي په ټولو څلورو تدریسي صنفونو کې د یو یو پروجکټور غوښتنه شوې وه.

ډي اي اې ډي زما سره په دې مورد کې سمدلاسه شفاهي هوکړه وکړه.

دوی له ما څخه هیله وکړه، چې د دې لپاره یو پروپوزل ولیکم او دوی ته یې ور واستوم، چې ما دا کار وکړ او پرون یې رسمي ځواب هم راغی. همدا شان د کندهار د طب پوهنځي د غوښتنې پر اساس د دوی لپاره هم د پنځه تدریسي کتابونو د چاپ او د څلورو پرجکټورونو پروپوزل دوی ته وړاندې شو. په ټولیزه توګه ۱۵ تدریسي طبي کتابونو (۵ بلخ، ۵ کندهار او ۵ ننګرهار ته) چاپ او اته پروجکټورونه (۴ بلخ او ۴ کندهار ته) به ان شاء الله سږ کال تر لاسه شي.

ما دوی ته په ټول افغانستان کې د طب له پوهنځیو سره د کتابونو چاپ، پروجکټورونو ، المان ته د افغاني استادانو د ماسټرۍ سکالرشیپونو ، د کدري روغتونونو جوړول او د دغو روغتونونو سمبالول د عاجل ضرورت په توګه وړاندې کړل. د دوی له علاقې څخه وروسته په دې توافق سره ورسېدلو ، چې په ډېر لنډ وخت کې به له طب پوهنځیو سره د مرستې یو پلان

(کانسپټ) جوړوو او دوی ته به یې وراستوو.
ما بیا همدغه وظیفه تر سره او په الماني ژبه مې دغه کاغذ جوړ او دوی ته ورولېږلو. پر دې اساس کېدای شي چې ډي اي اي ډي او المان، لکه د افغانستان د نورو پوهنځیو په شان، د طب له پوهنځیو سره خپله مرسته او همکاري په سیستماتیکه توګه پیل او دوام ورکړي.

## ۲. فرانکفورټ ښار، جي ټي زيډ/سیم مرکزي دفتر:

د فرانکفورټ په ښار کې د جي ټي زيډ/سیم مرکزي دفتر وربللی وم، چې د افغانستان د ځانګړې له کارکوونکیو سره لیدنه کتنه او زما د کار او دفتر په هکله معلومات ورکړم او هم له همکارانو سره له نږدې معرفي او دغه مؤسسه، چې زما سره مرسته کوي، له نږدې نه وګورم.

## ۳. هایدلبرګ ښار، د هایدلبرګ پوهنتون د عامې روغتیا انستیتیوت:

ددغه انستیتیوت په عامه روغتیا کې د ماسټرۍ پروګرام مشر ډاکټر کولکر سره د ښاغلي همپل (په المان کې د افغان طبي پرسونل چتري ټولنې د مشرتابه غړي) په ګډون خبرې وشوې. له دغه انستیتیوت سره زه د ۱۵ کلونو راهیسې ارتباط لرم او ما هم عامه روغتیا او حاروي طب دلته لوستلي دي او د دربیمې نړۍ هېوادونو کې د عامې روغتیا په جرمني کې تر ټولو پخوانی او معتبر ځای بلل کېږي. دغه انستیتیوت چمتو دی، چې د افغانستان د بېلابېلو طب پوهنځیو د عامې روغتیا د دیپارتمنتونو څخه هر کال ۳-۴ استادان د خپل ماسټرۍ په پروګرام کې ونیسي. ما د ماسټرۍ پروګرام معلومات او کوریکولم له ځان سره کابل ته راوړل، د دوی د لګښتونو لپاره له ډي اي اي ډي سره ابتدایي خبرې هم شوي دي.

**۴. فرایبورګ ښار، سیمینار: افغانان څرنګه کولای شي، چې د افغانستان د روغتیایي سیستم په بیا جوړلو کې ونډه واخلي؟:**

جوړوونکی: په المان کې د افغان طبي پرسونل چتري ټولنه.

د ننګرهار د طب پوهنځي لپاره د کتابونو د چاپ او وېش په هکله او د نورو پوهنځیو لپاره د دغې پروژې د غځولو په هکله مفصلې خبرې وشوې. په تدریسي پروسه او د کیفیت د لوړولو لپاره په افغاني ژبو د مسلکي کتابونو ارزښت خورا مهم وګڼل شو او په دې بحث وشو، چې دغه پروژې ته دې دوام او پراختیا ورکړل شي. همدا شان په المان کې مېشت افغان ډاکټرانو هم د نویو کتابونو د ترجمې وعده وکړه. دلته په مزارشریف کې له نوي ملکي روغتون الماني کارکوونکو سره په دغه روغتون کې د طب محصلینو لپاره د عملي زده کړو شرایط برابرولو خبرې وشوې.

**۵. ایشبورن ښار، د المان د روغتیایي اقتصاد د ټولنې د مرستو او همکاریو مسلکي سیمینار:**

زه دلته په تېره بیا د دغې ټولنې له مشر او د ګرایفسوالد پوهنتون استاد پروفیسور ډاکټر فلیسه سره د طب پوهنځیو د ارزیابۍ لپاره د الماني او بین المللي متخصصانو راوستلو په هکله وغږېدم. ده ددې کار لپاره دوه متخصصین (پروفیسور ګورتلیر او پروفیسور نیارانګه) را وپېژندل او ورسره په اړیکه کې یو. دلته د جي ټي زیډ د روغتیا د څانګې له مشر سره هم خبرې وشوې او هغه هم د همکارۍ وعده وکړه.

**۶. باد هونیف ښار، د بین المللي پرمختیایي زده کړو دولتي موسسه (اینوینت):**

دلته د پرمختګ، منجمنټ او پروژو جوړولو په یو دوه ورځني سیمینار کې د ګډون لپاره زه د جي ټي زیډ /سیم لخوا معرفي شوی وم.

دا ډېر ګټور سمینار و او ټول المانیان چې بهر ته د کار لپاره لېږل کېږي، دلته د امادګۍ لپاره ټرینینګ ورکول کېږي.

### ۷. کونیګز وینتر ښار، د وینبیک فونډیشن:

دغه موسسه له کلونو راهیسې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د اندوسکوپي کورسونه جوړوي او بیا په ځینې روغتونونو کې د انډوسکوپي د څانګې په جوړولو کې هم مرسته کوي. ما د فونډیشن مشرې مېرمن وینبیک ته د افغانستان په کدري روغتونونو کې د انډوسکوپي د څانګو جوړولو او د استادانو د ټرېننګ وړاندیز وکړ، چې دې علاقه وښودله او د نومبر په میاشت کې مېرمن وینبیګ کابل ته راځي او په لا نورو جزئیاتو به خبرې وشي.

### ۸. بن ښار، د بین المللي پرمختیایي زده کړو دولتي مؤسسه (اینوینت):

ددغې دولتي مؤسسې د روغتیا څانګې او د افغانستان مربوطې څانګې له مسؤولینو سره مې د افغانستان د طب په پوهنځیو کې د ټرېنینګ په هکله خبرې وکړې. ما په خپله پنځه کاله (۲۰۰۲–۲۰۰۷) په دغه مؤسسه کې کار (د پرمختګ په لور هېوادونو کې د ځوانو ډاکټرانو لپاره د انلاین کورسونو جوړول، په افغانستان کې د موسسې له پروژو سره همکاري) کړی دی.
دوی له ما سره وعده وکړه چې زما کانسپټ به وګوري، په خپلو کې به مشوره وکړي او په راتلونکي کال کې به د ګډو کارونو په هکله سره خبرې وکړو.

### ۹. بن ښار، المان غږ راډیو د افغانستان سرویس:

د المان غږ (دیوچې ویلې) راډیو د افغانستان سرویس مشر ښاغلي رتبییل آهنګ شامل سره د دوی په راډیو او انټرنیټ کې د افغانستان د لسو پوهنتونونو معرفي په اړوند خبرې وشوې. دوی به د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې خپلو همکارانو ته دنده ورکړي، چې د افغاني محصلینو او استادانو په مرسته بېلابېل

پوهنتونونه معرفي او بيا د راډيو او انټرنيټ له لارې خلکو ته معرفي او نشر شي. دا کار به هم افغانان او هم المانيان د افغانستان پوهنتونونه او د هغوی د وضعې، برياوو او ستونزو ته متوجه او د مرستو او همکاريو باعث شي.

## ۱۰. بېلا بېل نور تماسونه:

په برلين کې د المان د بهرنيو چارو وزارت له افغانستان سره د مرستو د برخې له مسؤول ښاغلي بلديان سره د ليدلو وخت پيدا نه شو، نو د ايمېل او ټېلفون له لارې مو د يو بل د کارونو په اړوند معلومات ورکړل. دوی په تېره بيا د افغانستان په شمال کې د ګډو کارونو علاقه وښودله.

د وايزين مديسين ټولنې له مشر پروفيسور شتاهل سره د بلخ طب پوهنځي او د بلخ د لشمانيا او ملاريا مرکز په پروژه کې مشوره وشوه. له دوی سره په کتنه او ارتباط کې د بن-کولن ښارونو مېشت افغانانو د افغانستان د بېلا بېلو پوهنتونونو په اړوند معلوماتو او پخپلو مسلکونو کې د الماني کتابونو ژباړې ته وهڅول شول. د المان د عامې روغتيا ټولنې مشر او له بيليفلد پوهنتون پروفيسور ډاکټر رازوم سره خبرې وشوې او په المان کې افغان استادانو د عامې روغتيا په مضمون کې مرستې او ګډ کار ته چمتووالی وښود.

د ادارا په نامه غير دولتي ټولنې د ارتباط له مسئول ښاغلي ډاکټر نای بيرګ سره په دې اړوند خبرې وشوې، چې د افغانستان له کدري روغتونونو سره د الماني روغتونونو اړيکې ټينګې او له افغاني کدري روغتونونو سره د الماني کدري روغتونونو مرستې او ګډ کار ته لاره هواره شي.

د هامبورګ په ښار کې د البرتينين فونډيشن مشر ښاغلی کاسپر سره د هامبورګ د البرتينين په کدري روغتون کې د يو شمېر استادانو مسلکي ټرېننګ تر سره شو. دا فونډيشن حاضر دی، چې د يو تعداد افغاني ډاکټرانو لپاره په المان کې د زده کړو زمينه برابره کړي.

# په لوړو زده کړو وزارت کې د یحیی وردګ
# لنډ کاري راپور ۲۰۱۰-۲۰۱۹

- د ۲۹۰ عنوانه درسي کتابونو (۲۲۹ طبي او ۶۱ د فارمسي، وترینري، روانشناسي، انجنیري، ساینس، اقتصاد، تعلیم وتربیې، ژورنالیزم، ځمکپوهنې او کرنې پوهنځیو) چاپول چې د کابل طبي پوهنتون، کابل پوهنتون او د نورو پوهنتونونو لکه ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپیسا د طبي پوهنځیو د استادانو لخوا په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لیکل شوي دي، په دې ډله کې د یو شمېر بهرنیو لیکوالانو کتابونه هم شامل دي.
- ټولټال له ۲۹۰۰۰۰ جلدو څخه زیات کتابونو چاپول له سې ډي ګانو سره چې د کتابونو ټوله منځپانګه (محتوا) پکې شامله ده
- د برېښنایي کتابتون په ډول د ټولو چاپ شویو درسي کتابونو خپرول په جرمني کې د بوخوم پوهنتون د پورټال (انټرنټي پاڼې) له لارې www.ecampus-afghanistan.org
- د یادو ټولو کتابونو وېشل په ټول افغانستان کې دولتي او خصوصي طب پوهنځیو او یو شمېر نورو ادارو ته (لکه د عامې روغتیا وزارت، ځینې روغتونونه، د علومو اکاډمي، عامه کتابتونونه او نور...)
- د چاپ لپاره د سلو (پنځوس طبي او پنځوس غیرطبي) درسي کتابونو تیارول

- د ډي وي ډي ګانو خپرول او وېشل چې د ۱۱۴ چاپ شویو کتابونو محتوا پکې شامله ده
- د ډي وي ډي ګانو خپرول او وېشل چې د ۲۱۴ چاپ شویو کتابونو محتوا پکې شامله ده
- د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات او بلخ پوهنتونونو د طب پوهنځیو ټول ټولګي په پروجکټورونو سره سمبالول
- د لوړو زده کړو وزارت او د کابل او بلخ پوهنتونونو ته د ۱۰ آلماني او آلماني-افغان سلاکارانو په جلب او راوستلو کې سلا مشوره، مرسته او لارښوونه
- د لوړو زده کړو په اړه د ۱۲ بېلا بېلو مقالو او وړانديزونو ليکل:
  - چپټر، کتاب که انټرنيټ؟
  - په DVD کې ۲۱۴ طبي درسي کتابونه، په افغانستان کې د ډيجيټلي کتابتون لپاره لومړی اغېزمن ګام
  - تدريس په انګليسي که ملي ژبو؟
  - لېسانس که ماسټري؟
  - د هېواد راتلونکي ته د لوړو زده کړو ارزښت
  - افغان- جرمن پوهنتون په کابل کې
  - د لوړو زده کړو څېړنيز مرکز
  - نظري او عملي زده کړې لازم او ملزوم
  - علمي مجلې !؟
  - ورکشاپونه او تش په نامه پروژې !؟
  - په پوهنتون کې زده کړې د تحصيلي سيستم يو مهمه برخه ده
  - سافټوېر لومړی که هارډوېر

# په افغانستان کې طبي لوړې زده کړې

اوسمهال په افغانستان کې یو طبي پوهنتون (کابل طبي پوهنتون) او اوه دولتي طب پوهنځي (ننگرهار، خوست، پکتیا، کندهار، هرات، کندز، بلخ او کاپیسا) شتون لري، په دغو موسسو کې **۸۵۷۵** محصلین په درسونو بوخت دي.
په وروستیو کلونو کې **۳۰** خصوصي طب پوهنځي په ټول افغانستان کې تاسیس شوي، چې دلته اوه ویشت زره محصلین درس لولي.
په **۱۹۳۲** کال کې لومړی د طب پوهنځی جوړ شوی، چې بیا تر **۲۰۰۵** کال پورې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې یوه پوهنځۍ وه.
دغه پوهنځۍ په **۲۰۰۵** کال د کابل طبي پوهنتون په نامه تبدیله شوله، چې څلور پوهنځي لري: معالجوي، ستوماتولوژي، نرسنگ او عامه روغتیا.
د کابل طبي پوهنتون څلور کدري روغتنونه لري: علي آباد، میوند، ستوماتولوژي او سترگه. دلته **۲۲۴۷** محصلین (۲۰،۷۸٪ هلکان او ۳۸،۸۳٪ نجونې درس لولي، ۲۱۳ استادان او ۱۸۸ اداري کارکوونکي دلته مصروف دي.*

**ننگرهار طب پوهنځۍ:**

له کابل نه وروسته په کال **۱۹۶۳** کې د افغانستان دویم طب پوهنځی په ننگرهار کې جوړ شو، چې تر اوسه یې **۳۵۰۰** ډاکټران ټولنې ته وړاندې کړي دي. اوسمهال دلته **۹۸۸** محصلینو (یوازې ۱۵،۰۸٪ نجونه) ته د۱۰۲ استادانو له خوا درس ورکول کېږي، یو کدري روغتون لري او ۱۷ اداري کارکوونکي.

**بلخ طب پوهنځۍ:**

په ۱۹۸۷ کال کې جوړه شوې، ۲۰۴۸ ډاکټران یې فارغ کړي، اوسمهال

۱۳۶۲محصلین د ۲۱ استادانو له‌خوا درس ورکول کېږي، کدري روغتون نه‌لري.

## د افغانستان دولتي طبي پوهنځي او محصلین

| شماره | د پوهنتون نوم | د محصلینو تعداد |
|---|---|---|
| ۱ | د کابل طبي پوهنتون | ۲۲۴۷ |
| ۲ | ننګرهار | ۹۸۸ |
| ۳ | البیرونی | ۴۸۱ |
| ۴ | بلخ | ۱۳۶۲ |
| ۵ | خوست | ۴۸۰ |
| ۶ | هرات | ۱۳۴۳ |
| ۷ | کندهار | ۴۲۸ |
| ۸ | پکتیا | ۲۱۷ |
| ۹ | کندز | ۲۲۹ |
| مجموعه | | ۷۸۱۲ |

## د افغانستان خصوصي طبي پوهنځي

| شماره | ولایت | پوهنتون |
|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۱-کاتب پوهنتون<br>۲- ملي لوړو زده کړو موسسه<br>۳- کابل خاتم النبیین پوهنتون<br>۴- دعوت پوهنتون<br>۵- چراغ لوړو زده کړو طبي موسسه<br>۶- زاول لوړو زده کړو موسسه<br>۷-افغان پامیر لوړو زده کړو موسسه<br>۸- افغان سویس لوړو زده کړو موسسه<br>۹- نعمان سادات لوړو زده کړو موسسه |
| ۲ | هرات | ۱-غالب خصوصي پوهنتون<br>۲- جامي لوړو زده کړو موسسه<br>۳- هریوا لوړو زده کړو موسسه<br>۴- عاطفي لوړو زده کړو موسسه |

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | مزار شریف | ۱-مولانا جلال الدین پوهنتون<br>۲-آریا پوهنتون<br>۳- تاج لوړو زده کړو موسسه |
| ۴ | ننگرهار | ۱-آریانا لوړو زده کړو موسسه<br>۲- سپین غر لوړو زده کړو موسسه<br>۳- روښان لوړو زده کړو موسسه |
| ۵ | هلمند | ۱-د هلمند وادي لوړو زده کړو موسسه<br>۲- اراکوزیا لوړو زده کړو موسسه<br>۳- بست خصوصي پوهنتون |
| ۶ | کندهار | ۱-میرویس نیکه موسسه<br>۲- ملالۍ لوړو زده کړو موسسه |
| ۷ | خوست | ۱- احمد شاه ابدالي لوړو زده کړو موسسه |
| ۸ | بغلان | ۱ – حکیم سنایي لوړو زده کړو موسسه |
| ۹ | پروان | ۱- دانش لوړو زده کړو موسسه |
| ۱۰ | غزنی | ۱-مسلم لوړو زده کړو موسسه<br>۲- خاتم النبیین پوهنتون شعبه دوم |

**د زیاترو طب پوهنځیو اساسي ستونزې دا دي:**

- د یو نوي واحد درسي نصاب نشتوالی او یا نه تطبیقوالی
- تدریس په زاړه مېتود «لکچر نوټ»
- د نویو درسي کتابونو نشتوالی او کموالی
- انټرنیټ، نویو درسي موادو او کتابونو ته کم لاسرسی
- لابراتوارونه غیر فعال دي او محصلین هیڅ شی په کې نه شي زده کولای
- ځینې پوهنځي حتی تدریسي روغتون نه لري
- محصلین ډېر کم وخت د مریض په بستر او روغتون کې عملي زده کړې کوي.

***** *دا ارقام د لوړو زده کړو وزارت د احصائیې مدیریت څخه ترلاسه شوی.*
*کابل، اپریل ۲۰۱۲*

## دویمه برخه

# د کتابونو د چاپولو

# پروسه

# په چاپ شويو کتابونو کې زموږ لخوا سريزه

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلينو !

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لويو ستونزو څخه ګڼل کېږي.

يو زيات شمېر استادان او محصلين نويو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه مېتود تدريس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي، چې زاړه دي او په بازار کې په ټيټ کيفيت فوتوکاپي کېږي.

تراوسه پورې موږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، کاپيسا، کابل، کابل پولی تخنيک او کابل طبي پوهنتون لپاره ۲۹۰ عنوانه مختلف طبي او غير طبي تدريسي کتابونه د ساينس، فارمسي، وترينري، روانشناسي، انجينري، اقتصاد، ژورناليزم، ښوونې او روزنې او زراعت پوهنځيو (۹۶ طبي د آلمان د علمي همکاريو ټولنې، ۱۷۰ طبي او غير طبي کتابونه د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، ۷ غير طبي د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې، ۲ په مزار کې د آلمان قونسلګري، ۸ د کانراد ادناور بنسټ، ۳ د Afghanistan-Schulen لخوا، ۱ د سافي بنسټ لخوا، ۲ د سلواک ايډ او ۲ نور د ميخايل کلېت) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د يادونې وړ ده چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړونده پوهنځيو ته په وړيا توګه وېشل شوي دي.

ټول چاپ شوي کتابونه له www.ecampus-afghanistan.org ويب پاڼې څخه ډاونلوډ کولای شئ.

دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي، چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ – ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي دي چې:

***«د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او زده کوونکو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده، چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي، د تعليمي نصاب د ريفورم لپاره***

***له انګرېزي ژبې څخه دري او پښتو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړين دي، له دغو امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان نه شي کولای عصري، نوي، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی پيدا کړي»***

د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونو، استادانو او محصلينو د غوښتنې پر اساس موږ دا پروګرام غير طبي برخو ته لکه ساينس، انجينري، کرنې او نورو پوهنځيو ته هم وغزاوه، چې د مختلفو پوهنتونونو او پوهنځيو د اړتيا وړ کتابونه چاپ شي.

موږ غواړو د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو.

د دې لپاره دا اړينه ده، چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

له ټولو محترمو استادانو څخه هيله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه وليکي، وژباړي او يا هم خپل پخواني ليکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ايډېټ او د چاپ لپاره تيار کړي، زموږ په واک کې يې راکړي، چې په ښه کيفيت چاپ او وروسته يې د اړوند پوهنځي استادانو او محصلينو ته په واک کې ورکړو.

همدارنګه د يادو شويو ټکو په اړوند، خپل وړانديزونه او نظريات له موږ سره شريک کړئ، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.

د يادونې وړ ده، چې د مؤلفينو او خپروونکو لخوا پوره زيار ايستل شوی دی، چې د کتابونو محتويات د نړيوالو علمي معيارونو پر اساس برابر شي، خو بيا هم کېدای شي د کتاب په محتوا کې ځينې تېروتنې او ستونزې وليدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هيله من يو، چې خپل نظريات او نيوکې ليکوال او يا موږ ته په ليکلې بڼه راولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د آلمان د علمي همکاريو ټولنې (DAAD)، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغې له مشر ډاکټر ايروس، د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې (DAUG)، په مزار کې د آلمان قونسګرۍ او د (Afghanistan-Schulen) او نورو مرستندويه ټولنو څخه ډېره مننه کوو، چې د کتابونو په چاپولو

کې يې له موږ سره مالي مرستې کړې دي.
په ځانګړې توګه د جي آی زېډ (GIZ) له دفتر او (CIM) Center for International Migration & Development چې زما لپاره يې په تېرو اوو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي دي، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له سرپرست وزير داکتر عبداللطيف روشان، علمي معين پوهنمل ډيپلوم انجنير عبدالتواب بالاکرزي، مالي او اداري معين احمد طارق صديقي، د ټول پوهنتونونو او پوهنځيو له رييسانو او استادانو څخه مننه کوم، چې د کتابونو د چاپ لړۍ يې هڅولې او مرسته يې ورسره کړې ده.

د کتابونو له مؤلفينو څخه ډېر منندوی يم او ستاينه يې کوم، چې خپل د کلونو کلونو زيار يې په وړيا توګه ګرانو محصلينو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر يو حکمت الله عزيز او فهيم حبيبي څخه هم مننه کوم، چې د کتابونو د چاپ په برخه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکټر محمد يحيی وردګ

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار، کابل، ۲۰۱۹




د لوړو زده کړو وزارت کې زما د کار دفتر کابل، ۲۰۱۵

# د افغانستان له طب پوهنځيو
# سره د مرستې پروګرام

له ۲۰۰۹ کال څخه تر ۲۰۱۲ ز کال پورې د مزار شريف، ننګرهار او هرات طب پوهنځيو څخه د ليدنې پر مهال او هم د لوړو زده کړو په وزارت کې د کار په جريان کې ما احساس کړه، چې د هېواد د طب په پوهنځيو کې ډېرې ستونزې موجودې دي.
د خوست او کندهار د طب پوهنځيو رييسانو، استادانو او محصلينو هم د لوړو زده کړو په برخه کې له ستونزو څخه شکايت کاوه.
په کابل پوهنتون او د لوړو زده کړو په خصوصي پوهنتونونو کې پر يو لړ پرمختګونو برسېره، تر اوسه هم ځينو د لوړو زده کړو مؤسسو د نړيوال بانک له پروژو SHEP۱ او ARTF۲ څخه مرسته نده تر لاسه کړې.
د دې پوهنځيو له استازو سره د ليدنې پر مهال، دوی له خپلو پوهنځيو سره د اکاډميکو مرستو غوښتنه وکړه، په دې پوهنځيو کې د زېر بناوو، درسي موادو، لابراتوارونو، تکړه او مجربو استادانو کمی احساسېږي.
د تدريس چارې د زاړه او وروسته پاتې سيستم پر اساس پر مخ روانې دي.
استادان يوازې د لکچر ورکولو له مېتود څخه ګټه اخلي او اکثراً زاړه نوټونه او لکچرنوټونه محصلينو ته وېشل کېږي.
له عصري او پرمختللي مېتود څخه د تدريس په چارو کې ګټه نه اخيستل کېږي او د محصلينو لپاره دا فرصت او چانس هم نشته، چې د ناروغۍ تشخيص او علاج له نږدې ځايه په روغتون کې د رنځور تر څنګ په عملي

---

۱. SHEP (د لوړو زده کړو لپاره د نړيوال بانک د تقويې پروګرام)
۲. ARTF (د افغانستان لپاره د نړيوال بانک د بيارغاونې پانګونه)

توګه ووینې او په عملي ډول سره يې زده کړي.
د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک پلان له مخې به په راتلونکو څلورو کلونو کې د طب پوهنځیو د محصلینو شمېره دوه برابره شي، چې د نوموړو پوهنځیو چارواکي له یو لړ ننګوونو سره مخامخ دي.
دوی نه شي کولای چې د محصلینو لپاره د درس ویلو ښه زمینه برابره کړي.
له همدې امله د طبي ظرفیتونو او کدرونو د روزلو لپاره لنډ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونو جوړول اړین دي.
د ماهرو او تکړه استادانو د نه شتون له امله د افغانانو لپاره د معیاري طبي خدمتونو برابرول شوني نه دي.
کوم پروګرامونه، چې په وروستیو کلونو کې عملي شوي دي، لنډ مهاله وو او هم له تطبیق کېدو وروسته تعقیب شوي نه دي، دا ډول پروګرامونه باید دوامداره وي، چې د هېواد د طب پوهنځیو اړتیاوې پوره کړي او په ورته ډول باید پرمختیایي پروژې برابرې او پلې شي، چې له یوه اړخه دوامداره وي او له بلې خوا د طب پوهنځیو د اوسني وضعیت او ستونزو پر اساس وي.
برسېره پر دې اړینه ده، ترڅو له طبي پروژو څارنه او ارزونه وشي او لازمه ده چې له ملي او نړیوالو بسپنه ورکوونکو سره په همغږۍ پلې شي.
د بېلګې په توګه یوه پروژه د کندهار طب پوهنځي کې د نمونې په ډول په لاره واچول شي او بیا دا سلسله د هېواد د نورو پوهنتونونو طب پوهنځیو ته وغځول شي.
د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي.
یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه مېتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپټرونو څخه کار اخلي، چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

د دې ستونزو د هوارولو لپاره له ۲۰۱۰ ز کال راهیسې مونږ د طب پوهنځیو د درسي کتابونو د چاپ لړۍ پیل کړې او تراوسه پورې مونږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپیسا طب پوهنځیو او کابل طبي پوهنتون لپاره ۱۷۶ بېلا بېل طبي تدریسي کتابونه چاپ کړي دي او د ۳۰ نورو طبي کتابونو د چاپ چارې پیل شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو طب پوهنځیو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي.

د هېواد د طب پوهنځیو محصلین او استادان له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي، تازه درسي موادو او معلوماتو ته نه لاسرسی او له هغو کتابونو او چپترونو څخه کار اخیستل، چې په بازار کې په ډېر ټیټ کیفیت پیدا کېږي، د دې برخې له ځانګړو ستونزو څخه ګڼل کېږي.

له همدې کبله هغه کتابونه، چې د استادانو له خوا لیکل شوي دي، باید راټول او چاپ کړل شي.

د هېواد د اوسني حالت په نظر کې نیولو سره مونږ تکړه ډاکټرانو ته اړتیا لرو، چې وکولای شي په هېواد کې د طبي زده کړو په ښه والي او افغانانو ته د با کیفیته خدمتونو په وړاندې کولو کې فعاله برخه واخلي.

له همدې کبله باید د طب پوهنځیو ته زیاته پاملرنه وشي.

د لوړو زده کړو وزارت، استادانو او محصلینو د غوښتنې پر اساس په راتلونکي کې غواړو، چې دا پروګرام غیر طبي برخو لکه اقتصاد، ساینس، انجنیري، کرنې او نورو پوهنځیو ته هم پراخه کړو او د مختلفو پوهنتونونو او پوهنځیو د اړتیا وړ کتابونه چاپ کړو.

## ۱. د طبي درسي کتابونو چاپ:

وزارت تحصیلات عالی از همکاری های دولت آلمان و موسسه DAAD در حمایت از تحصیلات عالی افغانستان ممنون بوده و خواهان همکاری های بیشتر کشور آلمان می باشد.

به تعقیب مکتوب شماره 610/453 مورخ 01/05/2013 و مکتوب شماره 2486/3301 مورخ 2013/11/03 یکبار دیگر احترامانه خواهشمندیم، تا چاپ کتب درسی طبی را دوام داده، پوهنتون های ما را در این زمینه همکاری نمائید.

چهار سال قبل کار چاپ کتب درسی پوهنتونهای مختلف افغانستان با حمایت وزارت خارجه آلمان و موسسهٔ DAAD شروع و یک نتیجه بسیار خوب برای بهبود کیفیت درسی در پوهنتون های طب کشور و تشویق استادان در نوشتن کتب درسی ما داشت.

همین بود که یک تعداد زیاد استادان ما در حدود پنجاه کتب درسی خود را بررسی کرده و آماده به چاپ ساختند.

متأسفانه در دو سال اخیر این پروسه به دلایل نامعلوم از طرف شما به تعویق افتاده است.

یکبار دیگر از شما احترامانه تقاضا می نماییم تا پروسه چاپ کتب درسی طبی را دوام داده و مثل سابق در چاپ کتابهای آماده شده استادان پوهنتون طبی کابل و پوهنځی های طب بلخ، هرات، کندهار، ننگرهار، کاپیسا و خوست را همکاری نمائید.

با احترام

پوهاند دوکتور عبیدالله عبید

وزیرسرپرست تحصیلات عالی

کاپی به دفتر محترم یحیی وردک در و.ت.ع.

Adress: Karte-4
Kabul, Afghanistan
Phone: +93 220322
Email: info@mohe.gov.af
Website: www.mohe.gov.af

آدرس: کارته چهار
کابل، افغانستان
تلیفون: ۰۲۵۰۰۳۲۲
ایمیل: info@mohe.gov.af
ویبسایت: www.mohe.gov.af

# د کتابونو د چاپولو درخواست فورمه

## AGREEMENT / PERMISSION

It is hereby attested that the book with the title ............................................................................

is written by me.

No of pages ............ Size: A4☐ Waziri☐ A5☐

The Author of above mentioned book gives permission to Dr. Yahya Wardak, CIM-Expert at Ministry of Higher Education to print, write on CDs and publish the book in the website of University/Faculty and www.ecampus-afghanistan.org portal.

Full Name of Author in English and Pashto/Dari

..................................................................................................................................

Full Name of the book in Pashto/Dari ..............................................................................

Date .......................................... Author's signature ..........................................

Phone No .......................................... Email ..........................................................

## REQUEST

The book, titled ...................................................... written by ....................................

is prepared in accordance with the rules & regulations of ...................... Faculty & ...................... University.

We kindly request Dr. Yahya Wardak, CIM-Expert at Ministry of Higher Education to assist in printing the textbook which is included in the curriculum of the faculty. It may improve teaching quality and will enable students and lecturers of University/Faculty to take maximum benefit of it.

Name & Signature of Head of Department ..........................................................................

Name, Signature & seal of Dean of Faculty ..........................................................................

Name, Signature & seal of Chancellor of University ..............................................................

CONTACT

Ministry of Higher Education (MoHE), Karte-4, Kabul, Afghanistan ▪ Dr. Yahya Wardak Office
Phone 075 6014640 / 0706320844 ▪ Email wardak@afghanic.org ▪ textbooks@afghanic.org

## د کتابونو د چاپ لپاره باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي

1. د کتاب د چاپ لپاره باید انګریزي فورمه په صحیح او مکمل ډول ډکه شي ! د کتاب نوم، د کتاب د صفحو تعداد، د لیکوال نوم، لاسلیک، ټیلفون شمیره او همدارنګه د دیپارتمنت د آمر نوم او لاسلیک، د پوهنځي مهر، د پوهنځي د رییس نوم او لاسلیک او هم د پوهنتون د رییس نوم، لاسلیک او ټاپه پرې واخیستل شي.

2. د کتاب سافټ کاپي (پي ډي اف فایل او ورډ فایل) او د کتاب چاپ شوې بڼه (هارډ کاپي) ټول مونږ ته راکړل شي.

3. کوښښ وشي چې کتاب باید په A5 سایز یعنې د کتاب ورقې باید اې پنځه فارمت (نیمه مخ) کې وي.

4. هر کتاب باید په جلا ډول په انګریزي ژبه په یوه پاڼه کې د کتاب لنډیز (آبسټرکټ) ولري.

5. کتاب باید د مؤلف بیوګرافي او تصویر ولري. که لیکوال مخالفت و نه لري، نو موږ به ګټو چې په هر کتاب کې د مؤلف د تیلیفون شمیره او ایمیل آدرس ولیکل شي.

6. د کتاب وروستې ایډیټ شوې او اصلاح شوې بڼه باید مونږ ته وسپارل شي، یعنې د کتاب هغه فایل چې چاپ ته سپارل کیږي باید مکمل پي ډي ایف ته واړول شي او د یو فاینل کتاب په بڼه مونږ ته وسپارل شي.

7. ټول کتاب باید یو فونټ ولري. که ډېر فونټونه ولري کیدای شي مو ږ له ستونزې سره مخامخ کړي.

8. د کتاب او مؤلف انګریزي نوم باید د کتاب په شا یا د کتاب په پښتۍ باندې ولیکل شي.

9. که ستاسو کتاب د لوړو زده کړو وزارت د اکاډمیکو چارو د انسجام اداري له خوا پاس شوی وي، نو د هغه مکتوب هم راواستول شي.

10. باید کتاب مکمل او هیڅ کومه ستونزه ونلري، په دې معنی چې د کتاب برخې کمې نه وي.

11. که ستاسو کتاب رنګه عکسونه ولري نو هیله مند یو چې دغه عکسونه بیا په جلا توګه د کتاب په آخر کې د کوچني ضمیمه اتلس په شکل جوړ او موږ به یې بیا رنګه چاپ کړو. دا عکسونه په یو جلا فایل کې موږ ته راولیږئ.

کوم کتابونه چې موږ چاپوو، پورته ټول ذکر شوي ټکي باید ولري.
له همکارۍ مو مخکې له مخکې مننه کوو !

کابل، ۲۰۱۹

د لازیاتو معلوماتو، پوښتنو او د کتابونو د یو څو نمونو ترلاسه کولو لپاره په لوړو زدکړو وزارت کې زموږ دفتر سره تماس ونیسئ.

# د مؤلف لپاره د چاپ شوي
# کتاب د تسلیمولو فورمه

تصدیق

زه................................ د............................کتاب مؤلف تصدیق کوم، چې د خپل کتاب.............. جلده کتابونه راته راکړل شول.

نوم................................ لاسلیک ....................................

ځای.............................. نېټه ...........................................

**Confirmation of receiving my books**

I, ……………………………………

Author of the book ………………………………………

Hereby acknowledge that I have received ………… copies of a book with thanks.

Signature of Author: …………………………

Date: ………………………………….

Phone No: ………………………………….

Email: …………………………………

*Contact:*
*MoHE, Karte -4, Dr. Yahya Wardak*
*Phone: 0756014640, Mobile: 0706320844, Email: wardak@afghanic.org*

# په چاپ شویو کتابونو کې
# د وزارت پیغام (یوه بېلګه)

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې، کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی.

درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي، چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري.

له همدې امله د نړیوالو پېژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید، نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې ادا کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی.

له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم، چې پخپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي، چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو برخو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.
په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې له رییس ډاکټر ایروس او زموږ همکار ډاکټر یحیی وردګ څخه مننه کوم، چې د کتابونو د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړې ده.
هیله مند یم، چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي، چې په نږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درناوی

داکتر عبداللطیف روشان، د لوړو زده کړو سرپرست وزیر، کابل، ۱۳۹۲



# افغان درسي کتابونو ته آنلاین لاسرسی

له ۲۰۱۰ زکال راهیسې مو ږ د افغانستان د مختلفو طبي پوهنتونونو ۲۹۱ عنوانه درسي کتابونه چاپ کړي دي. دا ټول چاپ شوي کتابونه په پي ډي اف (PDF) شکل سره له www.ecampus-afghanistan.org څخه ډاونلوډ کولای شئ.

eCampus Afghanistan په افغاني پوهنتونونو کې د تدریس او زده کړې لپاره د انټرنېټ په ملتیا یو عمومي platform دی.

په **eCampus Afghanistan** کې لومړني مراحل:

- راجسترول:

د راجسترولو لپاره لاندې مراحل باید تر سره شي:

1. www.ecampus-afghanistan.org ته مراجعه وکړئ.
2. په "Create Your Account" باندې کلیک وکړئ.




3. په فارم کې غوښتل شوي معلومات تکمیل کړئ او submit یې کړئ (نوټ: آی ډي او پاسورډ مو په یاد ولرئ).




4. تاسي به ذکر شوي ايميل آدرس ته يو ايميل ترلاسه کړئ.
5. په ايميل کې مو د درلېږل شوي لېنک په واسطه خپل اکونټ تاييد کړئ.

- اوس تاسي په eCampus Afghanistan کې راجستر شوي ياست.
- له راجستر وروسته هر وخت کولای شئ چې د آی ډي او پاسورډ په داخلولو سره خپل اکونټ ته ننوزئ.

- د درسي کتابونو لېست ته ننوتل:

1. eCampus Afghanistan ته د ننه شئ.
2. په 200 Textbooks in Dari, Pashto and English for all (Download) (2) باندې کلېک وکړئ.




3. هرې برخې ته د ننوتلو لپاره په هغه کلېک وکړئ

4. (Medical Textbook/ Miscellaneous Textbook)




5. د طبي کتابونو لپاره په Medical Textbooks او د نورو رشتو د کتابونو لپاره په Miscellaneous Textbooks باندي کلیک وکړئ.

*ټول طبي کتابونه

*ټول غیرطبي کتابونه







په دي توګه تاسو ټولو چاپ شویو طبي او غیر طبي کتابونو ته لاسرسی لرئ.

# په ۲۰۱۱ز کال کې د طبي کتابونو د چاپولو راپور

په افغانستان کې شپږ طب پوهنځیو ته شل بېلا بېل طبي کتابونه (ټول ۲۹۰۰۰ جلده کېږي ) له سي ډي سره مل توزیع شول.
دا پروژه د DAAD ( ډي،ای، ای، ډي ) له خوا تمویل شوې، ټول کتابونه د افغانستان د ځلورو پوهنتونونو ( بلخ، کندهار، ننګرهار او خوست ) د استادانو له خوا په پښتو او دري ژبو لیکل شوي وو.

**اوسنی حالت:**

په افغانستان کې د پوهنتونونو محصلین یو لړ ستونزې لري، چې محصلین په دودیز ډول لکچر نوټونه اخلي اودا نوټونه زیاتره وخت پرته له کوم عملي مرستې او نور اړونده توکو څخه ورکول کېږي. د پوهنتونونو او پوهنځیو لکچر هالونه، سیمینار خونې او لابراتوارونه په یو بد حالت کې دي. زده کونکي یوازې لکچر نوټونه اخلي او یا دوی ته د استادانو له خوا په لاس لیکل شوي مواد ورکول کېږي، دا لکچر نوټونه د زده کوونکو له خوا په خپل مالي لګښت فوتوکاپي کېږي او کله ناکله یې په لاس لیکي.
له دې وراخوا د فوتو کاپي کیفیت هم ښه نه دی او همدا راز هغه مواد ، چې په لکچر کې استعمالېږي د وخت څخه تېر (زاړه ) دي.

**د چاپ شوو کتابونو کموالی:**

دا چې د دغې ستونزې یوه برخه حل شي، وخت پر وخت تازه مواد چاپ شي، نو په ۲۰۰۹ز کال کې یوه پروژه پیل شوه چې له مخې یې د ننګرهار د طب پوهنځي د استادانو له خوا لیکل شوي طبي کتابونه، د DAADله خوا چاپ شول چې د هر کتاب سره یوه سي ډي (CD) هم مله وه.
دا کار د افغانستان د نورو پوهنتونونو او پوهنځیو له خوا مثبت وارزول شو او غوښتنه وشوه، چې د هغوی درسي مواد دې هم چاپ کړل شي او د

افغانستان ټولو پوهنتونونو ته وویشل شي.

**له افغانستان سره د اکاډیمیکو مرستو ملاتړ:**

په ۲۰۱۰ز کال کې، ۲۰ نور کتابونه هم د استادانو له خوا د څلورو پوهنتونونو (بلخ، کندهار، خوست، ننګرهار) څخه تیار شول او چاپ چارې یې د DAAD له خوا تمویل شوې. د دغې پروژې تخنیکي او اداري چارې په المان کې د افغان طبي ډلې (DAMF) او افغانیک ټولنې له خوا ترسره شوي. دغه چاپ شوي کتابونه او سي ډي ګانې، پرته له کومې بیې، د اړونده پوهنتونونو او پروګرام محصلینو ته ورکړل شو. بیا دغه مفکوره پیدا شوه چې دغه سي ډ ي ګانې او ددوی خپاره شوي کتابونه، په ویب پاڼه کې پر لیکه شي. ټول کتابونه د پي ډي ایف په بڼه د www.ecampus-afghanistan.org څخه ښکته کېدلی شي. باید وویل شي، چې د ننګرهار، خوست، کندهار او هرات له طب پوهنځیو سره د عملي لکچر په موخه پروجیکتورونه په ټولو صنفونو کې نصب کړل شول.

**نورې غوښتنې او اړتیاوې:**

په ۲۰۱۱ز کال کې د پنځه افغاني پوهنتونونو، طب پوهنځیو د ۳۰ نورو تدریسي کتابونو او د ۲۰ نورو کتابونو غوښتنه د ادبیاتو، ژبپوهنې، انجینرۍ، ساینس، ټولنپېژندنې، لرغون پېژندنې او ساینس په برخه کې وشوه. دغه ستره اړتیا د نورو زیاتو مرستو غوښتونکې ده، چې دغه پروګرام په بریالي ډول دوام ومومي، څرنګه چې د تدریسي کتابونو لیکل او چاپول، په بېلا بېلو تدریسي برخو کې یوه لویه اړتیا ده، هیله مند یو چې دغه کوچنۍ پروژه په یو ملي پروګرام بدله شي او په ټولو پوهنځیو کې باید نوي کتابونه ولیکل او چاپ شي ترڅو په تدریس کې ترې ګټه واخستل شي او په دې هیله یو، چې دغه پروګرام د لوړو زده کړو د وزارت د پوهنتونونو ملاتړ او د مرستندویه ټولنو لخوا تمویل شي. د دغو (۲۹۰۰۰ کتابونو او ۲۹۰۰۰ سي ډي ګانې) ټول لګښت €۵۰۰۰۰ پنځوس زره یورو شوی دی.

# په ۲۰۱۲ زکال کې د ۵۰ عنوانه طبي کتابونو د چاپ راپور

د **۵۰** طبي کتابونو د چاپ پروسه چې په ۲۰۱۲ کال کې پیل شوې وه، په بریالیتوب سره پای ته ورسېده.
دغه کتابونه د کابل طبي پوهنتون او د پنځو ولایتونو (بلخ، هرات، کندهار، خوست او کاپیسا) د طب پوهنځیو د استادانو له خوا لیکل شوي دي.
د دغه کتابونو ځینې په ۱۰۰۰ ټوکو کې او ځینې نور یې په ۲۰۰۰ ټوکو کې په پښتو او دري ژبو چاپ شوي دي.
له دې جملې څخه یو کتاب د کندهار د طب پوهنځي له خوا او دوه نور کتابونه (د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د انستېزي اساسي لارښود) تر نامه لاندې په دوه ټوکو کې په انګلیسي ژبه چاپ شوي دي.
د انستېزي کتاب د انستېزي د یوه امریکایي عالم ډانیل ډیموس له خوا په انګرېزي ژبه لیکل شوی او د یوه ټیم لخوا، چې په هغه کې انستزیولوګان او طبي ژباړونکي شامل وو، دري ژبې ته ژباړل شوی دی او کتاب په (دري او انګلیسي) ژبو ترتیب شوی او د کابل طبي پوهنتون لخوا تایید شوی هم دی.
نوموړي کتابونه په دریو مطبعو کې د کابل په ښار کې چاپ شول او وروسته بیا د کابل طبي پوهنتون او د اړونده ولایتونو د طب پوهنځیو ته وویشل شول.
د یادونې وړ ده، چې د نوموړو کتابونو یوه یوه کاپي د طب خصوصي

پوهنځیو او نورو اړونده ادارو، لکه د روغتیا وزارت، روغتونونه، د کابل پوهنتون عمومي کتابتون، د پوهنې وزارت د څېړنو او ساینس مرکز، د کابل پوهنتون د افغانستان مرکز، د علومو اکاډمي او د افغانستان د څېړنو او ارزونې واحد ته ورکړل شول.

د کتابونو د چاپ پروسه، د مؤلف لخوا د غوښتنلیک په ډکولو او رالېږلو پیل کېږي چې وروسته بیا دغه فورمه د اړونده دیپارتمنت له خوا تایید کېږي او همدا راز د اړونده پوهنځي د رییس له خوا تر تایید وروسته د پوهنتون د رییس له خوا تایید، تصدیق او لاسلیک کېږي، د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

کله چې مونږ د کتاب سافت کاپي او د غوښتنلیک فورمه تر لاسه کړو، مطبعه د کتاب د پوښ ډیزاین او فارمت پیلوي او کتاب د چاپ لپاره برابروي.

د اړونده کتاب پرنټ اوټ، مؤلف ته د هغه د نظر د اخستلو او مرور لپاره استول کېږي، ځینې وختونه د کتابونو پرنټ اوټ له اړونده مطبعو نه زمونږ دفتر ته رارسېږي او حتی دوه یا درې ځلې د اصلاح لپاره مؤلفینو ته لېږل کېږي، کله کله دغه پروسه ډېر وخت په بر کې نیسي او بالاخره کتاب د چاپ لپاره برابرېږي. د لوړو زده کړو د وزیر پیغام او زمونږ د پروګرام په اړوند معلومات په هر کتاب کې چاپ شوي دي، هر کتاب یوه سي ډي لري او ټول چاپ شوي کتابونه د بوخم د پوهنتون له خوا په www.ecampus-afghanistan.org ویبپاڼه کې اچول کېږي او په آسانۍ سره له نومورې ویبپاڼې څخه ډاونلوډ کېدای شي.

د لوړو زده کړو د موسسو د غوښتنې پر اساس په راتلونکي کې

ددې اړتيا شته، چې هر کال ۱۰۰ عنوانه طبي کتابونه چاپ کړو.
مونږ همدا اوس د برشو کتابونو د چاپ لپاره غوښتنليکونه او د کتابونو سافټ کاپيانې ترلاسه کړې دي او مؤلفين پر نورو کتابونو کار کوي، چې په نږدې راتلونکي کې به زمونږ دفتر ته را ورسېږي.
مونږ هيله مند يو چې دغه پروژه په ۲۰۱۳ کال کې هم دوام وکړي او مونږ به وتوانېږو، ټول هغه کتابونه چې په ۲۰۱۲ کال کې له چاپ څخه پاتې شوي دي او چاپولو ته تيار دي، چاپ کړو.
د المان د بهرنيو چارو له وزارت او DAAD (د المان اکاډميکو همکاريو ټولنې) څخه مننه کوم، چې تراوسه يې د **۹۵** عنوانه طبي کتابونو مالي لګښت پر غاړه اخيستی دی.
د المان د ماينز پوهنتون (Mainz/Germany) د طب پوهنځي، د ننګرهار پوهنځي استاد ډاکټر زلمي توريال، ښاغلي Dieter Hampel او افغانيک موسسې څخه هم مننه کوم، چې د کتابونو په اداري او تخنيکي چارو کې يې له مونږ سره مرسته کړې ده.
په ځانګړي توګه، د جي آی زيډ (GIZ) له دفتر او CIM ( Center for International Migration and Development) يا د نړيوالې پناه غوښتنې او پرمختيا مرکز، چې زما لپاره يې په تېرو دوو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي دي، هم مننه کوم.

❖

# لوړو زده کړو وزیرې د سمت سازمان د اکاډمیکو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ

**۲۱/سد، ۱۳۹۴**

*منبع: www.mohe.gov.af/news/ps/510*

لوړو زده کړو وزیرې د ایران هېواد د انساني علومو د مطالعې او کتابونو د تدوین سازمان (سمت) له مدیره هیأت سره په لیدنه کې، لوړو زده کړو وزارت سره د نوموړي سازمان د علمي او اکاډمیکي فعالیتونو پر پراختیا ټینګار وکړ.
په دغه لیدنه کې د لوړو زده کړو وزیرې پوهنوال دوکتور فریدې مومند د یاد سازمان له تیرو مرستو څخه چې د کابل پوهنتون مطبعې په تجهیز، د پوهنتونونو استادانو ۲۵ عنوانه کتابونو په چاپولو او په اړوندو نورو برخو کې ترسره کړي مننه وکړه او په یادو اکاډمیکو برخو کې د ورته همکاریو غوښتونکې شوه.
وروسته د یاد سازمان استازي په تیرو څو کلونو کې د نوموړي سازمان د ترسره شویو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل او د کتابونو د تدوین، کتاب لیکلو، تالیف، کتابونو د ډیزاین، د مطبعو کارکوونکو د ظرفیتونو لوړولو او نورو برخو کې د لوړو زده کړو وزارت کارکوونکو د روزنې ژمنه وکړه.
دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د هېواد د پوهنتونونو د استادانو ۲۱ عنوانه کتابونه، چې لس زره پنځه سوه جلده کیږي، د یوې مخ کتنې په ترڅ کې لوړو زده کړو وزارت ته وسپارل شول او همدارنګه په تېرو کلونو کې ۴۴ عنوانه نور کتابونه د نوموړي سازمان له خوا چاپ او لوړو زده کړو وزارت ته ورکړل شوي دي.

# په لوړو زده کړو وزارت کې د کتابدارۍ په اړه ورکشاپ جوړ شو

**۱۱ غبرګولی، ۱۳۸۴**

***منبع او ژباړه له:*** *http://mohe.gov.af/news/da/398*

د کابل، ننګرهار او هرات پوهنتونونو د مهمو روزونکو لپاره د کتابدارۍ د زده کړې په اړه په لوړو زده کړو وزارت کې ورکشاپ دایر شو.

دا ورکشاپ د یادو پوهنتونونو د کتابتونونو د روزونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د USAID په مالي مرسته او د پوهنتونونو څخه د ملاتړ او بشري ځواک د پیاوړتیا اداري USWDP په همکارۍ په لاره اچول شوی دی.

د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال پوهنوال محمد عثمان بابري د USAID اداري او USWDP دفتر څخه د منني تر څنګ کتابتونونه او کتابداري د تحصیلي بنسټونو اساسي توکي وبلل او زیاته یې کړه: کتابتونونو ته پاملرنه او د لوړو زده کړو د بنسټونو د لابراتوارونو مجهزول د دې وزارت له لومړیتوبونو څخه دي چې د تېرو څو کلونو په ترځ کې په دې برخه کې د پام وړ کارونه تر سره شوي دي.

نوموړي وویل چې کتابداري د پوهنتونونو او تحصیلي مؤسسو د خبرتیا... په برخه کې مهم رول لري، چې د کتابتونونو رامنځته کول او

د هغوی تجهیز د پوهنتونونو د مسؤلینو جدي پاملرنې ته اړتیا لري.

وروسته د پوهنتونونو ځخه د ملاتړ او بشري ځواک د پیاوړتیا اداري مشر وحید عمر د موضوع په اړوند خبرې وکړې او ویې ویل چې موږ په دې ورکشاپ کې د هېواد د پوهنتونونو اړتیاوې وپېژندې او د دې اړتیاوو د پوره کولو لپاره به ځانګړي پروګرامونه په کار واچوو.

همدرانګه ګډونوالو دا ورکشاپ اغېزمن وباله او د پوهنتونونو د کتابدارۍ د سیستم د لا ښه والي لپاره یې وړاندیزونه او نظرونه ورکړل چې د مسؤلینو لخوا ورسره د همکارۍ ژمنه وشوه.

د دې پروګرام د یو تن مسؤل په وینا، یاد ورکشاپ د پنځه ورځو لپاره دوام وکړ چې د هېواد د لوړو زده کړو د بنسټونو د کتابتونونو نور روزونکي به یې په نورو پروګرامونو کې ګډون وکړي.

❀❀❀

که د یو کال لپاره پلان لرې، وریجې وکره.
که د لسو کلونو پلان لرې، ونې کښېنوه.
که د سلو کلونو پلان لرې، انسان وروزه.

*[چینایي فیلسوف، چوانګتسي*
*(له میلاد نه وړاندې څلورمه پېړۍ)]*

# ایران ته د لوړو زده کړو وزارت د علمي مرستیال او سرپرست وزیر پوهنوال محمد عثمان بابري د سفر د راپور یوه برخه

**۲۸، غوایی ۱۳۹۴**

**منبع او ژباړه له:** http://www.mohe.gov.af/publications/da/459

نوربخش وویل چې د عدم انسلاک خوځښت (NAM) د علومو، ټکنالوژۍ او نوښت د وزیرانو د درې ورځنې کنفرانس په څنډه کې د لوړو زده کړو وزات د سرپرست وزیر او د نور مختلفو هېوادونو د وزیرانو، پوهنتونونو او مختلفو علمي مرکزونو د مسؤلینو تر منځ اغېزناکې لیدنې او خبرې اترې وشوې او د مطالعې او تدوین د ټولنې (سمت) له مسؤلانو سره د یوې ناستې په ترڅ کې د همکارۍ او د افغاني پوهنتونونو د استادانو د کتابونو د چاپولو په اړه په یو تفاهم لیک باندې موافقه وشوه چې د هغه د علمي کولو لپاره ځانګړې پرېکړې وشوې. د لوړو زده کړو وزارت سرپرست وزیر پوهنوال محمد عثمان بابري او د نشراتو او اطلاعاتو رئیس او د وزارت ویاند پوهندوی عبد العظیم نوربخش له دې درې ورځنې سفر وروسته د ۱۳۹۳ کال د کب د میاشتې په ۲ مه نېټه بېرته هېواد ته را وګرځېدل.

❖

# د ننګرهار پوهنتون محصلينو ته د طبي درسي کتابونو وېش

***فبروري، ۲۰۱۵***



د درسي موادو کمښت په افغانستان کې د لويو ستونزو له ډلې څخه ګڼل کيږي او د زده کړو پر وړاندې لوی خنډ دی چې لا هم شتون لري.
ننګرهار ته د کاري سفر په جريان کې مو پرېکړه وکړه چې هغه ۴۰ عنوانه طبي درسي کتابونه چې په تېر کال (۲۰۱۴) کې مو چاپ کړي وو او شمېر يې ۴۰۰۰۰ ټوکه وو، محصلينو ته ور وو بښو.
د چاپ شويو کتابونو له ډلې **۱۹۸۴۲** ټوکه کتابونه ننګرهار ته ولېږدول شول او د کرېکولم سره سم په ټولګيو کې وو بشل شول.
په لومړي ټولګي کې چې درې ګروپونه (الف، ب، ج) او **۲۱۵** محصلين لري، **۱۵۰۵** کتابونه وو بشل شول. په دې توګه هر محصل ته اووه عنوانه کتابونه (اناتومي اول ټوک، طبي امبريولوژي، امبريولوژي، د جهازاتو اناتومي، د شحمياتو استقلاب، د تنفسي جهاز فزيولوژي او طبي ترمينالوژي) د اړتيا او کريکولم پر بنسټ ورکړل شول.
محصلين چې د درسي کتابونو له نه شتون څخه يې شکايت کاوه، د يادو کتابونو په ترلاسه کولو سره ډېر خوښ شول او د افغان محصلينو د زده کړو د کچې د لوړولو لپاره د ورته پروژو د دوام غوښتنه يې وکړه.

د دويم ټولګي محصلينو ته چې شمېر يې ۹۴ تنه دی، ۱۰۳۴ ټوکه کتابونه ورکړل شول. هر محصل ته ۱۱ عنوانه کتابونه (عمومي کېميا، احصاييه، وراثت او د سمورفولوژي، طبي ترمينولوژي، اناتومي دريم ټوک، د جهازاتو اناتومي، امبريولوژي، د شحمياتو استقلاب، فزيکي تشخيص، د تنفسي جهاز فزيولوژي او د سيستمونو پتالوژي) ورکړل شول.

د دريم ټولګي ۱۰۸ تنه محصلينو ته ۷۴۲ ټوکه کتابونه ورکړل شول چې هر محصل ته اووه ټوکه (وراثت او د سمورفولوژي، د سيستمونو پتالوژي، د جهازاتو اناتومي، فزيکي تشخيص، هلمنتولوژي، طبي ترمينولوژي او احصاييه) ورسېدل.
د څلورم ټولګي ۱۱۵ تنه محصلينو هر يو ته ۸ عنوانه کتابونه (د سيستمونو پتالوژي، د عامې روغيتا اساسات او اداره، تصويری يا ترسيمي راديولوژي، د اتومونو او مرکزي عصبي سيستم فارمکولوژي، هلمنتولوژي، فارمکولوژي دوهم ټوک، فزيکي تشخيص او التراسونډ) ورکړل شول چې ټولټال ۹۲۰ ټوکه کتابونه کيږي.
پنځم ټولګي ته چې ۱۳۴ تنه محصلين لري هر محصل ته ۱۹ عنوانه کتابونه (وراثت او د سمورفولوژي، د عامې روغتيا اساسات او اداره، په ماشومانو کې توبرکلوز، د کوچنيانو خوارځواکي، د نوي زيږېدلي ماشوم ځارنه، د بيړينو پېښو د درملنې لارښود، د درملو د استعمال عملي لارښود، نشه يي توکي او اړونده ناروغۍ، د طبي عامو ستونځو عملي لارښود، د ماشومانو د ناروغيو عملي لارښود، د رواني روغتيايي ستونځو عملي لارښود، بيړنۍ طبي درملنې، حاد اپنديسايتس تفريقي تشخيص اختلاطات او تدواي، د زړه برقي ګراف، التراسونډ، سرطان او د چاپېريال راديواکتيويټي، عصبي ناروغۍ، د شکرې ناروغي او

نیونتولوژي) د اړتیا او کریکولم سره سم ورکړل شول چې په ټولیزه توګه ۲۵۴۰ کتابونه کیږي.
بل مهم کار چې موږ تر سره کړ دا وو چې د شپږم ټولګي له محصلینو سره مو په روغتونونو کې وکتل چې د ستاج دورې عملي زده کړې یې کولې او د کتابونو د وېش په اړه مو معلومات ورکړل. ټولټال ۱۲۰ تنه محصلین د ستاج په دوره کې په زده کړو بوخت وو.
د ستاج دورې محصلینو ته مو ۱۰ عنوانه کتابونه (بیړنۍ طبي درملنې، حاد اپندیسایتس تفریقي تشخیص اختلاطات او تداوي، التراسونډ، سرطان او د چاپېریال رادیواکتیویتي، د شکرې ناروغي، نیونتولوژي، د طبي عامو ستونځو عملي لارښود، د ماشومانو د ناروغیو عملي لارښود، د رواني روغتیایي ستونځو عملي لارښود او نشه یي توکي او اړه ناروغۍ) ورکړل چې په ټولیزه توګه ۱۲۰۰ ټوکه کتابونه کیږي.




د ننګرهار طب پوهنځي استادان د خپلو چاپ شویو کتابونو سل ټوکه ترلاسه کوي. نور کومه حق الزمه نه ورکول کیږي، خو دوی په ډیر اخلاص سره درسي کتابونه لیکي.

# محصلينو او ليکوالانو ته د ۲۰ عنوانه طبي کتابونو د وېش پروګرام




د شل عنوانه طبي کتابونو، چې د ننګرهار پوهنتون د استادانو او ځينې نورو ليکوالانو لخوا ليکل شوي وو، د وېش پروګرام د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي په کتابتون کې نيول شوی وو، پروګرام د قرآن کريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت سره پيل شو.

د معاون صاحب چارډهي وال، انجنير صاحب عالم او نورو استادانو لخوا د هر اړخيزو معلوماتو ورکولو وروسته، ياد پروګرام د لاندنيو وړانديزونو او ليکوالانو ته د کتابونو په ورکولو او انځورونو اخيستلو سره پای ته ورسېد.

ډاکټر ايروس ته د ننګرهار د طب پوهنځي وړانديزونه:

۱. د طب پوهنځي د ودانۍ جوړول او رنګول

۲- د تدريس لپاره د پروجکټورونو نصبول

۳- انټرنټ او مسلکي کارمند د هغه له حقوقو سره

۴- د کتابتون لپاره مامور د هغه له حقوقو سره

۵- د کتابونو د عکسونو او ګرافونو رنګه چاپول
۶- د ښخوا په شان فارغېدونکو اول نمره ګانو ته د یو لپټاپ کمپیوټر ورکول
په پای کې د هر لیکوال څخه د تصدیق په اخیستلو سره د دوی د کتابونو څخه ۱۰۰ جلده کتابونه ورکړل شول.
راتلونکې ورځ د کتابونو وېش له پنځم ټولګي څخه چې ۱۰۹ محصلین لري، پیل شو او د کرېکولم سره سم کتابونه ورکړل شول.
هغه کتابونه چې پنځم ټولګي ته ورکړل شول په لاندې ډول دي:
۱ - د کوچنیانو د جهازاتو معمولې ناروغۍ لومړی ټوک، ډاکتر عبدالستار نیازی
۲ - د کوچنیانو د جهازاتو معمولې ناروغۍ دویم ټوک، ډاکتر عبدالستار نیازی
۳ - د کوچنیانو ناروغۍ لومړی سمستر پنځم صنف لپاره، ډاکتر عبدالستار نیازی
۴ - عصبي جراحي، ډاکتر فضل الرحیم شګېوال
۵ - عقلي ناروغۍ، ډاکتر بلال پاینده
۶ - د کوچنیانو ناروغۍ لومړی ټوک، پوهاند ډاکتر احمد سیر احمدي
۷ - د کوچنیانو ناروغۍ دوهم ټوک، پوهاند ډاکتر احمد سیر احمدي
۷ - جراحي انکال، ډاکتر عجب ګل مومند
یاد کتابونه د محصلینو د حاضري اخیستلو له مخې او د هر یوه له لاسلیک اخیستلو سره ټولو محصلینو ته ورکړل شول.
د وېش د سلسلې په دوام سره کتابونه د ټولګیو په ترتیب سره محصلینو ته ووېشل شول.
څلورم ټولګي ته چې ۱۱۸ محصلین لري لاندې کتابونه د درسي کرېکولم سره سم ووېشل شول:

۱-انتاني ناروغۍ، پوهاند ډاکتر حفیظ الله اپریدي
۲ - د ځیګر ویروسي التهاب طبي تشخیص او درملنه، ډاکتر محمد اسحاق شریفي
۳-تلویزیوني آزموینې، ډاکتر نجیب الله خلیلي
۴-ملاریا، ډاکتر محمد اسحاق شریفي

په همدې توګه د ډاکتر غلام جیلاني ولي کتاب (طبي پرازیټولوژي) د دریم ټولګي ۱۱۲ محصلینو ته ورکړل شول.

د دویم ټولګي محصلینو ته چې ۸۰ تنه وو د ډاکتر احسان الله احسان کتاب (د اندوکراین، زړه، رګونو او پښتورګو فزیولوژي) وویشل شو.

د لومړي ټولګي د دوو څانګو محصلینو ته چې ټول ۲۰۰ تنه وو لاندې کتابونه ورکړل شول:

۱-بیوفزیک، پښتنه بنایي
۲-د هضمي سیستم اناټومي، ډاکتر محمد ناصر نصرتي
۳-د زړه اناتومي، ډاکتر محمد ناصر نصرتي
۴-د بولي او تناسلي سیستم اناتومي، ډاکتر محمد ناصر نصرتي

بالاخره د پي سي بي څانګې محصلینو ته چې شمېر یې ۲۴۲ تنه وو، د لاندې کتابونو په ورکولو سره د وېش دا لړۍ پای ته ورسېده.

۱-وراثت، ډاکتر ګل سالم شرافت
۲-فزیکي کېمیا، حبیب الله نوابزاده

هېره دې نه وي چې ننګرهار پوهنتون ته ټول لېږل شوي کتابونه نه دي وېشل شوي، بلکې د راتلونکو دورو د محصلینو لپاره په کتابتون کې ساتل شوي دي. *اکتوبر، ۲۰۱۵*

❖

# د ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت
# په برخو کې د ۲۴ عنوانه کتابونو چاپ

د کتابونو لپاره اړتیا، د هغوی کمښت او د محصلینو، پوهنتونونو او استادانو د غوښتنو له امله موږ هڅه وکړه چې د کتابونو د چاپ پروسه له طبي کتابونو څخه نورو رشتو لکه ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت ته هم وغځوو. له نېکه مرغه د روان میلادي کال په اوږدو د هېواد د دولتي پوهنتونونو د ۱۷۲ عنوانه بېلا بېلو طبي کتابونو د چاپ په لړ کې د ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت په برخو کې د ۲۴ عنوانه غیر طبي کتابونو په چاپ بریالي شوو.

د ۸۰ طبي کتابونو د چاپ په دوام چې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې (Kinderhilfe-Afghanistan) په مالي مرسته چاپ شوي وو، ۲۰ عنوانه غیر طبي کتابونه هم چاپ شول.

همدا راز موږ هڅه کوو چې د نورو رشتو د اړتیا وړ کتابونه هم چاپ کړو او تر یوې اندازې د افغان محصلینو اړتیاوې پوره کړو.

یاد ټول طبي او غیر طبي چاپ شوي کتابونه مو ټولو پوهنتونونو، کتابتونونو، د لوړو زده کړو خصوصي موسسو، روغتونونو، لیکوالانو او افغان ډاکترانو ته په وړیا توګه ورکړي دي. همدارنګه هر څوک کولای شي دا ټول طبي او غیر طبي کتابونه له www.ecampus-afghanistan.org پورټال څخه په وړیا توګه ډاونلوډ کړي.

اړتیا لیدل کیږي چې د افغان او نورو لیکوالانو د درسي کتابونو چاپ او نشر د لوړو زده کړو وزارت په یوه منظم سیستم کې شامل شي تر څو منظم فعالیتونه ولري، یعنې د امکان تر حده هڅه وشي چې د پوهنتونونو د محترمو استادانو لکچر نوټونه، زاړه کتابونه او نور درسي مواد چاپ او د پوهنتونونو، لیکوالانو او محصلینو تر لاسونو ور ورسول شي.

درسي مواد، چې د زده کړې بنسټيز توکي دي، له بده مرغه زموږ په هېواد کې د اقتصادي فقر، ناسمو شرايطو او د چارواکو او مسؤلينو د نه پاملرنې له کبله محصلين او استادان له جدي ننګونې سره مخ کړې دي، په دې اساس په هېواد کې د لوړو زده کړو بنسټ خورا ضعيف دی او دا ستونزه لا تر اوسه پر ځای پاتې ده.

د درسي موادو کمښت او نه شتون، په ځانګړې توګه د کتاب په شکل چې په ملي ژبو پښتو او دري ليکل شوي وي، په افغانستان کې د پرمختګ او علمي سطحې د لوړولو د خنډونو له ډلې څخه دي، له دې کبله د معياري لوړو زده کړو د درلودلو لپاره د هر مضمون او تحصيلي رشتې پورې اړوند کتابونو شتون اړين بربښي.

له بده مرغه معياري کتابونه چې د وخت او محصلينو غوښتنه ده شتون نه لري او يا که چېرې شتون هم ولري د ټول هېواد د محصلينو اړتياوې نه شي پوره کولای، همدا راز هغه کتابونه چې په بهر کې چاپ شوي دي او ليکوالان يې بهرني دي په بازار کې په ټيټ کيفيت او لوړه بيه پلورل کېږي، نو په ډېره لږ شمېره محصلين د دې کتابونو د پېرلو او ګټه اخيستلو توان لري.

په هېواد کې د داسې حالت په ليدلو سره موږ لاس په کار شوو او په ځانګړې توګه د طب په برخه کې مو کار وکړ تر څو تر يوه حده د محصلينو اړتياوې پوره کړو. تر دې مهاله موږ ۲۰۰ عنوانه طبي او غير طبي کتابونه د افغانستان د پوهنتونونو لپاره چاپ کړي دي، خو سره له دې، دې چاپ شويو کتابونو د محصلينو ټولې اړتياوې نه دي پوره کړې که څه هم تر يوې اندازې پورې ګټور تمام شوي دي.

په پای کې د لوړو زده کړو له وزارت او نورو مرستندويو بنسټونو څخه هيله کوو چې موږ ته په دې لاره کې د مرستې لاس راکړي تر څو د پوهې او زده کړې د خپرولو، چې جاري صدقه ده، بنسټيز کار تر سره کړو او د لوی خدای (ج) له دربار څخه عظيم اجر تر لاسه کړو.

***کابل، ډسمبر ۲۰۱۵***

# په ننګرهار پوهنتون کې د غیرطبي کتابونو وېش

*فبروری، ۲۰۱۲*

د ننګرهار پوهنتون او ډاکتر یحیی وردګ د دفتر لخوا لیکوالانو او محصلینو ته د کتابونو د وېش د پروګرام لنډیز په لاندې توګه دی:
په دې پروګرام کې د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال ډاکتر ناصر کامه وال، حاجي عالم (د ډاکتر ایروس استازي)، ډاکتر یحیی وردګ، د ساینس پوهنځي رئیس او نورو هغه لیکوالانو چې کتابونه یې چاپ شوي وو ګډون کړی و. دوی د درسي کتابونو د چاپ د پروسې په اړه خپل ملاتړ او خوښي څرګنده کړه. همدارنګه دوی د یادې پروژې په اړوند ځیني وړاندیزونه هم درلودل.
د پروګرام ګډونوالو په نوبت سره خبرې وکړې. تر ټولو د مخه د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال ډاکتر ناصر کامه وال غونډې ته وینا وکړه او یاده پروژه یې ډېره مهمه وبلله. ده ویل چې دې کار د پوهنتونونو استادان وهڅول چې پر خپلو کتابونو له سره کتنه وکړي او چاپ یې کړي. نوموړي د چاپ شویو درسي کتابونو د کیفیت ستاینه هم وکړه. ډاکتر کامه وال د خپلو خبرو په پای کې د ننګرهار پوهنتون د استادانو په استازیتوب د ډاکتر ایروس له مؤسسې او ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه وکړه.
ورپسې ډاکتر یحیی وردګ د پوهنتونونو د درسي کتابونو د چاپ د پروسې په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل. له دې وروسته هغه استادانو چې کتابونه یې چاپ شوي وو ډاکتر ایروس ته د هغه د نماینده حاجي عالم په لاس ستاینلیکونه واستول. په همدې ترتیب د پروګرام په جریان کې د چاپ شویو کتابونو هر لیکوال ته د خپلو کتابونو ۱۰۰ ټوکه ورکړل شول.
استاد محیب الرحمن جنتي هم په خپل نوبت سره خبرې وکړې او د کتابونو یاده پروژه یې له نور پروژو سره پرتله کړه. نوموړي وویل چې د پوهنتونونو د کیفیت د لوړولو په موخه ځیني پروژې په کار اچول شوې وې خو د

محصلینو او استادانو لپاره ګټورې نه وي. د ښاغلي جنتي له نظره دا پروژه چې د ډاکتر یحیی وردګ له خوا پر مخ وړل کیږي د نورو پروژو پرتله ډېره مهمه ده. ده همدارنګه د دې پروژې د ارزښت په اړه وویل چې لکچرنوټونه هېڅکله د درسي کتابونو په شان اغېزمن کېدای نه شي. ښاغلي استاد همداراز زیاته کړه تر هغه چې د لوړو زده کړو سیستم سم نه وي زموږ د هېواد بیارغونه ناممکنه ده. استاد جنتي د خپلو خبرو په پای کې وړاندیز وکړ چې د هر ټولګي د لومړي تر لسم نمره محصلینو ته باید د کتابونو د ډالۍ کولو لپاره مالي لګښتونه برابر شي.

په همدې ترتیب استاد پوهاند عارف الله مندوزي هم د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو د چاپ د پروژې د ارزښت په اړه خبرې وکړې او له ډاکتر ابروس او ډاکتر یحیی وردګ څخه یې د طبي کتابونو د چاپ تر څنګ غیر طبي کتابونو ته د د دې پروسې د غځېدلو له امله مننه وکړه.

ورپسې د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال د ډاکتر ابروس لپاره د هغه استازي حاجي عالم ته منلیک ورکړ.

د پروګرام د پای په شېبو کې آزادې خبرې اترې وشوې او په ترڅ کې یې د ننګرهار پوهنتون د کیفیت د تضمین مسوول وړاندیز وکړ چې یاده پروژه د طبي او ساینسي مضامینو تر څنګ ټولنیزو علومو ته هم وغځول شي. د دې وړاندیز په ځواب کې ډاکتر یحیی وردګ وویل چې دی له دې نظر سره موافق دی تر څو د هر مضمون لپاره یو کتاب موجود وي، خو د ده په وینا اوسمهال کافي اندازه بودیجه شتون نه لري. له دې سره سره نومړي د پوهنتونونو استادان وهڅول تر څو په هره برخه کې کتابونه ولیکي نو ښایي په راتلونکي کې په تدریجي توګه هغه هم چاپ شي.

ډاکتر یحیی وردګ وویل چې د دوی کار د نورو مؤسسو د پروژو په شان نه دی. ده وویل: موږ لومړی خلک په کار ګمارو او وروسته بودیجه ورته پیدا کوو، خو نور چې بودیجه په لاس کې لري د کاري ساحو په لټه کې دي.

بناغلي وردګ هیله څرګنده کړه چې دوی به په راتلونکي کې وکولای شي د نورو برخو کتابونه هم چاپ کړي.
د پروګرام په پای کې ځینو محصلینو د یادې پروژې د دوام هیله وکړه. د منني کولو تر څنګ دوی د هر محصل لپاره په سی ډي کې د کتابونو د سافټ کاپي غوښتنه هم وکړه.
دا پروګرام د ډاکتر یحیی وردګ او نورو هغو کسانو په ستایلو سره پای ته ورسېد چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې هلې ځلې کړېدي.
له پروګرام ورسته، چاپ شوي درسي کتابونه د ساینس، کرنې، انجنیري او نورو پوهنځیو او همدارازکتابتونونو ته ووېشل شول.
د وېشل شویو کتابونو نومونه او شمېر په لاندې جدولونو کې لیکل شوی دی:
الف. د ساینس پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | چاپېريالي انجنیري | عارف الله مندوزی | ۱۰۵ |
| ۲ | عضوي کیمیا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۱۷۵ |
| ۳ | د عالي ریاضیاتو کورس | محیب الرحمن جنتي | ۲۷۷ |
| ۴ | کیمیاوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاښی | ۲۳۵ |
| ۵ | کیمیاوي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاښی | ۲۳۳ |
| ۶ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۹۱ |
| ۷ | فیزیکي کېمیا دویم ټوک | ډاکتر خیر محمد ماموند | ۲۸۰ |
| ۸ | فیزیکي کېمیا درېیم ټوک | ډاکتر خیر محمد ماموند | ۲۷۲ |
| ۹ | عالي کلکولس ریاضي۱ | حمید الله یار | ۲۱۰ |
| ۱۰ | د ژویو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافی | ۱۵۹ |
| ۱۱ | د میتریولوژي اساسات | عبدالغیاث صافی | ۲۵۵ |
| ۱۲ | د جامداتو میخانیک | محمد اسحاق رازقي | ۱۵۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافی | ۱۵ |
| ۱۴ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میراحمدي | ۱۵ |
| ۱۵ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۱۵ |
| ۱۶ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموري | ۱۵ |
| ۱۷ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۱۵ |
| ۱۸ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۱۵ |
| ۱۹ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۱۵ |

ب: د ښوونې او روزنې پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | الجبر او د عددونو تیوري لومړی برخه | سلطان احمد نیازمن | ۶۴ |
| ۲ | عضوي کېمیا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۸۰ |
| ۳ | کېمیاوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاکړ | ۵۲ |
| ۴ | کېمیاوي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاکړ | ۵۲ |
| ۵ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۸۸ |
| ۶ | فیزیکي کېمیا دویم ټوک | ډاکتر خیر محمد ماموند | ۱۴۰ |
| ۷ | فیزیکي کېمیا درېیم ټوک | ډاکتر خیر محمد ماموند | ۱۴۰ |
| ۸ | عالي کلکولس ریاضي ۱ | حمیدالله یار | ۷۰ |
| ۹ | د ژویو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافی | ۱۴۴ |
| ۱۰ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافی | ۱۵ |

ج: د انجنیري پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | عضوي کیمیا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۸۰ |
| ۲ | د عالي ریاضیاتو کورس | محیب الرحمن جنتي | ۱۴۰ |
| ۳ | کیمیاوي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاهی | ۸۳ |
| ۴ | د ژویو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافی | ۴۰ |
| ۵ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافی | ۹۰ |
| ۶ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړۍ برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میراحمدي | ۳۸۰ |
| ۷ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۳۳۰ |
| ۸ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموري | ۳۴۲ |
| ۹ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۴۴۰ |
| ۱۰ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۵۰۴ |
| ۱۱ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۴۴۰ |
| ۱۲ | چاپېریالي انجنیري | عارف الله مندوزی | ۲۸۸ |
| ۱۳ | الجبر او د عددونو تیوري لومړۍ برخه | سلطان احمد نیازمن | ۱۲۸ |
| ۱۴ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۳۸ |
| ۱۵ | عالي کلکولس ریاضي ۱ | حمید الله یار | ۱۳۶ |
| ۱۶ | کیمیاوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاهی | ۱۱۱ |
| ۱۷ | د جامداتو میخانیک | محمد اسحاق رازقي | ۱۸۷ |

د: د ننګرهار پوهنتون کتابتون

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
| --- | --- | --- | --- |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | چاپېريالي انجنيري | عارف الله مندوزی | ۲۴ |
| ۲ | عضوي کيميا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۵۲ |
| ۳ | د عالي رياضياتو کورس | محيب الرحمن جنتي | ۷ |
| ۴ | کيمياوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کانی | ۷۰ |
| ۵ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۹ |
| ۶ | د ژويو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافی | ۲۹ |
| ۷ | د میتریولوژي اساسات | عبدالغیاث صافی | ۳۹ |
| ۸ | د جامداتو میخانیک | محمد اسحاق رازقي | ۱۴ |
| ۹ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافی | ۲۴ |
| ۱۰ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میراحمدي | ۱۷ |
| ۱۱ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۳۱ |
| ۱۲ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموري | ۴۳ |
| ۱۳ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۴۰ |
| ۱۴ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دېپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۲۶ |
| ۱۵ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دېپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۲۶ |

هـ: د وترنري پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | عضوي کيميا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۸۰ |
| ۲ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۳۸ |
| ۳ | د ژويو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافی | ۴۰ |
| ۴ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافی | ۹۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میراحمدي | ۱۹۰ |
| ۶ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۱۷۵ |
| ۷ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموري | ۱۲۸ |
| ۸ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۷۷ |
| ۹ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دپیلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۲۰ |
| ۱۰ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دپیلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۳۰ |

## و: لیکوالان

| گڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | چاپېریالي انجنیري | عارف الله مندوزی | ۱۰۰ |
| ۲ | د عالي ریاضیاتو کورس | محیب الرحمن جنتي | ۱۰۰ |
| ۳ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۰۰ |
| ۴ | عالي کلکولس ریاضي۱ | حمیدالله یار | ۱۰۰ |
| ۵ | د ژویو فزیولوژي | غنچه گل حبیب صافی | ۱۰۰ |
| ۶ | د جامداتو میخانیک | محمد اسحاق رازقي | ۱۰۰ |
| ۷ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۱۰۰ |

# جمهور رييس ښاغلی اشرف غني ته ليک

سلامونه او احترامات وړاندې کوم.
زموږ په تعليمي او تحصيلي سيستم کې درسي کيفيت ته توجه او د هغه لوړوالی ستاسو د غوښتنو څخه وو. درسي کتاب د درسي کيفيت په لوړولو کې د استاد ترڅنګ اساسي رول لوبوي.
د ښوونځيو لپاره کلونه مخکې دکتابونو يو پروګرام جوړ او د هر مضمون لپاره يو کتاب وليکل او چاپ شو، چې دا لړۍ دوام لري.
له بده مرغه زموږ په پوهنتونونو کې همدا اوس هم د تېرې پېړۍ چپترونه تدريس کېږي او هيڅ يو سيستماتيک کار نه دی شوی.
ما پنځه کاله مخکې د دغه اړتيا پر بنسټ د المان په مرسته (۲۰۱۰-۲۰۱۲ز) يو کوچنی پروګرام (د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو چاپول) پيل او تر اوسه مو دوه سوه عنوانه بېلا بېل درسي کتابونه (طب، انجينري، ساينس) برخو کې چاپ او په وړيا توګه په ټولو پوهنتونونو کې محصلينو ته ورکړل.
په دې وروستيو دريو کلونو (۲۰۱۲-۲۰۱۵ز) کې مو د يوه کوچني الماني موسسې په مرسته د ننګرهار لپاره سل کتابونه چاپ کړل. ما په دې اړه ځو ليکنې کړې دي او يو وړانديز (د درسي کتابونو ملي پروګرام) چې د دغه ليک سره مل دي.
د محصلينو لپاره درسي کتابونو ته بايد جدي پاملرنه وشي. زما درخواست دا دی، چې د لوړو زده کړو وزارت په همکارۍ د المان يا نورو مراجعو څخه په جدي توګه غوښتنه وشي، ترڅو د هر درسي مضمون لپاره حد اقل يو درسي کتاب چاپ شي.
زما په اند دغه کار به په لږ وخت کې په پوهنتونونو کې د درسي کيفيت په لوړلو کې اساسي رول ولوبولای شي.
همدا شان خپل يو وړانديز (افغان-جرمن پوهنتون) هم ستاسو د معلوماتو او د امکان په صورت کې د اجراآتو لپاره در استوم.

په درنښت

ډاکټر يحيی وردک، په لوړو زده کړو کې سلاکار، کابل، ۲۰۱۵/۱۱/۷

# د پروسې لنډيز (پريزنټېشن)

Centre for International Migration and Development

a joint operation of GIZ and the German Federal Employment Agency

وزارت تحصیلات عالی

Ministry of Higher Education

## د افغانستان د پوهنتونونو لپاره
## د درسي کتابونو چاپول

**ډاکتر يحيى وردګ**

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار، کابل

کابل/بن، اګست، ۲۰۱٦

## عمده مطالب



- اوسنی حالت
- پروژه
- اجرآت او توزيع کول
- درسونه او زده کړې Lessons learned
- ليدلور او راتلونکې Vision & Future
- سپارښتنې Recommendations
- مننه له...



## اوسنی حالت

- د لوړو زده کړو د کیفیت لپاره د درسي کتابونو اهمیت
- تر وخت تېر تدریسي مېتودونه او زاړه درسي مواد
- په پخواني شکل "چپټر او لکچر نوټ"
- د ښو او نویو درسي کتابونو کمښت




## د هېواد د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۱۰ – ۲۰۱۴ ستراتیژیک پلان*

«د تدریس او ښوونې د علمي کچې د لوړتیا او ورته نوو معلوماتو تیارول، د **محصلینو لپاره دقیق، مؤثق او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره** باید په دري او پښتو ژبو دا زمینه برابره شي، نو د نصاب د معیاري کولو په موخه باید له انگلیسي څخه دري او پښتو ته کتابونه او مجلې وژباړل شي، نو ددې پورته امکاناتو پرته امکان نلري چې استادان او محصلین دې وکولای شي په ټولو برخو کې نوو، پرمختللو او مډرن معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړي.»

*نوی ستراتیژیک پلان (۲۰۱۵ ـ ۲۰۲۰) = ؟؟؟

## د ستونزو حل لپاره پروژه

- په ۲۰۱۰ کال کې د ضرورت په اساس د آزمایښتي پروژې په توګه پیل شوه
- تر اوسه ۲۲۳ کتابونه چاپ شوي دي (د هغې له جملې ۹۶ د DAAD، ۱۲۰ د Kinderhilfe-Afghanistan، ۴ د DAUG یا افغاني او آلماني پوهنتونونو ټولنې، ۲ په مزار کې د آلمان قونسګرې او ۱ کتاب د Afghanistan-Schulen له خوا تمویل شوي دي)
- د کابل طبي پوهنتون، ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، کابل، کاپیسا پوهنتونونو مختلف درسي کتابونه (طب، ساینس، اقتصاد، انجنیري، تعلیم و تربیه او روانشناسي) چاپ شوي دي
- له ټولو کتابونو سره یوه سي ډي مله ده او همدارنګه په
- www.ecampus-afghanistan.org ویبپاڼه هم د لاسرسي وړ دي

## دوې نمونې

1.







2.







3. www.ecampus-afghanistan.org

# د چاپ پروسه

- د لیکوال لخوا لیکلي غوښتنه او موافقه
- د ډیپارتمنت د آمر لخوا اجازه او تأیید
- د پوهنځي د رئیس لخوا تأیید
- د پوهنتون د رئیس لخوا تأیید



AGREEMENT / PERMISSION

It is hereby attested that the book with the title Anatomy of Digestive system is written by me.

No of pages 95 pages Size: A4 ☐ A5 ☑

The Author of above mentioned book gives permission to Dr. Yahya Wardak, CIM-Expert at Ministry of Higher Education to print, write on CDs and publish the book in the website of University/Faculty and www.ecampus-afghanistan.org portal.

Full Name of Author in English and Pashto/Dari
Dr. Mohammad Nasir Nasraty

Full Name of the book in Pashto/Dari

Date 30/5/2014 Author's signature

Phone No 0705099197 Email

REQUEST

The book, titled Anatomy of Digestive system written by Dr. M. Nasir Nasraty is prepared in accordance with the rules & regulations of Medical Faculty & Nangrahar University

We kindly request Dr. Yahya Wardak, CIM-Expert at Ministry of Higher Education to assist in printing the textbook which is included in the curriculum of the faculty. It may improve teaching quality and will enable students and lecturers of University/Faculty to take maximum benefit of it.

Name & Signature of Head of Department Dr. M. Nasir Nasraty

Name, Signature & seal of Dean of Faculty Dr. M. Khalid Yar

Name, Signature & seal of Chancellor of University

CONTACT

MoHE, Karte-4, Kabul - Dr. Yahya Wardak - Office Phone 075 6014640
Mobile: 0706320844 - Email: wardak@... - textbooks@afghanic.org



جمهوري اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي
د افغانستان اسلامي جمهوریت
دلوړو زده کړو وزارت
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
ریاست انسجام امور اکادمیک
آمریت دیپارتمنت علوم دیني – تقنیني

شماره ۹۲ تاریخ 1387/2

| پیشنهاد | حکم |
| --- | --- |
| به مقام محترم وزارت تحصیلات عالي ! مکتوب شماره (490) مورخ 1386/11/17 پوهنتون ننگرهار درارتباط به پذیرش کتاب تالیفي محترم پوهندوی دوکتور خلیل احمد بهسودوال استاد پوهنتون ننگرهار تحت عنوان ( عمومي پتالوژي ) بحیث کتاب درسي تالیف گردیده و غرض نشر مواصلت ورزیده موضوع در جلسه تاریخي 1387/2/2 بورد علمي – نشراتي ریاست انسجام امور اکادمیک مورد بحث قرار گرفت در نتیجه چنین فیصله به عمل آمد : اثر علمي محترم پوهندوي دوکتور خلیل احمد بهسودوال کتحت عنوان ( عمومي پتالوژي ) بحیث کتاب درسي تالیف گردیده تایید است و پوهنتون محترم ننگرهار میتواند بتعداد مورد ضرورت به چاپ آن اقدام نمایند. موضوع جهت منظوري به آن مقام محترم پیشنهاد است طوریکه لازم دانند هدایت خواهند فرمود . | |

با احترام
پوهندوی دوکتور چراغ علي چراغ
رئیس انسجام امور اکادمیک

# توزیع

- د هر چاپ شوي کتاب څخه ۱۰۰ کاپي لیکوال ته ورکول کیږي
- ۴۰۰ کاپي د لیکوال پوهنځي ته
- ۵۰ کاپي نورو پوهنتونونو ته
- ۲-۵ کاپي خصوصي د لوړو زده کړو مؤسسو ته
- یوه یوه کاپي نورو مؤسساتو ته (لکه: MoPH، درسي روغتونونه، د علومو اکاډمي، AREU او نور...)



Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Kabul Medical University
Directory of library and information technology

جمهوری اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي
ریاست پوهنتون طبي کابل
آمریت کتابخانه و تکنالوژی

به وزارت محترم تحصیلات عالی !

پوهنتون طبی کابل ضمن قدردانی از کمک همه جانبه شما در قسمت چاپ کتب درسی برای محصلین پوهنتون طبی کابل ودیگر پوهنتون ها به کتب چاپ شده ذیل ضرورت دارد .

| | |
| --- | --- |
| 1- کتاب اساسات جراحی | (300) جلد |
| 2- " هستولوژی | " (300) |
| 3- اتراسوندتشخیصیه | " (300) |
| 4- روش ها ی کلنیکی اطفال | " (100) |
| 5- بیولوژی مالیکولی حجره | " (200) |
| 6- امراض ساری اطفال | " (100) |
| 7- طبی بیوشمی | " (50) |

امید درقسمت به دسترس گذاشتن کتب ذکر شده با محترمه رئیسه جان نماینده کتابخانه پوهنتون طبی کابل همکاری نموده این پوهنتون را ممنون سازید .

با احترام
پوهاند دوکتور شیرین آقا ( ظریف )
رئیس پوهنتون طبی کابل

به تعداد 1350 جلد کتاب طبی را تسلیم شد

22.4.2012

**۱۴۰ طبي درسي کتابونه** (Full version in PDF)

**۱۴۰ کتب درسی طبی** (پښتو/دری و انگلیسی)

| شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون | DVD |
|---|---|---|---|---|
| 115 | روش های ارزیابی کلنیکی اطفال | پوهندوی ډاکټرفاروق حمیدي | کابل طبی پوهنتون | II |
| 116 | د کوچنیانو د درملنې لارښود (انگلیسی) | پوهندوی ډاکټرمنصوراسلمزی | ننگرهار | II |
| 117 | د کوچنیانو ناروغی تکست بوک | پوهاند ډاکټرسلطان محمد صافی | کابل طبی پوهنتون | II |
| 118 | د کوچنیانو تغذیه | پوهنمل داکترنجیب الله امین | ننگرهار | II |
| 119 | د کوچنیانو خوار خواکی | پوهندوی ډاکټرسمیع الله حیات | ننگرهار | II |
| 120 | د نوی زیږیدلی ماشوم څارنه | پوهندوی ډاکټرناصرخان کامه وال | ننگرهار | II |
| 121 | د کوچنیانو د وینې ناروغی | پوهندوی ډاکټرمنصوراسلمزی | ننگرهار | II |
| 122 | د ماشومانو د ناروغیو عملي لارښود | داکتر ماتنی ال-وان بلومرودر | ننگرهار | II |
| **ولادی/ نسایی** | | | | |
| 123 | زیږون | پوهنمل داکترمریم اکرم معصوم | ننگرهار | II |
| 124 | کتاب ولادی | پوهندوی ډاکټرحسن فرید | هرات | II |
| 125 | ولادی جراحی، لمری توک | داکترعجب گل مومند | قندهار | II |
| 126 | ولادی جراحی، دوهم توک | داکترعجب گل مومند | قندهار | II |
| 127 | امراض نسایی | پوهندوی ډاکټر حسن فرید | هرات | II |
| **روانی/عقلي وعصبي** | | | | |
| 128 | امراض روانی، جلد اول | پوهندوی دوکتورعبدالعزیز نادری | کابل طبی پوهنتون | II |
| 129 | امراض روانی، جلد دوم | پوهندوی دوکتورعبدالعزیز نادری | کابل طبی پوهنتون | II |
| 130 | روانی رنځپوهنه | پوهندوی ډاکټرجهان شاه تنی | خوست | II |
| 131 | د رواني روغتیايي ستونځو عملي لارښود | سیان نیکولاس | ننگرهار | II |
| **رادیولوژی/ تصویربرداری طبی** | | | | |
| 132 | کلینکي رادیولوژي | پوهنوال ډاکټرغلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| 133 | تشخیصیه رادیولوژي | پوهنوال ډاکټرغلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| 134 | د سږو او زړه د ناروغیو تشخصیه رادیولوژی | پوهنیار ډاکټر شاه محمد رنځورمل | خوست | II |
| 135 | تصویری یا ترسیمي رادیولوژی | پوهنوال ډاکټرغلام سخی رحمانزی | ننگرهار | II |
| 136 | الټراساوند تشخیصیه | پوهندوی ډاکټر محمد نواب کمال | کابل طبی پوهنتون | II |
| **چشم، گوش و گلو، جلدی** | | | | |
| 137 | د پوستکي ناروغی | پوهندوی دوکتوراسدالله شینواری | ننگرهار | II |
| 138 | د سترگو ناروغی | پوهنمل داکترخالد یار | ننگرهار | II |
| 139 | دغوږ، ستونی او پزی ناروغی | داکترعزیز الله فقیر | کندهار | II |
| 140 | دغوږ، ستونی او پزی ناروغی | پوهنمل دوکتورمیرمحمد اسحاق خاورین | ننگرهار | II |

**مرسته کوونکي:** دی آه دی، د افغان ماشومانو لپاره دجرمنی کمیټه، ماینزپوهنتون او افغانیک

**ډاونلود:** www.ecampus-afghanistan.org

**تطبیق کوونکی:** ډاکټر یحیی وردګ لوړو زده کړو وزارت، څلورمه کارته، کابل افغانستان، ۲۰۱۴

دفتر:075601640, ایمیل: textbooks@afghanic.org, www.mohe.gov.af, kabul, June, 2014






## درسونه Lessons learned

- دا پروژه د ستونزو د ارزيابي او د حل لارو په اساس پيل شوه او په افغانستان کې يې پراختيا موندده
- افغانانو زيات پکښي سهم درلود (ليکل، اپډېټ، ټايپ کول او تياورل)
- د افغانانو ملکيت Afghan ownership
- کم لګښت، د هر کتاب لګښت له ۳ ايرو څخه کم
- له خپل ځان سره مرسته کولو پرنسيب "Help your self"
- چټک تطبيق Quick implementation
- ښکاره يا واضح Visible
- سره له دې دوامدار Sustainable

## د ۲۰۱٦ لپاره پلان

✓ ۲۰ طبي درسي کتابونه به د Kinderhilfe-Afghanistan په مالي مرسته چاپ شي.

? ۲۰ درسي کتابونه (طب، انجنيري، زراعت،اقتصاد او ساينس) چاپ ته آماده دي.

? ټول ۲۰۰طبي درسي کتابونه په ۲ ډي وي ډي ګانو ۱۰،۰۰۰ کاپي، او هر افغان محصل ته وېشل

? د ۵۰ طبي کتابونو چاپول

? د ۵۰ غير طبي کتابونو چاپول

## راتلونکې Vision & Future

- د چپټرونو او لکچر نوټونو مېتود باید پای ته ورسول شي
- د کتابونو چاپ باید نورو مضمونونو او پوهنځیو ته وغځول شي
- په هر رشته کې باید د پوهنتونونو د استادانو لخوا **نوي کتابونه ولیکل او وژباړل** شي
- هر کال باید **سل کتابونه** چاپ شي په دې توګه به پنځه سوه کتابونه په پنځه کالو کې چاپ شي
- په هر درسی صنف کې باید پروجکتور نصب شی!

## سپارښتنې

Afghan
National Textbook
Program
ANT

- **د لوړو زده کړو وزارت ته**
- د "**تدریسي کتابونو ملي پروګرام**" پیلول
- د دغه پروګرام اعلانول د لوړ لومړیتوب په حیث Top Priority
- د ورکشاپونو او سمینارونو پر ځای، د کتابونو په چاپ پیسی لګول USAID & World Bank
- استادان باید وهڅول شي، تر څو د خپلو مسلکونو په اړه کتابونه وژباړي، ولیکي او چاپ یې کړي

**استادانو ته**

- دوی باید په خپلو کتابونو بیاکتنه وکړي او موږ ته یې را ولیږي
- دوی باید نوي درسي کتابونه ولیکي، وژباړي او د چاپ لپاره یې تیار کړي

**د آلمان د بهرنیو چارو وزارت، DAAD او Kinderhilfe-Afghanistan ته**

- د دغه پروژې د ملاتړ دوام
- نورو مضمونونو ته غځول



منته له ...
Federal Foreign Office
DAAD
KinderhilfeAfghanistan
کمیته آلمان برای اطفال افغان
د آلمان مرستي موسسه د افغان ماشومانو لپاره
German Aid for Afghan Children
giz
D.A.M.F. e.V.
Centrum für internationale Migration und Entwicklung
eine Arbeitsgemeinschaft aus giz und
وزارت تحصیلات عالی
د لوړو زده کړو وزارت
Ministry of Higher Education
DAUG
Deutsch-Afghanische Universitäts-Gesellschaft e.V.
افغانیک
Afghanic
BALKH UNIVERSITY 1988
Al BERONI UNIVERSITY
NANGARHAR UNIVERSITY
HERAT UNIVERSITY
Consulate General of the Federal Republic of Germany Mazar-e Sharif
UNIVERSITAS CABULENSIS
Kabul Medical University
KANDAHAR UNIVERSITY
Afghanistan-Schulen




له پاملرنې مو منته
Stop Talking, Start Doing
لږ خبرې، ډېر کار
اړیکه
د لوړو زده کړو وزارت
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو سلاکار
څلورمه کارته، کابل، افغانستان
دفتر ۰۷۵٦۰۱۴٦۴۰، موبایل: ۰۷۰٦۳۲۰۸۴۴
ایمیل wardak@afghanic.de
ویبپاڼه www.mohe.gov.af
Ministry of Higher Education
Centre for International Migration and Development
a joint operation of GIZ and the German Federal Employment Agency

## درېیمه برخه

# درسي کتابونه د رسنیو په هینداره کې

# د افغاني پوهنتونونو درسي توکي زاړه دي، نوښت غواړي

*مصطفی سالک/کابل*

*http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2011/01/110115_hh-afg-univ-syllabu.shtml?print=1*




د کابل پوهنتون مشر، پوهاند حمیدالله امین دا خبره مني، چې د افغانستان د پوهنتونونو نصاب ډېر زوړ دی، خو وایي نوې طرحه به دغو ټولو ستونزو ته ځواب ووایي

د افغانستان د لوړو زده کړو چارو وزارت دا سې هڅې یې پیل کړې، چې په وینا یې موخه یې په دغه هېواد کې د لوړو زده کړو معیاري کول دي.

د نصاب نوي کول او په بهر کې ښوونکو ته د لا نورې زده کړې زمینه برابرول له همدغو هڅو څخه بلل کېږي.

چارواکي وایي چې د لوړو زده کړو د جوړښت معیاري کول او نوي کول به تر دربیو کلونو ډېر وخت ونیسي.

په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په نیمه عالي موسساتو کې د ښوونیز نصاب زوړوالی او د ښوونیزو توکیو لږوالی د لوړو زده کړو د معیاري کولو په برخه کې تر ټولو ستره ستونزه بلل کېږي.

د کابل پوهنتون یو تن زده کوونکی احمد شعیب وایي، ښوونکي

ورته د لسګونو کلونو زاړه ښوونيز درسونه تدريسوي.
اوس د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ټولو پوهنتونونو او د لوړو زده کړو د نيمه عالي مؤسسو مشران کابل ته راغوښتي، چې ورسره د شته ستونزو او د لوړو زده کړو د معياري کولو په اړه خبرې وکړي.
د افغانستان د لوړو زده کړو وزير سرور دانش وايي، چې په دې برخه کې يې يوه طرحه جوړه کړې ده چې په اړه به يې د لوړو زده کړو له استادانو سره مشوره وشي او بيا به پلې شي:
«ډېر پام به د لوړ زده کړو کيفيت او هغو پروژو ته وي، چې پر دې اړه يې لرو، زموږ د دوه درې ورځو خبرې به د کيفيت پر لوړولو راغونډې وي، موږ به د لوړو زده کړو له ټولو ۲۵ موسسو سره همغږي پيدا کوو، سلا او مشوره به ترې اخلو او له هغو کسانو سره به همغږي پيدا کوو، چې دا پروژې پلي کوي چې د پلان له مخه په ۹۰ يم کال کې دا پروژې پلې شي.»



د کابل پوهنتون يو تن زده کوونکی احمد شعيب وايي، ښوونکي ورته د لسګونو کلونو زاړه ښوونيز درسونه تدريسوي.

د لوړو زده کړو د ښوونيز نصاب نوي کول هم د دغې طرحې يوه برخه ده.
د کابل پوهنتون مشر، پوهاند حميدالله امين دا خبره مني، چې د افغانستان د پوهنتونونو نصاب ډېر زوړ دی، خو وايي نوې طرحه به دغو

ټولو ستونزو ته ځواب ووايي:

«زمونږ کريکولمونه زاړه دي، چې بايد د مهال او ۲۱ پېړۍ د غوښتنو په رڼا کې نوي شي. همدا راز کتابتونونه بايد کمپيوټري شي، نو کمپيوټرونه بايد ډېر شي، مونږ بايد له هغو آسانتياوو او ښوونيزو توکيو نه ګټه واخلو، چې په يوويشتمه پېړۍ کې په ټوله نړۍ کې دود دي. مونږ لابراتوارونه، سم کتابتونونه او ښوونيز توکي نه لرو، د کتاب د چاپ آسانتيا هم نه لرو، دا ټول بايد له يوه مخه سم کړل شي.»

د ورځې له دود سره برابرې ښوونيزې لارې غوره کول او د علمي سويې د پورته کولو په موخه بهرنيو هېوادونو ته د لوړو زده کړو ښوونکي استول هم د يادې شوې طرحې برخې بلل کېږي.

ټاکل شوې ده، چې دغه طرحه په راروان لمريز کال کې پلې شي، چې مالي لګښت يې نړيوال بانک پرغاړه اخستی دی.

چارواکي هيله من دي، چې دا به د لوړو زده کړو د معياري کولو په لوري يو ګټور ګام وي، خو وايي د ټولو ستونزو هواري ډېرو کلونو او ميلونونو ډالرو ته اړتيا لري.

## لږ خبرې، ډېر کار

*زبېر ګل وردک*

# په درسي کتابونو سره د طب پوهنځيو د سمبالولو هڅې دوام لري

*شنبه، ۲۸ اپریل ۲۰۱۲*
*افغانستان ټايمز، ۳ مخ*

کابل: د لوړو زده کړو وزارت له خوا د افغانستان د مختلفو پوهنتونونو له استادانو سره په ګډو فعاليتونو او د المان د علمي همکاريو د مرکز (DAAD) په مالي مرسته هڅې دوام لري، چې د هېواد د ټولو طب پوهنځيو د محصلينو لپاره درسي کتابونه چمتو کړي.
د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر يحيى وردک وايي، چې د درسي کتابونو کمښت، د ليدلو وړ درسي موادو پرته زاړه لکچرونه، د عصري سيمينارخونو او لابراتوارونو کمښت په افغانستان کې د محصلينو لپاره لويې ننګونې دي.
له همدې کبله د لوړو زده کړو وزارت د استادانو په همکارۍ او د DAAD په مالي ملاتړ سره د طب پوهنځيو لپاره د درسي کتابونو چاپولو ته زمينه برابره کړه او په ټول هېواد کې له پورته يادو ننګونو سره مبارزه کوي.
نوموړي څرګنده کړه، چې د لکچر نوټونو له بډاى کولو او بيا کتنې وروسته به دغه پروژه د المان د علمي همکاريو مرکز (DAAD) ته د دوى د مالي مرستو لپاره وړاندې شي.
ده همدا رنګه زياته کړه، چې هر کتاب به په کافي اندازه چاپ او ټولو پوهنتونونو او محصلينو ته به په وړيا توګه وکړل شي.
د دغه معياري کتابونو چاپول د علمي ظرفيت د پراختيا او په ټول هېواد کې د پوهنځيو او محصلينو د پرمختګ لپاره په لاره اچول شوي دي.

نوموړې په ټينګار سره وايي، چې د درسي کتابونو چاپ به يوازې تر طبي پوهنځيو پورې محدود نه وي، بلکې په نږدې راتلونکي کې به د لوړو زده کړو وزارت له خوا نورو پوهنځيو ته هم وغځول شي.
ده زياته کړه چې له هر کتاب سره يوه سي ډي مله ده او همدا رنګه هر کتاب په PDF شکل سره په www.ecampus-afghanistan.org ويب پاڼه باندې هم د لاسرسي وړ دی، نو هر محصل کولای شي په آسانۍ سره د کتابونو مجموعې ته لاسرسی ولري.
ډاکټر يحيی وردک څرګندوي، چې دغه نوښت له ۲۰۰۹ زکال راپيل شوی، له کله نه چې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي پنځه استادان د طبي کتابونو د ليکلو په حال کې وو او د هغوی د چاپ لپاره يې له DAAD څخه مالي مرسته تر لاسه کړه، دوام لري.
دغه پروژې د ټول افغانستان له پوهنتونونو څخه مثبت نظرونه تر لاسه کړل او همدا راز نورو پوهنتونونو هم د دوی د درسي موادو د چاپ غوښتنه وکړه.
دی څرګندوي، چې په ۲۰۱۰ زکال کې ۲۰ نور درسي کتابونه د ځلورو مختلفو پوهنتونونو (بلخ، کندهار، خوست او ننګرهار) د استادانو له خوا وليکل شول.
تر اوسه تقريباً ۲۰ بېلابېل طبي کتابونه چاپ شوي او محصلينو ته ورکړل شوي دي.
دا کتابونه د کابل، ننګرهار، خوست، هرات، بلخ، کندهار، پکتيا او کاپيسا په طب پوهنځيو کې وېشل شوي دي.
د ۲۰۱۲ زکال د اپريل په ۴مه نېټه، د لوړو زده کړو وزير ډاکټر عبيد الله عبيد او د ماليې وزير ډاکټر عمر زاخېلوال له ننګرهار پوهنتون څخه ليدنه وکړه.
محصلينو ته د کتابونو د وېشلو پر مهال، مالي او اداري معين پوهاند خيشکی، د انتشاراتو رييس ښاغلی نوربخش، د پلان او پاليسۍ رييس محمد مهرور او د ننګرهار پوهنتون رييس ډاکټر محمد صابر هم موجود وو.

د همدې میاشتې په ۱۱مه نېټه د افغان ماشومانو لپاره د الман د مرستو مشر، چې د ۱۳ بېلابېلو طبي کتابونو مالي لګښت يې پر غاړه اخيستی و، د ننګرهار له طب پوهنځي څخه ليدنه وکړه.
نوموړي له استادانو او محصلينو سره وکتل او محصلينو ته يې کتابونه وويشل.
ده له افغانستان ټايمز سره په يوه مرکه کې وويل، چې او سمهال د طب او نورو پوهنځيو (انجينري، ساينس، ټولنيز علومو، لرغونپوهنې، او طبيعي علومو) لپاره له ۴۵ څخه زياتو نورو درسي کتابونو د ليکلو چارې د مختلفو پوهنتونونو د استادانو له خوا دوام لري، چې ډېر ژر به ترسره شي.
ډاکټر وردګ په ټينګار سره وايي «د کتابونو د چاپولو او د هغوی لپاره د بوديجې د پيدا کولو لپاره موږ د نورو لارو چارو په لټه کې يو.»
د دا ډول پروژو او د معياري کتابونو چاپول، د لوړو زده کړو او پوهنتونونو د پرمختګ په لور يو ګام دی، چې تقريباً د طبي پوهنځيو ۲۰۰۰ محصلين به ورڅخه ګټه واخلي. دا به د دوی په ښه روزنه او په راتلونکي کې د ناروغانو په ښه درملنه کې مرسته وکړي.
نوموړي په پای کې وويل، چې له ټولو استادانو څخه هيله لرم چې په خپلو رشتو کې نوي کتابونه وليکي، د چاپ لپاره يې زموږ په واک کې راکړي، چې د ټولو پوهنځيو محصلينو ته ورسوو.
همدارنګه له استادانو نه غوښتنه کوو، چې د نويو کتابونو د ليکلو ترڅنګ نور کتابونه وژباړي او پر خپلو پخوانيو کتابونو، لکچرنوټونو او چپټرونو بيا کتنه وکړي، د چاپ لپاره يې چمتو کړي او تر موږ يې را ورسوي، موږ دوی ته د با کيفيته ترتيب او چاپ ډاډ ورکوو.

❖

# د ننګرهار طب پوهنځي
# ته درسي کتابونه ورکړل شول

*ننګرهار ملي تلویزیون*
*جنوري، ۲۰۱۳*

د افغان ماشومانو لپاره د المان د مرستندویه ټولنې په مالي مرسته د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د یو شمېر استادانو بېلابېل طبي کتابونه چاپ او د چهارشنبې په ورځ د ۲۰۱۳ کال د جنوري میاشتې په نهمه نېټه دغه پوهنځي ته دګټې اخستنې لپاره ورکړل شول.

**رپوټ**:

د افغان ماشومانو لپاره د المان هېواد د مرستو ټولنې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د یو شمېر استادانو اوه عنوانه بېلابېل طبي کتابونه د چاپ په ګانه سمبال او چهارشنبه یې د ننګرهار پوهنتون په طب پوهنځي کې د یوې غونډې په ترڅ کې په وړیا ډول د دغه پوهنځي په واک کې ورکړل.

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردګ په وینا ، دغه کتابونه په ټولیزه توګه اوه زره ټوکه دي، چې ترڅنګ یې په اوه زره سي ډي ګانو کې د کتابونو لیکنۍ برخه هم له کتاب سره یو ځای ورکړل شوه.

ننګرهار طب پوهنځي ته د دغه کتابونو د ورکړې په غونډه کې، چې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي مسؤولینو او استادانو برخه لرله د ننګرهار ولایت مرستیال محمد حنیف ګردیوال، د دغه

کتابونو په چاپ خوښي وښوده او زياته يې کړه، چې په دې سره به د محصلينو په علمي سويه کې مثبت بدلون راشي.
د ننګرهار پوهنتون رييس ډاکټر محمد صابر مومند وويل: په دغه کتابونو سره به يې د محصلينو هغه ستونزه، چې د کتابونو او درسي موادو د کمښت په برخه کې يې لرله تر يوه حده حل شي.
ده د افغان ماشومانو لپاره د المان د مرستو ټولنې له دغه ستري مرستې مننه وکړه او په راتلونکي کې يې ترې د دوام هيله وکړه.
د افغان ماشومانو لپاره د المان د مرستو ټولنې مشر، ډاکټر ايروس وويل: دوی په دې هڅه کې دي چې افغان محصلينو ته درسي مواد برابر کړي، چې په همدې ترخ کې يې تر دې دمه شل بېلابېل طبي کتابونه، چې د ننګرهار د طب پوهنځي استادانو لخوا ليکل شوي دي، چاپ کړي او د دغه اوه عنوانه کتابونو په شمول يې ننګرهار طب پوهنځي ته په واک کې ورکړي.
د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر يحيی وردګ په وينا ، په دغه اوه کتابونو کې د قندونو هضم، د پوستکي ناروغۍ، د هاضمې جهاز ناروغۍ، د کوچنيانو ناروغۍ، غوږ، پزې او ستوني او د ويټامينونو د کموالي ناروغيو کتابونه شامل دي، چې د ننګرهار د طب پوهنځي استادانو ډاکټر يحيی فهيم، ډاکټر مير محمد اسحاق خاورين، مرحوم ډاکټر اسدالله شينواري، پوهاند ظفرزي، ډاکټر ايمل شېرزي او ډاکټر عبدالستار نيازي ليکلي دي.
د نوموړي په وينا ، دغه کتابونه هر يو يې زر زر ټوکه چاپ شوي او په ننګرهار طب پوهنځي برسېره به يې د هېواد نورو دولتي طب پوهنځيو ته واستوي، چې محصلين ترې ګټه واخلي. ده وويل: دغه کتابونه به د لوړو زده کړو د کيفيت په لوړوالي کې ګټور تمام شي.

# د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت نن د هېواد د پوهنتونونو نوی درسي نصاب اعلان کړ

*مشال راډیو*
*26.03.2013 نېټه*
*http://www.mashaalradio.org/content/news/24939265.html*

د لوړو زده کړو وزیر عبید الله عبید ، نن په یوه خبري غونډه کې ویل چې دغه نصاب د بهرنیو هېوادونو له درسي معیارونو سره برابر دی.
نوموړي زیاته کړه چې د ټولو پوهنتونونو او پوهنځیو پر درسي نصاب له سره کتنه شوې او نوی نصاب جوړ شوی او پر همدې اساس غواړي، چې درسي پروګرامونه پرمخ بوځي.
او سمهال د اکثرو پوهنتونونو زده کوونکي شکایت کوي، چې د درسي نصاب مواد یې زاړه دي.




د ننگرهار طب پوهنځي کې دغه دیرش کلن زاړه چپترونه تدریس کیدل، چې بیا قدرمنو استاذانو آپدیت، ورڅخه کتابونه جوړاو موږ چاپ او تقسیم کړل.

# يو شمېر زړه سواندي افغانان د خپل هېواد له روغتيايي سيستم سره مرسته کوي

*له هېواد ورځپاڼې څخه*
*حيات‌الله حليم، د ۱۳۹۱ل د وري ۱۴ مه د ۲۰۱۳/۴/۳*

د افغانستان اقتصاد دمګړۍ په ټولو نظامي، فرهنګي او سياسي برخو کې د نړيوالو په مرستو ولاړ دی، خو دغه مرستې په پورتنيو ټولو برخو کې د زمانې په تېرېدو سره د فساد قرباني شوې. ماهرو کړيو ددې مرستو بهير د ځان په لوري کړ او بيا يې په مليونونو ډالره له ملکه وايستل او په بهرنيو ملکونو کې يې پرې پانګونې وکړې. څه موده د مخه پخپله جمهور رييس هم دغه ټکي ته په اشارې سره پر دغو کسانو غږ وکړ، چې پيسې د باندې مه وړئ او هيله يې ترې وکړه چې پخپل هېواد کې سرمايه ګزاري وکړي او دا ګټه پخپلو هېوادوالو ولوروي، خو که دغو سپين سترګو کسانو د هيڅا خبره و نه منله او په ډېره بېرحمۍ يې پيسې له ملکه يوړې دا د هغوی خپل کار دی.
خو په مقابل کې يې داسې زړه سواندي هېوادوال هم لرو، چې د پورتنيو بېرحمو کسانو پر خلاف يې د نړيوالو مرستې پخپل لاس ملک ته راوړي او پرته له دې، چې راوړل شوې مرستې ددغه راز هوس بازانو د هوسونو قرباني شي، پخپل لاس يې د خپلو هېوادوالو په درد دوا کوي چې يو هم له دغو زړه سواندو هېوادوالو نه ډاکټر محمد يحيی وردګ دی، چې د هېواد طبي خدماتو ته يې له بهر نه داسې پروګرام راوړی چې په دغه پروګرام کې په نړيوالو معيارونو برابر د عصري او پرمختلليو وسايلو په ذريعه تدريسي نوی مېتود پر مخ وړل کېږي.
ډاکټر يحيی وردګ، دمګړۍ د لوړو زده کړو په وزارت کې د هېواد د شپږو پوهنتونونو (کابل، ننګرهار، هرات، کندهار، بلخ، خوست) د طب پوهنځيو د

استادانو علمي او څېړنيز اثار د طب د محصلينو د پوهې د کچې د لوړولو لپاره په دري او پښتو ژبو چاپوي، چې يوازې د ۲۰۱۰ کال نه تر ۲۰۱۱ کال پورې يې د نوموړو پوهنتونونو لپاره په بېلا بېلو رشتو کې شپېته ډول کتابونه، چې هر يو يې زرهاوو ټوکو ته رسېده چاپ کړي او د يادو پوهنتونونو په واک کې يې ورکړي دي. تر دې د مخه د افغانستان د طب د پوهنځيو محصلين او استادان له ډېرو ستونزو سره مخ وو؛ ځکه چې پخواني مواد په زړه طريقه او بې کيفيته کاغذ چاپ او په ورته مېتود تدريس کېدل. د درسي کتابونو د چاپ ترڅنګ، چې د دغه پروګرام يوه پروژه ده؛ بلکې لکه د مخه چې وويل شول په نوي مېتود او عصري او پرمختلليو وسايلو په کارولو سره د تدريس د چارو مخته وړل او همدارنګه په هېواد کې د طبي تدريس د اوسني وضعيت او کيفيت شننه او د اړتياوو ارزونه، په هر طبي پوهنځي کې کتابتون او کادري روغتونونه، چې پر هغو بايد محصلين په علمي ډول ټرينينګ شي او د ستراتيژيک پلان برخه شامله ده. د کتابونو مالي لګښت د يوې داسې موسسې لخوا ورکول کېږي، چې د ډاکټر يحيى وردګ لخوا دې کار ته هڅول شوې او افغانستان ته راوستل شوې ده.

که ډاکټر يحيى وردګ او دده نه ستړې کېدونکې هڅې نه واى، نو زموږ هېواد به په طبي ډګر کې له داسې سترې شتمنۍ، چې د طبي کتابونو چاپ او د نورو لازمو اسانتياوو شتون دى، بې برخې واى. پخپله ډاکټر محمد يحيى وردګ وايي: له ۲۰۰۹ او ۲۰۱۲ کلونو تر منځ مې د ننګرهار او مزار شريف د طب له پوهنځيو ليدنه وکړه او دا مې احساس کړه، چې نوموړي پوهنځي ډېرې ستونزې لري. ددغو پوهنځيو استادان د ليدنې پر مهال د خپلو پوهنځيو لپاره د اکاډميکو او رغنيزو مرستو غوښتونکي شول او د ليدنې په ترڅ کې دا هم وليدل شول، چې استادان د تدريس چارې په زاړه او وروسته پاتې سيستم پر مخ بيايي او د ليکچر له مېتود نه ګټه اخلي.

ددې ستونزې د اوارولو لپاره موږ د تېرو دوو کلونو په ترڅ کې د طب پوهنځيو لپاره د کتابونو چاپولو او د نور عصري سيستم هلې ځلې پيل کړي.

# مشکلات کتب درسی محصلین پوهنتون های افغانستان

له المان غږ راډیو سره د ډاکتر یحیی وردک مرکه، بن ښار، سپتمبر ۲۰۱۳
http://dw.de/p/19eHD




در برنامه امروز، گزارش های از ولایات هرات و خوست در مورد مشکلات محصلین در افغانستان در زمینه دسترسی به کتب و مواد درسی داریم و در همین رابطه با آقای داکتر یحیی وردک مشاور و متخصص اداری وزارت تحصیلات عالی افغانستان و رییس موسسهٔ افغانیک را در استدیو با خود داریم و به سوالات شما شنوندگان عزیز در همین رابطه پاسخ خواهند گفت:

*- سلام خدمت شما آقای وردک و خوش آمدید.*

-وعلیکم السلام، من هم سلام های خود را از بن به شنوندگان عزیز در افغانستان و در هر جای دنیا که هستند میگویم.

*- وردک صاحب زموږ خپرونې ته ښه راغلاست.*

- مننه.

***پوښتنه:** وردک صاحب که په لومړي سرکې دا راته ووایاست، چې تاسې د درسي موادو او کتابونو په برخه کې د محصلینو دغه ډول مشکلات څه ډول*

*ارزيابي کوئ؟*

ځواب: درې کاله مخکې، کله چې زه د افغانستان ځينو پوهنتونونو ته تللی وم، هلته ما محصلين وليدل، چې شل د برش کلن پخواني لکچر نوټونه او چپټرونه په خپل لاس ليکل شوي درسي مواد په خپله فوتوکاپي کوي او له هغو څخه منحيث درسي موادو استفاده کوي. دغه حالت زه ډېر خپه کړم، حتی ما وژړل، نو بيا ما تصميم ونيو، چې زه به د درسي موادو په برخه کې کار کوم او له هغې راهيسې زه د افغانستان د لوړو زده کړو په وزارت کې کار کوم او تر اوسه پورې مو ۱۱۲ طبي درسي کتابونه چاپ کړي دي او د افغانستان ټولو طبي پوهنځيو ته مو ورسول.

***سوال: بلی آقای وردک، شما گفتيد که کتاب های چاپ شده، آيا اين کتابها تاليف و يا ترجمه شده و به چه تعداد بوده، اگر درين رابطه روشنی بياندازيد؟***

ځواب: بلی، کتابهای که ما تا حال چاپ کرديم هم تاليف است و هم ترجمه، اکثريت اين کتابها در حدود ٪۹۰ از طرف استادان پوهنتون های مختلف افغانستان مثلاً ننگرهار، خوست، کابل، هرات و بلخ تاليف شده اند، که اين استادان بيست الی سی سال تجربۀ کاری دارند. اينها در طول همين کار خود کتابها و مواد درسی را جمع اوری نموده و تاليف کرده و بعدا برای ما ميسپارند و ما اينها را در چاپخانه های کابل برده و چاپ ميکنيم. و بعد از آن به تمام پوهنتونهای افغانستان که اکثريت پوهنځی طب دارند روان ميکنيم. تيراژ اين کتابها هزار الی دو هزار جلد ميباشد و هر کتاب دارای يک سی دی بوده، که تمام محتوای کتاب بالای سی دی بوده و تمام کتابها را از يک صفحۀ انترنيتی که بنام www.ecampus-afghanistan.org ميشود که در تمام افغانستان و در تمام دنيا داونلود شود.

- ګرانو اوربدونکو څو مياشتې مخکې د لوړو زده کړو وزارت اعلان وکړ، چې د هېواد ټولو پوهنتونونو ته يې يو نوی نصاب برابر کړی دی او د کال په پيل لومړي سمستر کې به يې تدريس کړي.

په دغه نصاب کې د طب پوهنځي لپاره هم ځينې کتابونه شامل و، چې له نورو نړيوالو ژبو څخه ورته ژباړل شوي، خو د هېواد په سويل ختيځ کې د خوست شيخ زايد پوهنتون د طب پوهنځي محصلين اوس هم د يو شمېر مسلکي کتابونو په برخه کې ستونزې لري، دا چې دا څه ډول ستونزې دي، د فريد الله ظاهر په رپوټ کې به ورته غوږ شو.

- د دغه پوهنځي يو شمېر محصلينو المان غږ راډيو ته وويل، چې پوهنځي ته يې يو تعداد کتابونه له کابله را رسېدلي، خو دوی ته له څو پرته نور نه دي ورکړل شوي او په کتابتون کې ساتل کېږي، دغه محصلين وايي، لا هم د طب پوهنځي د مسلکي کتابونو له کمبود سره مخ دي او اړ دي، چې يا له چپټرو استفاده وکړي او يا هم د بنار له شخصي کتابپلورنځيو په پيسو کتابونه را ونيسي.

محصل- محمد اسلام د شيخ زايد پوهنتون د طب پوهنځي د دويم کال محصل يم.

محصلين د کتابونو په برخه کې له يو شمېر ستونزو سره مخ دي، د مثال په ډول له مايکرو بيولوژي څخه بايد شروع کړم، دلته په کتابخانه کې دا سې يو کتاب نشته، چې هغه له مايکرو بيولوژي څخه نمايندګي وکړي، چې محصلين ورڅخه استفاده وکړي، نو هغه کتابونه چې دي کنه، استاد چپټر راکوي، همدغه چپټر چې دی، موږ همغه وايو. د فزيولوژي په برخه کې هم، د کابل پوهنتون استاد يو کتاب ليکلی دی، دلته په کتابخانه کې هغه نشته، موږ له بازار څخه په پيسو رانيولی دی.

- د شيخ زايد پوهنتون د طب پوهنځي د دريم صنف يو شمېر محصلين بيا شکايت کوي، کوم کتابونه چې د اړوند وزارت له لوري ور ته رالېږل شوي دي، استادانو د هغه د تدريس پرځای چپټر جوړ کړی دی، چې له کتابونو يوازې د ازادې مطالعې په توګه ګټه اخلي او د کتاب موضوع د استادانو له تدريس سره ډېر توپير لري.

- کوم استاد چې موږ ته درس وايي هغه او دغه کتاب دا سمون نه خوري، يعنې دا چې استاد موږ ته هيڅ کتاب نه وايي، هغه په خپله کتاب جوړ کړی، لس کلن چپټر يا پنځه کلن چپټر ټولو مضامينو کې هم دا سې دی.
په يو مضمون کې نه، دوه کې نه دی، همغه پخواني چپټر چې استادانو کوم ليکلی دی، هغه چپټر تدريس کېږي، هو بلکل دا کوم چې وزارت وايي، چې موږ کتابونه را استولي دي او دا کتابونه له همغه درس سره هېڅ سمون نه خوري.
- د خوست د طب محصلين په عين حال کې له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې په ځينو برخو کې انګليسي کتابونه هم ورته را ولېږي؛ ځکه په وينا يې هغه علمي موضوعات، چې په يادو کتابونو کې شته، په پښتو او دري کتابونو کې نه شي موندلی، خو په ورته وخت کې د طب پوهنځي رييس جهان شاه تنې له دې امله له المان غږ راډيو سره له خبرو کولو ډډه وکړه، چې په وينا يې وزارت ته يې په بيا ، بيا د کتابونو او د پوهنځي د اړوندو ستونزو رسمي مکتوبونه لېږلي دي، خو تر اوسه هيڅ غور پرې نه دی شوی، په همدې حال موږ وغوښتل، چې د يادو ستونزو په اړه د خوست د شيخ زايد پوهنتون له رييس پوهندوی محمد رسول باوري سره خبرې وکړو ، خو هغې ته په رسپشن کې نږدې يو ساعت انتظار شو ، خو د مرکې لپاره يې وخت رانکړو.
شيخ زايد پوهنتون ۱۵ پوهنځي لري او کابو ۷۵۰۰ محصلين په کې زده کړه کوي، چې دا د هېواد د ښېلو ښېلو سيمو ځوانان دي او نږدې ۹۰ تنه انجونې هم د ياد پوهنتون په ښېلو ښېلو پوهنځيو کې په زده کړو بوختې دي.
***پوښتنه: بلې، وردک صاحب د خوست رپوټ مو واوريدی، تاسې په دې هکله څه وايا ست؟***
ځواب: لومړی خو دا بايد ووايم، چې د مايکرو بيولوژي مضمون، چې موږ دري کتابونه د پوهاند دوکتور عبيد الله عبيد ، چې اوس برحاله زموږ د وزارت وزير دی، چاپ شوي دي، په ۲۰۰۰ ټوکو کې او دا مو ټولو پوهنتونونو

تـه لېږلـي دي، چـې پرازيتولـوژي ده، مـايکروبيولوژي عمـومي او مـايکرو بيولوژي خصوصي ده. همدا شان عمومي مايکرو بيولـوژي د شاخص چاپ کړې ده، بله مايکرو بيولوژي د پوهاند محمد جمعه حنيف چاپ کړې ده، اساسات پرازيتولوژي د يوسف مبارک او پرازيتولوژي د ډاکټر صابر، چې په يو مضمون کې موږ دومره کتابونه چاپ کړي دي او دا مو تقسيم کړي دي.
دا چې پـه افغانستان کې ۲ تر ۷ زره د طب محصلين موږ لرو، نو متأسفانه نشو کولای، چې هر محصل ته يو کتاب ورکړو. دا داسې کېږي، چې موږ زياتره کتابونه، کتابخانو ته ورکوو، بيا محصل بايد د سمستر پـه پيل کې کتـاب، د کتابخـانې نـه واخلـي، بيـا امتحـان يـې چـې ورکـړ، کتـاب بېرتـه کتابخانې ته ورکړي، دا يوه مسئله.
دويمه مسئله دا ده، ښه ده چې دوی خپله تصديق وکړ، چې کتابونه رسېدلي دي، خو دا چې د دوی استادان د دغه کتابونو پر عوض پخواني چپټرنو ته ونه استفاده کـوي دا بايـد دوی خپلـه اداري تـه ووايـي او همدغـه استادان او مسـوولين يـې، يعنـې ريـيس د پـوهنځي او ريـيس د پوهنتـون بايـد دغـه استادان دېتـه وهڅوي، چې د نويـو درسي مـوادو او ستندرد موادو څخه استفاده وکړي.
*- بلی آقای وردک، یکی از شنوندگان از ولایت بلخ در همین رابطه سوال را مطرح کرده اند:*
- بسم الله الرحمن الرحیم، یکی از محصلین پوهنتون بلخ هستم، مـن از مهمان برنامه سوال دارم که آیا منابع درسی ای که از خارج بـه زبان هـای ملی ما ترجمه میکنند، آیا وزارت تحصیلات عالی بالای اینها نظارت دارند ویا خیر؟
ځواب- بلی، من برای شما باید عرض بدارم، کـه تنهـا یـک قسمت کمی از ایـن کتابها ترجمه شده، مثلاً یک کتاب است کـه راهنمـای اساسی انستیزی بـرای کشور های رو به انکشاف، این کتاب را طوری چاپ کرده ایم کـه یکطرف ان

انگلیسی است و همان تکست اصلی اوریجنل ان طرف دست چپ ان دری است. اکثریت کتابهای را که ما چاپ کردیم و به دسترس شاگردان افغانستان قرار دادیم، انها نوشته وتالیف همین استادان پوهنځی طب افغانستان هستند. هر کتاب تصدیق میشود از طرف آمر دیپارتمنت مربوط، رییس پوهنځی مربوط و رئیس پوهنتون مربوط، آنها تصدیق میکنند، که این کتاب درست نوشته شده است و این کتاب قابل استفادهٔ محصلین است و به درد محصل میخورد، بعد از آن ما اقدام به چاپ و توزیع آن میکنیم.

***-بلې، تشکر ډاکټر صاحب، تاسې د کتابونو ژباړې ته اشاره وکړه، خو بیا هم ځینې محصلین د ژباړې په برخه کې ځینې مشکلات لري، لکه دغه خو رچې موږ ته وایي:***

-زه له ډاکټر صاحب نه دا پوښتنه کوم، چې دا کتابونه چې دوی ترجمه کړي دي، له دېنه محصلین په پوره توګه استفاده نه شي کولی، یعنې مطلب مې داسې دی، چې له یو دوه دري جملې ویلو نه وروسته داسې یوه نقطه پکې راځي، چې محصل پکې بند پاتې کېږي، بیا مجبور دی، چې هغوی انګلیسي تکست بوکونو ته مراجعه وکړي، خپل مشکل له هغې نه او یا د انټرنیټ له لارې موضوع ګوګل کې واچوي او هغه ځای نه سرچ وکړي او موضوع ځانته پیدا کړي، په دې اړه ډاکټر صاحب څه نظر لري؟

ځواب: د دوی دغه تشویش د هغه کتابونو په هکله پرځای دی، چې یا په خارج کې یا په داخل د افغانستان کې یو په یو د خارجي منابعو نه ترجمانان یې ترجمه کوي، چې هغه د مسلکي ترمینالوژي باندې نه پوهېږي، په داسې مواردو کې دغه مشکل شته دی، چې دا باید حل شي، زموږ کتابونه دغه مشکل نه لري، زموږ حتی دري کتابونه مکمل په انګلیسي ژبه کې دی او یو کتاب مو داسې دی، چې یوې خواته یې هغه اصلي متن په انګلیسي دی او بلې خواته یې دري متن دی، چې په دې کې دغه مشکل نشته.

***-بلی آقای وردک، شماری از محصلین پوهنتون هرات مگویند، تا اکنون***

***هیچ نوع کتابی به زبان های دری و پشتو از طرف وزارت تحصیلات عالی در دسترس آنها قرار نگرفته است. در همین رابطه همکار ما هوشنگ هاشمی از ولایت هرات گزارشی دارند که باهم میشنویم:***

- شماری از محصلین در پوهنتون هرات، از عدم موجودیت کتاب های مسلکی به حد کافی شکایت دارند و میگویند که مسوولان به این مشکل توجه جدی ندارند. نظیر احمد محصل سال سوم پوهنځی انجینری پوهنتون هرات میگوید: به دری و پشتو بسیار کتاب کم است و به فارسی ایرانی است.

کتابهای که به درد بخور باشد خیلی کم است، بعضی لغت های دارند که ما به انها اشنایی نداریم و دیگر بیشتر به زبان انگلیسی است، کتاب های مسلکی خیلی است، ولی آنقدر که بتوانیم استفاده نماییم نیست و یا از هر کتابی اگر یک و یا دو دانه باشد ، مثلاً بعضی کتابهای بخش لابراتوار هستند ، شاید یک ویا دو دانه در تمام فاکولته باشد ، اما به دسترس استادان و شاگردان نیست. خیلی بچه ها است از اطراف که بیچاره ها پول ندارند و این جا که میایند ، خرچ و مصرف اطاق را حساب نموده و کتاب خریدن برای آنها مشکل میشود.

- این در حالیست که در شماری از پوهنځی های پوهنتون هرات عدم توجه به کتابخانه ها ، مشکلاتی را برای محصلین بوجود آورده است.

پرویز عازم محصل پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون هرات میگوید:

کتابهای را داخل کتابخانه گذاشته، ولی متأسفانه ما کتابداری را نداریم، کسی که مسؤول کتابخانه است ما نداریم، متاسفانه این بی توجهی ریاست پوهنتون است.

فرهاد نیکزاد محصل پوهنځی طب میگوید:

محدودیت کتابهای مسلکی بر مشکلات محصلان، چند برابر افزوده است، تعداد کتابها کمتر از چیزی است که برای تمام محصلین برسد.

شاید ده دانه تکست بوک ما از یک مضمون داشته باشیم و طبعاً برای بیشتر از ده نفر کفایت نمیکند و مجبوریم که یک کتاب از آن گرفته و آنرا کاپی نماییم و آنرا انتشار کنیم، چون به هر صنف حدوداً صد نفر و یا هشتاد محصل در یک صنف است.

- نذیر احمد سکندری، معاون پوهنتون هرات، مشکل محدودیت کتاب درین پوهنتون را رد کرده و او میگوید در سال جاری بیش از بیست هزار جلد کتاب، بیش از پنجصد عنوان درین پوهنتون جذب شده است.

- ما نمیتوانیم که کتاب را ببریم، به محصلین بدهیم، که باخود داشته باشند. اکثراً محصلین در قسمت حفظ کتاب کوشا نیستند.

کتابها از لحاظ مسایل نگهداری به مشکل مواجه اند ، اما کتابها همه به کتابخانه های اختصاصی که ما در هر پوهنځی داریم و کتابخانه عمومی پوهنتون هر وقت که خواسته باشید در آنجا کتابدارهای ما هستند که از آنها استفاده کنند.

- مسوولان پوهنتون هرات میگویند ، کشورهای مختلف، به ویژه امریکا والمان در قسمت تهیه کتاب های مسلکی در طی ده سال اخیر کمک های زیادی را نموده اند.

***- بلی آقای وردک، شما گزارش را شنیدید، آیا کدام پروگرام مبنی بر خریداری کتاب برای کتابخانه های پوهنتون داشته اید و یا در آینده دارید؟***

ځواب: اول باید بگویم که محصلین عزیز راست میگویند ، واقعاً افغانستان و پوهنتون های افغانستان اشد ضرورت به کتابهای به زبان دری و پشتو دارند ، متأسفانه اکثریت محصلین ما به زبانهای خارجی و انگلیسی نمیدانند و کتابهای انگلیسی هم وجود ندارد و یا اگر وجود دارد ، خیلی قیمت هستند ، به این خاطر باید در پهلوی پروگرام کتابهای طبی، که ما از سه سال به اینطرف بالایش کار کردیم و یک تعداد چاپ شده و در دسترس محصلین قرار دارد ، باید در تمام بخش های غیر طبی، مثلاً علوم

اجتماعی، تاریخ، ادبیات، علوم طبیعی، ساینس و در تمام رشتۀ که تدریس میشوند ، در افغانستان باید یک کتاب درسی به زبان دری و پشتو وجود داشته باشد. خوشبختانه در بخش معارف، وزارت معارف از چندین سال به اینطرف یک پروگرام وسیعی چاپ کتب درسی را از صنف اول الی صنف دوازده در تمام مضامین شروع کرده بود و در همین چند سال اخیر کتابها به تمام مکتب های افغانستان توزیع شده و حتی کتاب رهنمای معلم هم در این اواخر چاپ و به دسترس معلمین قرار دارد. همین طور باید برای تمام پوهنتون های افغانستان، یک پروگرام ملی کتاب های درسی را در تمام رشته ها داشته باشیم، مثلیکه محصلین گفتند ، نظر من همینطور است.
در کیفیت تدریس رول عمده را استاد و کتاب درسی دارد ، جاییکه کتاب درسی وجود نداشته باشد ، در آنجا محصل بیچاره نمیتواند درس را خوب یاد بگیرد و درس را که خوب یاد نگرفت، یک داکتر خوب بوجود نمیاید و داکتر خوب که نداشتیم، پس مریض های ما تداوی نمی شود و باید به خارج بروند.

***-بیا به هم د اورېدونکو پیامونو ته ورشو او وا به ورو، چې زموږ دغه اورېدونکی څه وایي:***

- بسم الله الرحمن الرحیم. زما نوم محمد خالد د ننګرهار او سېدونکی یم، له ډاکتر صاحب څخه زما پوښتنه دا ده، چې د دغو محصلینو لپاره په پوهنتونونو کې کوم کتابونه ژباړل کېږي، کنه د دې لړۍ باید ، چې د تر ډېره وغځول شي، خو موږ لپاره مهمه دا ده، چې موږ لپاره همغه مسلکي کتابونه، یعنې د طب پوهنځي لپاره، چې کوم کتابونه اړین او ضروري دي، باید هم هغه ورته وژباړل شي.
دا مهمه نه ده، چې دوی دې د جلدونو شمېر تر دوه زره او درې زره پورې رسوي، کنه یو کتاب دې وژباړي، خو په صحیح طریقه سره، چې محصلین په ښه توګه ورنه استفاده وکړي.

ځواب: زموږ دغه محصل ربښتیا وايي، باید همدغه لړۍ وغځول شي، یعنې پراختیا پیدا کړي، یعنې په هغو برخو کې چې کتابونه تراوسه ندي ترجمه شوي، نه دي چاپ شوي باید چاپ شي او دوی بله مسئله د کیفیت هم مهمه ده، باید او باید ښه کتاب وژباړل شي، ښه کتاب چاپ شي او کیفیت ته یې توجه وشي، پوره ورسره موافق یم.

***- بلی آقای وردک، مصارف کتابهای که شما چاپ کرده اید چقدر شده وکی تمویل کرده، من فکر میکنم مؤسسه همکاری های اکادمیک المان DAAD با شما همکار بوده اند؟***

ځواب: در مورد چاپش در قدم اول ډی ای ای ډی، یا جرمن اکادمیک اکسچنج سرویس با ما همکاری کرده اند، که اکثریت کتابها با مصارف همین مؤسسه چاپ شده است، درین اواخر خصوصاً در دو سال اخیر یک مؤسسهٔ دیگر به نام (کندرهلف - افغانستان)، که رئیس آن داکتر ایروس است، آنها در بخش چاپ کتب درسی برای ننگرهار، چون آنها پروژه های تعلیمی دارند با ما همکاری کرده اند. درین جا باید بگویم، که مصارف فی کتاب تقریباً دو الی سه ایرو است، این فقط مصارف چاپ کتاب است.

ما برای حق التألیف این کتابها و یا حق الترجمهٔ این کتابها حتی یک افغانی هم به استادان و به مؤلفین نداده ایم، به خاطر اینکه آنها معاش میگیرند، برای تدریس وتهیهٔ مواد درسی فعلاً یکصدو شانزده کتاب طبی را چاپ وتقسیم کرده ایم و درین اواخر اولین کتاب غیر طبی بنام کتاب ریاضیات از پوهنتون خوست چاپ شد. کوشش ما همین است، که در بخش چاپ کتب غیر طبی هم اگر امکانات پیدا شود، که ما چاپ کنیم. طوریکه شما شنیدید از محصلین عزیز ما که ایشان اشد ضرورت دارند که در بخش های غیر طبی هم کتاب چاپ شود.

***- بلې وردک صاحب، له بلې خوا د پوهنتونونو د تجهیزولو او د کتابونو د چاپولو په برخه کې د عالي تحصیلاتو له وزارت سره د نړیوال بانک له خوا***

***(۵۰۰۰۰۰) ډالرو مرسته شوې ده، آیا له دغو پیسو څخه تاسو د کتابونو چاپولو په برخه کې ګټه اخستې ده او که څنګه؟***

ځواب: متأسفانه؛ تر اوسه پورې مونږ د بانک جهاني له پیسو څخه استفاده نه ده کړې، پروسږ کال مونږ یو پېشنهاد وکړ چې بانک جهاني دا ومنله، خو متاسفانه دغه کتابونه د ځینو بروکراسیو په خاطر چاپ نشول. زما هیله او امید هم همدغه دی چې زمونږ وزارت او د افغانستان نورې وزارتخانې چې نړیوال کومکونه کوي، له دغه وزارتخانو سره چې یو پروګرام ورته جوړ شي او دا به ډېر، ډېر پرځای کار وي، که د نړیوال بانګ له پیسو څخه د نورو برخو ترڅنګ د درسي کتابونو د چاپ په هکله استفاده وشي، دا به ډېر پر ځای استفاده وي. دغه پیسې د همدې لپاره ورکول کېږي، دغه وزارت ته چې کیفیت د تدریس جګ کړي او بهترین وسیله د کیفیت د درس د جګولو د کتابونو چاپ دی.

***-بلی آقای وردک، آیا کتابهای که از سوی وزارت چاپ میشود، فقط در اختیار مراکز تحصیلات عالی دولتی قرار میگیرد؟ یا که مراکز تحصیلات عالی خصوصی هم میتوانند از اینها استفاده کنند، یک بخش؟ و بخش دیگر، آیا در دیگر کتابخانه ها به فروش میرسند یا خیر؟***

ځواب: کتابهای را که ما تا اکنون چاپ کرده ایم، بخش اعظم اینها به کتابخانه های پوهنتون های دولتی قرار گرفته و پوهنتون های که پوهنځی طب دارند، مثل پوهنتون طبی کابل، پوهنتون بلخ، هرات، قندهار، پکتیا، خوست، ننگرهار و البیرونی. درین اواخر در افغانستان یک سلسله پوهنځی های طب و پوهنتون های خصوصی هم ایجاد شده، که ما دو سه جلد هر کتاب را به همین پوهنځی های طب خصوصی هم در اختیار آنها میگذاریم، چون همانجا هم داکتر تربیه میشود، مثلاً حتی در بعضی ولایات افغانستان در بلخ، هرات، قندهار، در خوست هم پوهنځی های طب خصوصی وجود دارند، ما همرای آنها همکاری میکنیم. ما از هیچ کس یک پول هم نگرفته

ایم و بطور رایگان به تمام اینها در اختیار این ها قرار می گیرد. در پهلوی این ما به یک سلسله ارگان های دیگری هم یک، یک نمونه کتاب را میدهیم، مثلاً وزارت صحت عامه، یک سلسله شفاخانه های افغانستان مانند چهارصد بستر، به اکادمی علوم یک، یک نمونه این کتابها را روان میکنیم، یک سلسله مؤسسات دیگری را، منتها به شکل نمونه.

***-بلې وردک صاحب، که په آخر کې دا راته ووایاست، آیا د دغو کتابونو مؤلفینو لپاره هم ستاسو وزارت لخوا کوم امتیاز ورته ورکول کېږي، که څنګه؟***

ځواب: په افغانستان کی سیستم داسې دی چې یو استاد کتاب چاپوي، کتاب لیکي، د هغې د علمي رتبې لپاره یو ضرورت دی او که دا کتاب د انسجام امور اکادمیک لخوا تأیید او منظور شي، دی یو علمي رتبه اخلي دا یو امتیاز دی. زموږ لخوا نه دوی ته فقط پنځوس جلده کتابونه ورکول کېږي، منحیث تشکري، دوی ته هیڅ نوع پیسې موږ نه دی ورکړی.

***-د عالي تحصیلاتو په وزارت کې له مشاور او اداري متخصص محترم ډاکټر یحیی وردک څخه یوه دنیا مننه، چې په ډېره حوصله مندی سره یې زموږ او د اوریدونکو پوښتنو ته ځواب ورکی.***

ځواب: ستاسو څخه هم یوه نړۍ مننه، چې زه مو دلته ستدیو ته راوبللم او په دغه موضوع کې زما غږ او د محصلینو غږ او د کارپوهانو غږ مو خلکوته ورسوله.

هر درسي مضمون باید درسي کتاب ولري.
هره درسي خونه باید پروجکټور ولري. ی و

# د طب په برخه کې ۱۱۵ عنوانه
# نوي کتابونه چاپ شوي

*نیټه:* *09.09.2013*

*لیکواله: هاجره حرکت، لنډ لینک:* *http://dw.com/p/19eHD*




د الـمـان د بهرنیـو چـارو وزارت، د دغـه هېـواد د اکـادمیکو تبـادلو د خـدماتو د اداري (DAAD) او د الـمـانـۍ Kinderhilfe مرسـتندویه ټـولنې پـه مرسـتـه پـه افغانسـتـان کـې ۱۱۲ درسـي کتـابونو چـاپ کـړي، خـو محصلین د لا ډېرو مرستو غوښتنه کوي.

یـو افغـانـي الاصـله الـمـاني ډاکټـر یحیـی وردګ، لـه څلـورو کلونـو راهیسـې پـه افغانسـتان کـې د روغتیـا پـه برخـه کـې د محصـلینو لپـاره د الـمـاني مرسـتندویه موسسـو پـه مـالي ملاتـړ پـه پښـتـو، دري او انګلیسي ژبو کتابونه چاپوي.

ښاغلی وردګ وايي، چې په دې برخه کې يې هغه وخت په کار پيل وکړ، چې افغانستان ته د خپل سفر پر مهال دې موضوع ته متوجه شو، چې په پوهنتونونو کې ډېر زاړه او له وخته تېر کتابونه تدريسېدل.




د چاپ شويو کتابونو له ډلې څخه يوازې لږ شمېر يې له نورو ژبو پښتو او دري ته ترجمه شوي دي او پاتې نور يې ټول د افغانستان د طب پوهنځيو او په کابل کې د طبي علومو د پوهنتون د استادانو ليکل شوي اثار دي.

ښاغلي وردګ له دويچه ويله سره په يوې ځانګړې مرکه کې وويل:

«موږ تر اوسه په دې توانېدلي يو، چې د افغانستان د طب پوهنتون [د کابل د طبي علومو پوهنتون] او نورو ولايتونو طب پوهنځيو لپاره ۱۱۲ عنوانه کتابونه چاپ کړو» هغه زياته کړه: «د هر کتاب تيراژ له زرو نه تر دوه زرو پوري دی، چې په انګليسي، پښتو او دري ژبو چاپ شوي دي.»

چاپ شوي کتابونه ټول د روغتيا په برخه کې دي او د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د طب محصلين کولای شي له هغوی څخه د درسي کتابونو او منابعو په توګه کار واخلي.

کـه څـه هـم د دغـو کتـابونو لـه چاپېدو سـره د افغـان محصـلينو ځينـي ستونزې حـل شـوي دي، خـو محصـلين اوس هـم پـه کتـابتونونو کـې د درسي کتابونو او منابعو له کمښت څخه سر ټکوي.

«زموږ کتابونه بايد پر نړيوالو معيارونو برابر وي.»

د افغانســتان د بېلابېلــو پوهنتونونــو اســتادان او محصــلين وايــي، چــې د کابــل د طبــي علومــو پوهنتــون او پــه ولايتونــو کــې د طــب پوهنځيو ته بايد خاصه پاملرنه وشي.

د ننګرهـار د طـب پـوهنځي د وروسـتي کـال محصـله معصـومه فـاروقي وايــي: «مــوږ زيــات وخــت د درس پــر مهــال لــه داســې پوښــتنو ســره مخــامخ کېــږو، چــې پــه لکچــر نوټونــو کــې ورتــه ځوابونــه نــه شــو مونـدلای، لـه همـدې کبلـه مـوږ داسـې کتـابونو تـه اړتيـا لـرو، چـې ورڅخه د منابعو په توګه کار واخلو.»

ښـاغلی وردګ هـم لـه دې سـتونزې خبـر دی، هغـه وايـي چـې د المـان پـه مرسـته چـاپ شـويو کتـابونو تـر يـوه حـده پـورې د افغـان محصـلينو ستونزې حل کړې دي، خو لا ډېر کار ته اړتيا شته.

ډاکتـر وردک زيـاتوي: «پـه کابـل کـې د طبـي علومـو پـه پوهنتـون او د افغانسـتان پـه طـب پوهنځيـو کـې اوس هـم ډېـرې تشـې شـته، چـې بايـد ډکې شي.»



ډاکټر وردګ وايي، چې له ځلورو کلونو راهيسې د افغانستان د لوړو زده کړو په وزارت کې کار کوي او تر اوسه پورې يې ۱۱۲ عنوانه کتابونه چاپ کړي دي.
د هغه په خبره، هر چاپ شوی کتاب يوه سي ډي (CD) هم لري، چې محصلين و کولای شي چاپ شوي کتابونه په ډيجيټل بڼه هم له ځان سره ولري.
د چاپ شويو کتابونو له ډلې څخه دري يې په انګليسي او نور يې په پښتو او دري ژبو چاپ شوي دي.
د چاپ شويو کتابونو له ډلې څخه يوازې لږ شمېر يې له نورو ژبو پښتو او دري ته ترجمه شوي دي او پاتې نور يې ټول د افغانستان د طب پوهنځيو او په کابل کې د طبي علومو د پوهنتون د استادانو ليکل شوي اثار دي.
اوس هم د افغانستان د پوهنتونو استادان او محصلين له ډېرو ستونزو سره مخامخ دي.
په داسې حال کې، چې ډېر شمېر نوي علمي کتابونه په انګلېسي ژبه ليکل شوي دي، ډېر شمېر افغان محصلين او استادان له دې ژبې سره اشنايي نه لري او له دې کبله نه شي کولای، چې له نويو کتابونو څخه ګټه پورته کړي.

# د هېواد د طبي پوهنتونونو د محصلينو د درسي کتابونو ستونزې مخ په لرې کېدو دي

*له هېواد ورځپاڼې څخه*
*حيات الله حليم*
*نېټه: ۱۳۹۲ د لړم ۱۲ مه د ۲۰۱۳/۱۱/۳ مه*

افغانستان د مګړې، په ټولو رفاهي برخو کې د نړيوالو مرستو ته اړ دی؛ ځکه د پنځه د ېرش کلنې تپل شوې او خپلمنځې جګړو له امله يې اقتصاد داسې وشړېد، چې اوس د نړيوالو مليار دونو ډالرو مرستو باوجود هم په پښو نه درېږي.

که خبره له شف شف نه شفتالو ته راوباسو، دغه مرستې په پوره تنيو ټولو برخو کې د فساد قرباني شوې او د ماهرو کړيو لخوا د دې مرستو يوه برخه په خاص مهارت له ملکه د باندې و ايستل شوه او په څه يې په کابل کې اسمان څکي بلډنګونه جوړ شول او هيڅ له چا ونه پوښتل، چې دا پيسې ده له کومه کړې او نه يې د دغه فسادونو مخه ونيوله؛ ځکه هماغه کسان په فساد کې را ښکېل ول چې د فسادونو کنترول يې پر غاړه ؤ.

په هرصورت خو په مقابل کې يې بيا زموږ يو شمېر زړه سواندو هېوادوالو دا نړيوالې مرستې تر خپل مديريت لاندې هېواد ته را وړې او پرته له دې، چې راوړل شوې مرستې يې د دغه راز هوس بازانو د هوسونو قرباني شي، پخپل لاس يې د خپلو هېوادوالو په دردونو دوا کړې، چې يو هم له دغه زړه سواندو هېوادوالو نه د

لـوړو زده کـړود وزارت سـلاکار او اداري متخصـص ډاکټـر محمـد یحیـی وردګ دی، چـې د هېـواد طبـي پوهنتونونـو تدریسـي خـدماتو تـه یـې داسـې پروګـرام راووړ، چـې لـه مخـې یـې پـه همدغـه پوهنځیـو کـې پـه نړیـوال معیـارونو برابـر د عصـري او پرمختللیـو وسـایلو پـه ذریعـه دا تدریسـي نـوی مېتـود پـر مـخ وړل کېـږي، ددې فعـالیتونو پـه اړه مـو د پوښـتنو لپـاره د ډاکټـر محمـد یحیـی و مـخ تـه ګونـډه ماتـه کړه، چې هغه په پیل کې وویل:

څو کالـه د مخـه، کلـه چې زه د هېـواد ځینـو پـو هنتونـو تـه تللی وم هلتـه مـې ولیـدل، چـې محصـلین پـه ګوتـو لـه لیکـل شـویو د ېـرش کلنـو پخوانیـو چپټرونـو نـه کـار اخلـي هغـه لـه یـو بـل سره تبادلـه کـوي او یـا فوتوکـاپي تـرې باسـي دا څـه د حیرانتیـا خبـره نـه وه؛ ځکـه زمـوږ د ټـولنې معمـول او ایجابـات همـدا و، خـو دغـه حالـت زه ډېـر خفـه کـړم، ان ومـې ژړل، بیـا مـې هـم لـه ځـان سـره قـوي پرېکـړه وکـړه چـې زه بـه ددې سـتونزې د کنټـرول غـم خـورم، لاس پـه کـار شـوم او تـر اوسـه مـې پـه بېلا بېلـو برخـو کـې ۱۳۶ عنوانـه طبـي کتابونـه د هېـواد طـب پوهنځیـو تـه چاپ کړل.

ددې پـو ښـتنې پـه ځـواب کـې، چـې ایـا دا چـاپ شـوي کتابونـه لـه بهرنیـو ذرایعـو نـه ژبـاړه او کـه د هېـواد د طبـي پوهنتونونـو د اسـتادانو لیکـل شـوي آثـار دي، ښـاغلي ډاکټـر یحیـی وردګ وویـل: هغـه کتابونـه چـې تراوسـه پـورې مـوږ چـاپ کـړي دي، لـس سلنه یـې لـه داخلـي او بهرنیـو ذرایعـو نـه ژبـاړه ده، خـو ۹۰ سـلنه دغـه چـاپ شـوي کتابونـه بیـا دهېـواد د مختلفـو طبـي پوهنتونـو دهغـه اسـتادانو تـالیف شـوي کتابونـه دي، چې هر یو یې له شلو نه تر دېرشو کلونو پورې کاري تجربه لري.

ددې پو ښتنې په ځواب کې، چې د غه چاپ شوي کتابونه بیا هم د طب محصلینو ته نه رسېږي او د خوست د طبي پوهنتون یو شمېر محصلین ګیله لري، چې د غه چاپ شوي کتابونه دوی ته ډېر ارزښت لري، خو د دوی پوهنتون ته ډېر کم رسېدلي دي، استادان دوی ته بیا هم له چپترونو تدریس کوي ! په کوم تیراژ تاسې دا کتابونه چاپوئ؟

ښاغلي وردګ وویل: د هېواد په طبي پوهنتونونو کې له شپږو زرو نه تر اوو زرو پورې محصلین درس وایي او دا له توانه لوړه ده، چې هر محصل ته یو کتاب ورسېږي، خو موږ هغه کتابونه، چې په طبي ډګر کې ډېره اړتیا ورته محسوسه ده په لوړ تیراژ چاپوو، د مثال په توګه د مایکرو بیولوژي، پرازیتولوژي، اساسات پرازیتولوژي مضامین هر یو یې د چاپ په لړ کې دوه دوه زره ټوکه چاپ شوي دي او د هېواد طبي پوهنتونونو ته لېږل شوي دي.

د هغه په وینا ، چې له چاپ شویو کتابونو سره مل د ټول کتاب محتوا په (سي ډي) کې هم شته او سي ډي د کتاب په منځ کې ده او هم د یوه انټر نیټي پاڼې په دننه کې د غه کتابونه په ټول هېواد کې ډاونلوډ کېدای شي، خو یحیی وردګ زیاته کړه، چې که استادان او زده کوونکي له دغه کتابونو د کتابتونونو له لارې سمه استفاده وکړي، د ټولو استفادې ته رسېږي.

ددې پو ښتنې په ځواب کې، چې د غه کتابونه، چې ستاسې لخوا چاپېږي، په دولتي طبي پوهنتونونو او ادارو برسېره خصوصي طبي پوهنتونونو ته هم رسېږي که نه؟ ښاغلي یحیی وویل:

ولې نه ! د ننګرهار، کابل، بلخ، کندهار، پکتیا ، خوست او

البیروني په طبي پوهنتونو برسېره د طب خصوصي پوهنتونو ته هم ځو ځو ټوکه کتابونه موږ رسوو، ځکه چې دوی هم ډاکټران تربیه کوي او له بل پلوه موږ له هیڅا نه د کتاب په مقابل کې پیسې نه اخلو، دایوه وړیا طبي خدماتي پروسه ده او طبي پوهنتونونو تر څنګ موږ روغتونو او د عامې روغتیا وزارت ته هم ددې کتابونو بېلګې ورلېږو.

کله چې له یحیی وردګ نه وپوښتل شول، چې دنړیوال بانک لخوا د کتابونو د چاپ لپاره د لوړو زده کړو له وزارت سره کابو پنځه ملیونه ډالره مرسته وشوه، ایا تاسې هم له دغه پیسو نه دا کتابونه چاپوي، که کوم بل مدرک لري؟

د ډاکټر یحیی په وینا: کوم کتابونه چې موږ چاپ کړي او یا یې چاپوو په دې کې موږ د نړیوال بانک له پیسو نه ګټه نه ده اخستې، که څه هم موږ نړیوال بانک ته وړاندیز وکړ او هغوی هم را سره ومنله، خو د ځینو بروکراسیو له وجې په دغه پروسه خاشه واچول شوه او ددوی په پیسو زموږ کتابونه چاپ نه شول.

دهغه په وینا، چې موږ دغه ۱۳۶ عنوانه کتابونه د المان د اکادمیکو همکاریو د ټولنې په مرسته او ترڅنګ یې له افغان ماشومانو سره د الماني کومېټې لخوا د مرستو پواسطه د چاپ لګښت تمویلوو.

د مرکې په وروستیو کې ښاغلي محمد یحیی وردک وویل، چې زموږ یوازینۍ هیله او ارزو د خپلو هېوادوالو د اولادونو د لوړو زده کړو لپاره د یوې سالمې زمینې برابرول دي، چې ددوی ظرفیتونه لوړ او درسي محدودیتونه یې کم شي.

# ولې په زرګونو افغان ناروغان د درملنې لپاره هند او پاکستان ته ځي؟

*اوټلوک افغانستان ورځپاڼه، ۴ جنوري ۲۰۱۴، ډاکټر شمس نجيب*

زموږ په طبي پوهنځيو کې استادان څلوېښت کاله پخواني چپټرونه او زاړه ژباړل شوي درسي کتابونه کاروي. دوی نويو درسي او تدريسي موادو ته لاسرسی نه لري. د دوی د امتحان طريقه هم د مخکينۍ پېړۍ په شان ده.
د آزموينو طريقه محصلين مجبوروي چې چپټرونه د مفهوم له پوهېدلو پرته حفظ کړي. دې ته انځوريزه حافظه هم ويلی شو. د انځوريزې حافظې اغېزه په طبي پوهنتونونو کې د اندېښنې وړ ده چې معلومات او پوهه تر ډېره وخته د محصلينو په ذهن کې نه پاتې کيږي. محصلين يوازې د آزموينو لپاره تياری نيسي چې دا کار د دوی له علمي او مسلکي بريا سره زيات مرسته نه کوي.
زموږ د طبي زده کړو په سيستم کې يوه بله ستونزه د عملي کارونو د فرصت نه شتون دی (په لومړي او دويم کال او همدارنګه د کلينيکي عملي دورې په جريان کې). محصلين يوازې تر تيوريکي (نظري) زده کړو پورې محدود شوي دي او ډېر کم تشخيص کوي. او سنی ساينس غواړي چې محصلين بايد په ټولګي کې د کېناستو او چپټرونو د حفظ پر ځای تر ډېره په عملي کارونو کې ونډه واخلي. نننی طبي پوهنتونونه يا پوهنځي عملي پرمختګ د دوی د پروګرامونو اساسي تمرکز بولي. دا په دې معنی ده چې په ټولګي کې د لکچر ورکولو تر څنګ به محصلين په مسلکي توګه د روغتيايي مسلکي شخص په ډول د تشخيص کولو فرصت تر لاسه کړي او دوی به په زياته اندازه خپله د عملي تجربې تر لاسه کول پيل کړي.

# یو سلو څلوېښت طبي درسي کتابونه چاپ شوي

***د آزادی راډیویي مجله***

***ډاونلوډ لینک:***http://pa.azadiradio.mobi/a/25411497.html

نېټه: ۱۲/۰۳/۱۳۹۳




اسلام علیکم !

اسدالله غضنفر یم، آزادي راډیویي مجله وړاندې کوم: د مجلې په پیل شوې خپرونه کې له ډاکتر یحیی وردک سره مفصله مرکه لرو، چې د ده په مشری، پروژې تر اوسه پورې د افغانستان د پوهنتونونو لپاره ۱۴۰ عنوانه طبي کتابونه چاپ کړي دي.

***اسدالله غضنفر: ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو په وزارت کې د طبي کتابونو د چاپ پروژه پرمخ بیایي، دی د دې پروژې د چاپ شویو کتابونو او د راتلونکو پلانونو او اندېښنو په اړه خبرې راته لري.***

ډاکتر یحیی وردک وایي: زه د څلور کالو راهیسې د لوړو زده کړو په

وزارت کې منحيث مشاور کار کوم. په دغه وخت کې مو ۱۴۰ طبي درسي کتابونه چاپ کړي دي، البته د کتابونو د چاپ مصارف په المان کې د اکاډميکو اړيکو يا DAAD په نامه يوه مؤسسه ده، چې هغو ډېر کومک کړی دی او يوه بله الماني مؤسسه ده، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټه چې اکثريت کتابونه د دغه دوو مؤسسو لخوا نه تمويل شوي دي.
دغه کتابونه اکثريت يې د افغانستان د مختلفو پوهنتونونو، لکه د کابل، ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپيسا پوهنتونونو د استادانو دي چې په پښتو، دري او انګليسي ژبو ليکل شوي دي او موږ يې چاپ کوو. څلور کاله مخکې کله چې زه افغانستان ته له شلو کلونو مهاجرت وروسته راغلم، ما د ننګرهار په طب پوهنځي کې شاګردان، محصلين وليدل چې دوی شل- دېرش کلن پخواني په لاس ليکلي نوټونه چې دوی لکچرنوټ ورته وايي، ورڅخه استفاده کوله. دغه زاړه کاغذونه دوی پخپل مصرف باندې فوتوکاپي کول او دا هماغه يوازيني درسي مواد وو، چې دوی ورنه استفاده کوله، نو دغه وضعې زه ډېر خفه کړم او همغه و، چې موږ تصميم ونيو چې زه به فقط په دغه برخه کې کار کوم، نو همغه و، چې بيا له المانانو سره مو خبرې وکړې، هغوی له ما څخه ملاتړ اعلان کړ او د کتابونو څه مالي مصارف يې پر غاړه واخيستل او هم د لوړو زده کړو په وزارت کې يې ماته د کار او ځای امکانات برابر کړل او دغه کار مو شروع کړ، چې تر ننه پورې ۱۴۰ عنوانه کتابونه چاپ شوي دي، چې د هر کتاب ۱۰۰۰/۲۰۰۰ ټوکه چاپېږي. له هر کتاب سره د کتاب په داخل کې همغه د کتاب ټوله محتوا په يوه سي ډي کې د PDF په شکل هم شته او دغه ټول کتابونه موږ د جرمني بوخم پوهنتون ته لېږو او هلته د هغوی د IT مرکز له خوا نه دغه ټول د www.ecampus-afghanistan.org په نامه يو وېب سايټ کې اچول کېږي، چې هر څوک په ټوله دنيا کې کولای شي همدغه ۱۴۰ کتابونه په مکمله او په وړيا توګه په خپل کمپيوټر کې ډاونلوډ کړي.

***اسدالله غضنفر: او که په چاپي بڼه څوک وغواړي، هم شته په بازار کې؟***

یحیی وردک: په چاپي بڼه موږ دا په بازار کې نه خرڅوو ، دا موږ پـه لـومړۍ مرحله کې د افغانستان طب پوهنځیو تـه ورکوو او یـو شمېر کتابونـه موږ اکاډمي علومو ته، د عامې روغتیا وزارت او ځینو روغتونونو تـه ورکوو ، په بازار کې نه خرڅول کېږي.

***اسدالله غضنفر: ډاکټر صاحب یحیی وردک ! د معارف د کتابونو پـه برخـه کې یو نظر موجود دی او دا نظر د لوړو زده کړو د مؤسسو د کتابونو پـه حصه کې هم شته، یو کتاب که لیکل کېږي، نو درې اړخه باید پـه نظر کـې وي، یو خو پخپله هغه علم دی، فرضاً د فزیک یـو کتـاب لیکـل کېـږي، نـو هغه څوک چې کتاب لیکي یا یې کومه کمېټه لیکـي، نـو دوی بـه پـه فزیـک باندې پوهېږي.***

یحیی وردک: بلې.

***اسدالله غضنفر: بل اړخ یې په خپله له پیداګوژۍ سره تعلق لري.***

***یو کتاب دی، فرضاً د اتم صنف د زده کونکي لپاره لیکل کېږي، یا د طب د لومړي کال د محصل لپاره لیکـل کېـږي، دلتـه دې تعلیمـي اړتیـاوې هـم پـه نظر کې نیول کېږي، دغه بیا له علم پرته، یا د فزیک د علـم پرتـه یـو بـل علـم دی. د پېداګوژۍ چې ضرورت دی ورته، چې تعلیم او تربیه څه غواړي؟***

***او درېیم اړخ دا دی: یـو کتـاب بـه د تعلـیم و تربیـې د علـم پـه معیـارونو هـم لیکل شوی وي او هغه د علم معیارونـه او غوښتنې بـه هـم پـه نظـر کـې نیـول شوي وي، خو یو کتاب وضوح هم غواړي، لیکـوالي هـم غـواړي، داسـې یـو متن باید وي چې هغه د فهم وړ وي، دا بیا یو درېیم مهارت شو.***

***ویل کېږي، چې د افغانستان تدریسي کتابونـه داسـې کتابونـه یکـې لـږ دي چې دا درې واړه ځانګړنې پوره او په لازمه اندازه ولري.***

***تاسو څنګه؟ تاسې کتابونه چاپوئ، آیا له معیاره یې مطمین یاست، د دغـو درېیو واړو معیارونو؟***

یحیی وردک: د معارف په هکله زه باید دوی په اول کې وستایم، ځکه چې دوی یو لوی کار شروع کړ.
راغلو زموږ یا د لوړو زده کړو د کتابونو په هکله، زموږ کتابونه لکه ما چې مخکې وویل، زه دغه کتابونه دغسې پرمخ بیایم، چې زه د افغانستان د پوهنتونونو استادان، پروفیسوران دې ته تشویقوم، چې دوی دغه خپل لکچرنوټونه، خپل یاداشتونه یا خپل کتابونه له سره یو نظر پرې وکړي او هغه د طب له نویو لاسته راوړنو او معیارونو سره برابر کړي او بیا یې موږ ته وسپاري. د مثال په توګه، دلته ما ځینې نمونې راوړې، دلته دغه دوه کتابونه، یو کتاب عضوي کیمیا ده، چې دغه پوهنوال صاحب ولیږي لیکلی دی، ده خپله په جرمني کې په خپله رشته کې تر دوکتورا پورې تحصیل کړی دی او څو کاله یې په کابل پوهنتون کې هم درس ورکړی دی، په دې وروستیو کلونو کې.
پخوا هم مخکې له دې نه، چې دی خارج ته ولاړ شي، دی د کابل پوهنتون استاد وو، نوموړي د افغانستان تعلیمي نصاب په چوکاټ باندې او همغه مسلکي اصطلاحاتو باندې چې دی هم پوهېږي او زموږ محصل هم پوهېږي دغه کتاب یې ترتیب کړی دی.
همدا شان دا بل کتاب د پوهاند دوکتور عبیدالله عبید دی، چې د لوړو زده کړو وزیر دی، دا پخپله استاد پاتې شوی دی، کلونه، کلونه د کابل طب په پوهنتون کې د مایکروبیولوژي کتابونه یې لیکلي دي، دا دوه درې وارې له سره چاپ شوي او له سره ایډیټ شوي دي. په دغو کتابونو کې ان شاء الله دغه مشکلات، چې په نورو کتابونو کې موجود دي نشته او یا ډېر کم دي؛ ځکه دغه کتابونه داسې یو بې تجربه استاد نه دي لیکلي، یا یو په یو د خارجي منبع نه د یو ژباړن له خوا نه دي ترجمه شوي؛ ځکه چې دوی خپله لس، پنځه لس کاله د استادۍ د تدریس تجربه لري، نو هر استاد چې لس، پنځلس، آن شل کاله تجربه د تدریس ولري ان شاء الله هغه د پیداګوژۍ له

خوا نه هم هغه معیارونه یې په نظر کې نیولي دي او دغه استادان په کتاب لیکلو کې تجربه هم لري، دوی ډېر کتابونه لیکلي دي.

***اسدالله غضنفر: ډاکټر یحیی وردک، تاسو چې کوم کتابونه یادوئ دا ۱۴۰ عنوانه، دا ټول له طبي علومو سره تعلق لري، دا سې ښکاري ستاسو له خبرو؟***

یحیی وردک: بلې، هو.

***اسدالله غضنفر: د افغانستان پوهنتونونه، خو په نورو ځانګو کې هم د کتابونو د کمي مشکل لري، د لوړو زده کړو وزارت، چې تاسو هلته سلاکار یاست، نورو پوهنځیو ته هم د کتابونو په برخه کې څه پروګرام لري؟***

یحیی وردک: د افغانستان په ټولو برخو کې، که دا طبعي علوم دي، که دا اجتماعي علوم دي، د درسي کتابونو اشد ضرورت دی. زما پېشنهاد وزارت ته، همدغه دی، چې دغه چاپ د درسي کتابونو په خپل پاسني یا Top Priority کې ونیسي؛ ځکه چې په کیفیت د تدریس کې واقعاً اساسي رول تدریسي کتاب لري. متأسفانه د پوهنتون استادان او محصلین تر اوسه، ټول په انګلیسي ژبه نه پوهېږي، نو په کار ده چې خصوصاً په پښتو او دري ژبو موږ درسي کتابونه په ټولو برخو کې ولرو.

***اسدالله غضنفر: ډاکټر صاحب یحیی وردک، تېر کال و، که وړم کال، جمهور رییس حامد کرزي حکم وکړ، چې په انجنیري او طب پوهنځي کې دې په انګرېزي ژبه زده کړې شروع شي، بیا ځینو خلکو په رسنیو کې مخالفت هم وکړ، مخالفت یې یو دا و، چې ممکن دوی په دې پردۍ ژبه پوه نه شي او دا په محصل باندې فشار دی او ځینو خلکو یو قسم د ملي احساساتو په بنیاد هم دا خبره کوله، خو په مقابل کې بیا ویل کېدل چې اوسنی ساینس په انګرېزي ژبه دی، په انګرېزي ژبه کې په هره ساحه کې په زرګونو، زرګونو کتابونه پیدا کېږي، که زموږ ډاکټران، زموږ انجنیران***

***زموږ نور متخصصان د انګرېزۍ غوندې پوه نړيواله ژبه زده نه کړي، نو دوی به د علم له يوې لويې برخې نه د همېشه لپاره محروم پاتې وي، خو په هر حال؛ دا کار خو پيل شو، نو ستاسو دغه او دغه کار، چې حامد کرزي يې حکم کړی دی، يو څه تفاوت نه سره لري؟***

يحيى وردک: دغه کار که اصولاً ښه دی، زه يې طرفدار يم، خو دا د يو فرمان يا يو حکم په صادرولو نه کېږي، دې ته يو پلان په کار دی، لومړی موږ بايد په معارف کې په انګليسي ژبه ډېر تأکيد وکړو، چې يو څوک چې له دولسم صنف نه فارغېږي بايد روانه مکمله انګليسي يې زده وي، دغه دوولسم پاس چې زموږ پوهنتون ته راشي بيا کېدای شي، چې ځينې پوهنځي چې په انګليسي وي، دی خپل تحصيل ته په انګليسي ژبه دوام ورکړي.

***اسدالله غضنفر: لکه په هند او پاکستان کې؟***

يحيى وردک: هو، لکه په نورو ځايونو کې.

راغلو د کتابونو په هکله، زما په نظر زموږ محصلين که موږ يوازې انګليسي کتابونه ورکړو، دوی هغسې استفاده ځينې نه شي کولای، لکه د دوی په خپلو ژبو پښتو او دري چې کتابونه وليکل شي، خو برسېره پر دې هم زه به تاسو ته دلته نمونه يې ما راوړې ده. د يو کتاب تاسو يې وګورئ، چې يوې خوا ته يې انګليسي ده، بله خوا يې په دري ده، موږ دغسې کتابونه هم چاپ کړي دي، زموږ يو بل کتاب دی، چې مکمل په انګليسي ليکل شوی دی، دا پخپله د ننګرهار په پوهنتون کې استاد دی، نو په کراره کراره بايد موږ د انګليسي ژبې ته عملي کار وکړو. موږ، مثلاً که نوي استادان د طب پوهنځيو او انجينري لپاره نيسو، يو شرط يې بايد دا وي، چې دوی په روانه انګليسي ژبه پوه شي او تدريس وکولای شي، که موږ لس، پنځلس کاله پورې دغه شرط په استادانو باندې ومنو، ان شاء الله کولای شو تر لسو کلو پورې زموږ ځينې پوهنځي په انګليسي ژبه کړو، خو دا په يو وار نه کېږي، دا په حکم نه کېږي دا سيستماتيک کار او پلان ته

ضرورت لري او د دې پلان او کار عملي کولو ته ضرورت شته.

***اسدالله غضنفر: ډاکټر صاحب یحیی وردک! په افغانستان کې په تېرو لسو کلونو کې نړیوالې ټولنې په مختلفو برخو کې مرستې وکړې، له افغانانو سره مالي مرستې، اقتصادي مرستې، تخنیکي مرستې، خو اوس چې بهرني عسکر وځي، نو په ډېرو ساحو کې دا وېره موجوده ده، چې دوی به له افغانانو سره مرستې بندې کړي، یا به یې ډېرې کمې کړي.***

***د افغانستان پوهنتونو ته، خو د کتابونو ډېر ضرورت دی او تاسو په دې موضوع لا ښه پوهېږئ، څنګه چې تاسو کومه پروژه روانه کړې ده، کوم کار مو روان کړی دی او تر اوسه مو ۱۴۰ عنوانه طبي کتابونه چاپ کړي دي، دا به په راتلونکو کلونو کې هم دوام ومومي، وضعیت څنګه دی؟***

یحیی وردک: وضعیت متأسفانه ښه نه دی، دوی هم داسې متزلزله دي، چې خپل کومکونه به تر کومې اندازې پورې وکړي او د دغه کومکونو لپاره د دوی دفترونه باید دلته وي، د دوی د پروژو یو څه عملي کول او کنترول د دغو هېوادونو د خپل سټاف او خلکو له خوا کېږي، که دغه ملکي خلک او دفترونه دلته امکان د موجودیت یې نه وي، یا د خطر احساس وکړي، هغوی شاید وتړل شی، دا دفترونه چې وتړل شول، په اتوماتیک ډول د دوی کومکونه به کم شي.

دا یو اړخ د مسئلې دی، بل اړخ د مسئلې دا دی، چې دا بهرني هېوادونه، چې کومک کوي، دا دغسې سل په سلو د افغانستان اړتیاوې په نظر کې نه نیسي، له یوې خوانه او له بلې خوانه زموږ حکومت او زموږ اداري هم ضعیفې دي، چې هره اداره یا هر وزارت په همغه خپل سکتور او برخه کې داسې یو پلان، پروګرام او اکشن پلان نه لري، د بهرنیانو لپاره چې پوره دغه خپل سکتور یې تحلیل کړی وي، پخپل سکتور کې یې مشکلات او هر څه ورته معلوم وي او دغه هم ورته معلوم وي چې دغه، دغه کارونه د افغانستان په ګټه دي.

خارجیان راشي، بس همغه یو څه پروژې چې لري، یا پروګرام چې لري، هغه حکومت ته وړاندې کړي، یا مربوطه ادارې ته، یا وزارت ته، هغوی هم موافقه ورسره وکړي او بس پیسې مصرفېږي.
د مثال په توګه، په طب برخه کې هر کال جرمني ته یو شمېر افغاني ډاکټران لېږل کېږي، هلته په جرمني کې یو خارجي ډاکټر عملي کار نه شي کولای، چې هغه په مریض باندې کار وکړي.
***اسدالله غضنفر: اجازه نه لري؟***
یحیی وردک: اجازه نه لري، هیڅ نوع، هغه تنها کولای شي یو تشخیص یا یو مریض وګوري، مریض باندې لاس نه شي ایښودی، زموږ افغان ډاکټر، همداسې یو شمېر استادان یا ډاکټران، د جرمني نه راځي، په دغه باندې په هر ډاکټر چې جرمني ته ځي تقریباً لس پنځلس زره ایرو مصرفېږي، چې دوی دا پیسې په دې باندې لګوي؛ حال دا چې موږ که دلته دغه پیسې را واخلو او په دغسې یو پروګرام یا پروژه باندې یې ولګوو، لکه د کتابونو په چاپ باندې، زموږ په هر کتاب باندې تقریباً دوه یا درې ایرو مصرفېږي. تاسو وګورئ، موږ په دغه لس زرو باندې تقریباً درې زره شاوخوا کتابونه چاپوو. دا کتابونه یو استاد تشویقوي، یو دغه شی په افغانستان کې پاتې کېږي، اوس شل کاله وروسته هم دغه کتاب به په همدغه ملک کې پاتې وي.
***اسدالله غضنفر: او په زرګونو خلک ترې استفاده کولای شي.***
یحیی وردک: او نور خلک ترې استفاده کوي، په ټول افغانستان کې ترېنه استفاده کېږي او دا که موږ دا ډاکټران لېږو، جرمني ته د دوه درېیو هفتو لپاره صحیح ده، د ډاکټر لپاره به یو ورکشاب مؤثره هم وي، خو هغه اولیت یا لومړیتوب، چې موږ باید چاپ د کتاب ته ورکړو، مدنظر کېږي نه.
***اسدالله غضنفر: که بېرته ستاسو د کتابونو پروژې ته راشو، څنګه په دې راتلونکو وختونو کې هم د کتابونو چاپ ته ادامه ورکوئ او که نه؟***
یحیی وردک: دغه کار په ټېپه نه دی ولاړ، همدغه اوس هم زموږ د کتابونو

چاپ روان دی، تېره هفته زه په چاپ خانه کې ومه، موږ په دې ورځو کې په یو نوي فکر باندې کار کوو، هغه دغه دی، چې دغه ټول ۱۴۰ کتابونه چې موږ چاپ کړي او په ټول افغانستان کې مو تقسیم کړي دي، دا موږ غواړو چې په یوه یا دوه ډي وي ډیانو کې د پي ډي اف (PDF) په شکل باندې راغونډ کړو او دا ریکارډ کړو او دا بیا د افغانستان ټولو طب محصلینو ته ورکړو. د دې ښه والی په دې کې دی، چې دا ۱۴۰ کتابونه به په ډېر واړه حجم کې، چې هر څوک یې په خپل کمپیوتر کې ولرلای شي، هر څوک یا هر ډاکټر یا طب محصل یا استاد یې په لپټاپ، حتی په خپل جېب کې همدغه ۱۴۰ کتابونه به ورسره وي. دغه به ان شاءالله په کیفیت د درس کې مهم رول ولري او هم به ځوان ډاکټران منحیث د رفرنس له دې نه استفاده وکولای شي.

***اسدالله غضنفر:*** کامیاب اوسئ.

❀ ❀ ❀

**د دې پر ځای چې د ښوونې لارې چارې ځنډنۍ شي، باید درسي کتابونه ولرو، ترڅو د ښوونې لارې چارې د حفظ کولو او تکرار پرځای انتقادي تحلیل او د فکرونو په ډلبندۍ، خبرو اترو او عمل بدل شي.**

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې بیا رغاونه او پرمختیا
پالیسي، موخې او استراتېژۍ
د افغانستان د ښوونې او روزنې خپلواک عالي کمیسیون
کابل-۱۳۹۲ (۲۰۰۳)
د یونسکو په مرسته

# هر کال د کتابونو لپاره زر ډالره:
# د افغانستان نامجهز پوهنتونونه

*د AAN مقالې ژباړه*
*لیکواله: کریستهین رورز*
*نېټه: ۲۳ نومبر، ۲۰۱۴*



د افغانستان په پوهنتونونو کې محصلین لا هم مناسب درسي کتابونه نه لري. استادان دوی ته تش په نامه چپترونه، چې له لکچرنوټونو او تېر وخته کتابونو څخه کاپي شوي دي، ورکوي. له بل پلوه کتابتونونه، د اهداء شویو کتابونو د بې بودیجې انبارونو په څېر پاتې شوي دي، چې زیاتره یې د اړتیاوو، تعلیمي نصاب او لکچرونو له محتویاتو سره سر نه خوري. له ۱۳ کلونو بهرنۍ مداخلې سره سره چې زده کړې یې د یوه بریالي پړاو په توګه ګڼلې دي، ولې تر اوسه دغه حالت دوام لري؟ کریستهین رورز د مناسبو او اپډېټ شویو زده کړو او تدریس د سرچینو درې بنسټیز خنډونه تحلیل کړي دي او ښیي چې دغه موانع (خنډونه) له نورو موضوعاتو، لکه د تعلیمي نصاب اصلاح کول، بودیجو او له لومړنیو او منځیو ښوونځیو سره نه همغږۍ سره څه اړیکه لري. نوموړې د استادانو او سلاکارانو له لوري وړاندیز شوې حل لارې راښیي، چې بالاخره به محصلین په مناسبو درسي کتابونو سره سمبال کړي. رورز وایي: له بده مرغه، نه د لوړو زده کړو راتلونکی پنځه کلن

ستراتیژیک پلان او نه هم په دې برخه کې لویو مرستهکوونکو دې سملاسي اړتیا ته پاملرنه کړې.
کتابونه یا په ځانګړې توګه د کتابونو کمښت ښیي، چې تر اوسه د افغانستان په لوړو زده کړو کې څه کمی شتون لري. په داسې حال کې چې په نوره نړۍ کې محصلین له کتابونو څخه ډک درانه بکسونه پوهنتونونو ته وړي او راوړي، خو افغان محصلین په یوه پلاستیکي کڅوړه کې له څو کاپي شویو پاڼو پرته نور څه پوهنتونونو ته نه وړي. د حیرانتیا خبره نه ده؛ ځکه په حقیقت کې له ۱۳ کلنې هڅې او کوښښ سره چې د زده کړې د پرمختګ په لار کې شوي، بیا هم د زده کړو ډېر مواد د لاسرسي وړ نه دي.
د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په میاشت کې په کابل پوهنتون کې له محصلینو سره څو ناڅاپي خبرې اترې:
تمیم د اقتصاد پوهنځي د دویم سمستر محصل د مکرو اقتصاد په اړه د لکچر لپاره ټولګي ته روان دی. نوموړی په آبي رنګه پلاستیکي دوسیه کې د اقتصاد د اساساتو په اړه د وزارت له خوا تیار شوي کتابګوټي (رسالې) څخه ۲۰ کاپي شوې پاڼې په لاس کې لري. دده په وینا ، د یاد مضمون په اړه د نورو کتابونو سپارښتنه ورته نه ده شوې، دی وایي: «موږ له همدې څخه زده کړه کوو ، که څه هم موږ پوهېږو چې د زده کړې لپاره څه ته اړتیا لرو.»
محمد رسول د ریاضیاتو پوهنځي محصل دی. دی له پوهنتونه د باندې د انټرنیټ کلپ په لوري د تګ په حال کې دی او غواړي چې «په احصائیوي مسایلو کې د ګراف استعمال» په اړه انلاین پلټنه وکړي. د نوموړي له قوله، د دوی دیپارتمنت د احصائیې په اړه دوه نوي کتابونه لري، خو هغه څه چې دی ورته اړتیا لري، په دغه کتابونو کې نشته. محمد رسول شکایت کوي، چې د محصلینو لویه ډله د استاد په شاوخوا راټولېږي؛ ځکه چې د تحلیلي هندسې، مختلط تحلیل، تفاضلي ریاضي او ډېرو نورو مضامینو په اړه کتابونه نشته.

یو محصل وایي: «موږ ډېر لایق استادان لرو، خو دوی زموږ لپاره نوي درسي مواد نه شي چمتو کولای. دوی وایي چې کمپیوټرونو ته لاسرسی نه لري او نه شي کولای درسي مواد پیدا کړي او دوی په انګلیسي ژبه هم په کافي اندازه بلدیت نه لري، چې زموږ لپاره درسي مواد وژباړي.»

نقیب الرحمن د وترنرۍ پوهنځي د دوهم سمستر محصل دی، د فوتو کاپي د دوکان د خرڅلاو مېز ته ولاړ دی او د «وترنري طبي اصطلاحات» په اړه د استاد لخوا راټولو شویو دېرشو پاڼو غوښتنه کوي. د دغه پاڼو پر پښتۍ (Cover) هغه کتاب/کتابونه نه دي څرګند، چې د دغه معلومات ورڅخه اخیستل شوي دي. د دې پاڼو محتویات ډېر ساده تر سترګو کېږي، د بېلګې په توګه د حیواناتو کور (یا د اوسېدو ځای) ته په انګلیسي کې Coop ویل کېږي. نقیب الرحمن وایي، چې د پوهنځي کتابتون ښه سمبال شوی دی، خو زیاتره کتابونه یې انګلیسي دي او دی ورباندې نه پوهېږي.

***ولې افغان محصلین مناسب درسي کتابونه نه لري او ستونزې یې څه دي؟***

په افغاني پوهنتونونو کې د اوسنیو زده کړو او درسي موادو د خواشینوونکي حالت لوی او بنسټیز لامل لوړو زده کړو ته نه پاملرنه ده. تر ۲۰۱۰ ز کال پورې نه بسپنه ورکوونکو او نه هم افغان حکومت په دې برخه کې کومه لېوالتیا درلوده. له بلې خوا د محصلینو شمېر هم په چټکۍ سره مخ پر زیاتېدو دی. دا ځکه چې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په کلونو کلونو لومړنیو او منځنیو ښوونځیو ته زیاته پاملرنه کړې ده. دا کار که څه هم د دغه سکتورونو د بریالیتوب سبب شوی دی([1])، خو دې ټکي ته یې

۱. ښوونځیو ته د ماشومانو ، په ځانګړي ډول انجونو پر تګ د تمرکز او په همدې حال د ساتلو لپاره مناسبه ده د دوی مخکیني تعداد ته کتنه وشي. په ۲۰۰۱ کال کې له یو میلیون څخه کم افغان ماشومان ښوونځیو ته تلل، د دوی تعداد په ۲۰۱۲/۲۰۱۳ کې ۸,۵ میلیون ته زیات شو (۵,۲ میلیون هلکان او ۳,۳ میلیون انجونې). له دې جملې څخه له یو میلیون نه زیات نوي شامل شوي زده کوونکي دایمي ناسوب دي. د 2010/11 Afghanistan Multiple Indicator Cluster Survey له مخې د لومړني ښوونځي عمر لرونکي یوازې ۵۵ سلنه ماشومان ښوونځیو ته ځي. په دې اړه نور په UNESCO 2013/14

پاملرنه نه ده کړې، چې دغه سیستم تر هغې اندازې زیات فارغین ورکوي، چې پوهنتونونه يې ظرفیت لري.

د USAID یوه داخلي ارزونه چې د هېواد د لوړو زده کړو د اوسني ستراتیژیک پلان (۲۰۱۰-۲۰۱۴ز) د اجرا په اړه ده، له ثانوي زده کړو څخه د فارغینو د شمېر زیاتوالی څرګندوي (۳۲٪ په ۲۰۱۲، ۵۹٪ په ۲۰۱۳، او ۳۲٪ په ۲۰۱۴ز کې)، چې له دې ډلې څخه تقریباً ټول هیله لري لوړې زده کړې تر لاسه کړي. له ۲۰۰۲ څخه د ۲۰۰۳ ز کال د ډسمبر میاشتې تر پایه په افغاني پوهنتونونو کې د محصلینو شمېر له ۳۱،۲۰۳ څخه ۵۲۴، ۱۲۳ ته زیات شوی. پر دې اساس، پوهنتونونو ته د ازموینې (کانکور) ورکوونکو زده کوونکو شمېر هر کال په لسګونو زره زیاتېږي (۱).

د لوړو زده کړو وزارت او ۳۴ دولتي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې نورو محصلینو ته په فضا برابرولو کې ناچاره دي، خو دوی په ګډه سره هڅه کوي، چې د ستونزو یوه اوږده لړۍ هواره کړي. دا اصلاحات په ډېرو ولایتونو کې د لوړو زده کړو لپاره نامناسبې زېربناوې، د کیفیت تضمین، د نا تمامې درسي برنامې جوړونه، د استادانو ظرفیت جوړونه، په پوهنتونونو کې زده کړو ته د ښځو لاسرسی، پوهنتونونو ته د ازموینې (کانکور) له درغلیو ډک سیستم د بیا منظمولو ستونزې او د پوهنتونونو علمي او مالي خپلواکي په بر کې نیسي.

ښایي دا د حیرانتیا خبره نه وي، چې له دې لیست څخه ځینې موضوعګانې لرې شوې، هېرې شوې او یا هم د راتلونکي لپاره ځنډول شوې دي، چې له

---

Monitoring Report کې لوستلی شئ.

۱. تقاضا په چټکۍ سره پورته ځي. د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۵ کلونو تر منځ به د ښوونځیو د فارغینو شمېر درې برابره شي. په ۲۰۱۱ کې د ۰۰۰، ۱۱۷ په شاوخوا کې افغان ځوانانو د کانکور په ازموینه کې ګډون درلود. د لوړو زده کړو وزارت د یو ویاند په وینا په ۲۰۱۳ کې دا شمېره ۰۰۰، ۱۷۵ وه، په ۲۰۱۴ کې ۰۰۰، ۲۵۰ افغان ځوانانو په کانکور کې ګډون کړی وو. لکه څرنګه چې د لوړو زده کړو وزارت یو ویاند AAN ته وویل، په ۲۰۱۵ کال کې به تر ۰۰۰، ۳۰۰ پورې زده کوونکي په کانکور کې ګډون وکړي.

هغـې ډلـې څخـه د نويـو او د لاسرسـي وړ درسـي مـوادو چمتـووالی يـوه موضوع ده.
د کتابونو تلاش ډېر وخت بې پلانه، په کمه اندازه، د مرستو په بڼه او يـا لـه بهرنيو پوهنځيو سره د شراکت په ډول پاتې دی. که څه هم په ځينو حالاتو دا هڅې هيله بخښونکې دي، خو هېڅکله هم نشي کولای چې ټولـو پوهنځيو او مرکزي کتابتونونو تـه کـافي اندازه کتابونـه چمتـو کـړي. لـه همـدې کبلـه هغه څه چې محصلينو تـه تـدريس کېږي، ډېرځله بې پلانـه وي او د محلي استادانو په مهـارتونو او مـاخذونو پـورې اړه لـري، چې دا د زړو، تـر وخت تېرو او بې پلانه درسي موادو او سنی اسـتعمال نـور هـم کـړکېچن کـوي او د هغـه محصلينو پـه فـارغولو کې مرسته کـوي، چې پـه بېلابېلـو بې پلانـه ډولونو روزل شوي دي.
په ۲۰۰۷ کال کې نړيـوال بانـک «د هېـواد د لـوړو زده کـړو لنډيز» کې داسې بيانوي: «...درسي مواد او ښوونيز او روزنيز مېتودونه په پوره توګه له دوده لوېدلي دي... د اړينـو ښـوونيزو او روزنيـزو (پيـداګوژيک ) مېتودونـو د امکانـاتو (لکـه انټرنيـټ تـه لاسرسـی، درسـي کتابونـه، ژورنالونـه او ازمايښتي يا لابراتواري موادو ) د رانيولو لپاره د مرستو منابع په لاس کې نشته.» په اوه کلونو کې لا هم هغـه څـه چې بايـد د زده کـړې مرکزي برخـه وي (نـوي، معيـاري او د لاسرسـي او پوهېـدلو وړ درسـي مـواد ) د وزارت او پوهنتونونو او همدارنګه بسپنه ورکوونکو لـه خـوا داسې انګېـرل کېږي، چې ګـواکې وروسـته بـه يې پـه اړه اقـدام وشـي. پـه سيسـتم کې د لا نـورو مناسبو درسي کتابونو پر وړاندې اساسي خنډونه باقي پاتې دي.
***لومړی خنډ: بوديجه***
لومړی خنډ بوديجـه ده. د کابـل پوهنتـون اداري هيئـت (١) وايـي چې دوی د

---

د افغانسـتان د شـنونکو شـبکې غـړی Thomas Rutting پـه کابـل پوهنتـون کې د خپلو زده کـړو لـه وخت څخه يادونه کوي، چې په ۱۹۸۳ کال کې مرکزي کتابتون خورا ښه ؤ. ډېرې لويـديزې او ختيـزې

پوهنتون د مرکزي کتابتون لپاره یوه افغانۍ هم نه لري. همدا راز پوهنځي هم پیسې نه لري، چې کوچني کتابتونونه چمتو کړي. د نورو ولایتونو د پوهنتونونو کتابتونونه هم ورته حالت لري.

د وزارت له یوه مالي مدیر سره یوه بررسي ښیي چې ولې حالت دا ډول دی؟ د لوړو زده کړو لپاره اوسنۍ بودیجه په دریو برخو وېشل کېږي. تر ټولو لویه برخه د ۴۰۰، ۸۹۸، ۳۷ ملیونه ډالرو په شاوخوا کې (۰۰۰، ۰۰۰، ۲۰۰، ۲ افغانۍ) د معاشونو لپاره ځانګړې شوې ده. دوېمه برخه ۴۰۰، ۷۹۲، ۳۰ امریکایي ډالره (۰۰۰، ۵۰۰، ۷۸۷، ۱ افغانۍ) د لیلیو، محصلینو لپاره خوارکي موادو، د فرنیچر لوازمو، اوبو، برېښنا او نورو لګښتونه تشکیلوي. درېیمه برخه ۳۳۲، ۲۱۵ امریکایي ډالره (۰۰۰، ۵۰۰، ۱۲ افغانۍ) د کوچنیو خریداریو او ترمیمولو لپاره لګول کېږي.

ددې بودیجې د دوېمې برخې، په یوه فرعي کتګورۍ کې د کتابونو د چاپ لپاره یوه برخه ټاکل شوېده. دا د ۴۵۳، ۳۴ ډالرو په اندازه (۰۰۰، ۰۰۰، ۲ افغانۍ) یوه ډېره کوچنۍ برخه ده، چې د ټولو ۳۴ پوهنتونونو لپاره ځانګړې شوېده؛ په دې توګه د هر پوهنتون لپاره د کتابونو د اخستلو لپاره ۰۰۰، ۱ ډالره ټاکل شوي دي. د دې لپاره هېڅ قانون نشته، چې پوهنتونونه مکلف کړي، چې په رښتیا سره دغه بودیجه پر کتابونو ولګوي، دوی دا پیسې په نورو موادو (لکه قرطاسیه، تختې او داسې نورو) باندې مصرفوي او یا یې بېرته د لوېې پیمانې اړتیاوو ته راجع کوي. ښایي د برېښنا د بیلونو او یا د لیلیو لپاره به لګول کېږي.

له همدې امله د افغاني پوهنتونونو کتابتونونه زیاتره وخت پر اهداء شویو

---

اتحادیې او افغاني کتابونه یې درلودل. مختلفو هېوادونو د مختلفو پوهنځیو له کتابتونونو او همدا راز مرکزي کتابتون سره په تېرو څو لسیزو کې مرستې کولې. نوموړي وایي زیاتره مواد د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۶ کلونو تر منځ د مجاهدینو په دوران کې هغه مهال له منځه ولاړل، چې حزب وحدت له کتابتون څخه د نظامي اډې په توګه کار اخیسته او جنګیالیو به د ژمي په موسم کې د ګرمولو لپاره کتابونه سوځول او پاتې یې د طالبانو په واکمنۍ کې بېرته منظم شول.

مرستو تکیه کوي. په تېرو اوونیو کې یوه ورځ د کابل پوهنتون د مرکزي کتابتون د کتابدار مرستیال همایون نوي را رسېدلي کتابونه راوښودل. دا کتابونه د **۲۵۰** په شاوخوا کې و، چې د کتابدار د دفتر په منځ کې د د یوه مېز پر سر کوټ شوي و. همایون وویل: «دا کتابونه په کابل کې د سفارتونو، له بهر څخه د نېک اندو خلکو او یا موسساتو له خوا راوړل شوي او یا را استول شوي دي.» له دې جملې څخه ډېر کتابونو ته په ډاډ سره بې ګټې ویلی شو. لومړی کتاب چې را وښودل شو، د ( Awakening Your Child's Natural Genius) کتاب فارسي (ایراني) ژباړه وه، چې په کتابتون کې باید د اروا پوهنې په برخه کې کېښودل شي، خو دا به غوره وي، چې له ځان سره د مرستې په برخه کې د دویم لاس کتابونو په ګدام کې کېښودل شي.

دوېم کتاب د ټولنیز مارکېټ د اقتصاد په اړه یو قاموس و، چې په فرانسوي ژبه لیکل شوي و. فرانسوي ژبه په افغانستان کې په پراخه کچه نه کارول کېږي. درېیم کتاب چې د کتابونو له کوټ څخه را واخیستل شو، پر هغه د لګول شوې ټاپې څخه ښکارېده، چې د جرمني د Nuremberg-Erlangen د پوهنتون د کتابتون له خوا ترک شوی و. دا کتاب د سوداګرۍ د اصولو په اړه له یوې سلسلې څخه درېیم جلد و، چې د هغه نور جلدونه له جرمني څخه افغانستان ته د راوړلو پر مهال له لاسه وتلي وو. دا کتاب هم په جرمني ژبه لیکل شوی و.




پر داسې بې پلانه مرستو باور، کتابتونونه د محصلینو لپاره بې معنی ګرځوي؛ ځکه کتابونه د استادانو له لکچرونو او ازموینې سره، چې محصلین د سمستر په پای کې ورسره مخ کېږي، سمون نه لري.

د کتابدار مرستیال همایون دا حالت په لنډه توګه داسې بیانوي: «موږ په کافي اندازه نوي کتابونه نه لرو. موږ په کافي اندازه د نویو کتابونو کاپي نه لرو او همداراز موږ په کافي اندازه په دري او پښتو ژبو کتابونه نه لرو. زموږ محصلین په انګلیسي ژبه پوره بلدتیا نه لري، چې پر هغه کتابونو پوه شي، چې موږ یې په لاس کې لرو.»

تر دې غوره یا ډېر عام کتابتونونه، د کابل پوهنتون شاوخوا د فوتوکاپي دوکانونه دي. په دې دوکانونو کې استادان او محصلین د دوی په وینا چپټرونه لاسته راوړي، چې له کتابونو څخه ځینې برخې کاپي شوي دي او یا په لاس لیکل شوي لکچرنوټونه دي. له محصلینو نه تمه کېږي، له هغو څخه ګټه پورته کړي او یا یې هم حافظې ته وسپاري، د تدریس او زده کړې دا دودیزه یا پخوانۍ طریقه لا هم په پراخه کچه په افغاني پوهنتونونو کې کارول کېږي، خو د ځوانو استادانو په راتګ سره دا حالت ورو ورو د له منځه تلو په حال کې دی. د انجنیرۍ پوهنځي دروازې ته نږدې «حسیب فوتوکاپي» د بېلګې په توګه (دا چې په انځور کې لیدل کېږي) ۲۰۰-۷۰۰ چپټرونه لري. هره اونۍ په سلګونو محصلین راځي، چې د علم دا ډېرې کوچنۍ برخې وپېري چې هر پاڼه یې یوه یا دوه افغانۍ قیمت لري. زیاتره وخت دا هم مالومه نه وي چې له کومو کتابونو څخه اخستل شوي دي، چا دا نوټونه راټول کړي دي او د لومړي ځل لپاره څه وخت لیکل شوي دي؟

***دویم خنډ: د استادانو ترمنځ د څېړنې د کلتور او علاقې نه شتون***

د زده کړو په سیستم کې د نویو کتابونو پر وړاندې دویم خنډ هغه څه دي چې د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو معین عثمان بابري یې «د استادانو ترمنځ د څېړنې د کلتور نه شتون» بولي.

په دې برخه کې یو تخنیکي او بشري عامل وجود لري. عثمان بابري د افغانستان د لویو لویو استادانو او ساینسپوهانو په اړه وایي، چې ډېر یې د کمونستانو په رژیم کې له منځه ولاړل، پاتې یې د څو لسیزو لپاره له

علمي بدلونونو څخه لرې پاتې شول او زیاتره یې تر دې وروسته د تدریس لپوالتیا نه لري. بابري وايي: «دوی باید خپلې رشتې بیا ځلې ولولي او نوې تدریسي او درسي مواد چاپ کړي، خو داسې ښکاري چې دوی هېڅ حرکت نه لري.» نوموړي «**د پوهنځي او پوهنتون د پلان تهولنه**» مجلې لپاره په وروستۍ مقاله کې د داخلي جګړو او طالبانو په وخت کې د افغانستان پوهنتونونو ته کتنه کړې. دی په دې لیکنه کې د زیاتره استادانو او اداري هیئت د داخلي تمرکز لاملونه بیانوي، چې تر اوسه هم په دې سیستم کې محسوسېږي.

بابري لیکي:

***استادان، کارمندان او محصلین ځورول کېدل او ځینې وختونه نیول کېدل او د پوهنتونونو ساحې په ناوړه توګه ویجاړې شوې. علمي ژوند په شدت سره د بدلېدونکې سیاسي مشرۍ، د پیروۍ د غوښتنو او د فشار او تهدیدونو د وېرې تر اغېزې لاندې راغلی و. د سیاسي لاسوهنې، فکري تحمیل، د علاقې له منځه تللو او د تحقیق لپاره د سرمایې د کمښت له کبله تحقیق په مکمله توګه پای ته ورسید... نظام په نورو طریقو له ماتې سره مخ شوی و... ایډیالوژي، سمت پرستۍ او قوم پرستۍ په تصمیم نیونه کې ډېر مهم رول درلود او په دې توګه د جګړې اغېزې وغزېدې، لکه: د حملو وېره، ترهګریزې بمبارۍ، وژنه، زیاتېدونکي جنایتونه او د زیاتره استادانو او کارمندانو داخلي تمرکز. دا د هغه خلکو چې په جګړه کې یې هوساینه او د ژوندانه وسایل له لاسه ورکړي و، د ژوند حالت ؤ. دوی تر هر څه زیات د خپلو ځانونو ساتلو ته متوجه وو.***

***په دې وخت کې د مرکزي واکمنۍ پخواني دودونه، تر هر څه ډېر مهم شول، چې تېت پوړي مامورین به یې د پرېکړې له نیولو وېرول او لوړ پوړي چارواکي یې درانه او قدرتمند حاکمان کړل. سربېره پر دې عمده اختلافات موجود وو، لکه دیني اختلافات، په زده کړه کې د مفکورې ونډه او په***

*لوړو زده کړو د ځينو کړيو لخوا فشار چې غوښتل يې ښځې له پوهنتونونو څخه وباسي او په ټولنه کې د دوی ونډه کمه کړي. دې ټولو عواملو د تغيراتو لپاره هيله منديو ډېره محدوده کړه او د بدلون فرصت يې تقريباً له نشت سره برابر کړ.*

*د بوديجې له کمښت او د مرسته کوونکو له محدود ملاتړ سره (چې زياتره مرستې لومړنيو يا ثانوي زده کړو ته ورکړل شوې)، د برياليتوب پر وړاندې کوچنۍ مخالفتونه ډېر لوړ وو.*

بابري په انجنيري، ځمکپوهنه او فارمسي پوهنځيو کې لوی بدلونونه (ډېر لابراتوارونه او غوره استادان) ستايي، خو دا مني چې تر اوسه هم په کابل پوهنتون کې (چې په هېواد کې تر ټولو لوی او پرمختللی پوهنتون دی) داسې استادان شته، چې له لکچرنوټونو څخه تدريس کوي. دا نوټونه دوی څو لسيزې پخوا راټول کړي، په څو څو ځله کاپي شوي او په سختۍ سره لوستل کېدای شي.

په ورته وخت کې په دولتي پوهنتونونو کې د لوړې درجې استادانو شمېر کم دی، نو دا لامل هم د استادانو ظرفيت کمزوری کوي، چې څېړنه وکړي او نوي درسي منابع را ټول کړي.

په ۲۰۱۳ کال کې د ښوونې او روزنې د خپلواک عالي کميسيون(۱) يو پخواني مشر سيف صمدي ليکلي: «د لوړو زده کړو وزارت له هڅو سره سره، په تېرو څو کلونو کې د پوهنځيو د استادانو وړتياوو په کافي اندازه پراختيا نه ده کړې.»

دی همداراز وايي: «تېر کال د ۵۰۰ په شاوخوا کې نوي استادان وګمارل

۱. دا بنسټ په ۲۰۰۲ زکال کې تأسيس شو او د UNESCO په ملاتړ د افغان حکومت په لومړيتوب کې را منځته شو، چې په هېواد کې د زده کړو د سيستم د بيا رغونې او نوي کولو لپاره اړينې پاليسۍ او ستراتيژۍ ته پراختيا ورکړي. په غونډو کې افغان روزونکي، روڼ اندي، له نورو هېوادونو څخه د زده کړو متخصصين، نړيوال بسپنه ورکوونکي او د ملګرو ملتونو د نورو اجنسيو استازي سره يو ځای شول.

شول، چې يوه يې هم دوکتورا نه درلوده، بلکې زياترو يې يوازې ليسانس وو. سربېره پردې په ۲۰۱۲ زکال کې ډېر شمېر مشران استادان د تقاعد عمر ته ورسېدل. د استادانو ترفيع او مسلکي وړتيا به د لوړو زده کړو وزارت لپاره د لويې ننګونې په توګه دوام ولري.»

اوسنی شمېر ښيي چې په افغاني پوهنتونونو کې زياتره استادانو (۵۷٪) يوازې د ليسانس تر کچې زده کړې کړې دي، يوازې ۳۸ سلنه ماستري او ۵ سلنه استادان د دوکتورا درجې لري.

يو زيات تعداد تحقيقاتي يا د ماسترۍ او دوکتورا بورسونه (د بېلګې په توګه د USAID, GIZ، نړيوال بانک او UNESCO له خوا) چې په بهر کې د محصلينو او استادانو لپاره د لاسرسي وړ دي، کولای شي د نالايقه کارمندانو دوره او د نوي تحقيق کمښت پای ته ورسوي، نو په دې توګه به مناسب درسي مواد را منځته شي. د وزارت يو سلاکار احمد سمين، چې د لوړو زده کړو لپاره يې د نوي پنځه کلن ستراتيژيک پلان (له ۲۰۱۰-۲۰۱۴ به پلی شي) په جوړولو کې مرسته کړې، وايي: «دا خلک به په پنځه کلونو کې په افغانستان کې د تدريس بڼه بدله کړي.»

د بېلګې په ډول د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ته د المان له بوخم پوهنتون څخه، چې د جګړو نه وړاندې د کابل پوهنتون پخوانی همکار دی، اته تنه نوي استادان له ماسترۍ درجو سره راغلل.

که څه هم ښايي په بورسونو باندې ټول تللي کسان بېرته په علمي برخه کې د کارکولو لپاره را نه شي او همدارنګه د دماغونو پرواز يا Brain Drain (بهرنيو هېوادونو ته د پوهانو تلل او هلته مېشت کېدل) هم تر يوه حده دغه ځواک له منځه وړي.

AAN ته يوې سرچينې وويل، چې د Fulbright پروګرام په بورسونو باندې تللي کسان چې افغانستان ته د راګرځېدو پر ځای په متحده ايالاتو کې پناه شوي دي، په ۲۰۱۳ زکال کې له ۲۵ سلنې څخه اوس ۳۵ سلنې ته زيات شوي

دي. همدا راز په ۲۰۱۳ زکال کې د لوړو زده کړو په اړه د نړیوال بانک د یوې هر اړخیزې ارزونې لیکوالانو یادونه کړې: «زیاتره افغان محصلین، چې بهر ته سفر کوي، نه شي کولای بېرته راوګرځي، نو په بهرنیو هېوادونو کې دندې پیدا کوي.»

دا لیکوالان یوه ضرورت ته اشاره کوي، چې باید د تحصیلي رتبو یا دې ته ورته پروګرامونو یوه پراخه لړۍ، په هېواد کې دننه د لوړو زده کړو په موسساتو کې چمتو شي، خو دا ډېره لرې خبره ده. دا مهال افغانستان یوازې لږ شمېر د ماسترۍ پروګرامونه لري، (لکه په فزیک، کمپیوټر ساینس، ځمکپوهنه، کانونه، هایدرولوژي، د تېلو او ګازو موندنه او راویستنه او ښوونه او روزنه کې) او له دري او پښتو څانګو پرته د دوکتورا په برخه کې هېڅ پروګرام نه لري.

***درېیم خنډ: ژبه***

د محصلینو لپاره د نویو او غوره درسي کتابونو او نورو اړینو شویو (پر وخت) منابعو په مخ کې تر ټولو لوی خنډ ژبه ده. په دري او پښتو ژبو ډېر کم با کیفیته درسي مواد شته، په داسې حال کې چې د محصلینو او همدا راز استادانو د انګلیسي ژبې وړتیا له انګلیسي درسي موادو څخه د ګټې اخستنې لپاره کمزورې ده.

خو انګلیسي مواد د نړیوالې ټولنې په واسطه په پراخه کچه د رایجولو په حال کې دي؛ ځکه د دغه سکتور په بیا جوړونه کې زیاتره مرسته کوونکي نړیوال سلاکاران یا انګلیسي ژبې دي او یا په انګلیسي ژبه د کار کولو پوره بلدتیا لري(۱).

---

۱. سلاکارانو ځینې وختونه له ایران څخه د کتابونو د اخستلو لارښوونه کړېده؛ دا کتابونه په رښتیا هم د افغاني پوهنتونونو د کتابونو لویه برخه تشکیلوي، خو چې د ګاونډیو هېوادونو پر کتابونو باندې ژوره بې باوري شتون لري. د پوهنتونونو استادان شکایت کوي، چې د ټولنیزو علومو کتابونه فکري اغېزې لري او سیاسي بڼه ورکړل شوې ده او د ځینې نورو تخنیکي رشتو لکه اقتصاد لپاره د دې کتابونو ژبه ډېره متفاوته او مشکله ده.

زیاتره نوي علمي اثار Syllabi (تدریسي برنامې) لري، چې په دې وروستیو کې له نوي تعلیمي نصاب سره یو ځای را منځته شوې، نو له همدې کبله د انګلیسي اثارو مهمې برخې په بر کې نیسي.
دا برنامې د داسې سیستم لپاره، چې انګلیسي ورتیاوې په کې کمې وي او په داسې یو هېواد کې، چې د ۵۰ سلنه په شاوخوا کې ټول افغانان، حتی په دري او پښتو لوستل او لیکل نه شي کولای، ګټوري نه دي (د نویو ځوانانو – ۱۵ کلن یا زیات – د سواد کچه تر اوسه ۳۱,۴ سلنه او د ځوانانو – ۱۵ تر ۲۴ کاله – یوازې ۴۷ سلنه).
له تېر کال را په دېخوا، په ځینو پوهنځیو کې استادانو ته امر شوی، چې ټول مضمونونه په انګلیسي ژبه تدریس کړي. دا کار په ځانګړي توګه په هغه پوهنځیو کې پلي کېږي، چې وزارت او بسپنه ورکوونکو د زیاتو اړینو رشتو په حیث درک کړي دي، لکه انجینري، کمپیوټر ساینس، طب او عامه اداره او پالیسي. په ۲۰۰۵ ز کال کې د UNESCO لخوا د لوړو زده کړو وزارت لپاره په پرمختیایي پلان کې په انګلیسي ژبه د تدریس وړاندیز شوی و («د پوهنځیو پرمختګ او تحصیلي برنامه وده کوي، چې په ټاکل شویو پوهنتونونو او پوهنځیو کې انګلیسي د تدریس د ژبې په توګه وکاروي.»)
په دې برخه کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي، بیا بیا غوښتنې باید وستایل شي، چې غوښتل یې په انګلیسي ژبه تدریس وشي، چې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي. کرزي د بېلګې په ډول د هند، ایران او پاکستان یادونه وکړه، چې په طب او نورو مهمو برخو کې یې پر زده کړو د نړیوال تمرکز له لارې یې زیات پرمختګونه کړي دي.
خو د افغان فارغینو (چې په نړیوالو سیالیو کې ګډون کوي) راتلونکي ته په کتو سره، دېته پاملرنه نه ده شوې چې افغان محصلین تر اوسه دې حالت ته نه دي رسېدلي او ښایي تر لسو نورو کلونو پورې هم و نه رسېږي؛ ځکه

په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې تدریس تر اوسه نیمګړی دی او داسې زده کوونکي فارغوي، چې یوازې کولای شي په انګلیسي ووایي، نوم یې څه دی او د کوم ځای دي. له ټولو هغو محصلینو څخه، چې په کابل پوهنتون کې ددغه څېړنې پر مهال ورسره خبرې شوي، نیمایي یې نه شوای کولی، چې په انګلیسي ژبه ساده خبرې اترې وکړي.

د معلوماتي ټیکنالوژۍ د شپږم سمستر یو تن محصل رحیم AAN ته وویل، چې د دوی استادان هېڅکله په انګلیسي تدریس نه کوي؛ ځکه دوی غواړي، چې موږ یې په درس پوه شو. نوموړي وایي: «پوهنځي ته دړې برخې محصلین له ولایاتو څخه راځي او په انګلیسي خبرې نه شي کولای، زیاتره یې ډراپ (له پوهنتون څخه ایستل) کېږي؛ ځکه استادان په ټولګي کې په دري خبرې کوي، خو درسي مواد یې زیاتره وخت په انګلیسي وي او محصلین نه شي کولای له هغو څخه ګټه پورته کړي.»

***نوی تعلیمي نصاب، نوي درسي پروګرامونه - لا هم کتابونه نشته***

په سیستم کې دننه چیلنجونه (ننګونې) او د مسوول اداري هیئت کمزوري په چټکۍ سره نه حل کېږي، خو ددې لپاره یوه مرحله شتون لري، چې د وزارت مرستیال پر هغه د ټینګار لېوال دی. په تېرو دریو کلونو کې وزارت د کابل پوهنتون په زیاتو پوهنځیو فشار راووړ، چې د نورو پوهنتونونو د لارښود په حیث د څو لسیزو پر پخواني تعلیمي نصاب بیا کتنه وکړي. دا موضوع د اوسني پنځه کلن ستراتیژیک پلان په تړون کې تر ټولو زیات ټینګار شوی جزء. ۵۲ پوهنځیو دا کار سر ته رسولی دی، چې دا شمېره د ټول هېواد د پوهنځیو ۳۵ سلنه تشکیلوي. نوی تعلیمي نصاب د علمي آثارو فهرست یا تدریسي برنامه په بر کې نیسي، اما هغه پوهنځي چې نوی تعلیمي نصاب او تدریسي برنامه لري، هم په قطعي توګه یې نه دي اجراء کړي. استادان شکایت کوي، چې دا برنامې ډېرې پېچلې دي او دوی اړین درسي مواد، کتابونه او مرستندویه وسایل نه لري چې لومړی

يې دوی زده کړي او بيا يې محصلينو ته تدريس کړي.
د کابل پوهنتون د رياضياتو ديپارتمنت استاد انور غوري وايي، چې د تېر کال راهيسې د دوی ديپارتمنت په نظري ډول سره نوی تعليمي نصاب تدريسوي، خو په حقيقت کې استادان نه غواړي، چې مخکيني درسي مواد او موضوعات بدل شي؛ ځکه نوي مواد، چې د نصاب په درسي پروګرام کې يې سپارښتنه شوې، د دوی لپاره نا اشنا دي.
د اقتصاد پوهنځي رييس سيد محمد ټينګار وايي، چې پوهنځی يې لږ تر لږه د نصاب د هر نوي کتاب يوه نمونه لري، خو دا کتابونه د استادانو په دفترونو کې د قلف او کيلۍ تر شا خوندي دي، چې دغه ارزښتناک کتابونه د محصلينو له خوا د کاپي کولو لپاره د ورلو پرمهال له خرابېدو څخه وساتل شي. (همدا راز لسګونه کلونه کېږي، چې د پوهنتون له کتابتونونو څخه د غلا شويو کتابونو لپاره ګرم بازار موجود دی. ) له همدې امله علم يوازې تر استادانو محدود شوی دی او محصلين تحقيق ته نه هڅول کېږي.
په ژورنالېزم پوهنځي کې هم استادان په الماريو کې د نويو کتابونو يوه يا دوه کاپي ګانې لري، چې د دوی په وينا په خپلو پيسو يې را نيولي دي. يوه استاد AAN ته وويل: «د زياتو کتابونو د اخيستلو لپاره پيسې نشته، نو هغه څه چې موږ يې لرو بايد ويې ساتو.» له بلې خوا ، حتی که چېرې کتابونه په بازار کې موندل کېږي، محصلين يې د اخستلو لپاره ډېرې پيسې نه لري په داسې حال کې چې د ځانګړو موضوعاتو په اړه نړېوال کتابونه په بازار کې نه شته (دا يو بل دليل دی، چې بايد په پوهنتونونو کې له کتابونو څخه پر ډکو کتابتونونو ټينګار وشي، چې هر څوک وکولای شي له لګښت پرته درسي کتابونو او نورو ماخذونو ته لاسرسی ولري. ) له دې کبله هغه کتابونه، چې په ژورنالېزم پوهنځي کې يې استادان محصلينو ته تدريسوي، بايد چېتر په چېتر يې دوی ته کاپي کړي، نو محصلين نه شي کولای، له هغه څه زيات ولولي، چې او سمهال ورته تدريسېږي. همدا حالت په نورو پوهنځيو کې

هم جریان لري.
د AAN یو تن مېلمه لیکوال نعمت ابراهیمي، د شخصي لوړو زده کړو مؤسساتو او دولتي پوهنتونونو د پرتلې په اړه په یوه لیکنه کې د ۲۰۱۳ زکال د فارغ التحصیل یادونه کوي، چې ویل یې د تحصیل په څلور کلن پروګرام کې له دوی څخه د یوه کتاب د پوره لوستلو غوښتنه هم نه ده شوې. حتی په اداره او عامه پالیسي پوهنځي کې هم حالت ښه نه دی. دا چې دغه پوهنځی د اړینو رشتو له ډلې څخه دی او د دې پوهنځي سرپرست رییس عبداللطیف رحماني یو تکړه ځوان دی، نو د نړیوالې ټولنې د خوښې وړ پوهنځی دی، له دې کبله د نورو پوهنځیو په پرتله زیاته پاملرنه ورته کېږي او د بسپنه ورکوونکو او بهرنیو پوهنتونونو له خوا دوه اړخیزې همکارۍ ورسره کېږي، خو د دې پوهنځي د رییس په وینا، دا پوهنځی تر اوسه یوازې ۲۰ سلنه کتابونه په انګلیسي ژبه لري، ځینې په دري او په پښتو ژبه د کتابونو شمېر کابو په نشت حساب دی.
دی وایي: «د محصلینو لپاره په دري او پښتو ژبو د نویو درسي کتابونو چمتو کول د لومړیتوب حق لري.»



*د کابل پوهنتون ترڅنګ د فوتوکاپي دوکان*

### *آیا د لوړو زده کړو له لا ډېر ملاتړ سره به د کتابونو شمېر زیات شي؟*

د خوښۍ خبره داده، چې بسپنه ورکوونکي د لوړو زده کړو په لـه پامـه غورځول شوې برخه کې خپلې هڅې زیاتوي، (په داسې حال کې، چې افغان دولت تر ننه پورې د لوړو زده کړو په برخه کې د دولتي لګښتونو لـه ۲ سلنې څخه کمه پانګه اچونه کوي او پر لومړنیو او ثانوي زده کړو لـه ۱۳ سلنې زیاته پانګه اچونه کوي).

کله چې د ۲۰۰۹ زکال په ډسمبر میاشت کې د لوړو زده کړو وزارت او لـه UNESCO، نړیوال بانک او USAID څخه سلاکارانو د لوړو زده کړو لومړنی ملي ستراتیژیک پلان معرفي کاوه، دوی د هغه د پلي کولو لپاره د ۲۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو په شاوخوا کې د بودیجې وړاندوینه کړې وه.

د ۲۰۱۳ زکال تر پایه پورې یوازې ۲۰ سلنه (۱۱۱ میلیونه ډالره) لاسته راغلي وو «ددې لپاره، چې دا پیسې له کومه لاسته راغلې او په څه باندې ولګول شوې [۱] وګورئ». لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، دا ځکه چې بسپنه ورکوونکو (Donors) پر لومړنیو او ثانوي زده کړو پانګه اچونې ته ترجیح

---

۱. «د افغانستان لوړې زده کړې: د کیفیت، لیاقت، او بدلون لپاره مبارزه» تر عنوان لاندې په یوه مقاله کې د Society for College and University Planning مجلې لپاره عثمان بابري او د لوړو زده کړو لپاره د USAID پخواني سلاکار Fred Hayward څرګندوي، چې حتی د لومړي ستراتیژیک پلان تر پیله پورې بسپنه ورکوونکو د لوړو زده کړو په برخه کې پانګه اچونې سره علاقمندي نه درلوده. دوی د ۲۰۱۳ زکال تر نیمایي پورې نړیواله بودیجه په تفصیل سره داسې بیانوي: ۲۰ میلیونه امریکایي ډالره مقدماتي بودیجه د نړیوال بانک له لوري، ۱۳میلیونه امریکایي ډالره د ناټو له خوا له انټرنیټ سره د پوهنتونونو د نښلولو لپاره، ۸ میلیونه امریکایي ډالره د USAID لخوا په کابل پوهنتون کې د تعمیراتي کارونو لپاره، ۲۷ میلیونه امریکایي ډالره د ARTF په مرسته، او ۲,۱ میلیونه امریکایي ډالره د ولسمشر د دفتر له لوري د پوهنځیو د پرمختګ لپاره.

دا یوه بله پوښتنه ده، چې آیا کېدای شي زیاته بودیجه په مناسبه او دوامداره توګه د داسې وزارت له لوري په مصرف رسېدلې وي، چې تر اوسه هم د لایقو مدیرانو له نه شتون سره لاس او ګرېوان دی، او د نسبتاً خراب مدیریت لرونکو پوهنتونونو لخوا، چې فساد پکې په پراخه کچه شتون لري، په لګښت رسېدلي وي.

ورکوله او افغان حکومت هم د لوړو زده کړو پر نسبت لومړنیو زده کړو ته لومړیتوب ورکاوه او همدارنګه د وزارت په مقام کې د زیاتو پیسو په اداره کولو کې بې باوري هم ددې سبب شوه.

له دې سره سره اوس نړیوال بانک (١) او USAID ، چې په دې برخه کې تر ټولو لوی بسپنه ورکوونکي دي، د راتلونکو څو کلونو لپاره خپلې پروژې پیلوي. نړیوال بانک (چې په تېرو اتو کلونو کې یې پر لوړو زده کړو ٢٠ میلیونه ډالره لګولي دي) د راتلونکو پنځو کلونو لپاره ١٠٠ میلیونه ډالره چمتو کوي، چې د بسپنه ورکوونکو د ټولنې لخوا ARTF ته ورکړل شوي دي. د دغه پروژې پیسې به د دولت د راتلونکي پنځه کلن ستراتیژیک پلان (٢٠١٥-٢٠١٩ز) د ځینو برخو د پلي کولو لپاره په کار واچول شي؛ د ځانګړو موخو د لاسته راوړلو سره به په تدریجي توګه په وزارت او پوهنتونونو هم ولګول شي.

له بل پلوه USAID د پوهنتونونو ملاتړ او د بشري ځواک انکشاف (USWDP) پر نوي پنځه کلن پروګرام ٩٢ میلیونه ډالره پانګه اچونه کوي.

پوښتنه دا ده، چې آیا دغه زیاتېدونکی مالي ملاتړ به د استادانو او محصلینو لپاره د نویو او لاسرسي وړ درسي او تدریسي منابعو په کمښت کومه اغېزه وکړي، که څنګه؟

داسې برېښي، چې ځواب یې «نه» دی.

د USAID کارکوونکو د ٢٠١٤ ز په سپتمبر کې د مرکو په ترڅ کې منلې، چې د دوی نوې پروژه به په درسي او تدریسي موادو تمرکز ونه کړي، بلکې

---

١. په ٢٠٠٥ ز کال کې UNESCO د لوړو زده کړو وزارت په انکشافي پلان کې له وړاندې نه خبرداری ورکړی، چې په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د زده کړو له چټک زیاتېدونکي عمومي ملي پروګرام سره به، د لوړو زده کړو تقاضا ډېر ژر موجوده فضا ډکه کړي. په ٢٠١٣ ز کال کې Urs Schrade او Michael Daxner د افغانستان د لوړو زده کړو په اړه په یوه مقاله کې لیکلي: «لا تر اوسه (٢٠١٢ کاله پورې) افغان حکومت لوړو زده کړو ته په لومړیتوبونو کې ځای نه دی ورکړی.» نوموړي لیکوالان همدارنګه د ٢٠٠٥ او ٢٠٠٩ ز کلونو تر منځ اصلاحاتو ته د نه پاملرنې یادونه کوي، چې په وزارت کې د قاطع رهبریت د نه شتون له کبله وه.

دوی په پام کې لري، چې ددې پر ځای به د رهبریت او اداري برنامو په ملاتړ تمرکز کوي، چې دا به له دوی سره مرسته وکړي، تر څو په افغاني پوهنتونونو کې د اعتماد سیستم رامنځته کړي، د کیفیت تضمین ته وده ورکړي او مالي سیستمونه لاسته راوړي، چې پوهنتونونه پر خپل ځان بسیا شي.

له بلې خوا ، نړیوال بانک د دوی په پنځه کلنه پروژه او هم د لوړو زده کړو په نوي ستراتیژیک پلان کې درسي او تدریسي منابع په پام کې لري، چې دا د لوړو زده کړو په پرمختګ کې مرسته کوي؛ اما دا هر څه له غیر مستقیمې لارې کوي. داسې ښکاري چې بسپنه ورکوونکي او وزارت هم له ځو مرحلو څخه صرف نظر کوي.

د هغه کارپوهانو پر وینا چې پر دې دواړو (پنځه کلنه پروژه او د لوړو زده کړو ستراتیژیک پلان) باندې کار کوي، په راتلونکي پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې به د مجازي زده کړو ډېر مواد هم شامل وي، چې نړیوال ډیجیټلي کتابتونونه او انلاین زده کړې په بر کې نیسي. بهرنیو پوهنتونونو ته به بلنه ورکړل شي، چې په افغانستان کې ځانګې پرانیزي، تمه ده افغان محصلین به په هغه لکچرونو کې برخه واخلي چې له واشنګټن او برلین څخه د استادانو لخوا برابرېږي او د هغوی د پوهنتونونو لخوا له انلاین درسي موادو څخه به ګټه واخلي، خو په انګلیسي ژبه ډیجیټلي او نړیوال راتلونکی تدریس او زده کړې مناسب ګام نه برېښي؛ ځکه د محصلینو او استادانو ستونزې په پام کې نه دي نیول شوي، چې دوی نه شي کولای د نوي تعلیمي نصاب کتابونه ولولي او پرې پوه شي (اخیستل یې ببله خبره ده).

الکترونیکي زده کړه له الکترونیکي منابعو سره هغه وخت د پلي کېدو وړ ده، چې د محصلینو او استادانو د انګلیسي ژبې وړتیاوې، مناسب

انټرنيټ او همدارنګه اړين وسايل[1] چمتو وي؛ په داسې حال کې چې له يادو اسانتياوو څخه يوه هم نه شته. د محصلينو او استادانو ترمنځ د انګليسي ژبې د وړتياوو د کمښت په اړه د پوښتنې په ځواب کې وزارت او بسپنه وركوونكو ډاډ وركړ، چې انګليسي ژبه به په نوي پنځه کلن پلان کې يوه ستراتيژيکه رشته وي. که څه هم دا موضوع د تېر ستراتيژيک پلان يوه برخه وه، چې په کې ويل شوي وو: «پوهنتونونه هڅول کېږي، چې محصلينو ته فرصتونه برابر کړي، چې په لومړي کال کې انګليسي ولولي او که چېرې له وړاندې نه ورسره بلدتيا نه لري، نو د زده کړو په جريان کې دې هم د انګليسي ژبې زده کړې ته دوام ورکړي.»

کله چې د ۲۰۱۴ ز کال د جنوري په مياشت کې د پلان د اجراء د څرنګوالي په اړه د USAID د يوې داخلي ارزونې په ترڅ کې د ټاکل شوي هدف (د زيات شمېر محصلينو لپاره د انګليسي ژبې د تدريس پلان جوړونې) ارزونه وشوه، دا ترې جوته شوه چې د دې کار لپاره بوديجه په لاس کې نشته. په دې برخه کې يوازې موجوده بنسټيز پروګرامونه فعاليت کوي.

معلوماتي ټکنالوژي، چې ډيجيټلي منابعو ته د لاسرسي اسانتياوې برابروي، هم ورته حالت لري. د وسايلو مالي لګښت به څوک ورکوي؟

بسپنه وركوونكو په تېر کې د پام وړ بوديجه د لوړو زده کړو د وسايلو

---

۱. سره له دې، چې د وزارت د چارواکو په وينا په وزارت او پوهنتونونو کې ټول دفترونه له انټرنيټ سره نښلول شوي دي، خو په کابل پوهنتون کې چې د هېواد په سطحه تر ټولو لوی پوهنتون دی، حقيقت بل ډول ښکاري. لکه څرنګه چې د استادانو له دفترونو مو ليدنه وکړه په زياترو کې هېڅ لپټاپ يا کمپيوټر نه تر سترګو کېږي. د يوې تازه ارزونې له مخې په ټول هېواد کې په منځنۍ ډول د ۲۹ محصلينو پر سر يو کمپيوټر رسېږي. زياتره يې په هغه پوهنتونونو کې دي، چې ښه يې د ښارونو په مرکزونو کې دي د ټيټ کيفيت لرونکي يې د لرو پرتو ولايتونو په پوهنتونونو کې دي. لکه څرنګه چې د څېړنې له پرمختللو وسايلو څخه د ګټه اخستنې لپاره سرعت اړين دی، او سمهال په ACKU (Afghanistan Center of Kabul University) کې، چې ښايي په کابل پوهنتون کې تر ټولو غوره انټرنيټ وي، يو PDF فايل ساعتونه وخت نيسي، چې له Arizona پوهنتون سره له نښلول شوي سرور (Server) څخه ډاونلوډ شي. دا مرکز اوس پر خپل همکار ټينګار کوي، چې د فايلونو سايز کم کړي، تر څو د افغان محصلينو او يا لږ تر لږه په کابل کې د محصلينو لپاره د کار اخيستنې وړ وي.

(کمپیوټرونه، فرنیچر او تعمیرات) پر بیا رغونه لګولې ده، اما او سمهال دوی هم ددې کار لپاره دوه زړې دي، چې د هارډویر په برخه کې پانګه اچونه وکړي، په داسې حال کې چې ډېر زیات وسایل خراب شوي دي او هېڅوک نه توانېږي، چې ترمیم او لګښت یې پر غاړه واخلي.
نړیوال بانک هم نشي کولای چې د ستراتیژیک پلان ټولې برخې تمویل کړي. د دې برخې یوه کارپوه وویل: «که موږ رښتیني واوسو، یوازې د یو پوهنځي (له کتابتون، لابراتوار او نورو ورته شیانو سره) بشپړه رغونه لږ تر لږه ۲۰ میلیونه ډالره لګښت لري.»
یو تن چې د پلان مسوده یې لیدلې وه AAN ته وویل چې ددې پروژې په سند کې د درسي او تدریسي سرچینو ځانګړې یادونه نه ده شوې.
نړیوال بانک دا پروژه په داسې توګه طرحه کړې، چې وزارت او پوهنتونونه په خپله خوښه کولای شي، چې په نوي پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې د اهدافو د پلي کولو لپاره د پروژې پیسې په څه ډول ولګوي. یوازې لویې لارښوونې ورکړل شوېدي، چې په هغه کې ۱۴ لویې موخې ټاکل شوېدي. له هغو سره نورې ټولې هغه موخې تشکیلېږي، چې وزارت او پوهنتونونه یې باید ترلاسه کړي تر څو د نورو پیسو په کار اچولو ته لاره هواره شي.
یو کس AAN ته وویل: «که وزارت یا پوهنتونونه د کتابونو اخستل، ژباړل یا چاپول د ځانګړي هدف د لاسته راوړلو لپاره اړین بولي، نو دوی ددې کار په کولو کې آزاد دي»، خو له ډېرو ستونزو سره چې مخکې یې یادونه وشوه، دا د پوښتنې وړ موضوع ده چې آیا وزارت یا د پوهنتونونو چارواکي به په هغه څه تمرکز غوره وګڼي، چې په تېرو څو کلونو کې ورته پاملرنه نه ده شوې که څنګه؟

**په راتلونکي کې د حل لارې:**

د افغانستان راتلونکې په هغه بشري ځواک پورې تړلې، چې اوس د جوړېدو په حال کې دی. ټول افغان ځوانان د کار لپاره د پوهنتون درجې ته

اړتیا نه لري، خو هغوی چې اوس پوهنتونونو ته ځي، باید په اړوندو ځانګو کې د متخصصینو په توګه فارغ شي، اما اوسنی حالت داسې نه دی؛ ځکه د ډېرو مضمونونو لپاره په هغو ژبو چې محصلین پرې پوهېږي کم شمېر نوي کتابونه شته. په تېرو کلونو کې د لوړو زده کړو د اصلاحاتو هڅو تناقض منځته راوړی دی، یعنې هغه څه چې په نویو ساختمانونو او نویو پوهنځیو کې تدریسېږي لا هم زاړه دي.

په تېر کې د دري او پښتو درسي کتابونو لپاره بودیجه نه ده تاکل شوې او داسې هم نه ښکاري، چې په راتلونکي کې به دې کار ته لومړیتوب ورکړل شي، په داسې حال کې چې د زده کړو چارواکي او بسپنه ورکوونکي غواړي الکترونیکي زده کړې د مجازي نړۍ او ډیجیټلي منابعو په اړه ګام پورته کړي. اما د دغه لوړ خیال په حقیقت بدلول به له دې زیات وخت ونیسي، چې د محصلینو څو راتلونکې دورې یې لري.

دا به په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې د تدریس د طریقې یوې منظمې بیا رغونې ته اړتیا ولري، (د لا زیاتو ښوونکو روزل، او کلیوالي سیمو ته د هغوی لېږل) ، تر څو داسې زده کوونکي وروزي، چې وکولای شي د انګلیسي ژبې له ډیجیټلي سرچینو څخه ګټه واخلي او همدارنګه د دې کار لپاره د هارډویر او استادانو د روزنې په برخه کې خورا لویې پانګه اچونې ته اړتیا ده. ښایي دا هر څه په چټکۍ سره رامنځته نه شي، د دې هڅو له ډلې څخه ځینې یې ښایي هېڅ تر سره نه شي؛ ځکه د راتلونکو پنځه کلونو لپاره بودیجه کافي نه ده، تر څو په پلان کې ټولو تفصیل شویو طرحو ته پاملرنه وشي.

دا ټول موضوعات د سیستم پرمختګ له ستونزو سره مخ کوي، چې ښایي په لرې راتلونکي کې یا فعالیت وکړي او یا یې هم ونکړي، په داسې حال کې، چې نننۍ اړتیاوې له پامه غورځول شوې دي.

له نوي تعلیمي نصاب او درسي برنامې سره کېدای شي دغه تشه په

اسانۍ، چټکۍ او ارزانه توګه له داسې لارې ډکه شي، چې په ټول هېواد کې درسي مواد معياري شي او داسې کتابتونونه چمتو شي چې د ټولو استادانو او محصلينو لپاره کافي شمېر کتابونه ولري، په دې ډول به د چپترونو د تدريس وروسته پاتې طريقه له منځه ولاړه شي.
دا بايد په راتلونکي پنځه کلن ستراتيژيک پلان کې يو اجباري شرط وګرځول شي، چې ټول پوهنځي دې د خپلو بوديجو يوه برخه د محصلينو لپاره د هغه منابعو په چمتو کولو ولګوي، چې په نوي تعليمي نصاب او درسي برنامه کې يې سپارښتنه شوېده او ددې تر څنګ دې يې له انګليسي څخه دري او پښتو ته د کتابونو پر ژباړلو هم ولګوي.
افغان حکومت بايد په کلنۍ بوديجه کې لږ تر لږه د ضروري اندازه پيسو په زياتولو سره په دې کار کې مرسته وکړي. ښايي دا هم د فکر وړ وي چې د کابل د پوهنځيو اوسنۍ درسي برنامه په نورو ولايتونو کې د هغو پوهنځيو لپاره معيار وګرځول شي، چې تر اوسه يې پر تعليمي نصاب بيا کتنه نه ده کړې، نو په دې توګه به د زړو او له وخته تېرو درسي موادو د کارولو مخنيوی وشي.
مخکيني بسپنه ورکوونکي او حکومتي راپورونو لږ تر لږه د کتابونو د مجموعو او درسي او تدريسي موادو ارزښت منلی دی (د بېلګې په توګه، د نړيوال بانک د راپور په ۳۲/۳۱ پاڼه کې راغلي دي: «***د هېواد شموله پلان تأسيس، چې په هغې کې اداري هيئت او محصلين کولای شي هر ډول الکترونيکي درسي موادو ته لاسرسی ولری، بايد د کتابونو او ژورنالونو په هارډ کاپي ګانو باندې له مناسبې پانګه اچونې سره موازي واوسي؛ ځکه دا کار به له هغې يو څه وخت وړاندې وي چې علمي ټولنه ـ په ځانګړي ډول پخواني پوهان ـ وغواړي په الکترونيکي کتابونو او منابعو کار وکړي***»).
دا سپارښتنې تر اوسه نه دي پلې شوي، خو په کابل پوهنتون کې له

استادانو سره د خبرو اترو پر مهال د دوی له نظریاتو څرګندېږي، چې د ملاتړ وړ دي.
د یحیی وردګ نوښت یې یوه بېلګه ده چې د ملي کتابونو د په کار اچولو غوښتنه لري. نوموړی په تېرو څو کلونو کې یوازینی شخص دی، چې د څو مضمونونو په معیاري درسي کتابونو سره لړ تر لړه د لویو پوهنتونونو د سمبالولو منظمه هڅه کوي، یعنې دا کتابونه په هغو ژبو لیکل شوي چې محصلین ورباندې پوهېږي.
وردک د لوړو زده کړو وزارت سلاکار دی، که څه هم په لومړیو کې یې هغه دنده په ښکاره توګه نه وه ټاکل شوې چې د آلمان د حکومت لخوا یې پیسې ورکول کېدې، نو ده پرېکړه وکړه چې د پوهنتونونو لپاره کار وکړي، تر څو درسي او تدریسي مواد تر لاسه کړي او هغوی ته پراختیا ورکړي، په داسې حال کې چې نه د بسپنه ورکوونکو لخوا او نه هم د وزارت لخوا بودیجه ورکړل شوې وه.
یحیی وردک له استادانو او وزارت سره په ګډه د افغان استادانو په دري او پښتو لیکل شوي کتابونه او یو شمېر نړیوال معیاري کتابونه وټاکل. له هغه وروسته، د نوموړي پر وینا ، د پیسو د غوښتلو په موخه یې سفرونه وکړل (Begging Tours)، چې له نادولتي موسسو او بهرنیو علمي ټولنو څخه د دغه کتابونو د ژباړې او چاپ لګښتونه لاسته راوړي. نوموړي په دې توګه ۱۵۲ نوي درسي کتابونه ګټه اخستنې ته سپارلي دي، چې زیاتره یې طبي دي (ښاغلي وردک طب لوستلی دی).
د یادو کتابونو له ډلې څخه، ځینې یې په یوه خوا انګلیسي او په بله خوا دري یا پښتو متن لري، چې دغه کار پر بله ژبه د لیکل شویو مضمونونو د پوهېدلو یوه ګټوره لاره ده. وردک د دغه منابعو د چمتو کولو له کبله د ولایتونو د پوهنتونونو له رییسانو څخه مننلیکونه هم تر لاسه کړي دي.
همدا راز نوموړي پخپل کاري دفتر کې زیات شمېر لیکل شوې پاڼې او

نړیوال درسي کتابونه لري، چې پوهنځیو یې د ژباړې او چاپ غوښتنه کړې ده. سره له دې چې نوموړي د دې کتابونو د چاپ لپاره تر اوسه پیسې لاسته نه دي راوړې، په هر حال، دا به له سمندر څخه یو څاڅکی وي.

یحیی وردګ وايي: «موږ د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو یو ملي پروګرام ته اړتیا لرو.» دی پر دې نظر دی، چې د استادانو د وروستیو او با کیفیته تصحیح شویو کتابونو تر څنګ باید د هر مضمون لپاره لږ تر لږه پنځه نړیوال معیاري کتابونه وټاکل شي او دري او پښتو ته وژباړل شي، چې له استادانو سره د دوی د کتابونو په اپډېټ کولو کې مرسته وکړي او بیا له هغه منابعو څخه په ګټه اخستنې سره د افغان محصلینو له وړتیاوو او اړتیاوو سره سم خپل کتابونه چاپ کړي.

وردک وايي چې یوازې د نړیوالو او انګلیسي منابعو چمتو کول، له استادانو سره د دوی د رشتو په بیا لوستلو او د تدریس په اصلاح کولو کې مرسته نه کوي. دوی به په هر حال کې یوازې هغه کتابونه کاروي، چې پرې پوهېږي، په تیارولو کې یې ونډه اخیستې او یا یې په خپله لیکلي دي.

د وردک په وینا: د خپلو کتابونو ملکیت مهم دی، په دې معنی چې استادان به د نویو درسي کتابونو کارول خوښ کړي او د پخوانیو اهداء شویو کتابونو په شان به یې له پامه و نه غورځوي.(١)

د عامه پالیسۍ او ادارې پوهنځي د رئیس عبداللطیف رحماني نوښت هم

---

١. د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي لپاره د جرمني د بوخم پوهنتون لخوا له ٣٠ څخه زیاتو کتابونو ژباړل یې یوه بېلګه ده. ددې پوهنځي رییس ټینګار وايي: چې د دوی استادان دا کتابونه ځکه نه کاروي، چې په ټیټ کیفیت ژباړل شوي دي. دی وايي: «تاسو داسې کسانو ته اړتیا لرئ، چې په الماني او پښتو/دري ژبو باندې رواني خبرې وکولای شي، چې په موضوع پوه او ځانګړي کتابونه وژباړي، خو دا کار نه دی تر سره شوی.» ددې موضوع یو څارونکي AAN ته وویل داسې ښکاري، چې د دې پروسې د ترک کولو احساس هم شتون لري، له همدې امله استادان هم د داسې کتابونو له کارونې سره علاقه مندي نه لري، چې دوی یې پر محتویاتو نه پوهېږي او په تیارولو کې یې هم کومه ونډه نه وي اخیستې. اوسمهال دا کتابونه د پوهنځي په کتابتون کې اېښودل شوي او استادانو له پامه غورځولي دي، نو له همدې کبله محصلین هم ورته پاملرنه نه کوي.

د غور وړ دی. نوموړي له نورو پوهنځیو څخه هغه استادان راټول کړي، چې په ټول هېواد کې د دوی اړوند مضامین تدریسوي، تر څو په ګډه سره له نوي تدریسي برنامې څخه کتابونه وټاکي او په ډله ییزه توګه یې په داسې ډول وژباړي، چې نسبتاً تکړه همکاران به د ضعیفو هغو ملاتړ کوي.
د ده په وینا ، دا کار له استادانو سره له نویو معلوماتو څخه په خبرېدلو کې مرسته کوي او همدارنګه د تولید شویو کتابونو د ملکیت په برخه کې هم مرسته کوي.
نوموړی تر دې مهاله نه پوهېږي، چې د ټولو پوهنځیو د کتابتونونو لپاره د کافي شمېر کتابونو د چاپ پیسې به له کومه لاسته راشي، خو هیله څرګندوي، چې د ده طریقه به د تدریس له لوړ کیفیت سره نه یوازې په کابل، بلکې نورو ولایتونو کې هم مرسته وکړي او د کیفیت تیت پرک سطحه به منظمه کړي. له دې څخه څرګندېږي، چې دا کار د یو لاربنود په ډول په نورو پوهنځیو هم پلي کېدای شي.
**منبع** (۲۰ می ۲۰۱۶):
https://www.afghanistan-analysts.org/one-thousand-dollars-for-books-per-year-afghanistans-undersupplied-universities/



**په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کمښت:**

# محصلین تراوسه د درسونو د زده کړې لپاره زاړه په لاس لیکل شوي نوټونه کاروي

***افغانستان ټایمز***
***نېټه: د ۱۳۹۴ حمل ۱۰مه د ۲۰۱۵ مارچ ۳۰مه***

کابل: د افغانستان په پوهنتونونو کې محصلین د درسونو د زده کړې لپاره تراوسه زړې په لاس لیکل شوې پاڼې او نوټونه کاروي؛ ځکه د دوی لپاره په دولتي پوهنتونونو کې چاپ شوي درسي کتابونه د لاسرسي وړ نه دي.
استادان او محصلین په دې باور دي، چې د درسي کتابونو کمښت او د واحد درسي نصاب نه شتون، په پوهنتونونو کې درسي سیستم اغېزمن کړی دی.
له دې امله د مختلفو پوهنتونونو محصلین مختلف نصابونه تعقیبوي، په ځینو پوهنتونونو کې دوې، درې لسیزې پخوا زاړه په لاس لیکل شوي کتابونه محصلینو ته وروېشل شوي دي، چې په څو کلونو کې یو ځل هم نه دي اپډېټ شوي.
محصلین غوښتنه کوي، چې دغه په لاس لیکل شوې پاڼې اپډېټ، پرمختللي او د درسي کتابونو په شکل چاپ شي، چې د باکیفیته او لا غښتلي درسي سیستم په منځته راوړلو کې مرسته وکړي.
د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي یو تن محصل ملیار داسې وایي: «زیاتره استادان تر وخت تېر او زاړه چپټرونه او لکچر نوټونه تدریس کوي او دا د دې سبب شوی، چې محصلین په درسي سیستم کې له نویو بدلونونو او پرمختګونو څخه لرې و اوسي، محصلین له حکومت او

اړونده ادارو نه هیله لري، چې دغه زړو پهلاس لیکل شویو پاڼو ته د پای ټکی کېږدي او پر یو واحد او نوي کریکولم (نصاب) باندې کار وکړي، چې په افغاني پوهنتونونو کې د با کیفیته زده کړو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.»

د ننګرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي یو محصل وفامحمد وایي:

«دا ربښتیا ده، چې د هېواد په پوهنتونونو کې استادان زاړه او پهلاس لیکل شوي نوټونه د درسي موادو په توګه کاروي، له کلونو راهیسې درسي مواد نه دي نوي شوي، هغه موضوعات چې موږ یې په پوهنتونونو کې زده کوو، په کاري مارکېټ کې د ګټې اخیستنې، کارونې او عملي کولو وړ نه دي، یعنې درسي نصاب د کاري مارکېټ د اړتیاوو پر بنسټ نه دی جوړ شوی.»

نوموړي ټینګار وکړ، چې درسي نصاب باید د نننۍ نړۍ له اړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ سره سم جوړ شي.

ده زیاته کړه: «موږ د استادانو له زړو او پهلاس لیکل شویو پاڼو او نوټونو سره په ستونزه کې یو، که چېرې د دغه درسي موادو په بدل کې معیاري او نوي درسي کتابونه راوړل شي، دا به د استادانو، محصلینو او ټول درسي سیستم لپاره غوره وي، چې د کیفیت او ښه والي په لور حرکت وکړي، اړونده ادارې باید دا موضوع جدي ونیسي او دغه پهلاس لیکل شویو پاڼو پر ځای معیاري او نوي چاپ شوي درسي کتابونه راوړي، دا به د زده کړو کیفیت ته پرمختګ ورکړي او محصلینو ته به ورتیا ورکړي، چې هغه پوهه چې دوی یې په پوهنتونونو کې لاسته راوړي، د کار په عملي ډګر کې په ګټوره توګه وکاروي.»

نوموړي د خپلو خبرو په دوام کې وویل، چې په پوهنتونونو کې د ټولو په خوښه درسي نصاب نشته، نو له همدې امله هر پوهنتون او حتی هر استاد د محصلینو لپاره مختلف کریکولم او درسي مواد لري.

ده وویل: «د استادانو لپاره دا ډېر ستونزمن کار دی، چې خپل درسي مواد اپډېټ کړي، که چېرې ټولو استادانو ته یو کریکولم ورکړل شوی وای، بیا دوی کولای شو، چې پر هغه په ګډه کار وکړي او هغه کال په کال، میاشت په میاشت او حتی هره اونۍ اپډېټ کړي.

په داسې حال کې به د استادانو لپاره ممکنه وه، چې د اړتیا په صورت کې د نورو استادانو په ګډه همکارۍ د دوی درسي مواد په یو کتاب کې را غونډ او اپډېټ کړي.»

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي یو تن استاد عبادالله ناصري، افغانستان ټایمز ته وویل، چې له انګلیسي ژبې سره د افغان استادانو نابلدتیا د هغه ستونزو له ډلې څخه ده، چې د زده کړې سیستم ته زیان رسوي.

نوموړي وویل: «لکه څرنګه چې موږ پوهېږو، موږ پخپلو ملي ژبو کې اپډېټ شوي او کافي کتابونه نه لرو، نو موږ اړ یو، چې خپل درسي مواد له انګلیسي ماخذونو څخه اپډېټ کړو، خو له بده مرغه، د پوهنتونونو زیاتره استادان نه شي کولای چې خپل درسي مواد له انګلیسي منابعو څخه اپډېټ کړي.»

د استادانو لپاره په مضمونونو کې بدلون بله ستونزه ده، چې د دوی د درسي موادو د نوي کولو مخه نیسي، په پوهنتونونو کې استادانو ته دا نه ده څرګنده چې کوم مضمون تدریس کړي. د بېلګې په توګه، کچېرې یو استاد د یو سمستر لپاره یو مضمون ونیسي، هغه ته په راتلونکي سمستر کې بل مختلف مضمون ورکول کېږي.

ښکاره خبره ده چې په داسې حالاتو کې استادان نه شي کولای، چې د دوی درسي موادو ته پراختیا ورکړي.

برسېره پردې زیاتره په لاس لیکل شوي پاڼې هېڅ ماخذ نه لري او دا ښکاره نه ده، چې دا درسي مواد له کومو منابعو څخه اخیستل شوي دي، دا

ستونزه د محصلینو مخه نیسي چې هغه اصلي سرچینې ته لاسرسی ولري چې دا مواد ورڅخه تیار شوي دي.

په داسې حال کې چې معیاري درسي کتابونه اصلي ماخذونه لري، چې محصلین په دې توانوي چې د اړتیا په صورت کې د مضمون اصلي منبع ته لاسرسی ولري، په عمومي توګه د چاپ شویو درسي کتابونو کمښت تقریباً په ټولو دولتي پوهنتونونو کې جدي ستونزه ده.

کله چې یو استاد له داسې کتاب څخه تدریس کوي، چې محصلین ورته لاسرسی نه لري، په دې صورت کې د لاس لیکل شویو نوټونو او درسي کتابونو تر منځ هېڅ توپیر نشته، نو له همدې کبله د باکیفیته درسي سیستم لپاره له اړونده دولتي ادارو او هغه غیر دولتي مؤسسو څخه، چې په دې برخه کې کار کوي غوښتنه کېږي، چې له استادانو سره مرسته وکړي چې د دوی اېډېټ شوي کتابونه په کافي تعداد سره چاپ شي او د پوهنتونونو د ټولو محصلینو لپاره د لاسرسي وړ وي.

تقریباً ۷۰ سلنه استادان تر اوسه په لاس لیکل شوي چپټرونه د درسي موادو په توګه کاروي، حکومت یا په دې برخه کې ګمارل شوې موسسې کولای شي، چې په کافي اندازه د درسي کتابونو د چاپ له لارې په هېواد کې د زده کړو کیفیت ته پراختیا ورکړي.

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردک وایي:

«د دې لپاره چې په پوهنتونونو کې د تدریس کیفیت ته پراختیا ورکړو، ډېرو هلو ځلو ته اړتیا ده، چې د افغان محصلینو لپاره په ملي ژبو (پښتو او دري) په زرګونو اېډېټ شوي کتابونه چاپ شي؛ ځکه تر اوسه په زرګونو محصلین معیاري درسي کتابونو ته لاسرسی نه لري، چې دا د تدریس په سیستم منفي اغېزه لري.»

نوموړي زیاته کړه چې د نویو درسي کتابونو کمښت، اوسنیو تر وخت تېرو تدریسي مېتودونو او درسي موادو د افغانستان د پوهنتونونو تدریسي

سیستم له لویې ستونزې سره مخ کړی دی.
همدارنګه نوموړي د درسي سیستم په عصري کولو او د محصلینو لپاره د نویو معیاري کتابونو په تیارولو ټینګار وکړ.
ده همدارنګه وویل: «د دې لپاره چې دې موخې ته ورسېږو، موږ تر اوسه ۱۵۷ عنوانه درسي کتابونه د افغاني پوهنتونونو لپاره چاپ کړي دي، خو دا به ځنګه وکولای شي چې د زیاتو مضامینو او زرګونو محصلینو لپاره بسنه وکړي. دغه پروژه چې په ۲۰۰۹ زکال کې پیل شوه، زیاتره تمرکز یې د هېواد د پوهنتونونو لپاره پر طبي کتابونو و، په داسې حال کې چې په ورته شکل نورې رشتې، لکه ټولنیز علوم، ادبیات، تاریخ او نور هم درسي کتابونو ته اړتیا لري.»
د کتابونو د بنې په هکله ده څرګنده کړه، چې ۹۰ سلنه چاپ شوي کتابونه د پوهنتونونو د استادانو لخوا لیکل شوي دي او پاتې یې په انګلیسي ژبه دي.
هر کتاب یوه سي ډي لري، چې هماغه کتاب د پي ډي ایف په شکل پکې موجود دی، تقریباً د هر کتاب له ۱۰۰۰ تر ۲۰۰۰ جلده چاپ شوی دی، په حقیقت کې دا تعداد کتابونه د هېواد د طب پوهنځیو ۶۰۰۰ یا ۷۰۰۰ محصیلینو لپاره بسنه نه کوي، خو بیا هم د دې کتابونو الکترونیکي بڼه د PDF په شکل د هر چا لپاره په www.ecampus-afghanistan.org وېبپاڼه د لاسرسي وړ ده.
«له بده مرغه زیاتره محصلین او استادان د دې وړتیا نه لري، چې په انګلیسي ژبه کتابونه ولولي او دوی پر ملي ژبو (پښتو او دري) نویو کتابونو ته اړتیا لري، نو ځکه دوی له زړو پاڼو او لکچر نوټونو نه ګټه اخلي.»
نوموړي یو ځل بیا ټینګار وکړ، چې په عمومي توګه په هېواد کې د طب پوهنځیو لپاره د زیاتو نورو کتابونو ژباړلو او چاپولو ته اړتیا لیدل کېږي،

چې استادان په دې وتوانېږي چې زاړه درسي مواد په نويو بدل کړي.
د دغه ۱۵۷ کتابونو د تمويل په اړه ډاکتر يحيى وردګ وويل، چې ۹۵ کتابونه د المان د علمي همکاريو د خدماتو مرکز (DAAD) له لوري او ۲۰ کتابونه د Kinderhilfe-Afghanistan له لوري تمويل شوي دي.
د کتابونو ليکوالانو ته هيڅ حق الزحمه يا امتياز نه دی ورکړل شوی، بلکې د ستاينې په توګه ۵۰-۱۰۰ کتابونه هر ليکوال ته، ۴۰۰ کتابونه د ليکوال پوهنځي ته او ۵۰ نور په افغانستان کې ټولو اوه طبي پوهنځيو ته ورکړل شوي دي.
ده زياته کړه چې سربېره پر دې په پلان کې ده د دوه ډي وي ډي لس زره کاپي ګانې، چې ټول چاپ شوي طبي کتابونه د پي ډي ايف په فارمټ پکې موجود دي، محصيلينو ته ور ووېشل شي. په دوو ډي وي ډي ګانو کې د چاپ شويو کتابونو مجموعه به محصلين او استادان وتوانوي، چې ټولو کتابونو ته په خپلو کمپيوټرونو کې لاسرسی ولري.
نوموړي همداراز تأکيد وکړ، د دې لپاره چې د ښوونځيو فارغين په پوهنتونونو کې په انګليسي ژبه له کتابونو او درسي موادو څخه د ګټه اخيستنې وړتيا ولري، په ښوونځيو کې بايد د انګليسي ژبې د کيفيت د ښه والي لپاره جدي پاملرنه وشي.
کله چې له ښاغلي وردګ نه د نورو درسي کتابونو د چاپ په اړه وپوښتل شول، ده وويل چې که څه هم وزارت او اړونده اداري ددغه پروګرام په ارزښت پوهېږي، خو دوی د کتابونو د چاپ د پروسې د دوام لپاره کافي بوديجه نه لري، نو له همدې امله که چېرې بوديجې ته لاسرسی پيدا شي د درسي کتابونو د چاپ پروګرام به وکولای شي، چې په پوهنتونونو کې د محصلينو لپاره نور غوره او معياري درسي کتابونه تيار کړي.

# د درسي کتابونو په هکله
# له آریانا ټلوېزیون سره مرکه

*منبع: آریانا تلویزیون*
*تاریخ: 02/05/2015*



سهار ژوند خپرونه ده، یو ځل بیا زه خوشحال آصفي ستاسو په درانه چوپړ کې یم
د خپرونې دوېمه برخه ده، نن بیا هم د دې ویاړ لرم، چې یو تکړه افغان زموږ سره په خپرونه کې شته، جناب محترم ډاکټر صاحب محمد یحیی وردک، چې دوی د پوهنې په برخه کې او د لوړو زده کړو په برخه کې ډېر زیات کارونه کړي دي، چې د دوی کړنې واقعاً د ستایلو وړ دي. تاسو زما مخې ته دا کتابونه ګورئ، دا چې دا کتابونه چا لیکلي دي، چا چاپ کړي دي، دا کتابونه چا

***بالاخره را ټول کړي دي او داکتابونه ولې مورږ د مېز پر سر ایښې دي؟***
***نن مې وغوښتل، چې ډاکټر صاحب محمد یحیی وردګ خپرونې ته راوغواړو، د ده په ژوندلیک باندې، د ده پر کړنو خبرې اترې ولرو.***
***ډاکټر صاحب ډېره مننه، ښه راغلاست ستړي مه شئ.***

یحیی وردک: زه هم خپل سلامونه تاسو او د آریانا ټلویزیون لیدونکو ته وړاندې کوم.

***خوشحال آصفي: مننه، زه به چای هم درته وا چومه، دا خپله پوښتنه به داسې مطرح کړم، ډاکټر صاحب چې له سفر څخه یې پیل کړې.***
***په دې معنی چې ډاکټر صاحب محمد یحیی وردګ چېرې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې چېرته کړي، لوړې زده کړې یې کوم پوهنتون کې کړې دي، لومړني کارونه چې تاسو کړي دي، لومړنۍ دنده چې تاسو ترلاسه کړې ده او دا کتابونه مخکې چې ما یادونه وکړه، ستاسو نورو کړنو ته پر هغې پر جزئیاتو خبرې وکړئ.***

یحیی وردګ: تشکر صیب، زه خپله په وردګو ولایت کې زېږېدلی یم. درس او تعلیم مې تر دوولسم صنفه پورې په کابل کې کړی، سپین کلي مکتب کې په شش درک کې او آخري څلور کاله مې په حربي ښوونځي کې ویلي دی، بیا مې یو دولتي بورس واخست چکسلواکیې ته او هلته مې معالجوي طب لوستی دی (یا عمومي طب)، له هغې نه وروسته بیا جرمني ته تللی یم او تقریباً شل کاله مې هلته ژوند کړی دی او کار مې کړی دی، بیا مې په Public Health ورته وایي Health Management او Health Education یعني عامه روغتیا او اداره صحت عامه او صحي زده کړو کې مې نور درس ویلی دی او په جرمني کې مې کار کړی دی.

اوس پنځه کاله کېږي، چې د لوړو زده کړو وزارت سره همکار یم او هغه اصلي کار او ډېر زیات کار مې چې دلته د پوهنتون د استادانو، د لوړو زده کړو د وزارت په همکارۍ کړی دی، هغه مو د غه د درسي کتابونو د چاپ او

تکثیر په برخه کې کړی دی.

***خوشحال آصفي:** پروین ډاکتر صاحب ښاغلي احسان الله آرینزي سره ناست وم، زه د دوی کورته ورغلی وم او خبره پر همدغه کتابونو یاده شوه. ستاسو پر کارونو، تاسو واقعاً پخپل مسلک کې زیات کار کړی دی.*

*کتابونه ما ولیدل، دا کتابونه د چا دي، چا لیکلي دي، چا چاپ کړي دي او تاسو په دې برخه کې څه ونډه لرئ، څه نقش لرئ؟*

**یحیی وردګ:** مخکې له دې نه، چې زه کتابونو ته راشم، زه به دغه څو چېترونه تاسو ته و ښیم. ما چې د کتابونو کار پیل کړ، هم له دغه ځایه؛ ځکه چې پنځه کاله مخکې ما ولیدل، ما ډېر تعجب وکړ.

***خوشحال آصفي:** دا خو ډېر زاړه دي*

**یحیی وردګ:** هو، همدغه ځینې یې حتا په لاس لیکل شوي وو. دا په ځینو پوهنتونونو کې، په ځینو مضامینو کې یو ازیني درسي کتابونه وو. له بده مرغه تر اوسه پورې هم په ځینو رشتو کې دا سې لس- شل کلن زاړه لکچر نوټونه څخه استفاده کېږي، نو همغه وو چې مونږ تصمیم ونیو چې باید په دغه برخه کې کار وکړو؛ ځکه چې په یوویشتمه پېړۍ کې مونږ باید د پخوانۍ پېړۍ له کتابونو، درسي موادو څخه استفاده ونه کړو. تاسو باور وکړئ، چې اوس هم په ځینو پوهنتونونو کې له همدا سې لکچر نوټونو څخه استفاده کېږي.

***خوشحال آصفي:** او درس ورکول کېږي*

**یحیی وردګ:** هو، درس ورکول کېږي. دا خو یو زاړه دي، معیاري هم نه دي. ځینې یې له ما سره په دفتر کې شته دي، نو په همغه اساس وو چې...

***خوشحال آصفي:** دغه نوټونو تاسې ته انګېزه درکړه؟*

**یحیی وردګ:** هو، هو، کار له دغه ځایه شروع شو، یعنې ما ته حتی تر ژړا پورې راغله.

***خوشحال آصفي:** دا تاسو ولیدل، بیا مو کار پیل کړ.*

یحیی وردګ: هو، بیا مو ولیدل، چې ځینې استادانو هم کتابونه لیکلي دي، خو څوک یې نه ورته چاپوي او یا په چاپ کې، په ټایپ کې، په ډیزاین کې یې ستونزې لري.
موږ بیا له وزارت سره، له پوهنتون سره، له استادانو سره ولیدل و غږېدو، ورو ورو مو دوی تشویقول. اول مو پنځه کتابونه چاپ کړل، بیا شل شول، بیا دېرش شول همداسې ورو ورو دغه استادان تشویقېدل.
یو استاد به یو کتاب راوړو بیا به یې چې هغه ولید چې په ښه توګه چاپ شو، تقسیم شو او ټول افغانستان ته ورسېدو، بیا به یې نور کتابونه هم راوړل.
***خوشحال آصفي: دا ټول کتابونه تاسو چاپ کړي؟***
یحیی وردګ: هو، دا کتابونه ټول موږ د لوړو زدکړو په وزارت کې چاپ کړي دي.
***خوشحال آصفي: ستاسو په شخصي مصرف؟***
یحیی وردګ: نه، زما په همکارۍ او منجمنټ چاپ شوي دي.
***خوشحال آصفي: اصل کار تا کړی دی، چې دوی مو وهڅول.***
یحیی وردګ: اصل کار خو دغه محترمو استادانو کړی دی؛ ځکه چې دغه کتابونه د دوی د لس، شل او یا د دېرش کلنې پوهې تجربې لاس ته راوړنه ده، نتیجه یې ده. موږ فقط داسې کړې دي، دغه کتابونه چې دوی ژباړلي دي، دوی لیکلي دي، دا مو را غونډ کړي دي، دا مو چاپخانې ته لېږلي دي، دوی ته مو فنډ (Fund) پیدا کړی دی، بودیجه مو پیدا کړې ده، دا مو بېرته استاد ته ورکړي دي، دا مو همغه مربوطه پوهنځي ته ورکړي دي، دا مو د ټول افغانستان د طب پوهنځیو ته تقسیم کړي دي.
***خوشحال آصفي: نو ډاکټر صاحب، په دې کې څومره نوي موضوعات دي، تاسو یادونه وکړه، له پخوانیو چېټرونو څخه؟***
یحیی وردګ: په دې کې ډېر نوي موضوعات دي.
***خوشحال آصفي: مثلاً؟***

یحیی وردګ: زه به تاسو ته... دغه دوه کتابونه را وباسئ... دا یو بین المللي ستندرد کتاب دی، چې په انستیزی، کې یو امریکایي مؤلف لیکلی دی.

***خوشحال آصفي: رهنمای اساسی انستیزی برای کشورهای روبه انکشاف دری، انګلیسی.***

یحیی وردګ: هو، دا همدا اوس په افریقا، آسیا او لاتین امریکا په ډېرو پوهنتونونو کې تدریس کېږي.

***خوشحال آصفي: دا نوي مواد دي.***

یحیی وردګ: دا شل دېرش نورو ژبو باندې هم ترجمه شوی. دا زموږ او تاسو د افغانانو لخوا په دري ژبه ترجمه شوی دی. تاسو یې که دا یوه ورقه واړوئ، دا کتاب موږ په دواړو ژبو چاپ کړی دی، یوې خواته یې مکمله انګلیسي... دا صفحه چې په انګلیسي چاپ شوې، همدا صفحه په دري هم چاپ شوې ده. مکمل دوه جلدو کې دی، یعنې هم په انګلیسي ژبه هم په دري ژبه هغه تر ټولو نوي لاسته راوړنې تر ټولو نوي درسونه په کې ځای پر ځای شوي دي او همدا شان موږ دا خپل استادان دې ته هڅوو، چې تاسو پخواني لکچر نوټونه اېږدېږئ، له نویو کتابونو سره یې نوي کړي، ټایپ یې کړي، بیا یې راوړي چې چاپ یې کړو. دغه په خپله استادان هم هڅوي، چې خپل درسونه نوي کړي او بیا یې موږ ته راوړي او په ټول افغانستان کې یې تقسیم کړو.

***خوشحال آصفي: دا (سي ډي ګانې) د څه شي دي وردګ صاحب؟***

یحیی وردګ: موږ چې هر کتاب چاپوو، په دې خاطر چې موږ په افغانستان کې اوس څه کم شل زره په دولتي او شخصي طب کې محصلین لرو، نو په دې خاطر زر جلده چاپوو. دا هر چاته نه رسېږي، په دې هر کتاب کې... که تاسو یو کتاب را واخلئ... موږ دا مکمل کتاب، منځ کې یوه سي ډي ده، دا مکمل کتاب PDF شکل په سي ډي کې هم اچولی دی. سافټ یې کولای شي محصلین واخلي، په کمپیوټر کې یې واچوي، بل ته یې ورکړي، چې زیاتره خلکو (محصلینو) ته ورسېږي.

دريېم کار چې موږ کوو، دغه موږ د جرمني د بوخم پوهنتون ته لېږو، همدغه سافټ کاپي بيا يو وېبسايټ په نامه دي www.ecampus-afghanistan.org په مکمله توګه هلته پورته کېږي او هرڅوک يې کولای شي، چې خپل کمپيوټر ته ښکته کړي.
دا دريېم ورځې مخکې ما ته زموږ او تاسو يو محصل ترابليس ليبيا نه ايمېل را لېږلی و، چې دی زموږ د کتابونو نه خبر شوی، بيا ما همغه معلومات ور ولېږل، چې ته کولای شې ټول ډاونلوډ کړې.
راغلم دغه تاسو چې پوښتنه وکړه د (ډي وي ډي)، موږ بيا دغه ټول سافت کاپي د ۱۴۰ کتابونو په دوو ډي وي ډي کې جوړ کړي دي.
***خوشحال آصفي: دا خو ډېر ښه کار شوی دی.***
يحيی وردک: دا داسې ده لکه مکمل طب، چې په ابتدا کې دوی کيميا، فزيک، بيولوژي ځينې مضامين لولي، بيا اناټومي هستولوژي همداسې سمستر وار موږ ټول اچولي دي. دا چې يو محصل ته ورکړو، يعنې مکمل طب يې په جېب کې دی، يا پخپل کمپيوټر کې دي.
***خوشحال آصفي: يوه بله پوښتنه وردګ صاحب، دا په افغانستان کې چې تشخيص اوس درست نه کېږي او دوی ځي پاکستان ته او د افغانستان د طبابت ډګر همدا اوس هم پاکستان دی، دا خو ته هم منې زه يې هم منم، ټول خلک يې هم مني، د دې وجه څه ده؟ چې دوی په پوهنتون کې تل دا زاړه نوټونه لوستلي دي، تل نظريه ده، تل تيوري ده او د عمل په ډګر کې يې کار نه دی کړی، په نويو موضوعاتو باندې نه پوهېږي، تر حد اقل بايد يوه شي چې نن په امريکا کې ستا په ګاونډ يو هېوادونو کې نوی څه شی راغلی دی، زه به هسې ډاکتر څه کړم، چې شل کاله مخکې را ته بيولالې وو ايې.***
يحيی وردګ: ښځې تاسو درست وايئ، يو مهم فکتور يې همدا دی، چې زموږ د طب محصلين متاسفانه، متاسفانه په تيوري برخه کې هم په عملي برخه کې پوره او په ښه توګه نه تربيه کېږي. تاسو پخپله ورته اشاره وکړه، زه

بر عکس وایمه، که موږ محصل ته په اول صنف کې دویم صنف کې پوره درسي مواد نوي صحیح مواد برابر کړو او دا په داسې ژبه په داسې فورم کې ورته برابر کړو چې دوی پرې پوه شي، دغه ډېره مهمه ده.
په انګلیسي کې په انټرنیټ کې ځینې مواد شته، خو متاسفانه زموږ استادان او زموږ محصلین ټول نه پرې پوهېږي. چې دا موږ ورته برابر کړو چې هغوی په تیورتیکي اساس پاخه راشي.
د دې ترڅنګ چې موږ بیا دغه محصلینو ته کدري شفاخانې ولرو چې دوی درې، څلور کاله عملاً هلته کار وکړي، چې د مریض د بستر تر څنګ هغه زړه واوري پوز واوري ، داسې زموږ ښه ډاکټر تربیه کېږي.
***خوشحال آصفي: یوه بله ښېګڼه داده چې دا هم په پښتو دي، هم په دري دي، هم په انګلیسي دي، هم هغه څوک چې په پښتو پوهېږي، کېدای شي هغه د هغې نه په پښتو ګټه پورته کړي، هغه څوک چې مورنۍ ژبه یې دري فارسي ده، هغه کېدای شي په فارسي ولري.***
***انګلیسي هم ښه ده؛ ځکه چې په انګلیسي ژبه هم بلد شي؛ ځکه چې په نورو هېوادونو کې په انګلیسي کنفرانسونه ورکوي او د هغوی له تجربو څخه ګټه پورته کوي، یعنې دا په ټولو درېیو ژبو باندې دي، پښتو، انګلیسي او دري، دا کار تاسو په خپله کړی دی، که نه مخکې لیکوالانو کړی دی؟***
یحیی وردګ: نه، موږ دغه کتابونه نه دي ترجمه کړي، ځینې مؤلفین دي... حتی یو مؤلف دی په کندهار کې درس ورکوي هغه په انګلیسي ژبه د انتاني ناروغیو یو کتاب لیکلی دی، موږ دا چاپ کړی دی. بل مؤلف د هرات دی، هغه په دري لیکلی دی، موږ راوړی دی دا مو په دري چاپ کړی دی. بل مؤلف د ننګرهار دی، په پښتو یې لیکلی دی، هغه مو په پښتو چاپ کړی دي. موږ داسې کوو، چې دا کتابونه نورو ولایاتو ته هم لېږو، ځکه چې نور هم ځنې استفاده وکړي. په یوه مسلک کې چې یو کتاب په یوه ولایت کې چاپېږي، باید هم مسلکان یې او نور طب پوهنځي استادان هم له هغو نه خبر شي او له

هغو نه استفاده وکړي.

***خوشحال آصفي: بله پوښتنه ډاکټر صاحب، یو بل کتاب به ستاسو په خوښه البته اجازه باندې را واخلم، مثلاً دلته لیکلي دي، د کوچنیانو ناروغۍ دوهم ټوک، څو جلده دا چاپ شوی دی؟ یوازې پنځه، سل یا زر؟ پوښتنه مې دا ده، چې له هر یو نه څو جلده چاپېږي؟***

یحیی وردګ: دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، دا زر جلده چاپ شوی دی.

***خوشحال آصفي: دا په ټولو پوهنتونونو د افغانستان کې کارول کېږي؟***

یحیی وردګ: هو، زر دانې سي ډیانې ورسره دي، د دې یوه برخه... پخوا مو پنځوس ورکول اوس سل کتابه مؤلف ته ورکوو. زه باید دلته ووایم چې دغه ټول کتابونه چې چاپ شوي دي، مؤلفینو ته، محترمو استادانو ته موږ کومې اضافي پیسې یا حق الزحمه نه ده ورکړې. دغه د دوی د کلونو کلونو زحمتونه دي چې په وړیا توګه یې زموږ د وزارت په اختیار کې ورکوي او غواړي چې دغه پوهه د خلکو، د ټولنې په خدمت کې و اوسي. ځینې نور کتابونه زموږ شته دي چې د هغه تیراژ دوه زره دی، جمع دوه زره سي ډي او همداسې موږ غواړو... زما ارمان هم دغه دی، چې هر مضمون چې تدریسېږي باید درسي کتاب ولري.

***خوشحال آصفي: دا څنګه رسوئ، ټولو پوهنتونونو ته ډاکټر صاحب؟***

یحیی وردګ: زما دفتر په لوړو زده کړو وزارت کې دی، هلته موږ له پوهنتونونو سره ارتباط لرو او هلته مسوولین یې، نمایندګان یې، راځي بیا دا کتابونه موږ ورته سپارو. دا په تېره بیا موږ اته دولتي طب پوهنځیو ته رسوو، چې ننګرهار، خوست، پکتیا، کندهار، هرات، بلخ، کاپیسا او کابل دي.

***خوشحال آصفي: شخصي پوهنتونونو ته څنګه، ډاکټر صاحب؟ دوی هم راځي؟***

یحیی وردګ: شخصي پوهنتونونه هم زیات شوي دي، هم ورو ورو زیاتیږي، هغو ته هم یو جلد دوه جلده ورکوو؛ ځکه چې هلته هم د دې وطن لپاره ډاکټر تربیه کیږي.

***خوشحال آصفي: مفت یې ورکوئ؟***

یحیی وردګ: هو، زیاتره یې دولتي پوهنتونونو ته ورکوو، شخصي پوهنتونونه هم زیات شوي دي، طب پوهنځي هم ډېر لري، ما واورېدل چې اوه ویشت طب پوهنځي لري ټول افغانستان کې.

***خوشحال آصفي: ډېر اعلی، تاسو پخپله څه لیکلي دي، په خپل مسلک کې؟***

یحیی وردګ: ما په جرمني کې د افغانستان په عامه روغتیا باندې لیکلی، هملته د درس په وخت کې.

***خوشحال آصفي: ستاسو د ماسترۍ یا دوکتورا تېزیس و، که نه بېل کتاب مو لیکلی؟***

یحیی وردګ: هو، تېزیس دی.

***خوشحال آصفي: د ماسترۍ که د دوکتورا؟***

یحیی وردګ: نه ما دوکتورا نه ده کړې، یوازې د ماسترۍ په لېول کې په یوه پوهنتون کې ما درس ویل، هغه متاسفانه په الماني ژبه دی، دلته مې لیکنې د لوړو زده کړو په هکله شته دي، تاسو ته یې هم درکولای شمه.

***خوشحال آصفي: ډېره مننه، زه به یې واخلمه، ګټه به ترې پورته کړم ډېره زیاته مننه کوم د محترم ډاکټر صاحب محمد یحیی وردګ نه، چې بلنه یې ومنله، زموږه ویاړ یې، زموږه افتخار یې، د ټول ملت ویاړ یې، افتخار یې ډاکټر صاحب. ډېر لوی کار مو کړی دی، واقعاً دا به د افغانستان په تاریخ کې په زرینو کرښو باندې ولیکل شي او دا کار هر څوک نه کوي دا فکر، دا سوچ او انګېزه، چې تاسو لرئ او دا کار مو کړی دی، زه شخصاً د یو افغان ځوان په حیث ستاسو قدر کوم، تاسو نه مننه کوم، د ټول ملت په استازیتوب، مننه کوم ډاکټر صاحب.***

یحیی وردګ: مننه له تاسو نه هم، بیا هم زه وایمه، هغه اصلي کار واقعاً زموږ محترمو استادانو کړی دی، چې موږ ته یې فقط دغه زمینه برابره کړې، چې دا خپاره کړو.

***خوشحال آصفي: ولې اوس دغه دلسوزي او انګېزه نشته، چې دا ټول شي او چاپ شي، په نوې بڼه باندې او خلکو ته ورکړل شي، دا هم لوی کار دی ډاکټر صاحب.***

یحیی وردګ: هو، ان شاء الله خدای وکړي چې په راتلونکو کې زموږ مسوولین دې ته متوجه شي، چې په طب کې او هم په نورو رشتو کې لکه انجینري، ساینس، نور ډېر مهم مضامین دي، چې موږ په هره رشته کې همداسې نوي کتابونه ولرو، محصلینو لپاره.

***خوشحال آصفي: ډېره زیاته مننه ډاکټر صاحب، ډېره زیاته مننه له محترم وردګ صاحب نه***




دغسی په لاس لیکی چپترونه لا تر اوسه د زیاترو استادانو او محصلینو لخوا کارول کیږی.

# د افغانستان د پوهنتونونو لپاره درسي مواد نوي کېږي

*ليکوال خليل الرحمن اميد*
*لنډ لينک* *http://dw.de/p/1Fh2E*، *نېټه* *14.06.2015*

د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت وايي، په پوهنتونونو کې به اصلاحي پروګرامونه او نوي درسي مواد رامنځته کړي.
په افغانستان کې درسي مېتود او له پخوانيو چېترونو څخه درس ورکول ډېر ځله تر نيوکو لاندې راغلي.



په داسې حال کې، چې افغانستان ورتيا لرونکو کدرونو ته په بېلابېلو برخو کې جدي اړتيا لري، بيا هم د دغه هېواد پوهنتونونه نه دي توانېدلي، چې وزارتونو ته غوره کاري او متخصصه کتله وړاندې کړي.
د لوړو زده کړو وزيرې فريدې مومند په يکشنبه، د( جوزار پر ۲۴مه) د خپل سل ورځني پلان د وړاندې کولو پر مهال وويل: هڅه کوي چې په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې د بازار له اړتيا سره

سمې پر مخ يوسي.
مېرمن مومند هيله څرګنده کړه، چې د پلان په پلي کېدو سره به وتوانېږي، چې د پوهنتونونو درسي توکي له ورځنۍ اړتيا سره سم رامنځته کړي.
هغې وويل: «موږ په پوهنتونونو کې د تدريسي ارزونې تګلاره په پام کې نيولې، دا پروسه دوام لري او موږ غواړو، چې پوهنتونونه باکيفيته او پر معيار برابر تدريس وکړي.»



وزيرې زياته کړه، چې په پوهنتونونو کې جنسيتي مساوات په پام کې نيسي او د انجونو لپاره هم په کابل کې د ترکيې په مالي مرسته يو ځانګړی پوهنتون جوړېږي.

## دوکتورا لرونکو استادانو ته ترجيح ورکول:

د پخوانيو درسي تګلارو ترڅنګ، د پوهنتونونه د دوکتورا لرونکو او ماسترو ښوونکو په برخه کې هم نيمګړتياوې لري.
وزيره وايي: تر دې وروسته به په پوهنتونونو کې ماسترۍ او دوکتورا ته پراخوالی ورکړل شي.

هغې وویل: «د لوړو زده کړو وزارت یوه ژمنه دا ده، چې ماسترۍ او دوکتورا ته پراخوالی ورکړي، چې په دې توګه ماستران او ډاکټران ډېر شي.»
وزیره په داسې حال کې د ماسترۍ او دوکتورا څانګو ته د پراختیا خبره کوي، چې دا مهال په ډېرو پوهنتونونو کې د لیسانس درجې استادان تدریس کوي.
مومند همدا شان وویل، چې له دې وروسته به په پوهتونونو کې د تدریس ژبه انګرېزي ته واړوي، چې په دې توګه به محصلین په راتلونکي کې په اسانۍ سره پراخې مطالعې ته لاسرسی پیدا کړي.
تاکل شوې د لومړي ځل لپاره د انجینرۍ او زراعت د پوهنځیو تدریس په انګرېزي ژبه پیل شي.
د څېړنیزو پروګرامونو رامنځته کول هم د لوړو زده کړو وزارت بل پلان دی، چې پر مټ به یې د تحصیل په برخه کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته شي، دا مهال په ډېرو پوهنتونونو کې څېړنیزه برخه نشته.
مېرمن مومند وویل: ټاکل شوې د بهرنیو مرستو پر مټ په ډېرو پوهنتونونو کې علمي څېړنیزې پروژې پلې کړي، چې په نړیوالو معیارونو برابرې وي.
د نړۍ له معتبرو پوهنتونو سره د اړیکو پراخوالی، د لوړو زده کړو وزارت پلان لري چې له دې وروسته د نړۍ له پرمختللو پوهنتونونو سره اړیکې ټینګې او نوې تګلارې را انتقال کړي، چې له مخې به یې افغان استادان او زده کړیالان د هغوی له تجربو او معیارونو څخه پخپلو پوهنتونونو کې ګټه واخلي.



دا تګلاره په دوه ډوله پلي کېږي، يو دا چې ښوونکي به بهرنيو معتبرو پوهنتونونو ته د تجربې د ترلاسه کولو لپاره ځي او بل هم دا چې د هغو پوهنتونونو استادان به دلته د تدريس لپاره راوستل کېږي.

دا مهال په افغانستان کې د تحصيلي بورسونو په اړه هم ګڼې نيوکې موجودې دي او ويل کېږي، چې ډېر محصلين د اړيکو له لارې بهر ملکونو ته په بورسونو ځي، چې يا هلته زده کړې پرېږدي او يا هم د تمبلۍ له کبله بېرته پسې را اخستل کېږي، خو د لوړو زده کړو وزيره وايي: له دې وروسته به يوازې د لياقت له لارې بورسونه وېشل کېږي.

بل پلو په افغانستان کې د کانکور ازموينه هم له درغليو ډګه بلل کېږي او په تېرو څو کالو کې په وار وار د کانکور له پروسې څخه شکايتونه وشول، خو فريده مومند وايي په دې برخه کې يې د روښتيا په موخه يوه غوره تګلاره جوړه کړې ده.

# یو افغان غواړي د پوهنتونونو چیپټرونه او لیکچرنوټونه کتابي بڼې ته واړوي

*شپونه او روزنه، پژواک*
*محمد اصف احمدزی*
*Nov 11, 2015 - 18:06*
*لینک: http://www.pajhwok.com/ps/2015/11/11*




کابل (پژواک، ۲۰ لړم ۹۴): یو افغان هڅه کوي، په پوهنتونونو کې د چیپټرونو او لکچرنوټونو مېتود ته د کتاب چاپولو له لارې د پای ټکی کېږدي، چې تر اوسه پورې یې په هلوځلو کابو ۲۰۰ عنوانه کتابونه چاپ او وړیا خپاره شوي دي.

دغه تن چې ډاکټر یحیی وردګ نومېږي او په لوړو زده کړو وزارت کې سلاکار دی، له پژواک خبري اژانس سره یې په ځانګړې مرکه وویل، کله چې شپږ کاله وړاندې (۱۳۸۸ کال) ننګرهار پوهنتون ته لاړ، نو هلته یې ولیدل چې محصلین له چیپټرنوټونو څخه استفاده کوي، په داسې حال کې چې دغه کار د ۲۱مې پېړۍ له معیارونو سره برابر نه دی، نو هوډ یې وکړ چې دغه چیپټر نوټونه د مرستندویو موسسو له لارې په کتابي بڼه چاپ او خپاره کړي.

ده زیاته کړه، په ۱۳۸۹ کال کې یې دا کار په عملي ډول پیل کړ او د بېلابېلو پوهنتونونو له استادانو سره په اړیکه کې شو چې په پایله کې یې یو شمېر کتابونه راټول او له اړوندو الماني موسسو څخه یې د چاپ همکاري وغوښته.

د نومورې په وینا ، کله یې چې له لیکوالو څخه د کتاب ایډېټ شوې سافټ بڼه ترلاسه کړه، نو د کتاب د چاپ د اړتیا په موخه یې د اړوندې څانګې تایید اخیستی، ورپسې یې د مربوطه پوهنځي او پوهنتون هوکړه هم ترلاسه کړې ده.

د هغه په وینا ، دغه کتابونه چې ډېری یې په طب، انجنیري او ساینس پورې اړه لري او په پښتو، دري او کم شمېر یې په انګلیسي ژبه دي، د تېرو پنځو کلونو په موده کې یې




شاوخوا ۲۰۰ عنوانه کتابونه چې ځینې یې زر او یو شمېر یې دوه زره ټوکه په هېواد کې دننه مطبعو کې چاپ کړي دي.

وردګ وایي، په دې برخه کې ورسره د المان د علمي همکاریو ټولنې (DAAD) ، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټه او افغان - جرمني پوهنتونو ټولنې (DAUG) مالي مرسته کړې ده.

دی زیاتوي، دغه هر یو کتاب یې په سي ډي ګانو (CD) کې ځای په ځای کړی او له هر کتاب سره یوه سي ډي هم شته، چې محصل کولی شي د هر کتاب له سافټ کاپي څخه هم استفاده وکړي، همدارنګه

يې ۱۴۰ کتابونه په ډي وي ډي (DVD) کې هم ځای په ځای کړي، تر څو تري محصلين له دې ټولو کتابونو په اسانۍ د کمپيوټر له لارې استفاده وکړي.
نوموړي وويل، له دې ور هاخوا هر چاپ شوی کتاب د ISBN د ځانګړي کوډ د لرلو تر څنګ د (www.ecampus-afghanistan.org) ويبپاڼه کې هم ډاونلوډ کېدلی شي چې هر څوک تري په وړيا توګه کار اخيستلی شي.
ياد افغان زياته کړه، د هر کتاب سل ټوکه په خپله ليکوال ته، شاوخوا ۴۰۰ کتابونه هغه پوهنتون ته چې د کتاب ليکوال په کې درس ورکوي، پنځوس پنځوس ټوکه دولتي پوهنتونونو او پاتې نور يې دولتي کتابتونونو او شخصي پوهنتونونو ته په وړيا ډول ورکوي.
نوموړي د دې پوښتني په ځواب کې چې ولې يې يوازې د طبيعي علومو اړوند کتابونو چاپ ته زړه ښه کړی؟ وويل چې په طبيعي علومو کې د کتابونو نشتوالی يې احساس کړی او له بلې خوا که کله زموږ يو ډاکټر، انجنير او ساينسپوه کتابونو ته په اسانۍ لاسرسی ومومي، نو دا به يې په طبيعي علومو کې د پوهنتونونو د درسي کيفيت په لوړولو کې مرسته کړې وي.
وردګ وايي، او سمهال ورسره په سلګونه نور کتابونه هم د چاپ لپاره چمتو دي، خو دا چې مالي سرچينې ورته نه لري، نو د چاپ انتظار يې باسي.
ده وويل، دا چې له دريو کلونو راهيسې د المان د بهرنيو چارو وزارت او DAAD موسسه له دغه پروګرام سره مرسته نه ده کړې، نو له ولسمشر غني څخه غواړي چې يو ځل بيا د المان يا نورو مراجعو څخه غوښتنه وکړي چې د دغه پروګرام ملاتړ وکړي.

نومــوړی وړانــدیز کــوي چــې د لــوړو زده کـړو پــه موســسـو کــې بایــد د چیپټرونــو او لکچرنوټونــو مېتــود تــه د پــای ټکــی کېښــودل شــي، پــه هــره برخــه کــې بایــد د پوهنتونونــو د اســتادانو لــه خــوا نــوي کتابونــه تــالیف او وژبــاړل شــي، هــر کــال بایــد سـل کتابونـه چــاپ شــي چــې پــه دې توګــه بــه پــه پنځــو کلونــو کــې ۵۰۰ کتابونــه چــاپ شــي، هــر درســي مضمون باید لږ تر لږه یو درسي کتاب ولري.

هغــه دغــه راز د لــوړو زده کــړو وزارت تــه وړانــدیز کــوي چــې د "تدریســي کتــابونو ملــي پروګــرام" پیــل او دغــه کــار تــه لومړیتــوب ورکــړي او هــم اســتادان وهڅــوي، تــر څــو د خپلــو مســلکونو پــه اړه کتاب وژباړي، ولیکي او چاپ یې کړي.

دی وایــي، سږ کــال (۲۰۱۵ کــال) پــلان لــري چــې ۵۰ طبــي درسي کتابونــه چــاپ کــړي، د دوو ډېرو ډې ګــانو زر کــاپۍ چــې ټــول طبــي درســي کتابونــه بــه پــه کــې شــامل وي، د طــب پوهنځیــو هــر زده کــوونکي تــه ووېشي او همدارنګه سل غیر طبي درسي کتابونه چاپ کړي.

ده زیاتــه کـړه، د مــالي سـرچینو پــه پیــدا کولــو سـره بـه هڅـه وکـړي چــې د بشري او اسلامي علومو اړوند کتابونه هم چاپ کړ.

خــو دی لــه مرســتو کوونکــو پــه ځــانګړي ډول نړیــوال بانــک، د امریکــا متحـده ایــالاتو لــه پراختیــایي اداري او د المــان د علمــي همکــاریو لــه ټــولنې څخــه هیلــه کــوي چــې د "تدریســي کتــابونو د ملــي پروګــرام" ملاتړ وکړي او د کتابونو د چاپولو لګښت ورکړي.

وردګ وویــل، ســره لــه دې چــې د لــوړو زده کــړو لــه وزارت ســره یــې د کتــاب چــاپولو د پروګــرام موضــوع شــریکه کــړې، خــو هغــوی یــوازې د دغـه کـار هرکلـی کـړی، خـو پـه عملـي ډول یـې ورسـره کومـه مرسـتـه نـه ده کړې.

دی وایـــي: "د لـــوړو زده کـــړو وزارت پـــه ورکشـــاپونو جوړولـــو او فرنیچـرو اخیســتلو ډېـرې پیســې مصــرفوي، کتــاب چـې ورتــه اشـد ضـرورت دی، د چــاپ لپــاره یــې مصــارف نــه ورکــوي، دوی بایــد لــه استادانو سره د کتابونو په چاپ کې مرسته وکړي. "

د کابـل د پولیتخنیـک پوهنتـون اسـتاد پوهانـد دوکتـور محمـد غـوث حکیمـي چـې د یـاد پروګـرام لـه لارې یـې یـو کتـاب هـم چـاپ شـوی، د کتــابونو د چــاپ دغــه بهیــر د لــوړو زده کــړو د بهیــر پــه کیفیــت کــې اغېـزمن او ګټـور بـولي او وایـي، پـه اوسنیو شـرایطو کـې دغـه کـار د تایید وړ او یو نېک عمل دی.

ده پـژواک اژانـس تـه وویـل: "ځینـي کتابونـه چـې دوی (ډاکټـر یحیـی) چــاپ کــړي، ډېــر نــوي کتابونــه دي چــې پــه پوهنتونونــو کــې یــې ان اســتادان ارزیــابي کــولی هــم نــه شــي؛ دا کتابونــه خاصــتاً د اطــراف د پوهنتونونـو لپـاره ډېـر مـؤثر دي، لویـه پانګـه ده؛ ځکـه کتابخـانې لـه منځــه تللــې، لابراتوارونــه نشــته، ریســرچ نشــته، نــو دا کتابونــه چــې دوی یې چاپوي، لویه مرسته ده. "

خـو نومـوړي لـه اړونـدو ارګـانونو غوښـتنه وکـړه چـې د دغـه بهیـر ملاتـړ وکړي او پر وړاندې یې خنډونه جوړ نه کړي.

***افغانستان تایمز، چهارشنبه، ۲۰۱۲ د جولای ۲۰ مه***

خدای دې زموږ په لوړو زده کړو کې د لیکوالۍ او
کتاب په ارزښت یو دوه مسئولین خبر او پوه کړي.
آمین

# اېډيټور ته ليک

*افغانستان ټايمز، يکشنبه، اپريل ۰۳، ۲۰۱۲/ وری ۱۵، ۱۳۹۵، ګڼه: ۲۴۳*

## د نوي درسي نصاب نه شتون

زه ډېر خوښ يم چې د مارچ د مياشتې په ۳۰ نېټه ستاسې د ورځپاڼې سرليکنه د يوې ډېرې مهمې موضوع په اړه ليکل شوې وه. په رښتيا هم د افغانستان په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې ډېرې ستونزې شتون لري، چې له هغې ډلې يوه ستونزه د درسي نصاب نه شتون دی چې د ټولنې او کاري مارکېټ د اړتياوو پر بنسټ ولاړ وي.

د درسي نصاب له نوي کولو وروسته، درسي مواد په ځانګړې توګه کتابونه بايد د استادانو او محصلينو لپاره د لاسرسي وړ وګرځول شي تر څو په تدريس او زده کړو کې تر ې ګټه واخلي. دا چې درسي نصاب د تدريس په پلان او چوکاټ کې ښه والی راولي، د هغه د پلي کولو لپاره بايد د استادانو او محصلينو په مورنۍ ژبه درسي کتابونه موجود وي.

ډاکتر يحيی وردګ، د لوړو زده کړو وزارت، کابل



*خیرمن وکړئ*

# له زړو چپترونو یې بې غمه کړو

*د مقالې لیکونکی: داکتر محب زغم، محور ملی اوونیزه، ۳۴ گڼه، ۱۷ جولای ۲۰۱۲*

په ۱۳۸۸ کې یو افغان ډاکتر له جرمني څخه کابل ته راغی. د کابل، ننګرهار او څو نورو پوهنتونونو ته لاړ. ویې لیدل چې محصلان له زړو چپترونو څخه د درسي کتابونو په توګه استفاده کوي دا ورته د حیرانۍ خبره وه چې په دې یو ویشتمه پیړۍ کې دې داسې زاړه مواد تدریس شي.
ځان سره یې فکر وکړ چې څنګه کولای شي محصلان له دې ستونزې خلاص کړي. استادانو سره یې خبرې وکړې چې ولې د خپلې علمي او عملي تجربې محصول د کتابونو په شکل نه لیکي؟ ځینو استادانو وویل چې کتابونه مو لیکلي دي خو څوک یې نه چاپوي. ځینو استادانو چې تیار کتابونه لرل، د کمپوز او ډیزاین په برخه کې یې ستونزه لرله.
ده مختلفو موسسو ته مراجعه وکړه او بالاخره یې د آلمان د علمي همکاریو ټولنه (DAAD)، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټه او د افغان – جرمني پوهنتونونو ټولنه (DAUG) یې قانع کړه چې د کتابونو د چاپ لپاره ورسره مرسته وکړي.
همدا و چې د پوهنتونونو د درسي کتابونو د چاپولو لړۍ یې پیل کړه، په لومړي سر کې پنځه کتابه چاپ شول. نورو استادانو چې دا ښکلي کتابونه ولیدل، هغوی هم وهڅېدل او په تالیفاتو یې لاس پورې کړ. همداسې کرار کرار کتابونه لیکل کېدل او ده به چاپول چې تر دې دمه یې شمېر ۲۲۰ ته رسېږي.
اکثره کتابونه زر ټوکه او یو نیم یې دوه زره ټوکه چاپ شوي دي. له دې څخه ۱۰۰ ټوکه مولف ته، ۴۰۰ ټوکه هماغه پوهنتون ته چې مولف په کې تدریس کوي، ۵۰ – ۵۰ ټوکه نورو دولتي پوهنتونونو ته او

پـاتې نـور يـې دولتـي کتـابتونونو تـه ورکـول کېـږي. دا چـې د کتـابونو تيـراژ کـم او د محصـلانو شـمېر زيـات و نـو ده د هـر کتـاب سـافټ پـه سـيډي کـې واچـاوه چـې لا ډېـرو محصـلانو تـه ورسـېږي. همدارنګـه يـې د جرمنـي د بـوخم پوهنتـون پـه مرسـته يـو انلايـن کتـابتون جـوړ کـړ چـې د هـر کتـاب سـافټ پـه کـې خونـدي شـي او هـر څـوک يـې پـه اسـانۍ او وړيــــا ډول ترلاســــه کــــړي. د دې انلايــــن کتــــابتون پتــــه ده:
www.ecampus-afghanistan.org
بـل کـاريـې دا وکـړ چـې د طـب د محصـلانو لپـاره يـې داسـې ډيويډي ګـانې برابـرې کـړې چـې ۱۴۰ درسـي کتابـه پـه کـې خونـدي وي او د ده پـه خبره هر محصل کولای شي «درست طب په جېب کې وګرځوي.»
پـه دې ۲۲۰ کتـابونو کـې زيـاتره يـې د طـب دي او پـاتې نـور يـې د سـاينس، فارمسـي، انجينـري، اقتصـاد، زراعـت، اروا پـوهنې او د ښوونې او روزنې کتابونه دي.


دغـه خيـرمن وګـړی، ډاکتـر محمـد يحيـی وردک دی چـې ګڼـو محصـلانو تـه يـې خيـر رسـولی دی. دی پـه پـام کـې لـري چـې د پوهنتونونـو د درسـي کتـابونو د چـاپ لـړۍ همداسـې روانـه وسـاتي خـو د مـالي امکانـاتو نـه شـتون يـې لاسـونه وتړلـي دي. د المـان د علمـي همکـاريو ټولنـه دا درې کالـه کېـږي چـې مرسـته ورسـره نـه کـوي. ډاکتـر يحيـی وردک د لـوړو زده کـړو وزارت پـر چـاروا کو غـږ کـړی دی چـې دې کـار تـه بوديجـه بېلـه کـړي او اسـتادان وهڅـوي چـې کتابونـه وليکـي او وژبـاړي خـو چـا يـې غـږ نـه دی اوريدلی.

# پوهنتونونه نوي نصاب ته اړتیا لري

## رڼا فکري مرکز

*خبري راپور*

***افغانستان ټایمز، چهارشنبه، ۲۰۱۲ د جولای ۲۰ مه***



افغانستان ټایمز-کابل: د رڼا فکري مرکز لخوا د دوشنبې ورځې په نېول شوې غونډه کې د لوړو زده کړو کارپوهانو وویل چې حکومت باید د واحد او نوي نصاب لپاره کار وکړي ترڅو په هېواد کې د زده کړو په کیفیت کې ښه والی راشي. د یادې غونډې ګډون وال په دې باور وو چې محصلین د زده کړو په موخه پر لاس لیکل زاړه لکچرنوټونه کاروي، ځکه دوی چاپ شویو کتابونو ته لاسرسی نه لري. په پوهنتونونو کې د کتابونو او واحد نصاب نه شتون په درسي سیستم باندې هم اغېز کړی دی. له همدې کبله رڼا فکري مرکز له دولت څخه وغوښتل چې د پوهنتونونو لپاره نوی نصاب جوړ کړي ترڅو په هېواد کې یو پرمختللی تحصیلي سیستم رامنځته شي.

د لوړو زده کړو سلاکار ډاکتر یحیی وردګ وایي: «د باکیفیته تدریس ترڅنګ د لوړو زده کړو په مؤسسو او پوهنتونونو کې نوي

درسي کتابونه د محصلینو لپاره اړین دي.» نوموړي وویل چې د پوهنتونونو استادان زاړه لکچرنوټونه تدریسوي.
«د طبي زده کړو محصلین د ناروغیو تداوي د نوټونو له مخې زده کوي، نو له فراغت وروسته د ناروغانو تداوي په هغه توګه کوي چې لوستلې یې وي، بې له دې چې ناروغي تشخیص کړي.»
په فزیک، کیمیا او ساینس کې هم ورته ستونزې موجودې دي، نو موږ اړتیا لرو چې د باکیفیته زده کړو د لرلو لپاره نوي درسي کتابونه چاپ کړو.
ښاغلي وردګ همدارنګه وویل چې دوی ۲۲۳ عنوانه درسي کتابونه چاپ او دولتي او نادولتي پوهنتونونو او ځینو نورو بنسټونو ته یې ورکړي دي. دی وایي د نویو کتابونو د چاپولو موخه داده چې د زده کړو لپاره زیات امکانات برابر شي. وردګ زیاته کړه چې ۲۰ عنوانه نور کتابونه یې هم برابر کړي دي چې ډېر ژر به چاپ شي.
نوموړي همداراز وویل چې یو شمېر نور کتابونه هم د چاپ لپاره تیار دي، خو د چاپ لپاره یې بودیجه په لاس کې نشته.
د لوړو زده کړو وزارت باید د ملي کتابونو د چاپ پروګرام ته لومړیتوب ورکړي او باید د بې ګټې ورکشاپونو پر ځای، د کتابونو د چاپ لپاره میلونونه ډالر ځانګړي کړي.
د کابل پخواني والي عبدالجبار تقوا غونډې ته وویل: «له حکومت څخه غوښتنه کیږي چې باید د لوړو زده کړو د سیستم د پرمختګ لپاره ګام پورته کړي.» ده همداراز وویل که څه هم د افغانستان له حکومت سره میلیونونه ډالر مرستې وشوې، خو اوس هم په پوهنتونونو کې زاړه لکچرنوټونه تدریسیږي، نو اړینه ده چې د لوړو زده کړو وزارت د نویو درسي کتابونو د چاپ لپاره بودیجه ځانګړې کړي.

# وردګ: د لوړو زده کړو زوړ سیستم باید نوی شي

*خبري راپور، دنیا ورځپانه، چهارشنبه، ۲۰۱۲ د جولای ۲۰ مه*



د رڼا فکري مرکز په خپلې میاشتنۍ غونډه کې دا ځل د افغانستان د لوړو زده کړو په بهیر ناسته ترسره کړه. په غونډه کې د یاد وزارت مشاور ډاکتر یحیی وردګ د افغانستان د لوړو زده کړو په وضعیت په ځانګړې توګه د لکچر نوټونو، کتابونو او درسي موادو پر موضوعاتو خبرې وکړې.

نوموړي په پوهنتونونو کې د لکچرنوټونو د پخواني سیستم په شتون په نیوکې سره وویل: ((چې دغه سیستم پخوانی دی او کله هم د شاګرد د علمي سويې او د هغه د زده کړې په کچه کې تغیر نه شي راوستلی.))

نوموړي وویل: په لکچرنوټونو کې اکثریت د دیرش یا ځلویښتو پخوا کلونو مواد ځای کړل شوي وي او محصلین هم هغه لکچرنوټونه حفظ کوي او له کوم علمی تغیر پرته یې بیرته په ازموینه کې لیکي او په دغه ډول پوهنتون پاس کوي.

يحيى وردګ د لوړو زده کړو په برخه کې د افغان دولت په پاليسيو په نيو کې سره وويل، چې د لوړو زده کړو په وزارت کې د پروژو تر نامه لاندې لسګونه ميليونه ډالر لګول شوي، خو د کار عملي نتيجه يې نه ښکاري.

دی وايي، بهرنيان هم د افغانستان د لوړو زده کړو مشکل ته د پروژې په ډول ګوري، په هسې چټي مسايلو پيسې لګوي.

ډاکټر وردګ زياتوي، د لوړو زده کړو وزارت کې هم اصلي مشکل نه درک کيږي، بلکې يوازې په تشو ورکشاپونو او ګران بيه ډوډيو پيسې لګول کيږي.

وردګ وايي: ((ترهغو چې د افغانستان د پوهنتونونو وضعيت د لکچرنوټ له پخواني او فرسوده سيستم څخه د کتاب او انترنټ نوي سيستم ته وا نه ړوي، شاګرد له زده کړو سره مينه نه پيداکوي او يوازې لکچرنوټ د څو نومورو د اخيستو او امتحان د پاس کولو لپاره د څو محدودو ورځو لپاره په ذهن کې ساتي.))

ډاکتر وردګ وايي، د افغانستان حکومت بايد په تيرو کلونو کې د پوهنتونونو د علمي سويې د لوړولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي وای.

د لوړو زده کړو وزارت دغه مشاور وايي، د زړه په وينو يې کتاب ته د استادانو د لکچرونو او درسي موادو د بدلولو بهير پيل کړی چې تر اوسه يې شاوخوا ۲۲۳ عنوان کتابه چاپ کړي دي.

دی وايي، ياد کتابونه ټول د پوهنتونونو د استادانو دي چې د هر پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت د علمي بورډ له خوا تائيد شوي او بيا د ځينو مرستنيدو يه ټولنو او موسسو په مالي مرسته چاپ او د استاد، محصل، دولتي او شخصي پوهنتونونو او اکاډميکو مرکزونو په اختيار کې ورکول شوي دي.

دی وایي، په دغې لاره کې یې ډېرې ستونزې ګاللې دي، تر څو د راتلونکي لپاره یې د یوه مثبت کار پیل کړی وي.
دی په ټینګار سره وایي: ((کله چې په پوهنتونونو کې د استادانو لکچرنوټونه چاپ او محصلینو ته په واک کې ورکړل شي، دا دوه ګټې لري، لومړی دا چې محصل له زده کړو او کتاب سره علاقه پیدا کوي او بل دا چې استاد هم د علمي آثارو لیکلو ته هڅول کیږي او استاد او محصل هڅاند آموخته اخلي.))
نوموړی زیاتوي، که څه هم ده دغه کار یوازې د طبي زده کړو د کتابونو د چاپ په برخه کې کړی، خو له نورو غواړي چې د ده په شان په خپلو برخو کې هڅې وکړي.
نوموړی د لوړو زده وزارت ته سپارښتنه کوي چې د تدرسي کتابونو د چاپ ملي پروګرام جوړ کړي، څو لااقل په هره برخه کې یو علمي کتاب چاپ شي.
دی وایي، یاد وزارت باید د استادانو لپاره تشویقي پروګرامونه جوړ کړي او په دغې برخه کې د هر ډول پروژو ملاتړ وکړي.
ډاکټرورډګ زیاتوي، استادان باید خپل ټول کتابونه له سره وګوري او داخلي محتوا یې پیاوړې کړي.



ټول کتابونه د افغانستان دننه د کابل په مطبعو کې چاپیږي.

# د درسي کتابونو په اړه د شرق تلویزیون راپور

*لیندی ۲۲، ۱۳۹۵*

د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي محصلینو ته هغه لس زره ټوکه کتابونه چاپ او ورکړل شول چې د یاد پوهنتون د استادانو لخوا په لاس لیکل شوي وو. دغه کتابونه چې شل عنوانه وو او لس زره ټوکه کېږي په آلمان کې د افغان ماشومانو لپاره د یوې خیریه مؤسسې لخوا چاپ شوي دي. د افغانستان د لوړو زده کړو سلاکار یحیی وردګ وویل چې دغه لس زره ټوکه کتابونه د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د استادانو او محصلینو د پرلپسې غوښتنو پر اساس چاپ شوي دي. وردګ وویل چې د یادو چاپ شویو کتابونو څخه به یو شمېر د هېواد د نورو ولایتونو د طب پوهنځي محصلینو ته هم ورکړل شي ترڅو هغوی هم ترې ګټه پورته کړي. هغه وویل چې طب پوهنځي محصلینو ته د کتابونو تر څنګ یو سي ډي هم ورکول کېږي چې د اړتیا په صورت کې ترې استفاده وکړي.

وردګ: «شل عنوانه طبي کتابونه مو د ننګرهار طب پوهنځي ته ورکړل. جمله تقریباً لس زره کتابونه وو چې د دې زیاتره برخه د ننګرهار د طب پوهنځي د استادانو کتابونه وو. سل سل ټوکه یې مؤلفینو ته ورکړل شول او څلور سوه ټوکه به محصلینو ته په وړیا توګه ورکړل شي.»

استاد بهسودوال: «ځکه چې پخوا نوټونه او چپټرونه په زاړه سیستم وو نو له دې کتابونو سره هغه زوړ سیستم ختم شوی دی.»

د ننګرهار پوهنتون رئیس ببرک میاخېل وویل چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې دا سې خیریه مؤسسې شته چې وخت ناوخت داسې تدریسي کتابونه محصلینو ته چاپوي.
میاخېل: «د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې ځینې خیریه مؤسسات دي چې د وزارت په چوکاټ کې مرستې کوي. دا کتابونه د ډاکتر یحیی وردګ لخوا چاپ شوي دي. دغه کتابونه نن استادانو او محصلینو ته ورکړل شول. دا کتابونه ګټور کتابونه دي، په کرېکولم کې موجود کتابونه دي، د ببلاببلو کمېټو نه پاس شوي کتابونه دي او زیاتره هغه کتابونه دي چې په تدریسي نصاب کې شامل دي.»
یو شمېر محصلینو بیا وویل چې دغه ډول کتابونه کولای شي محصلینو سره د زده کړو په برخه کې ښې مرستې وکړي.
محصل: «اوس موږ ته دا کتابونه راکول کېږي، دا کتابونه دایمي ذخیره ده موږ ته، موږ همېشه دې نه استفاده کولای شو. دې کتابونو سره موږ ته یو سي ډي راکول کېږي چې دغه سي ډي موږ کولای شو ځان سره وساتو او کتاب ترې کاپي کړو، موبایل کې یا بل هر ځای کې.»
بل محصل: «دغه کتابونه چې مونږ ته توزیع کېږي ډېرې زیاتې ګټې دي کې په پام کې نیول شوي دي او زموږ لپاره به ان شاءالله ډېر مفید تمام شي.»
د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې د ننګرهار په طب پوهنځي کې په لاس لیکل شویو چپترونو څخه محصلینو ګټه پورته کوله چې د دې کتابونو په چاپېدو سره به زاړه لیکل شوي چپترونه لرې او د نویو کتابونو څخه به ګټه پورته شي.

# د درسي کتابونو په هکله له
# اریانا تلویزیون سره مرکه

*تاریخ: 23 اکتوبر، 2017*



***آریانا: داکتر یحیی وردگ مشاور در وزارت تحصیلات عالی همین لحظه همرای ما در برنامه هستند و شما میبینید که چقدر کتاب های زیاد را همرای خودشان آورده، میخواهد در رابطه به کتب درسی پوهنتونها صحبت های داشته باشند. خوش آمدید صبح شما به خیر***

یحیی وردک: مننه زه هم د آریانا تلویزون قدرمنو لیدونکو او اوریدونکو ته سلامونه او نیکې هیلې وړاندې کوم.

***آریانا: سلامت باشید، در رابطه به کتب درسی پوهنتون ها میخواهیم صحبت کنیم، مسئله یا وضعیت کتب درسی در افغانستان چطور است، میشود در رابطه به هرکدام این کتاب ها برای ما معلومات داشته باشید؟***

یحیی وردک: په وروستیو کلونو کې د افغانستان په لوړو زده کړو کې د کمیت له پلوه ډېر پرمختګ شوی خو له بده مرغه چې د تدریس کیفیت ته ډیره پاملرنه نه ده شوې، په لوړو زده کړو کې درسي کتابونه د استاد او نورو اکاډمیکو مسایلو تر څنګ ډېر اړین دي ځکه په درسي کیفیت کې مهمه ونډه لري. نو له همدې امله موږ د کلونو راهیسې د درسي کتابونو د

چاپ او خپرولو یو پروګرام شروع کړی دی، چې تر اوسه مو د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو د پاره په پښتو، دری او انګلیسي ژبو مختلفو کتابونه چاپ کړي دي او د افغانستان ټولو پوهنتونونو ته مو ویشلي دي.

***آریانا: این کتابها در داخل افغانستان چاپ می شود، طی مراحل و همه چیز آن در افغانستان می شود؟***

یحیی وردک: بلی، دغه کتابونه ټول دلته په کابل کې چاپیږي. دغه کتابونه موږ د دوو- دریو مطبعو سره چاپوو. په دې کتابونو کې له ۹۰٪ څخه ډېر یې د افغانستان د مختلفو پوهنتونونو د استادانو کتابونه دي. د مثال په ډول دا کتاب چې تاسو ګورئ لیکوال یې د ننګرهار پوهنتون استاد دی، دغه کتاب د بلخ د پوهاند ولی محمد فایض دی چې په بلخ پوهنتون کې استاد دی، همداسې د خوست او د هرات او د نورو پوهنتونونو استادان دي چې دوی په همدغه خپلو ریشتو کي درس ورکوي، زیاتره یې لیسانس او ماستری لري او شل - دریش کاله دوی په همدغه ریشته کې تحصیل کړی دی، تدریس یې کړی دی او په دې برخو کې بشپړه تجربه او پوهه لري، هم علمي پوهه لري او هم په همدغو څانګو کې درس ورکوي.

***آریانا: بیشتر محصلین شکایت دارند از سیستم درسی پوهنتونها، می گویند وقتی استادان به تدریس حاضر میشوند، به ما درس های اپدیت روز را داده نمی توانند، یعنی تجربه کافی ندارند و مسلکی نسیتند، چپتر را حفظ میکنند و می آیند، فقط به ما تشریح میکنند و از ما انتظار هم دارید که ما بهتر از آنها یاد بیگریم و همچنان پشتکار قوی داشته باشیم، گله گزاری در بین محصل و استاد زیاد شده، شما به عنوان مشاور وزرات تحصیلات عالی چه گفتنی دارید، راه حل این می تواند چه باشد؟***

یحیی وردک: اووه - اته کاله مخکې ما د افغانستان په پوهنتونونو کې ولیدل چې زموږ محصلین په طب کې، انجنیری کې او په نورو برخو کې هماغه شل- دیرش کاله پخواني چپټرنوټونه چې زیاتره وخت په لاس هم لیکل شوي دي،

ورڅخه ګټه اخیستل کېده، ستاسې خبره بیخی درسته ده او له دغه حالت څخه زیاتره محصلین شکایت کوي خو متاسفانه په لوړو زده کړو کې یا په پوهنتونونو کې د دغې ستونزې بنسټیز حل لپاره یو جامع پروګرام تر اوسه پورې وجود نه لري، ځینې استادان په خپله خپل کتاب لیکي بیا یې چاپ کوي، بیا یې خرڅوي، په ډیرو مشکلاتو کې دي او ځینی استادان حتی دغه توان نه لري چې خپل آثار چاپ کړي. نو په دغو برخو کې باید د لوړو زده کړو وزارت او هم نورې مرسته کوونکې ټولنې او مؤسسې چې د تحصیلاتو او پوهنې په برخه کې ډیرې پیسی مصرفوي، باید یو جامع پروګرام جوړ کړي.
پنځلس کاله د مخه د نړیوالو په مرسته د معارف وزارت لپاره د درسي کتابونو د چاپ، یو لوی پروګرام پیل شو، چې ځینې ستونزې په کې شته او حل به شي. د لوړو زده کړو لپاره هم همدغسې یو لوی او جامع پروګرام چې ما یې وړاندیز کړی دی، ( Afghan National Textbooks Program) یا د [افغان ملي درسي کتابونو] پروګرام په نوم چې که فعال شي او پیل شي او همدارنګه د پوهنتونونو استادان وهڅول شی چې هر استاد په خپل مسلک کې کتاب ولیکي. د افغانستان په پوهنتونونو کې هر مضمون چی تدریس کیږي باید حد اقل یو درسي کتاب خو ولري، موږ ځینې پوهنځي لرو چې په دې وروستیو کلونو کې تاسیس شوې دي، خو هغوی متاسفانه یو درسي کتاب هم نه لري، نو واضح خبره ده چې محصل شکایت لري چې استاد راځي او موږ ته یو څه وایی خو موږ کوم علمي سند په لاس کې نه لرو.
***آریانا: خوب بیایید در رابطه به این کتابها صحبت میکنیم، کتاب که اول شما برای ما نشان دادید "کارتوگرافی با اساسات توپوگرافی" در اینجا وقتی من چند صفحه آنرا مرور کردم، چند جای مشکلات املایی را دیدم، من نمی توانم بالای نوشته های کسی که شما گفتید یک شخصیت بسیار بزرگ است که این را نوشته، ولې من چند جای مشکلات املایی آنرا دیدم، مثلا ستندرد بود الف نداشت درصورت که ستندرد الف میخواهد***

***قبل ازینکه حرف سین بیاید الف میخواهد و چند تا لغت دیگر که در اینجا ذکر شده بود همین است مشکلات، محصیلن می گوید حتی املای استادان درست نیست در این کتابها و این مشکلات بسیار اساسی ایشان است، کسی است که این ها را ببیند و مشکلات املایی آنرا برطرف کند؟***

یحیی وردک: دا کتاب چې تاسې ورته اشاره وکړه د کارتوګرافی با اساسات توپوګرافی په نامه دی، لیکوال یې پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت دی، چې کلونه-کلونه په کابل پوهنتون کې استاد پاتی شوی دی، په همدغه ریشته کې تر پوهنوالۍ رتبې پورې رسېدلی دی. ښاغلی عنایت د کابل پوهنتون ریس هم پاتې شوی، یو وخت کی د لوړو زده کړو وزارت مشاور هم وو او په وروستیو وختونو کې د ننګرهار پوهنتون ریس هم تیر شوی دی، زموږ د کار پروسه داسې ده چې موږ استادان هڅوو چې په خپلو ریشتو کې خپل کتابونه اپدیت کړي، ویې لیکي، ټایپ یې کړي او ډیزاین یې کړی، بیا یې موږ ته راولیږي. دغه کتابونه د مربوطه ډیپارټمنټ له خوا تصدیق کیږی، د مربوطه پوهنځی له رئیس او د پوهنتون د رئیس له خوا تصدیق کیږي، نو د ځینو اصطلاحاتو په اړه موږ متاسفانه په افغانستان کې داسی سټنډرډ چی تاسو ویلی سټنډرډ یا استندرد هغه نلرو، ځینې یې په الف لیکي او ځینې یې پرته له الف. دا اصطلاحات فرق لري، نو زه فکرکوم د علمي اړخه او د املا او انشا له نظره په دې کې لوي مشکل نشته، ځکه چی دا په خپله د استاد د دیرشو- څلویښتو کلونو محصول دی، کیدای شي په ټیپ کې کومه غلطی وي، زه نه وایم چې دا ټول کتابونه سم دي او د دې مسوولیت هم زیاتره د استاد په غاړه دی.

***آریانا: محصیلن و متعلمین پشت همین چیز ها زیادتر میگردد، چرا که به ما گفته شده است که مثلا شما از وزارت تحصیلات عالی یا از وزارت معارف کسی را دعوت کردید می شود که همرایشان همین مشکلات را در میان بگذارید.***

یحیی وردک: بلی ، لومړی خو باید کتابونه زیات شي، موږ باید د کتاب لیکنې او کتاب لوستلو کلتور پیل کړو او دې ته پراختیا ورکړو ، هر کتاب چې په اول وار چاپیږي څه غلطي به پکې وي، په نوره نړۍ کې چې کتابونه ډیر دي او له کیفي پلوه ښه دي، املا او انشا یې هم ښه ده، هغه دریشم حتی پنځوسم اډیشن ته رسیدلي دي، ان شاالله په دې کتابونو کې که کومه غلطي وي، هغه به په دوهم چاپ کې اصلاح شي او مولفین به دې ستونزو ته متوجه وي او اصلاح کړي.

***آریانا: بلی باید مرور صورت بگیرد تا مشکلات کتاب ها دور شود. این کتاب ها را که ما می بینیم سی دی هم دارد و راحتر میتواند از طریق سی دی هم تدریس داشته باشند و راحت تر بیاموزند. این کتاب در باره چی است؟***

یحیی وردک: دا یوه مهمه مسئله ده، اول به سي ډي ته راشم، دا ټول کتابونه چې موږ یې چاپوو خپروو، موږ مکمل دغه هارد کاپي په پي ډي اف کې اچوو او مکمل کتاب په دغه سي ډي کې هم رایټ کوو، ځکه چې دغه کتابونه زیاتره محصلینو ته نه رسیږي او چې محصل او استاد، دا په خپل کمپیوټر کې واچوي او بل کار چې ما کړې دی تاسو وګورئ ما دوې دانې ډي وي ډي درته راوړي دي، په دې کې لیکل شوي دي ۲۱۴ طبي درسي کتابونه او دا یعنې ۲۱۴ مکمل کتابونه دي، په دې کې نه پوهیږم اویا-اتیا زره صفحې کتابونه دي چې د طب له لومړي صنف نه نیولې، کمیا، فزیک، بیالوژی، بیا داخله، جراحی، سترګې او ولادی نسایی یعنی ټول مکمل کتابونه په کې شامل دي.

***آریانا: ۲۱۴ عدد کتابها در این ډی وی ډي وجود دارد ؟***

یحیی وردک: بلی، دا ټول د طب کتابونه دي چې موږ د استادانو او محصلینو لپاره ځای په ځای کړي دي، سربیره پر دې موږ په دې هم اکتفا نه ده کړې ځکه چې د ژوند اکثره شیان ډیجیتل کیږي، موږ دغه ټول درسي مواد کتابونه د جرمني هیواد بوخم پوهنتون ته لیږو، هلته بیا دوی آنلاین دا خپروی، که چیرې د تلویزیون کامره امکان ولري دلته دا لینک ورکړئ یعنی هر څوک وروسته له

راجستر نه که په افغانستان کې وي، که په افریقا کې وي او که په اروپا کې وي کولی شي دغه درسي کتابونه ټول ډاونلوډ کړي، او ګټه ترې واخلي.
ما ته د کنړ او بدخشان نه هم تلیفونونه شوي دی زه بس بیا دغه د ویب سایت آدرس ورکوم چې د دې نه بیا دوی دغه کتابونه په آسانی سره کولای شي خپلو کامپیوټرونو ته ډاونلوډ کړي او ګټه ترې واخلي.
***آریانا: خوب از این ډی وی ډی های تان ، اگر به دسترس ما قرار دهید که با خود داشته باشیم.***
یحیی وردک: بلی، دا نمونی یی د تاسی د پاره در کولی شم.
***آریانا: ما در برنامه صبح و زندگی بخش پانزده دقیقه یی، بخش سلامتی داریم، چون بخش های مهم آن بر میگردد به طب، میخواهیم اینها را داشته باشیم، در بخش پانزده دقیقه سلامتی، من این را از پیش تان بگیرم؟***
یحیی وردک: بلی، بیخي، او راغلو موضوع ته چی پاته شوه، دا Breast Cancer په افغانستان کې یوه مهم مسئله ده، دلته تیره هفته فکر کوم څو سیمینارونه او ورکشاپونه هم وو، له بده مرغه په افغانستان کې په مهمو موضوعاتو کې دا خبرې ډیرې کیږي او سیمینارونه جوړیږي، خو موږ دغسې علمي کار ورته کړی دی او د سینی سرطان تشخیص، تداوی او مخنیوی په اړه مو یو علمي کتاب چاپ کړې دی، په همدغه وروستیو ورځو کې چی دا به ان شاالله د سینی سرطان د مخنیوي، تشخیص او تداوی کې د موږ داکتر صاحبانو سره مرسته وکړي.
***آریانا: با مطالعه این، کار شان راحت تر هم پیش می رود.***
یحیی وردک: بلی، بلی.
***آریانا: تشکر داکتر صاحب یحیی وردک از این که دعوت ما را پذیرفتید ، سلامت باشید ، وقت خوش برای شما میخواهیم.***
یحیی وردک: تشکر
***آریانا: کتاب های تان زیاد بود وصحبت های زیاد باقی مانده، ان شاالله در برنامه های بعدی خواهد بودیم.***

# د افغان پوهنتونونو لپاره شل ټوکه کتابونه چاپ شوي

*نبوونه‌او روزنه، پژواک*
*محمد حلیم کریمی، Oct 31, 2017 - 17:32*



کابل (پژواک، ۹ لړم ۹۲): د "افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې" (Kinderhilfe-Afghanistan) په مالي مرسته شل ټوکه کتابونه چاپ شوي او ټاکل شوې ده چې د هېواد د پوهنتونونو په واک کې ورکړل شي.
د لوړو زده کړو وزارت سلاکار، ډاکټر یحیي وردګ وایي چې ده دغه کتابونه د یادې کمېټې په مرسته چاپ کړي چې د طب، انجنیري، اقتصاد، کرنې، ساینس او ژورنالېزم په برخو کې دي او ټولیز شمېر یې شل ټوکه دی.
د هغه د معلوماتو له مخې په چاپ شویو کتابونو کې اطلاعاتو ته د لاس رسي لارې چارې، عمومي بیولوژي، د پروژو تحلیل او مدیریت، د انجنیرۍ میخانیک، کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړۍ برخه، کلکولس او تحلیلي هندسه دویمه برخه، د کرنیزو

محصولاتو بازارموندنه، کارتوګرافي د توپوګرافي له اساساتو سره، انرژي سمپاکوونکې ودانۍ، د موادومقاومت، فزیکي کیمیا ګازونه او کیمیاوي ترمودینامیک، حیاتي جغرافیه، د فاضله اوبو انجنیري، د عصبي سیستم اناتومي، د وینې حجرې، تنفسي جهاز، هضمي جهاز او نوو زېږېدلو فزیولوژي، اقتصادي جیولوجي، د سیني، بطن او حوصلې اناتومي.
دغه راز فزیکي تشخیص او تاریخچې اخستنه، د ځانګړو حساسیتونو، پوستکي او تونومیک او مرکزي سیستم فزیولوژي او د درملو بدې اغېزې شاملې دي.
د هغه د معلوماتو له مخې، دغه کتابونه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو او ځینو کتابتونونو او نورو بنسټونو په واک کې ورکول کېږي څو محصلین، استادان، ډاکتران او نور خلک کار ترې واخلي.
سرچینې وویل چې د دغو کتابونو د ژباړې او تالیف لپاره یې هېڅ ته حق الزحمه نه ده ورکړې؛ خو د دغو چاپ شوو کتابونو په بدل کې لیکوالانو او ژباړونکو ته د تشویق لپاره سل ټوکه کتابونه ورکړل شوي او زیاته یې کړه چې که څوک د دغو کتابونو مطالعې ته اړتیا لري، د (www.ecampus-afghanistan.org) انټرنېټ پاڼې څخه یې په وړیا توګه ډانلوډولای شي.
هغه چې له اوو کلونو را په دېخوا د مختلفو موسسو په ملګرتیا توانېدلی کابو ۲۵۰ عنوانه کتابونه چې ډېری یې طبي او یو شمېر یې غیر طبي دي، د افغانستان د پوهنتونونو لپاره چاپ کړي، زیاته یې کړه چې د افغان ماشومانو لپاره د جرمنې کمېټې د طب، انجنیري، اقتصاد، کرنې، ساینس او ژورنالېزم په برخو کې ټول ټال ۱۴۰ټوکه کتابونو د چاپ لګښت ورکړی دی.

کـه څـه هـم چـې د دغـو کتـابونو پـه چاپېـدو سـره د ډېـرو محصـلینو ستـونزه حـل شـوې ده؛ خـو لا هـم د افغانســتان د نـورو پوهنځیـو محصلین د درسي کتابونو او سرچینو له کمښت څخه شکایت لري.

د کابـل پوهنتـون د کرنـې پـوهنځي یـو محصـل الیـاس غیـاثي وویـل چې د دغـه پـوهنځي محصـلین، لـه درسـي نصـاب سـره سـتونزه لـري او یـو شـمېر د درسـي کتـابونو د ریفـرنس د مشخصـېدو لـه نـه شـتون څخـه شکایت لري.

هغـه زیاتـه کـړه چې د دغـه پـوهنځي ځینـي اسـتادان مشـخص کتابونـه نـه تدریســوي، لــه انټرنېــټ څخــه د موضــوع اړونــد ډېـری داســې لکچرنوټونه کاپي کوي چې د افغانستان له شرایطو سره توپیر لري.

هغــه د لــوړو زده کــړو وزارت څخــه د یــوه مســوول ارګــان پــه توګــه غـواړي چې پـه ملي ژبـو دې داسې درسي کتابونـه چـاپ کـړي چې هـم له نړیوالو معیارونو او هم د افغانستان له شرایطو سره توافق ولري.

پـه ورتـه وخـت کـې د کابـل پوهنتـون یـوې محصـلې ارزو هـم اند ېښـنه څرګنـده کـړه چې ډېری اسـتادان د تـدریس لپـاره مشـخص درسـي مـواد نه لري.

ارزو زیاتـه کـړه چې د لـوړو زده کـړو وزارت بایـد دې سـتونزې تـه لازمـه پاملرنه ولري.

د کابـل پوهنتـون دغـه محصـل د خپلـو خبـرو پـه دوام کـې د لـوړو زده کـړو وزارت سـلاکار ډاکتـر یحیـی وردګ د دغـو هڅـو چې د افغـان ماشـومانو لپـاره د جرمنـي کمېټـې پـه مـالي مرسـته یـې سـلګونه ټوکـه کتابونه چاپ کړي دي، خوشالي څرګنده کړه او دا اقدام یې وستایه.

## د خوست شیخ زاید پوهنتون لپاره چاپ شویو کتابونو په اړه د دغه پوهنتون له استادانو او محصلینو سره مرکه

یو هېواد تر هر څه د مخه یو پیاوړي او معیاري تحصیلي نظام ته اړتیا لري او د غه تحصیلي نظام هغه وخت رامنځته کېدای شي چې هېواد یې په مسلکي کدرونو او همدارنګه معیاري او نویو درسي کتابونو سمبال وي، په یو معیاري تحصیلي سیستم کې د ښه استاد ترڅنګ ښه کتاب ته جدي اړتیا ده. که څه هم افغانستان کې د تیرو اتلسو کلونو په اوږدو کې په تحصیلي برخه کې د کمیت له پلوه د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي او دولتي پوهنتونونو ترڅنګ په زیاته اندازه خصوصي پوهنتونونه او لوړو زده کړو موسسې هم فعالیت کوي، خو تر اوسه په ډېری دغو بنسټونو کې د پخوانیو درسي چپټرونو څخه خلاصون نه دی شوی. په پوهنتونونو کې د چپټریز نظام د ختمولو او ځای یې نویو درسي کتابونو ته د سپارلو لپاره ځینې د پام وړ اقدامات ترسره شوي او د ګوتو په شمېر ځوانانو د نویو درسي کتابونو د چاپ لپاره هڅې کړې. له دې جملې څخه یو نوم چې د افغانستان تحصیلي نظام لپاره یې د نویو او معیاري کتابونو د چاپ په برخه کې د پام وړ هڅې ترسره کړي او د افغانستان بېلابېلو پوهنتونونو لپاره یې د طب، انجنیری، زراعت، اقتصاد، ژورنالیزم او نور بېلابېلو برخو کې د استادانو تدریسي کتابونه چاپ کړي او د محصلانو په خدمت کې یې ورکړي، ډاکټر یحیی وردک دی. نوموړي د آلمان هېواد بېلابېلو موسسو او ادارو په همکاریو د ګڼ شمېر دولتي پوهنتونونو لپاره د استادانو منل شوي تدریسي اثار چاپ ته سپارلي او د پوهنتونونو کتابتونونه یې پر غني کړي، چې او سمهال ورڅخه

محصلان په خپلو زده کړو کې ګټه پورته کوي. يو له دغو پوهنتونونو څخه د خوست شيخ زايد پوهنتون دی چې په لسګونو استادانو علمي آثار يې د ډاکټر يحی وردک دفتر له خوا چې په لوړو زده کړو وزارت کې قرار لري، چاپ شوي او د ياد پوهنتون ادارې ته سپارل شوي. دا چې د دغه پوهنتون استادان او محصلان له يادو کتابونو څخه په څه ډول ګټه پورته کوي او د دغه پوهنتون په درسي کيفيت کې يې څومره اغيز کړی په اړه يې د ياد پوهنتون له څو تنو استادانو او محصلانو نظريات لولو.

***د خوست شيخ زايد پوهنتون طب پوهنځي استاد پوهاند دوکتور بادشا زار ابدالي:***

***لومړی پوښتنه: دا چې تحصيلي نصاب د افغانستان په پوهنتونونو کې ډېر پخوانی دی او په زياتره پوهنتونونو کې د پنځوسو کلونو مخکې چيپټرونو څخه استفاده کيږي او اوسمهال چې علم نوی شوی، غوښتنې نوې شوي او هغه زړې چيپټرې اوس کفايت نه کوي، نو اوس نويو تدريسي موادو او کتابونو چاپ ته څومره اړتيا ده؟***

ځواب: اوس مهال چې د افغانستان ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د کيفيت د تضمين تر پروسې لاندې دي او دوی کوښښ کوي چې باکيفيته او وړ محصلان ټولنې ته وړاندې کړي. د با کيفيته محصلانو په تقديم کې تر هرڅه مهم درسي مفردات او ښه درسي کريکولم دی چې د ټولنې د اړتياوو پر وړاندې ځواب ويونکی وي او د هغې پر بنسټ محصلانو ته زده کړې ورکړل شي. څرنګه چې د اوو-اتو کلونو راهيسې په لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکټر يحی وردک په مشرۍ يو دفتر وجود لري چې د هغوی له خوا بېلابېلو پوهنتونونو ته ډېر زيات کتابونه په پښتو او دري ژبو چاپ شول او پوهنتونونو سره کمک وشو، موږ او تاسو پوهيږو چې لوړو زده کړو وزارت اوسمهال ډېر امکانات نه

لري او د دې وزارت يو مهم لومړيتوب دادی چې پوهنتونونو ته د پرمختګ لپاره نوي او اغېزمن درسي کتابونه برابر کړي، اوس هم ځينې زاړه چپټرونه په پوهنتونونو کې شتون لري چې ډېر ستونزې لري. دغه مواد بايد په نوې بڼه د کتاب په شکل واړول شي، له نويو نړيوالو مفرداتو څخه په کې ګټه پورته شي او د اوسني عصر سره سم کتابونه چمتو شي. د نويو کتابونو په چاپ باندې استادان ترفيع کوي نو بايد باکيفيته کتابونه برابر کړي او د محصلانو په خدمت کې يې ورکړي. يوه ستونزه دا ده چې اوس د لوړو زده کړو وزارت له خوا د کتابونو چاپ پروسه ډېره بطي ده او بايد په دې برخه کې ډېر کار وشي.

دغه ټولنه چې د ډاکټر يحی وردک په مشرۍ د لوړو زده کړوت په چوکاټ کې د استادانو لپاره په لوړ کيفيت تدريسي کتابونه چاپوي ډېر زيات ورڅخه منندوي يو. زه د خوست ولايت شېخ زايد پوهنتون جراحي څانګې مشر يم او دوکتورا مې په شوروی اتحاد کې کړېده، زما اوه (۷) بېلابېل درسي کتابونه د دغې ټولنې له خوا چاپ شوي دي او ټول د محصلانو د مفرداتو سره سم دي، چې ما پرې علمی ترفيعګانې اخيستي دي، نور هم ډېر استادان دي چې ډېر زحمت باسي او کتابونه يې له همدې ټولنې له خوا په لوړو زده کړو وزارت کې چاپ کيږي. بايد ووايم چې د دې ټولنې هڅې او خدمت د پوهنتونونو او محصلانو په پرمختګ کې او د لوړو زده کړو وزارت د کيفيت د تضمين پروسې په پلي کولو کې عمده ونډه لري. دغې ټولنې سره هره اداره چې مالي مرسته کوي هغه که د آلمان ډيموکراټيک هېواد دی او که افغانان دي، واقعاً پر ځای مرسته ده او زما غوښتنه دا ده چې دغه مرستې نورې هم زياتې شي، څو د دې دفتر له خوا د افغانستان په اکاډميکه برخه کې لا ښه خدمتونه ترسره شي. د ښه کتاب په چاپ سره موږ کولی شو ټولنې ته ښه محصلان وړاندې کړو. د آلمان له هېواد څخه چې تل يې له افغانستان سره همکاري کړې او ټولو هغو موسسو څخه په ځانګړې

توګه( افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې ... ) چې همدا اوس مهال د دې ټولنې مالي ملاتړ کوي مننه کوم او د هغوي د لا ډېرو همکاريو په هيله يم، ځکه دغه ټولنه تل د پوهنتونونو په خدمت کې ده، دغه ټولنه د ټولو دولتی پوهنتونونو لپاره يو ډول خدمتونه وړاندې کوي او علمی آثار ورته برابروي. موږ چې هر کتاب دوي ته ورليږلی د پوهنځي د ضرورت پر بنسټ ټاکل شوی، د علمي معاونيت نه ټاپه شوی او دوی ته سپارل شوی چې دې دفتر له دريو څخه تر شپږو مياشتو په اوږدو کې زموږ لپاره چاپ کړی او زموږ د محصلانو په چوپړ کې يې ورکړی. زه د دوی له خدمتونو څخه د زړه له تله مننه کوم او د لا ډېرو همکاريو د دوام په هيله يم. د لوړو زده کړو وزارت له مسوولينو او په ځانګړې توګه له علمی معينيت څخه مې هم هيله ده چې له دغه دفتر څخه خپل ملاتړ زيات کړي.
کتاب هغه څه دي چې محصل ورڅخه ښه ګټه پورته کولی شي، که څه هم په انټرنيټ او کتابتونونو کې ډېر کتابونه شتون لري، خو په خپله ژبه د محصلانو لپاره د کتابونو برابرول ډېر اړين دي او هغوی ورڅخه ښه ګټه پورته کولی شي. همدارنګه خپلې ژبې ته خدمت هم د کتاب پورې تړلی دی او موږ بايد خپلې ژبې ته د علمي آثارو د رامنځته کولو له لارې خدمت ترسره کړو.

***پوښتنه: استاد محترم دغه کتابونه چې په دې وروستيو کې چاپ شوي مثلاً اووه عنوانه کتابونه ستاسې دي، همدارنګه د نورو استادانو کتابونه دي، اغيزمنتيا يې څومره ده؟***

ځواب: که چېرې زموږ د پوهنتون څخه ليدنه وشي نو ليدل کېږي چې زموږ محصلان ۸۰ سلنه له هغو کتابونو څخه ګټه پورته کوي چې په لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکټر يحی وردک دفتر له خوا ورته چاپ شوي او په دې کتابونو سره د هغه زړو چپټرونو چې غير معاري وو د استعمال مخه نيول شوې، دغه کتابونه د نويو درسي مفرداتو مطابق دي او محصلانو لپاره

ډېره ګټه کوي او ورځخه خوښ دي، دغه کتابونه د څانګې مشر، پوهنځي مشر او وروسته علمي معاونیت له خوا کتل کیږي او وروسته چاپ ته لیږل کیږي چې هیڅ ډول غلطي په کې شتون نه لري.

***پوښتنه: دغه کتابونه څومره ابلهیټ دي یعنې څومره د نوي تدریسي سېستم سره جوړ دي؟ او په راتلونکي کې کوم معیار نه باید په نظر کې ونیول شي؟***

ځواب: دغه کتابونه که وکتل شي ټول نوي دي، له نويو ریفرینسونو څخه په کې ګټه اخیستل شوې، نوي ګرافیک او تصویرونه په کې کارول شوي، د هر کتاب په پای کې که ولیدل شي نوي ریفرینسونه ورکړل شوي دي او موضوعات یې نوي دي.

دا چې کتاب نور هم پرمختګ وکړي او علمي کتابونه زیات شي، د هرې څانګې او پوهنځي دنده ده چې استادانو ته نوي آثار په لاس کې ورکړي، ویې لیکي او نوي آثار خپلو ژبو ته راوژباړي، لکه ایران او ځینې نور هېوادونه چې د نړۍ په هره برخه کې نوی کتاب چاپ شي دوی یې خپلې ژبې ته راژباړې او د خپلو خلکو په خدمت کې یې ورکوي.

زه وایم لکه څرنګه کار چې د ډاکټر یحي وردک دفتر په لوړو زده کړو وزارت کې پیل کړی، نورې ټولنې هم باید دې خدمت ته ملا وتړي. یوازینی شی چې ټولنې ته پرمختګ ورکولی شي نوی او معیاري کتاب دی، نو دولت باید د دغسې ټولنو څخه ملاتړ وکړي.

د علم اساس کتاب دی، پوهنتون دی او د پوهنتون استادان دي.......

***پوښتنه: استاده د دې کتابونو په چاپ سره په تدریسي سېستم کې څومره بدلون رامنځته شوی؟***

ځواب: زه به دومره ووایم چې د ډاکټر یحی وردک دفتر له خوا چې د مختلفو پوهنتونونو لپاره کوم کتابونه چاپیږي هغه ټول مونږ ته رارسیږي یعنې ټولو پوهنتونونو ته استول کیږي، که تاسو زمو د ښېخ زاید پوهنتون طب پوهنځي کتابتون وګورئ ۹۰ سلنه کتابونه یې د همدې دفتر له خوا

زموږ په واک کې راکړل شوي او که عمومي کتابتون وګورئ نو نږدې ۵۰ سلنه کتابونه یې د همدې ادارې له خوا راغلي دي. نو طبعاً موږ چې کله محصل ته درس وایو او ریفرینس ورته ښایو نو له همدې کتابونو استفاده کوي. مثلاً زه د ګېډې د ملحقاتو جراحي تدریسوم چې دغه کتابونه د یادې ټولنې له خوا موږ ته ۱۰۰۰ جلده چاپ شوي او زموږ په کتابتون کې شته چې محصل په همدغه کتابتون کې ورڅخه استفاده کوي، زموږ هر محصل د لومړۍ ورځې د کتاب څښتن دی او له همدې کبله له استادانو پسې ځان رسوي، په داسې حال کې چې مخکې به چېټرې وې او تر ډېره وخته به د محصل په لاس کې نه ورکول کېدې او یا به محصل غریب و چاپولی به یې نه شوې، خو اوس دغه کتابونه د محصلانو لپاره وړیا دي. زه هیله لرم چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې نورې هم ورته ټولنې رامنځته شي چې د استادانو د علمی آثارو په چاپ کې موږ سره مرسته وکړي.

***پوښتنه: که په لنډ ډول راته ووایې چې له دغې کتابونو څخه محصلان څومره خوشحاله دي؟***

ځواب: که تاسو زموږ پوهنځي له درسي خونو څخه لیدنه وکړئ نه یوازې کتابونه بلکې پراجکټورونه هم موږ ته د همدې دفتر له خوا راکړل شوي چې موږ ورنه په تدریس کې ګټه اخلو او موږ همیش په خپلو ټولګیو کې د لوړو زده کړو وزارت او په ځانګړې توګه د ډاکټر یحی وردک له همکاریو څخه مننه کوو او زموږ محصلان له دې دفتر او ټولو هغو موسسو څخه چې په دې برخه کې همکاري کوي ډېر خوشحاله دي. زه د یو استاد په صفت د لوړو زده کړو وزارت له علمي مرستیال څخه په خورا درنښت یوه هیله لرم چې ستاسو دفتر ته ځانګړې پاملرنه وکړي، ستاینلیکونه ورکړي او خپل ملاتړ ورڅخه زیات کړي ځکه یو ارزښتمن کار د پوهنتونونو لپاره د معتبرو کتابونو چاپول او د محصل په لاس کې ورکول دي چې دې دفتر دغه کار په ښه طریقې سره ترسره کړی دی.

***پوښتنه: استاد یوه لورې ته د تحصیلي نصاب د نوي کولو موضوع ده چې د لوړو زده کړو وزارت لومړیتوب دی او کار یې پرې پیل کړی او بل لورې ته په دې برخه کې د نویو تدریسي کتابونو شتون هم ډېر مهم دی، په دې لاره کې ستاسې وړاندیز څه دی نورو استادانو ته چې څه باید وکړي؟***

ځواب: لکه څرنګه چې په نوره نړۍ کې تحصیلي نصاب هر پنځه کاله وروسته نوی کیږي نو زما وړاندیز دا دی چې موږ هم د پنځو کلونو په موده کې هر کتاب باید نوی کړو، نوې څېړنې ورشاملې کړو. استادان باید شپه او ورځ کار وکړي، د مشرانو استادانو تر لارښوونې لاندې خپلې څېړنې باید کتابونو ته داخلې کړي، علمي مجلې باید رامنځته کړو او د ټولو پوهنتونونو ترمنځ شریکې شي، موږ باید د لوړو زده کړو په وزارت کې یوه ځانګړې اداره ولرو چې کار یې یوا ځې او یوا ځې د تدریسي موادو رامنځته کول او چاپول وي، د ډاکټر یحی وردک ټولنې ترڅنګ یوه بله اداره هم باید په کار پیل وکړي او د استادانو آثار چاپ کړي، زموږ ځوان استادان تکړه دي، زیاتره یې د بهرنیو ژبو سره بلد تیا لري، دوی باید ژباړې وکړي، علمې تحقیقات ترسره کړي او د کتابونو په بڼه یې چاپ کړي. د اوسنیو ناخوالو څخه د خلاصون لاره هم د علمي پانګې غني کول دي او د ټولنې روزنه ده. که وغواړو چې د نورو پرمختللو هېوادونو علمي کاروان پسې ولاړ شو نو باید کار وکړو.

***پوښتنه: په لنډو ټکو که راته ووایې استاده محترمه چې د ډاکټر یحی وردک له دغه کار څخه څومره راضي یاستۍ او غوښتنه مو څه ده؟***

***ځواب: زه ډاکټر صیب یحی وردک ته د اوږد ژوند هیله کوم او سپارښتنه مې دا ده چې د علمي آثارو د چاپ په برخه کې نور هم ګړندي ګامونه پورته کړي، ډاکټر صیب ته مو دعوت دی چې راشي او زموږ پوهنتون څخه لیدنه وکړي، موږ چمتو یو چې په دې برخه کې ورسره خپل مالي ملاتړ هم ترسره کړو.***

***د خوست شېخ زايد پوهنتون ژورناليزم پوهنځي رئيس پوهنوال ماستر واحدي***

***پوښتنه: هغه کتابونه چې د ډاکټر يحی وردک دفتر له خوا ستاسو پوهنتون لپاره چاپ شوي څومره اغيزمن تمام شوي، محصلانو ته يې څومره ګټه رسېدلې او څومره اسانتيا يې په تدريسي سېستم کې رامنځته کړې ده؟***

ځواب: اغيزمنتيا يې ډېره زياته ده ځکه موږ تراوسه پورې درسي مومد کتابونه نه درلودل. په دې وروستيو کې چې ځينې استادانو دا اراده وکړه چې نوي کتابونه چاپ کړي، د پوهنتون لپاره يوه سرمايه شي او محصلان ورڅخه ګټه واخلي. مخکې ټول لکچرنوټونه و، ما هم دوه کتابه د ډاکټر صاحب يحی وردک دفتر په همکارۍ چاپ کړي، له دې مخکې ما د کابل پوهنتون استادانو او نورو ليکوالو له کتابونو څخه استفاده کوله او د هغوي لکچرنوټونه مو تدريسول، خو بلاخره دې ته مجبور شو چې موږ هم بايد خپل تدريسي کتاب ولرو او خپل کتابونه مو چاپ کړل، په دې کار سره موږ ته ډېره اسانتيا رامنځته شوه. د لکچرنوټ او درسي مومد کتاب تر منځ ډېر توپير دی، ما د راډيوي پروګرامونو توليد او تلويزيوني پروګرامونو توليد په نامه دوه کتابونه چاپ کړل تر څو زموږ محصلان يې ولولي. دغه د کتابونو چاپ موږ سره واقعاً د دغه دفتر ستره همکاري ده، دوي يوازې د ژورناليزم نه بلکې د طب، اقتصاد او نورو برخو کې کتابونه چاپ کړي چې موږ له دوی ډېر منندوی يو، ځکه زموږ محصلان اوس درسي مومد کتاب لري.

***پوښتنه: استاد محترم لکه څرنګه چې لوړو زده کړو وزارت په دې وروستيو کې د درسي نصاب د معياري کولو لپاره هڅې پيل کړي او غواړي زوږ چپټريز تحصيلي نظام څخه لوړې زده کړې را بهر کړي او تدريسي کيفيت لوړ کړي، په دې برخه کې د نويو تدريسي کتابونو اړتيا څومره ده؟***

ځواب: له اندازې زیات ګټور دي چپټرونه ډېر زاړه دي، دا چې زموږ د ژورنالیزم پوهنځی اوس مهال د امریکې له یو پوهنتون سره تو امیت لري او کریکولم مو نوی شوی او چپټریز نظام مو بیخې له منځه وړی، هڅه مو همدا ده چې د چپټرونو معیار له منځه لاړ شي، که چېرې موږ درسي مومد کتابونه ولرو نو موږ به محصل سالاري سېستم ته وده ورکړې وي، محصل به مو په کار بوخت کړی وي، محصل به مو کتابتون ته لیږلی وي او کله چې له محصل نه کورنۍ دنده وغواړو نو موږ ته نه شي ویلی چې کتاب له کومه کړم. دغه معیاري کتابونه چې محصل ته څومره ډېرېږي د پوهنتون تحصیلي کچه ورسره همغومره لوړېږي. زما د ټولو استادانو څخه همدا هیله ده چې دوي دې درسي مومد کتابونه چاپ کړي تر څو موږ په پښتو ودریږو او زیاتي له دغه زوړ چپټري سېستم څخه خلاص شو.

***پوښتنه: په وروستیو کې دا هڅې هم پیل شوي چې په انلاین ډول کتابتونونه رامنځته شي او د انټرنیټ له لارې کتابونو ته لاس رسی وشي، د انلاین کتابونو او دا چې کتاب په هارډ شکل په لاس کې ولرو ترمنځ یې څومره توپیر شته او اغیزمنتوب د کوم یو زیات دی؟***

ځواب: که موږ ووایو چې راډیو ډېره اغیزمنه ده که تلویزیون نو ویلی شو چې راډیو موږ ته ډېره ګټوره ده ځکه د هر چا په لاس کې ده په همدې ډول کتاب زموږ لپاره ډېر اغیزمن دی، ځکه په انلاین ډول منابعو ته موږ دومره لاسرسی نه لرو، ځکه زموږ انټرنیت زیاتره ځایو کې فعال نه دی او ګټه ورڅخه نه شو اخیستلی، موږ ته په اوس وخت کې چاپ شوي کتابونه ډېره ګټه رسوي.

***پوښتنه: د نورو نویو کتابونو د چاپ لپاره پوهنتون څه برنامه لري، څو نوي کتابونه زیات شي او محصلانو په خدمت کې یې ورکړي؟***

ځواب: اوس مهال زموږ استادان د ډاکټر صیب یحی وردک دفتر په هلو ځلو سره ډېر هڅېدلي ځکه په دې کتابونو سره له یو لورې استادان علمي

ترفیعګانې کوي او له بل لوري محصلانو ته تدریسي مواد په ګوتو ورځي. موږ به په نږدې وخت کې د یاد دفتر او لوړو زده کړو وزارت په همکارۍ سره د زیات شمېر درسي کتابونو درلودونکي شو.

***پوښتنه: محصلان له دغو کتابونو څخه څومره خوشحاله دي؟***

***ځواب: محصلان ډېر زیات خوشحاله دي ځکه یو لکچرنوټ او یو درسي کتاب چې دوی یې اوس مهال په لاس کې لري، تر منځ یې ډېر فرق دی، محصلان تشویق کیږي او غواړي چې د زړو لکچرنوټونو پرځای زیات شمېر نوي درسي کتابونه ولري.***

***په همدې ډول مو د کتابونو د چاپ په اړه د یاد پوهنتون څو محصلانو نظریات هم اخیستي***

***عنایت الرحمن د خوست شیخ زاید پوهنتون څلورم ټولګي محصل***

***پوښتنه: دغه کوم کتابونه چې په لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکټر یحی وردک ټولنې له خوا چاپ شوي او تاسو ته تدریس کیږي، څومره ګټه یې تاسو ته رسولې؟***

ځواب: په رښتیا هم دغه کتابونه چې اوس چاپیږي او مخکې هم چاپ شوي چې همدا اوس زما په لاس کې هم یو کتاب موجود دی، زموږ لپاره ډېر ګټور تمامیږي، ځکه یو خو دغه کتابونو متن ډېر ساده او اسانه دی او بل زموږ په ملي ژبه پښتو ژبه لیکل شوی او موږ ورنه ډېره ګټه اخیستی شو او بله دا چې دا کتابونه محصلانو ته وړیا ورکول کیږي او هغوی نه مجبوریږي چې بازار کې یې په پیسو واخلي.

***پوښتنه: دغه کتابونه څومره اړین دي او په اوس مهال کې د طب په برخه کې د افغانستان څومره غوښتنې په کې په نظر کې نیول شوي؟***

ځواب: زه به دومره ووایم چې نړۍ او افغانستان سره نه شو مقایسه کولی، ځکه د نورې نړۍ کتابونه ستندرډ دي او ورځ په ورځ په کې تغیر راولي،

خو زموږ استادانو هم اوس دا کوښښ پیل کړی چې تغیرات راولي. موږ د دغه کتابونو له چاپولو څخه ډېر راضي یو او ډېره ګټه مو ترې اخیستې.

***پوښتنه: د دې کتابونو په چاپ کې کوم معیارونه باید په نظر کې ونیول شي، ستاسو غوښتنه په دې اړه څه ده؟***

ځواب: غوښتنه مو داده چې کتابونه لومړي وکتل شي او املایي غلطي یې اصلاح شي او بله دا چې د کتابونه په چاپ کې هغه طبي ترمینالوژي په نظر کې ونیول شي، یعنې هغه نړیوال معیاري اصطلاحات مثلاً اینډکس په خپل په همغه انګلیسي ژبه ولیکل شي او بل نوم ورته ونه کارول شي، ځکه دا بیا موږ ته په لوستو کې مشکل پیدا کوي.

***نوم مې عمر دی د شیخ زاید پوهنتون انجنیری پوهنځي مهندسي ډیپارټمنټ څلورم کال محصل یم.***

***پوښتنه: انجنیر صیب دا چې تاسو د څلورم ټولګي محصل یاست دغه کتابونه چې نوي چاپ شوي او استادانو تر تاسو درسولي څومره موثر دي او تاسو ته یې څومره ګټه رسېدلې؟***

ځواب: موږ له دغو کتابونو څخه ډېر خوشحاله یو او له ډاکټر صیب نه ډېره مننه کوم چې په دې برخه کې خدمت کوي، د دې کتابونو یو ښه والی دادی چې محصلانو ته مفت ورکول کیږي او بل دا چې په دې کتابونو کې نویو موضوعاتو ته اشاره شوې، له ډېر معیاري افغاني او بهرنیو ریفرینسونو څخه په کې کار اخیستل شوی دي او د پخوانیو کتابونو په پرتله ډېر ښه شوي دي، په دې کتابونو کې تشریحات زیات دي او د افغانستان اوسنۍ انجنیرۍ سره ډېر مطابق دي.

***نسیم ګل سهار (۱۳۹۷ لیندۍ ۴) لوړو زده کړو وزارت نشراتو ریاست***

# علاقمندو افغان مؤلفینو ته پیغام

د درسي کتابونو کمښت او نشتوالی د افغانستان په پوهنتونونو کې د عمده ستونزو له ډلې څخه ګڼل کېږي چې محصلین او استادان له ډېرو ستونزو سره مخامخ کوي. دوی زیاتره نوي معلوماتو ته لاسرسی نه لري او له زړو کتابونو او نوټونو څخه ګټه اخلي چې بازار ته په ټیټ کیفیت چاپ او وړاندې کېږي.
د دغه ستونزو د حل لپاره، موږ د ۲۰۱۰ کال را په دېخوا د هېواد د پوهنتونونو د طب پوهنځیو د کتابونو په چاپولو پیل وکړ او تر اوسه مو ۲۹۰ عنوانه مختلف طبي او غیر طبی کتابونه د کابل، ننګرهار، خوست، کندهار، بلخ، هرات، کابل پولي تخنیک، کاپیسا پوهنتونونو او کابل طبي پوهنتون لپاره چاپ کړیدي.
دا تعداد مخ په زیاتېدو دی یعنې موږ هڅه کوو تر څو د هېواد د ښاغلو لیکوالانو او استادانو نور کتابونه له مختلفو ځایونو نه را ټول او د چاپ پروسې ته یې وسپارو.
ددې لپاره چې ستاسو موافقه ترلاسه کړو، مخکې له دې چې ستاسو کتاب لاسته راوړو او چاپ یې کړو، موږ تاسو ته یو فورم درلېږو چې باید تاسې هغه ډک (خانه پري) کړئ. په یاد فورم کې ستاسې د کتاب نوم په پښتو/دري او انګلیسي ژبو ذکر کېږي.
همدارنګه د اړیکې شمېره او ایمیل آدرس مو هم باید ذکر شي. د لیکوال لاسلیک، د اړوند دیپارتمنت لاسلیک او مهر، د پوهنځي او د پوهنتون د ریاست لاسلیک او مهر باید هر یو طی مراحل او تایید شي.

که چېرې تاسې د پوهنتون استاد یاست یا په بهر کې ژوند کوی، نو هغه ټکي چې ستاسې اړوند دي خانه پري کړئ او پاتې نور یې موږ خانه پري او طی مراحل کوو.

په ایمېل کې به تاسې ته څو ټکي ضمیمه شي چې هر لیکوال باید هغه مراعات کړي، همدارنګه نور کافي معلومات چې څو مرکې او نور ټکي پکې شامل دي ستاسو د معلوماتو لپاره ضمیمه شوي دي. په پای کې باید ووېل شي چې زموږ لخوا چاپ شوي کتابونه ټول په وړیا توګه د طب پوهنځیو ته وېشل کیږي.

ټول چاپ شوي کتابونه له www.ecampus-afghanistan.org وېب سایټ څخه ډاونلوډ کولای شئ چې له دې وېب سایټ نه د ګټه اخیستنې په اړه به کافي معلومات، چې د هغه د کارولو لپاره لومړی باید ځان راجستر کړی، ستاسې ایمېل ته ضمیمه شي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کابل، ۲۰۱۹
د دفتر د تلیفون شمېره: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰، موبایل: ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴
ایمېل آدرس: textbook@afghanic.de




لا تر اوسه هم زیات محصلین له زړو چپټرونو څخه د یوازیني درسي موادو په توګه کار اخلي.

څلورمه برخه

# ملپاني: پوسترونه، ستاينليكونه او تصويرونه

# په وروستيو کلونو کې د چاپ شويو کتابونه پوسټرونه



# Medical Textbooks of Afghan Universities

**(Nangarhar, Khost, Kapisa, Kandahar, Herat, Balkh & Kabul) printed in 2012**




| | |
|---|---|
| **Funded by** | DAAD & Kinderhilfe-Afghanistan |
| **Implemented by** | Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education/Kabul, Afghanic/Bonn |
| **Contact** | textbooks@afghanic.org, 0756014640 |
| **Download** | www.ecampus-afghanistan.org |

# Medical Textbooks of Nangarhar University

## Printed in 2013-2015



**Funded by** Kinderhilfe-Afghanistan
**Implemented by** Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education/Kabul
Afghanic/Bonn

**Contact** textbooks@afghanic.org, 0756014640
**Download** www.ecampus-afghanistan.org

# Textbooks (Engineering, Science & Agriculture) of Nangarhar University Printed in 2015







**Funded by** Kinderhilfe-Afghanistan
**Implemented by** Dr. Yahya Wardak, MoHE/Kabul
Afghanic/Bonn
**Contact** textbooks@afghanic.org
0756014640
**Download** www.ecampus-afghanistan.org

# Medical Textbooks of Nangarhar & Khost University

## Printed in 2016







| | |
|---|---|
| **Funded by** | **Kinderhilfe-Afghanistan** |
| **Implemented by** | Dr. Yahya Wardak, MoHE/Kabul, Afghanic/Bonn |
| **Contact** | textbooks@afghanic.org, 0756014640 |
| **Download** | www.ecampus-afghanistan.org |

# Textbooks of Nangarhar, Balkh, Kabul, Khost & Kabul Polytechnic Universities

## Printed in 2016







**Funded by** DAUG, Consulate General of the Fedral Republich of Germany, Mazar-e Sharif, Afghanistan-Schulen, SlovakAid & Konrad Adenauer Stiftung

**Implemented by** Dr. Yahya Wardak, MoHE/Kabul, Afghanic/Bonn

**Contact** textbooks@afghanic.de, 0756014640

**Download** www.ecampus-afghanistan.org

# Textbooks of Nangarhar, Herat, Kabul, Balkh, Kabul Medical & Khost Universities

## Printed in 2017




| | |
|---|---|
| **Funded by** | Kinderhilfe-Afghanistan, DAUG, Afghanistan-Schulen, Michael Klett & KAS |
| **Implemented by** | Dr. Yahya Wardak, MoHE/Kabul, Afghanic/Bonn |
| **Contact** | textbooks@afghanic.de, 0756014640 |
| **Download** | www.ecampus-afghanistan.org |


Textbooks of Nangarhar & Khost Universities
Printed in 2018
The Closed Treatment of Common Fractures
Immune Pharmacology
Differential Diagnosis of Internal Diseases I
Neurosurgery
Differential Diagnosis of Internal Diseases II
Respiratory, Cardiac, Hematological & Renal Diseases of Children
Hematology
Diagnostic Radiology (Part II)
The Chest
Veterinary General Pathology
Vertebrate Zoology
Invertebrate Zoology
Reinforced Concrete Structure Design (First Part)
Engineering Survey
Radiology
Medical Physics
Nervous System Examination & Behavioral Sciences
Foundation Engineering
Production of TV Programs
Geomorphology
Introduction to Auto CAD for Civil Engineering Application
Funded by Kinderhilfe-Afghanistan
Implemented by Dr. Yahya Wardak, MoHE/Kabul, Afghanic/Bonn
Contact textbooks@afghanic.de, 0756014640
Download www.ecampus-afghanistan.org


Medical Textbooks of Nangarhar, Kabul & Balkh Universities
Printed in 2019
Paediatrics Surgery
Eye Clinical Diseases
Endocrinology & Rheumatology
Essential Pediatrics, Gastrointestinal, Endocrine & Neurological Disorders
Medical Genetics
Biophysics
Algebra
ENERGY EFFICIENCY GUIDEBOOK FOR BUILDINGS
The Respiratory System & Heart Rheumatic Diseases
Pediatric Infectious Diseases
Molecular Biology
Urology
Funded by
Kinderhilfe-Afghanistan
Implemented by
Dr. Yahya Wardak, MoHE/Kabul, Afghanic/Bonn
Contact
textbooks@afghanic.de, 0756014640
Download
www.ecampus-afghanistan.org


214 Medical Textbooks
DVD I-II
Funded by
Michael Klett
PDF
English/Pashto/Dari
Download:
www.ecampus-afghanistan.org
Not for Sale
2017
۲۱۴ طبي درسي كتابونه
۲۱۴ كتب طبي درسي
۱۳۹۶

# د ستاینلیکونو ځو نمونې

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Nangarhar University

LETTER OF APPRECIATION

Nangarhar University highly regards and cordially appreciates the dignified accomplishments of **Dr. Yahya Wardak, CIM-Expert and Advisor at Ministry of Higher Education,** for having published over "150" Textbooks for different universities; especially the publishing of "79" Textbooks, funded by DAAD and German Aid for Children, and authored by the professors of Medical Faculty, Nangahar University so far. Indeed, the publication task plays one of the most important roles in the betterment of quality in higher education. We are really thankful to you for your achievements, and hope that the continuation of your great help and support for Afghanistan will persist in future as well.

May. 2014

Dr. Mohammad Saber
Chancellor of Nangarhar University, Afghanistan

د ننګرهار پوهنتون لخوا

دافغانستان اسلامی جمهوریت
ملی شورا
مشرانوجرگه

Islamic Republic of Afghanistan
National Assembly
The Upper House

جمهوری اسلامی افغانستان
شورای ملی
مشرانوجرگه

Date: 17-4-93

No.: 444,

Appreciation Letter

The Senate of Afghanistan highly regards and cordially appreciates the noble accomplishments of ***Dr. Yahya Wardak***, CIM-Expert and Advisor at Ministry of Higher Education for publishing over 150 Medical Textbooks for different universities of Afghanistan.
Indeed, the publication task plays one of the most important roles in the betterment of quality in higher education.

We are really grateful for your achievements and hope that the continuation of your great help and support for Afghanistan will persist in future.

**Fazal Hadi Muslimyar**
**Speaker of Meshrano Jirga (The Upper House)**
**National Assembly of Afghanistan**

د مشرانو جرګې لخوا ستاینلیک، ۲۰۱۴



Ministry of Higher Education
Sheikh Zayed University, Khost , Afghanistan
Faculty of Medicine

Date: 09/06/2011

Dear /Dr. Yahya (Wardak)!

We the students and administration of the Medicine Faculty, and the VC of academic affairs, pay appreciation and much thanks to you and the German educational supporter organization , DAAD , for the incredible educational support to our university.

Leeturer Dr. Jahan Shah
Dean of the Faculty of Medicine

Professor Dr. Gul Hussan Walizai
Chancellor of SZU

ستاینلیک

محترم ډاکتر یحیی (وردګ) !
مونږ د شیخ زایدپوهنتون دطب پوهنځي محصیلین،دطب پوهنځی آداره اود پوهنتون علمي معاونیت تاسو اودالمان داکادمیکو همکاریو ټولنی(DAAD) ته دستا سودبنی همکاری له امله دغه ستاینلیک درکوو اودستاسودهمکاریوڅخه مننه کوو.

په درنښت

پوهندوی دوکتورګل حسن ولیزی
دشیخ زاید بوهنتون ریس

پوهنمل ډاکترجهانشاه تنی
دطب پوهنځی ریس

د شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځي د محصلینو ، د طب پوهنځي د ادارې او د پوهنتون د علمي معاونیت لخوا ستاینلیک ، ۲۰۱۱



د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
دخصوصي پوهنتونونو او موسسانو لوی ریاست
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Directorate Private Universities and Organizations

میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه
Mirwais Neeka Institute of Higher Education
Certificate of Appreciation

ستاینلیک

شماره: 13
نېټه: 1396/03/14

د یحیی وردګ ښوونځي مشر ښاغلی ډاکتریحیی (وردګ)!
ښاغلیه! دا چې تاسې د یحیی وردګ ښوونځي مشر یاست او له دې لارې مو د هیواد لپاره د خپل ښه مدیریت او رهبرۍ په واسطه نه ستړي کیدونکي هڅې کړي او بهترین معنوي خدمتونه مو وړاندې کړي دي، میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې رهبري ستاسې د ښه مدیریت،صداقت، ایمانداري او ښو خدمتونو ستاینه کوي، دغه معنوي ډالۍ درته وړاندې کوي او په راتلوونکي کې د متعال څښتن څخه د نورو بریاوو هیله درته کوي.

درنښت
محمدواسع (صدیقي)
میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسې رئیس

د ۱۲۰ نه زیات خصوصي پوهنتونونه شته، چې دوی ته هم درسي کتابونو ورکوو. دلته یوه نمونه

# تصویرونه



له ښي لوري د لوړو زده کړو وزیر پوهاند عبید الله عبید ، د مالیې وزیر عمر زاخېلوال، ډاکټر خالد د طب پوهنځي معاون، ډاکټر شینواری د طب پوهنځي رییس، یحیی وردک د کتابونو په هکله دوی ته معلومات ورکوي. ځای: د ننګرهار طب پوهنځي کتابتون، ۲۰۱۲




په کابل پوهنتون کې د DAAD د لس کلنو فعالیتونو په هکله غونډه، ۲۰۱۲

له ښي لوري د DAAD استازی اورتمایر، پوهنوال بابري، د آلمان سفیر کونیګ، د DAAD جنرال سکرتره ډاکټر رولند ، پوهاند امین، یحیی وردک، د آلمان څخه مېرمن کریستینا ایسا او پروفیسور کوهستاني، په دې غونډه کې د کتابونو د چاپ د پروسې په هکله هم خبرې وشوې.




د کابل په مطبعو کې به مو کله ناکله د چاپ چارې خپله هم کتلې او کنترول کولې



د ننګرهار طب پوهنځي پخوانی استاد پوهاند داکتر شریف اله په امریکا کې خپل کتاب نوي کړی
او د چاپ نه وروسته د لوړو زدکړو سرپرست وزیره ډاکتر فریده مومند ، ننګرهار والي ښاغلی
منګل، د ننګرهار پوهنتون ریس پوهندوی ببرک میاخیل، د طب پوهنځي ریس داکتر یحیی فهیم
په حضور محصلینو ته ورکړ شو.




له ښي لوري حاجي عالم، ډاکټر خالديار، ډاکټر ايروس، حنيف ګرديوال، محمد صابر،
يحيى وردګ، همايون چهارديوال. ځای: د ننګرهار طب پوهنځي کتابتون، ۲۰۱۳



په لغمان پوهنتون کې استادانو ته د کتابونو د چاپ د پروسې په هکله معلومات




اوس هم زموږ په دفتر کې زيات کتابونه چاپ ته انتظار دي.



ډاکټر ایروس او ډاکټر یحیی وردک
په ننګرهار پوهنتون کې محصلینو ته د کتابونو د وېشلو په حال کې، ۲۰۱۳



په دفتر کې همکاران: له ښي لوري منیر رحمانزی، سمیع الله، یحیی وردک،
احمد فهیم حبیبي، ډاکټر یوسف مبارک او همت الله.



له لیکوالانو سره د دوی تر چاپ لاندی کتاب په اړه خبرې اترې کېږي.
(په انځور کې اروښاد پوهاند احمد سیر احمدي)



هر مؤلف ته د دوی له چاپ شویو کتابونو څخه سل جلده کتابونه ورکول کېږي. (پوهنوال رحمانزی)




د آلمان - افغانستان سل کلنې دوستۍ په لوی نندارتون کې د نورو لویو پروژو تر څنګ زموږ د کتابونو یادونه هم شوې ده. د آلمان سفارت، کابل **۲۰۱۵**



د ننګرهار طب پوهنځي کې د چاپ شویو کتابونو نمونې په یو ویترین




ځيني خلک چي زما دفتر ته راتلل، پوښتنه يې کوله، چې آيا دا د لوړو زدکړو وزارت کتابتون دی .



د ننګرهار پوهنتون طب پوهنځي کې د کتابونو د تقسيم کول غونډه

# لنډ ژوند لیک

ډاکټر محمد یحیی وردګ د زبېرګل وردګ (آخري دنده د پښتني تجارتي بانک رییس) زوی، په کال ۱۳۴۷ هـ ش کې زېږېدلی. لومړنۍ زده کړې یې په سپین کلي، منځنۍ زده کړې په حربي ښوونځي (۱۳۶۰-۱۳۶۴ هـ ش) او لوړې زده کړې یې د معالجوي طب په برخه کې (۱۳۶۴-۱۳۷۱ هـ ش) یا (۱۹۸۵-۱۹۹۲ز) په چکوسلواکیا کې کړې دي.



په جرمني کې یې د ژبې له زده کولو وروسته په هایدلبرګ پوهنتون کې د پرمختګ په لور هېوادونو کې روغتیايي سیستم، عامه روغتیا او حاروي طب (Health System Public Health & Tropical Medicine)، یو کال یې د کلن ښار په میبیګ انستیتیوت کې روغتیايي اداره (Health Management) نورې زده کړې کړې دي.

له ۲۰۰۰-۲۰۰۲ز پورې د هامبورګ پوهنتون په سل کلن حاروي طب انستیتیوت کې رسمي مامور پاتې شوی، وروسته د بن په ښار کې د انوینت (اوسنی جي آی زیت) سره څلور کاله (۲۰۰۳-۲۰۰۶ز) یې د دریېمې نړۍ ډاکټرانو لپاره د طبي زده کړو او غیر حضوري (E-Learning) زده کړو په ایجادولو او عملي کولو کې کار کړی.

۲۰۰۷-۲۰۱۰ز پورې د InWEnt، DED، دویچې ویلې راډیو او یو شمېر نورو الماني موسسو سره د افغانستان د پروګرامونو همکار او مشاور پاتې شوی دی.

په ۲۰۰۹ زکال کې ننګرهار ته راغلی و او له ۲۰۱۰ز کال راپدېخوا تر نن (مې ۲۰۱۹ز) پورې د لوړو زده کړو وزارت سلاکار دی. په دې موده کې یې د نورو کارونو ترڅنګ ۲۹۰ درسي کتابونه (۲۲۹ طبي او ۶۱ کتابونه په فارمسي، روانشناسي، وترینري، زراعت، انجنیري، اقتصاد، ژورنالیزم، تعلیم وتربیې او ساینس) کې چاپ او په ټول افغانستان کې یې پوهنتونونو ته رسولي دي.

کابل، ۲۰۱۹، ایمېل: wardak@afghanic.org

# ډالۍ!

خپلې ادې ته،
چې په افغانستان کې د دغه کارونو
له امله له بده مرغه ما ونشو کړای
چې د دې د ژوند په وروستيو
سختو کلونو کې يې خدمت وکړم.
دا به زما د ژوند يو ارمان پاتې شي.

# Abstract

Nine years ago, I traveled to Nangarhar Medical Faculty where I noticed that students used old lecture notes, written twenty to thirty years ago, as the only learning materials; based on those notes, they took exams. Seeing the situation made me cry, so I decided to start work in this area.

Therefore, I started my job at the Ministry of Higher Education to publish quality textbooks for universities based on international standards. Since that time, we have published and distributed, free of cost, 290 textbooks most of which are medical, and some are of other fields like engineering, veterinary, pharmacy, psychology, science, economics, journalism and agriculture.

In addition, we have provided forms and information for the honorable lecturers and given them.

In order to inform you about the need for textbooks, their value and the process of publishing the textbooks, the information, interviews and published articles on media are offered to you through this book. As well as, my opinions, suggestions and advice to the Ministry of Higher Education on the issues regarding higher education are involved in the book.

Regards,

Dr. Yahya Wardak

Advisor to Ministry of Higher Education

Kabul, 2019

| | |
|---|---|
| Book Name | Publishing Textbooks for Afghan Universities |
| Author | Dr M Yahya Wardak |
| Publisher | Yahya Wardak's Office at the Ministry of Higher Education |
| Website | www.mohe.gov.af |
| Published | 2019 |
| Edition | Second |
| Copies | 1000 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |

If you want to publish your textbooks please contact us:
Dr Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Kabul
Office 0756014640
Email textbooks@afghanic.de

©2019 (cc) (by) (nc) (nd)

Printed in Afghanistan, Sahar Printing Press

ISBN 978-9936-620-54-4